



که نظام ړنګ شي!؟
محمد اسماعیل بون
۱۴۰۰ ل کال

# که نظام ړنګ شي!؟

(د بلابیلو لیکنو ټولګه)

## محمد اسماعیل بون




## د لیکوال نور اثار

## مننه او کور ودانی



د افغانـــــــستان ملي تحریک فرهنګي څانګه له ښاغلي او قدرمن ورور (قاضي محمد انور منګل) څخه د زړه لـه تلـه مننه کوي، چې د دې اثر د چاپ لګښت یې برابر کړ. قاضـي محمد انور منګل د ارواښاد موســی خان منګل زوی او د ارواښاد امیر خان منګل لمسی دی. اوس په استرالیا کې اوسي او پر سوداګرۍ چارو بوخت دی. تر دې وړاندې یې هم په ټولنیزو او فرهنګي حلقو کې زیاته ونډه اخیستې ده.

# که نظام ړنګ شي!؟

## ( د ۱۴۰۰ل کال په بهیر کې د بېلابېلو لیکنو ټولګه)


لیکوال

**محمد اسمعیل یون**



۱۴۰۰ ل کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه

## که نظام ړنگ شي!؟

**(د ۱۴۰۰ل کال په بهیر کې د بېلابېلو لیکنو ټولګه)**

**لیکوال: محمد اسمعیل یون**

**خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک**

**چاپکال: ۱۴۰۰ل/ ۲۰۲۲م**

**چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**کمپوز/ډیزاین: ضیاءالرحمن ضیاء**

**چاپځای: ستاره همت چاپخونه**

**چاپوار: لومړی**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۹)**

**د لیکوال د خپرونو لړ: (۵۵)**

**برېښنایي پته: www.zhwandoontv.com**

ددې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او د بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

# ډالۍ

**خپل مظلوم، خو مېړني ولس ته، په دې هیله چې د خپل مظلومیت دلایل او عوامل وپېژني او د خپلې مېړانې ثمر ترلاسه کړي.**

**په درنښت**

**محمد اسمعیل یون**

# نیولیک

| گڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |


١.  د پېرۍ یو بوخت او مثمر سړی...................... ٩
٢.  که نظام رنګ شي!؟ ............................١٩
٣.  لیکل یې په ما او تعبیر یې په تاسو ...................٢٦
۴.  له موضوع څخه تېښته ..............................٣٣
۵.  څه سپینسترګی عجیبه شانته  مخلوق دی؟؟ ..........٣٨
٦.  د وړاندیز په مقابل کې وړاندیز.......................۴٢
٧.  د سولې وروستي فرصتونه............................۴٩
٨.  محصلي د ژوند یو طلایي پړاو........................۵۵
٩.  برېښنایي تذکره او د ترکتبارانو  د پیوستون ورځ ......۵٨
١٠. د یو لوی علمي بنسټ  د جوړېدو په تکل.............٦٠
١١. لغمان کې ژوند او تراژیدي ...........................٦۴
١٢. جنګ دې ورک شي رنګ  دې ورک شي...............٦٦
١٣. که نظام رنګ شي!؟ ...............................٦٨
١۴. د سړیتوب یو ګام...................................٧٦
١۵. د هېواد زینتي ډبرې او ښکلي وګړي ................٧٨

۱٦.د یو شهید معمار ابدي کور ........................۸۰
۱۷.د لغمان اوسنی وضعیت د چا له خوا او پر ...........۸۲
۱۸.د اوږدې غمیزې یو دردوونکی تصویر................۸۸
۱۹.د بېکسه غره سفر ................................۹۰
۲۰.د سرېتوب یو بل تاریخي منار هم ونړېده ............۹۳
۲۱.د یوې مبارزې کورنۍ یو اصیل بچی.................۹۵
۲۲.مقري صیب هم کډه بار کړه! .........................۹۸
۲۳.د لوی افغانستان یو زړور مبارز ....................۱۰۴
۲۴.جنګسالاران په کوم قیمت!؟.........................۱۰٦
۲۵.د افغانستان د استحکام اتل ........................۱۱۵
۲٦.درې نامثمره معجزې ..............................۱۲۱
۲۷.د پاکستان د دښمنیو تسلسل او د هغو اساسي ..... ۱۲۵
۲۸.د ایمان ضرر مه خپروئ! ............................۱۳۲
۲۹.کندهار د هېواد تاریخي او سیاسي محور ............۱۳۴
۳۰.د یو بل مینه پال قلموال سفر .......................۱۴۰
۳۱.جنګونه او شرمونه...................................۱۴۲
۳۲.د پاکستان په باب د افغانستان د واکمنو ............۱۴۸
۳۳.جمهور رییس څنګه اغفال شو!؟ ......................۱۵۳
۳۴.د خانزاده یو تصویر او سل خبرې ....................۱۵۹
۳۵.ملي بیرغ، ملي هویت او ملي عزت.....................۱٦۱
۳٦.نو ته به څه وکړې؟ ..................................۱٦٦

۳۷. د عدالت او سرېتوب په دايره کې ................ ۱٦۸
۳۸. ټولشموله که چورشموله حکومت؟؟.............. ۱۷۱
۳۹. د خپلواکۍ ورځ او يوه يادونه ................ ۱۷۹
۴۰. خويندو ميدان وګاټه! .............................. ۱۸۲
۴۱. له پښتنو او بلوڅو سره د پيوستون ورځ ............ ۱۸۴
۴۲. اخر تر کومه دا سپينسترګي؟ ........................ ۱۸۸
۴۳. د مظلوم ولس فرياد ................................ ۱۹٦
۴۴. اعتقاد، فکر او کار ................................ ۲۰٦
۴۵. داعش په فرانسه کې ................................ ۲۰۸
۴٦. په تودو شګو کې مزل ................................ ۲۱۳
۴۷. دا ځل د چا وار دی؟ ................................ ۲۲۵
۴۸. له اوښکو ډکه بريا ................................ ۲۳۲
۴۹. ملي بيرغ، تدبير، مبارزه او د حالاتو حساسيت .... ۲۳۴
۵۰. پکه دا دې لا بله سپکه ................................ ۲۴۰
۵۱. د مننې او قدرونې يو لايق او مستحق انسان......... ۲۴۳
۵۲. د سياسي ليکنو اخلاق.................................. ۲۴٦
۵۳. اغزن تار بايد څه وخت ټول شي؟ .................. ۲۵۹
۵۴. څوک د چا په استازی؟.................................. ۲٦۸
۵۵. د مشروعيت بحران او د حل يو دوه وړانديزونه ... ۲۸۵
۵٦. ملي بيرغ؛ يو حقيقت او يو واقعيت.................. ۲۹۲
۵۷. څو شيبې د پښتو ادب له يو پير او يو کاروان سره.. ۲۹۷

۵۸. د امریکا په عدالت کې بې عدالتي.................. ۲۹۹
۵۹. عربي کلمې څنګه ولیکو ؟......................... ۳۱۲
٦۰. عاطفه تر سیاست ډېره لوړه ده ..................... ۳۱۵
٦۱. ملي بیرغ او قانونیت ............................. ۳۱۹
٦۲. یوه تدریسي ورځ................................ ۳۲۱
٦۳. سږ کال مړي راژوندي نه شول! ................. ۳۲۴
٦۴. د پښتو ادب یوه ژوندۍ اکاډمي .................... ۳۲۹
٦۵. د ترخو تجربو تریخ تکرار ......................... ۳۳۲
٦٦. د کال پر وروستۍ شپه وروستۍ خبره.............. ۳۳۸

# د پېړۍ یو بوخت او مثمر سړی

وړاندې تر دې چې د اســتاد پوهاند دوکتور محمد اسـمعیل یون پر دې نوي اثر (که نظام ړنګ شـی!؟) ځانګړې خبرې ولرو، په پیل کې دا یادونه اړینه ده، چې د اســـتاد ژوند د نورو مســـلکي، علمي، فرهنګي او ادبي هڅو تر څنګ د یوې ســـترې ســـیاسي او ملي مبارزې ښکارندوی دی. دا به مبالغه څکه نه وي، چې ا ستاد زموږ د زمانې یو ژوندی او هڅاند لیکوال دی، اوســـمهالې نړۍ کې هر څه مســـتند دي او هغه څه چې اســـتاد یون د خپلو لیکنو او مبارزې له لارې تر سره کړي، له چا پټ نه دي پاتې شـــوي. اســـتاد یون د افغـانســـتـان هغـه معـاصر لیکوال، شـــاعر، ادیـب، فرهنګپـال، سیاسـتوال، سیاسـتپوه او پیاوړی سیاسي، تاریخي څېړونکی او تحلیلګر دی، چې د ځانګړو مسلکي، علمي، فرهنګي او ادبي کارونو تر څنګ یې په هر ډول شرایطو کې د خپل هېواد د خلکو او محرومو پرګنو د حقونو او د هېواد د ملي ګټو د ســـاتنې لپاره خپل غږ په ډېر جرئت سره اوچت کړی دی. د اســـتاد په ژوند کې د مبارزې دغه لړۍ د ده د ځوانۍ له لومړیو وختونو پیل بیا تر اوســـه پر مخ روانه ده او خپل قلم یې روان او پیاوړی ساتلی دی.

اسـتاد د دغو مبارزو په لړ کې په لسګونو، سـیاسي، انتقادي او تحلیلي اثار، مقالې، ژباړې او مرکې په پښتو ژبه چاپ او خپاره کړي

دي او د دې تر څنګ یې په ژورنالیستیکي او ر سنیزه برخه کې هم پیاوړی رول لوبولی، چې هېڅوک یې له کار او زیاره سترګې نه شو پټولی. دلته به د استاد له هغو سیاسي او ټولنیزو اثارو څخه، چې د خپل تېر ژوند او مبارزې په لړ کې یې کښلي، یو څوو ته په ډېره لنډه توګه نغوته وکړم:

- **(د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه):** خورا مهم اثر دی، چې د افغانستان فرهنګ ته پر اوښتو زیانونو یې کښلی دی. په دغه کتاب کې د بېلابېلو نظامونو او ډلو ټپلو پر مهال د افغاني فرهنګ د زیانمېدو په اړه پراخ معلومات وړاندې شوي دي. ډېری هغه علمي او فرهنګي مرکزونه په کې معرفي شوي، چې د جګړه ییزو کلونو په بهیر کې یې زیانونه زغملي دي. په دغه اثر کې د زیانونو کچه هم په ګوته شوې ده.
- **(له افغانستان نه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل):** د استاد یون یو بل څېړنیز او علمي اثر دی. دغه اثر هم د هغو زیانونو په اړه بحثونه لري، چې تر (۱۳۷٦ل) کال وړاندې د جګړې په ترخ کې د افغانستان کدري سیستم او علمي شخصیتونو ته اوښتي دي او همدارنګه پکې بهر ته د تحصیل کړو افغانانو د کډوالۍ پر لاملونو هم رڼا اچول شوې ده.

- **(فرهنګي فقر)**: د تنظيمواکۍ د واکمنۍ پر مهال د هغو ليکنو ټولګه ده، چې استاد يون په کابل کې د څلورنيمو کلونو تنظيمي جګړو پر مهال ليکلې دي. په دې ټولګه کې ټولنيزې، سياسي او ادبي ليکنې شاملې دي.
- **(بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي)**: دا اثر يې هغه مهال کښلی، چې دی په افغانستان کې تر لنډمهاله حکومت وروسته د جوړې شوې بېړنۍ لويې جرګې لومړنی منشي و. دا اثر يې د همدې جرګې د جوړېدو پر څرنګوالي ليکلی او د هغه څه په اړه هر اړخيز معلومات پکې وړاندې شوي، چې د يادې جرګې په بهير کې ترسره شوي دي.
- **(افغانستان په سياسي کړليچ کې)**: دا د پوهاند يون د سياسي او ټولنيزو ليکنو يوه بله ټولګه ده، د نوموړي اثر په هره ليکنه کې د خپل وخت د سياسي حالاتو تصوير نغښتی دی.
- **( که نړيوال ما ته وخوري!؟)**: دا اثر يې هم د بن تر پرېکړې او لنډمهاله حکومت وروسته د پنځو کلونو په لړ کې د بېلابېلو سياسي او ټولنيزو مسايلو په هکله د ليکنو يوه بله ټولګه ده، د دې اثر ډېرې ليکنې هم د افغاني ټولنې واقعي انځور خلکو ته وړاندې کوي.

په همدې ډول ملي درسونه، نجات څلی، د سمون په لټه، جنګ او فرهنګ په افغانســتان کې، د ارګ ناویلې خبرې، کلتوري یون، ادب تاریخ، کره کتنه او نور د اسـتاد مهم اثار دي. په ټولیز ډول تر (۱۳۹٦ل) کال پورې د اســتاد د ټولو اثارو شــمېر (۵۰) عنوانو ته رســېږي، چې د ده د پنځوس کلن ژوند په ویاړ پر همدې کال د (نیمه پېړۍ یون) په نا مه په (۱۴) ټوکونو، په نږدې (۱۴۰۰۰) مخونو کې په یوځایي ډول چاپ شـوي دي. د زیاتو معلوماتو لپاره د دې اثر سریزه او د استاد پېژندګلوي کتلای شئ.

تر دې (۱۴) ټوکیزو کلیاتو وروسـته یې (محرومیتونه)، (پاشـلي ذهنونه)، (زما خیالي افغانســتان) او (وخت به راشي...) اثار هم چاپ شوي دي.

دا کتاب (که نظام رنګ شــی!؟) چې سـتاسـو په لاس کې دی د تېر (۱۴۰۰) لمریز کال په بهیر کې د اســتاد د علمي، ســیاسي او ټولنیز فکر او لیدلوري محصول دی. دغه غونډ هم لکه د نومو ړي د نورو ســیاسي او ټولنیزو ا ثارو په څېر د هغه د فکري لیدلوري، ســیاسي او ټولنیزو مبارزو څرګندونه کوي. په دغه کتاب کې هم د اهمیت، حجم، فکري ژورتیا او اســتناد له پلوه ډېرې قوي لیکنې راغونډې شــوي، چې د اســتاد د ســیاسي او ټولنیز ژوند او مبارزو کچه ترې په ښــه توګه معلومیدلی شي. په نوموړې ټولګه کې ټولې (٦۴) لیکنې راټولې شــوي، چې مهم ســیاسي، ټولنیز او حقوقي مسـایل یې په دقیق ډول څېړلي دي. په تېر یو کال کې د نورو ډېرو

کارونو او فعالیتونو تر څنګ د دومره ســـتر لیکنیز کار ترسره کول د اســـتاد علمیت، حوصـــله ، له خپل هېواد او خلکو سره د هغه مینه، خلوص او ژمنتیا په ډاګه کوي.

(که نظام رنګ شی!؟) اثر په ژورې څېړنې او ډېرو بحثونو ارزي، خو زه یې دلته د ځینو ښکاره ځانګړنو لنډه یادونه کوم:

**موضوعات:** دغه لیکنې د موضوع له پلوه د خورا زیات اهمیت وړ دي، دا ځکه چې ډېر لوی ملي، سیاسي او ټولنیز مسایل پکې په ژوره توګه تحلیل شـــوي او د خلکو د روا حقونو، یووالي او بیدارۍ لپاره مبارزه پکې منعکس شـوې ده. اســتاد په خپلو لیکنو او مبارزو کې ډېری هغه مســـایل تر کار لاندې نیولي او څېړلي چې ټولګټي دي؛ فـــردي او شـــخصي جنبه نه لري. غوره بېلګه یې په برېښنایي تذکرو کې د افغانیت د نوم له حق څخه دفاع ده. اســـتاد د دغو او پخوانیو نورو ګڼو لیکنو او مبارزو په مرســـته وکولای شـــول، چې د پـــارلـــمان د دواړو مـــجلسونو له تصویب او د ولسمـــشر تر توشیح وروســـته هم بېرته د خلکو حق تر لاســـه کړي او په خپله مبارزه کې بریالی شي. دلته یې د نورو موضـــوعاتو یادونه نه کوم، هغه کولای شئ د کتاب په متن کې ولولئ.

**لیـــکنیز اخلاق:** پوهاند یون لکه د یو شمېر نورو لیکوالـــو او سیاستوالو په څېر تونده او سپکه ژبه نه کاروي، بلکې په سیاسي انتقادي لیکنو کې لیکنیزو اخلاقو او تعادل ته پام کوي. اســـتاد نه یوازې دغه اصل په پـــام کـــې نیســـي، بلکې د نورو لیکوالو لپاره هم

اخلاقي معیارونه په ګوته کوي. استاد (د سیاسي لیکنو اخلاق) تر سرلیک لاندې په یوه مقاله کې دغه نورمونه په تفصیلي ډول په ګوته کړي او د هغو رعایت یې د یوه سیاستوال او لیکوال لپاره اړین بللي دي. د بېلګې لپاره یې دلته یوازې د استاد په خپلو خبرو بسنه کوو. استاد یون د دغې مقالې په یوه برخه کې وايي: ((سیاسي لیکنې د ادبي لیکنو په شان نه دي چې تخیلي او هنري برخه یې درنه وي، سیاسي لیکنې باید د عیني واقعیتونو، ثبوتونو او کله کله د سیاسي ریاضي او ساینسي تجربو پر دلایلو ولاړې وي. ډېر ځله باید د شخص هغه شخصي- عملونه یا خصلتونه، چې له سیاسي پېښو سره تړاو لري، هم په ښه ډول تحلیل او و ارزول شي. څوک حق نه لري چې د یو چا شخصي حریم ته ور داخل شي، یو لیکوال حق لري چې د سیاسي شخص د ژوند هغه برخه وڅېړي چې د ده له سیاسي چلند سره مستقیماً اړیکي لري، که څوک د یو چا سیاسي شخصیت هم ارزوي حق لري، خو اخلاقي پولې باید ړنګې نه کړي.))

**د واقعیت ښودنې جرئت:** استاد یون د خپلواک لیکوال په توګه په تېرو (۳۵) کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیويي او ټلویزیوني مرکو او لیکنو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندتیا له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. یو لیکوال په دې اړه وايي: ((که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سر سختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظر یاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو د ده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه

دواړه راپارولي دي، منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو ا شخا صو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن ســیاسي بهیر کې یې ډېرې نــامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي. مثــبت غبرگونونه بیا ډېری د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنگي، ســیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکړی دی.))

په لویو ملي مسایلو کې یې خلک د جرئت او زړورتیا مینه وړي دي. د بېلگې پــه توگــه یې د ((ملي بیرغ، تـدبیر، مبـارزه او د حـالاتو حساسیت) په نوم د لیکنې یو پراگراف رااخلو:

"ملي بیرغ د ټول ولس مشترک ویاړ او ملکیت دی، حکومتونه یې د پالنې او ساتنې مسولیت لري، سیاستوال یې پر درناوي مکلف دي، هېڅوک حق نه لري چې د هېڅ ډول زور او جبر د کارونې له لارې ملي ارزښتونه توهین او پالونکي یې د خپلې لارې بدلولو ته اړ کړي. د هغو سیاستوالو برخلیک تر ټولو بدتر دی، چې د تاریخ په اوږدو کې یې خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته په سپکه سترگه کتلي دي."

**استناد او منطقي دلایل:** د استاد سیاسي نظریات، نیوکې او تحلیلونه سطحي او تبلیغاتي بڼې نه لري، بلکې د هرې موضوع لپاره مستند او منطتقي دلایل وړاندې کوي. که هر څوک ورځخه د کومې موضوع په اړه پوښتنې لري، نو دی د واقیعتونو د څرگندتیا لپاره ورته قناعت بښونکي حقوقي دلایل لري. د دغې برخې د بېلگې په توگه به غوره وي، چې په الیکترونیکي تذکرو کې د افغان کلیمې د لیکلو د موضوع یادونه وکړو. په دې اړه د یوې فارسي ژبې وېبپاڼې د مرکې د یوې پوښتنې یوه برخه په مستنده توگه وړاندې کولای

شو، چې په سترو ملي او ټولګټو مسایلو کې د استاد یون د منطقي دلایلو ښکارندوي کوي:

″جناب آقای یون، سپاس از فرصتی که در اختیار ما گذاشتید. در روزهای اخیر جنجال‌های گسترده‌یی در خصوص توزیع تذکرهٔ الکترونیک و به ویژه درج واژهٔ افغان به میان آمده است. برخی‌ها مدعی هستند که «افغان» مترادف «پشتون» است و دیگر اقوام کشور را در بر نمی‌گیرد. بنابر این نباید این واژه به عنوان هویت ملی، به دیگر اقوام و هویت‌ها تحمیل شود. استدلال شما در این زمینه چیست؟

**جواب:** اول، معترضان از کدام قوم نمایندگی می کند؟ آنها از قوم خودشان نیز نمایندگی کرده نمی‌توانند. به همین دلیل، نمی توانند ادعا کنند که افغان بر دیگر اقوام تحمیل می‌شود.

دوم، افغان متعلق به یک قوم نیست؛ بلکه یک جغرافیای کلان سیاسی را در بر می‌گیرد. به همهٔ کسانی که در این جغرافیای سیاسی زندگی می‌کنند، افغان اطلاق می‌شود.

سوم، از لحاظ زبان شناسی دو کلمهٔ واحد وجود ندارد که صد درصد مترادف حقیقی باشد. مترادفات در زبان است، اما این که یک کلمه صد در صد جای کلمهٔ دیگر را بگیرد، چنین نیست. جای شک نیست که پشتون مترادف به افغان است؛ اما افغان صد درصد مترادف به پشتون نیست. یعنی هر پشتون افغان است، اما هر افغان پشتون نیست. کلمهٔ افغان یک دایرهٔ بسیار کلان را احتوا می‌کند؛ اما پشتون دایرهٔ خوردتری نسبت به افغان را در بر دارد. آنچه معترضان می‌گویند انگیزهٔ سیاسی بیرونی دارد. آن‌ها تحریک می‌شوند و می خواهند در افغانستان تشنج خلق کنند.″

**سیاسي او ټولنیزې وړاندوینې:** د استاد هغه سیاسي او ټولنیزې وړاندوینې چې د نوموړي په لیکنو کې کېږي، تر ډېره پر ځای او پېښېدونکې وي. له دغو وړاندوینو څخه د پوهاند صیب د سیاسي فکر ژورتیا او علمي کچه څرګندېږي. ډېری هغه سیاسي او ټولنیز بدلونونه چې رامنځته کېږي، استاد یې له وړاندې د لیکنو او مرکو له لارې خبرداری ورکړی وي. (که نړیوال ماتې وخوري!؟) او یا هم د دغه نوي کتاب سرلیک (که نظام ړنګ شي!؟) زما د دې خبرې د ثبوت ښکارندوي کوي. نن موږ د دې واقعیت لیدونکي یو، په دې مانا چې نړیوالو ماتې وخوړه او نظام ړنګ شو. خو استاد هغه مهال دا وړاندوینې کړې وې، چې فکر نه کیده نړیوال به په دومره پیاوړتیا سره ماتې خوري او له دومره پوځي ځواک او بهرنیو مر ستو او ملاتړ سره سره به تېر نظام له منځه ځي او پاشل کېږي به. نوموړي د خپلو سیاسي او ټولنیزو لیکنو ، تحلیلونو او مرکو په لړ کې دا ډول ډېرې وړاندوینې لرلې دي، چې دلته یې له نورو بېلګو تېرېږو، خو په لنډه توګه وایو چې دا هر څه د نوموړي د سیاسي او فکري لوړتیا او علمیت څرګندونه کوي.

د پایلې په توګه ویلی شو، چې د استاد شخصیت ډېر اړخونه او مخونه لري، موږ نه شو کولای د نوموړي د کار او زیار پر ټولو برخو په یوه لیکنه یا څو لیکنو کې خپلې خبرې راټولې کړو او هغه ټولې ښېګڼې او ځانګړنې په ګوته کړو، چې د هغه په اثارو او لیکنو کې خوندي شوې دي. استاد په خپل نږدې (۵۴) کلن ژوند کې تر (۵۵) عنوانو زیات اثار لیکلي، چې ټول یې چاپ شوي دي، تر (۱۲۰۰) زیاتې لیکنې یې کړي دي. د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) زیات اثار یې ایډیټ کړي، (۴۰۰) عنوانو ته یې د چاپ لاره برابره کړې ده. د دې

ترڅنگ یې تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې جوړې کړې دي، د (ژوندون) په نامه یې رســنيز مرکز جوړ کړی او د کونړ او لغمان پوهنتونونو پــه جــوړونه کــې یــې اســاسي نقش لوبولی دی. تر (۱۳۹٦ل) کال پورې یې یوازې په ټولنيز ډګر کې د خپلو ملګرو په مرســته تر (۱۰۰۰) زیات ټولنيز خدمتونه ترسره کړي دي. په ســیاسي او مدني برخه کې یې د ملي تحریک بنســټ ایښــی، تر (۸۰۰) زیاتې بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې کړي دي. که په څو ټکو کې خپله موضوع راغونډه کړم، هغه دا ده چې د پوهاند دوکتور محمد اســمعیل یون دغه کار او زیار دوه لوی هدفونه لري؛ که له یوې خوا یې د خپل هېواد د خلکو د حقونو او د هغوی د ملي بیدارۍ لپاره ســیاسي او حقوقي مبارزه پر مخ وړې، نو له بلې خوا یې پښــتو ژبه له لیکنيز پلوه بډایه کړې ده او خپلې ژبې ته یې د هېواد او نړۍ د سیاسي جریانونو په اړه بشپړ او مستند تحلیلي اثار وربښلي دي. خدای(ج) دې استاد ته ډېر اوږد او بریالی ژوند ورکړي، موږ د هغه د نورو خدمتونو، نوښتونو، تحلیلونو او مبارزو په هیله یو!

پوهنمل یحیا "همای"

کابل پوهنتون

۱۴۰۱ل کال، د وري دویمه نېټه

سریزه:

# که نظام ړنګ شي!؟

د (۱۳۹٦ل) کال په پای کې چې زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم، نو تر هغه وړاندې مې چې د (۳۰) کلونو په بهیر کې کومه لیکوالي کړې وه او کوم اثار مې چاپ کړي وو، هغه مې ټول یو ځل بیا راټول، ډلبندي او په (۱۴) ټوکونو کې مې د (نیمه پېړۍ یون) په نامه، په یوځایي ډول چاپ کړل. زما له ډېرو هڅو او دقت سره سره بیا هم یو شمېر لیکنې او ژباړې ورڅخه پاتې شوې. چې ځینو یې د مستقلو اثارو بڼه هم لرله.

پر (۱۳۹۷ل) کال مې د دې کال په بهیر کې ټولې لیکل شوې او خپرې شوې لیکنې سره راټولې کړې. د دې ټولګې نوم شو (محرومیتونه)، چې د همدې کال په پای کې دا ټولګه هم چاپ شوه. پر (۱۳۹۸ل) کال مې بیا د همدې کال د لیکنو ټولګه چاپ کړه. (پاشلي ذهنونه) د دې ټولګې نوم و او پر (۱۳۹۹ل) کال مې (زما خیالي افغانستان) چاپ کړ، چې د همدې کال د لیکنو ټولګه وه. د دې درېیو ټولګو لیکنې د همدغه درېکلن بهیر بېلابېلې لویې او وړې مقالې وې، چې اکثره یې په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې وې او په یادو ټولګو کې د بیا خپراوي پر مهال یې نېټه لیک هم ورسره لیکل شوی دی. ( که نظام ړنګ شي!؟) ټولګه هم د همدې تېرو درېیو ټولګو د لړۍ څلورمه کړۍ ده، چې د همدې (۱۴۰۰ل) کال له پایته رسېدو سره سم خپرېږي.

د دې لیکنو او له هغو سره د مل نېټه لیک له خپراوي او یادونې څخه موخه دا ده چې موږ راتلونکو نسلونو ته د زمانې د تاوجنو پېښو یو تسلسل وښیو. لیکوال په دې پېښو کې د یوه عیني شاهد او کرکټر په توګه مطرح دی. سره له دې چې د پېښو په پېښولو، ایجاد، کنټرول او مهار کې کوم اساسي نقش نه لري، خو د یو عیني شاهد په توګه د پېښو یو رښتینی انځورګر ګڼل کېدی شي. د دې لیکنو ځانګړنه همدا ده چې پېښې تقریباً د پېښو پرمهال ثبت شوي، ځومره درد، خوند، تاو او کړاو چې په پېښو کې دی، په طبیعي ډول یې دې لیکنو ته لاره پیداکړې ده. څرنګه چې په دې کلونو کې حوادث ډېر تاوجن او کرکجن وو او اکثره عاملین یې ډېر سخت زړي او د عاطفې له نعمته بې برخې وو، نو ځکه خو ثبت شوې پېښې او پر هغو تحلیلي تبصرې هم داسې نه دي چې ټول خلک دې ترې یو رنګ تاثر واخلي او جانبي تاثیرات او عوارض دې و نه لري. څرنګه چې ټولنیزې او سیاسي پېښې د افکارو او زغرو د ټکر په بهیر کې راټوکېږي، نو پر هغو باندې تحلیل او یا د هغو ثبت هم له متضادو نظریاتو سره مخامخېږي. دلته د ګټو جنګ دی او د ګټو او فکر د ټکر په حالت کې دې ځوک دا هیله نه لري چې یوه لیکنه دې د ټولو په یو ډول خوښه شي. طبیعي خبره ده چې د افکارو تضاد به راپاروي او هر ځوک به د خپلو ګټو او فکري کچې له زاویې څخه دې لیکنو ته ګوري. زما دا لیکنې چې کله د فیسبوک او یا نورو ډله ییزو رسنیو له لارې خپرې شوې دي، نو چټک او ژور غبرګون یې پر وړاندې ښودل شوی دی. یو زیات شمېر لیکنو له (۵۰۰-۲۰۰۰) کمنټونه اخیستي او په زرګونو لایکونه. په کمنټونو او تبصرو کې موافقین او مخالفین دواړه کټه ګوری خلک شامل وو. ناپېیلي اشخاص هم په کې وو، د لوړې، ټیټې او منځنۍ کچې

لیکوال یا لیکونکي هم په کې وو، خو ما ټول په سره سینه زغملي، له کوم یو استثنایي حالت پرته مې د یوه تن د کمنټ یا تبصـرې په مقابل کې جزیي غبرگون هم نه دی ښــودلی او دا مې د هغوی حق گڼلی دی. ځینو چې د ادب له چوکاټه اخوا څرگندونې کړي، هغوی ته مې د لوی خدای(ج) له درباره د نېکو اخلاقو هیله کړې او هغوی چې ذهني کچــه یې کمزورې او د لیکنې محتوا یې د لیکنې د منځپانگې پر ضــد تعبیر کړې او د خپلې خبرې پر صــحت یې هم ټینگار کړی، هغوی ته مې له لوی رب العزته د پوهې د زیاتوالي غوښتنه کړې ده.

دا لیکنې خوږې نه دي، په ډېرو برخو کې ترخې دي. خو دا ما نه دي ترخې کړې، دا حالاتو او د پېښــو عاملینو ترخې کړې دي. د ځینو لیکنو پر مهال ما خپله هم ورسره ژړلي او ځینو لو ستونکو چې خپله یې د پېښـو په تل کې د یوه کرکټر په توگه ځان لیدلی، هغوی هم ورسره ژړلي دي. ځینې لیکنې په ډېر ســخت عاطفي حالت کې لیکل شوي او کله کله عاطفي حالت د یوې لیکنې فکري ثمر هم تر خپل ســـیوري لاندې راولي. دې ډول لیکنو کې د سر، ژوند او مال خطرونه محســـوس وو، خو دا خطرونه ما ځکه په شـــعوري ډول زغملي وو، چې که خدای وکړي سمون رامنځته شي او دا گواښونه زموږ بل نسل ته انتقال نه شي. په دې لیکنو کې مې له ځینو املایي او انشـــایي تېروتنو پرته نور هېڅ ډول ادلون او بدلون نه دی راوړی او هدف مې هم همدا و چې د لیکنو تاریخي اصـــالت او ماهیت باید خوندي شي. هره لیکنه د خپلې زمانې هنداره ده. که یو لیکوال د پېښو د تېر مهال تر اغېزو لاندې یو ډول لیکنه وکړي او بیا وروستۍ پېښـــې پر تېرو پېښـــو خپل ســـیوری وغوړوي او دی خپلې پخوانۍ لیکنې د نویو حوادثو تر اغېزو لاندې په نوې بڼه صیقل کړي، نو دا

نه یوازې د صــداقت له اصــل سره خیانت دی، بلکې هېڅکله به د اصــلي پېښــو رښــتیني ثبت ته زمینه برابره نه شي، ځکه چې نوې پېښې تېرې پېښې تر خپل سیوري لاندې راولي او دا لړۍ همداسې دوام پیدا کوي. نو که لیکوال وډار شي او یا له مــضر احــتیاطه کار واخلي، هېڅکله به پر دې بریالی نه شي چې خپلې لیکنې په خپلې اصلي بڼه او پر خپل وخت لوستونکو ته وړاندې کړي.

زه په تېرو (۳۵) کلونو کې تل له هغو فرهنگیانو او یا په اصطلاح لیکوالو سره پر جنجال اخته یم چې گړنۍ نیوکې کوي، خو له ډاره حوادث پر خپل وخت نه ثبتوي او چې ورته ووایې، خپلې خبرې د یوې لیکنې پــه بڼــه خونــدي او ژر یې چــاپ کړه چې حوادث او حقیقتونه درڅخه فوت نه شي، وایي وخت ته به گورو. ځینې خو ورځني واقعیتونه په دې خاطر نه لیکي او نه یې خپروی چې کېدی شي سبا ته د دې معکوس حالت رامنځته شي، نو بیا به څه کوي؟

ما په تېرو (۳۵) کلونو کې د وخت نزاکت او د حالاتو حســاسیت ته نه دي کتلي، څه چې تېر شــوي او ما محســوس کړي، هغه مې پر خپل وخت لیکلي او خپاره کړي دي. خوشـــاله پر دې یم چې وجدان مې ارام دی او دا ارمان نه راځي چې کاشــکې پر خپل وخت مې چیغه پورته کړې وای. په دې لیکنو کې به تاســې ډېرې داســې لیکنې وگورئ چې له حوادثو سره متصــله او هممهاله لیکل شــوې دي. زه به ډېر خوشــاله شــم چې له دې لیکنو څخه د خپل وخت د سیاسي، ټولنیز او فرهنگي تاریخ د لیکلو لپاره د خامو موادو په توگه کار واخیســتل شي، اینده نســل او په تېره بیا ســیاســتوال د تېرو تېروتنو له بیا تکرار څخه وژغورل شي. کله کله یو نیم کس پیدا شي، هغه بیا پر همدې خبرې نیوکې کوي او وایي هغه وخت چې دا حوادث پېښــېدل تاســې چېرته وئ؟ ولې مو پر خپل وخت غږ نه

پورته کاوه؟ او یو شــمېر بیا داســې هم دي چې ته هممهاله د یوې ترخې حادثې تصویر کاږې، هېوادوالو ته یې وړاندې کوې او د پېښو پر وړا ندې کوم غبرګون ښــیې، نو دوی به درته وایي چې د دې موضوعګانو څېړل، حساسیت راپاروي، دا یې وخت نه دی.

دا لیکنې به تر یوه حده د و خت بېلابېلو متضـــادو افکارو او پوښــتنو ته ځواب ورکړي، خو ټولې پوښــتنې دلته هم نه شي ځوابېدلی. په دې ټولګه کې ځینې لیکنې شـته چې د همدې یو کال د حوادثو محصـول دی، پر وخت لیکل شـوې، وړاندوینه هم په کې شـــوې چې که پر خپل وخت اقدام ونه شي، خطرناک عواقب ترې ټوکېدی شي. ((که نظام رنګ شي!؟)) د همدې ډول لیکنو له جملې څخه یوه ده. موږ پر دې پوهېدلو؛ د (جمهوریت) په نوم چې کوم نظام واکمن دی، دا په حقیقت کې د جنګســالارانو، فســادګرو او ټامیانو یو ایتلاف دی. د ملي او هېوادپالو اشخاصو ونډه په کې ډېره پیکه ده. دا نظام د ولس له طبیعي جوړښــت سره ســم حرکت نه کوي، نو سـقوط یې حتمي دی. خو رنګېدل یې هم ولس ته په لوی زیان تمامېږي. زموږ هیله وه چې د نظام جوړښت او فزیکي رغښت جوړ پاتې شي او په مجریانو یا متصـــدیانو کې یې پوره بدلون او ســمون راشي، نو ځکه خو مو لومړی، لوړپوړو حکومتي چارواکو سره د خبرو لړۍ پیل کړه او ورته ومو ویل چې د خدای په خاطر او د دې مظلوم ولس په خاطر د خپل قدرت د بقا لپاره ټول نظام له ځان سره مه رنګوئ، خو هغوی داســې هڅه کوله چې یا به په واک کې پاتې کېږي، که د هر څومره سرونو د قربانۍ په بیه تمامېږي او یا به نظام د ګرنګ پر غاړه په داسې ډول ودروي چې د دوی د واک له ختمېدو سره ســم داســې یو حالت رامنځته شي چې هر څه له منځه لاړ شي او خلک د تېر کفن کش په ارمان شي. په داســې یو

حالت کې چې د نظام د ړنګونې توطیې مو پوره درک کړې وې، طالبانو ته مو هم لمن وغوړوله، قطر ته مو سفر وکړ او هغوی ته مو وویل چې د خدای په خاطر تېره ترخه تجربه مه تکراروئ، نظام مه ړنګوئ، اشخاص بدل کړئ، خو د نظام اډانه مه پاشئ، دې نظام شل کاله مزل کړی او که ړنګ شو، بیا به لسګونو کلونه نور وخت وغواړي چې دغه حالت ته یې څوک راورسوي. موږ د بې نظامۍ تجربه لیدلې؛ تر نه نظامه یو نیمګړی نظام هم غنیمت دی. که هغه وشي نیمګړی نظام به ترمیم شي، خو که له منځه لاړ، نه یوازې له صفري نقطې، بلکې له یوې منفي نقطې به یې پیلوو. تر وروستي حده مو هڅه وکړه، خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې دواړو لوریو کې داسې اشخاص وو چې شخصي او نفسي هوسونو پسې اخیستي وو او پر افغان ولس یې د سولې ترڅنګ د یو باثباته نظام د جوړونې او ساتنې هیله پېرزو نه وه. په دې مسیر کې بیا تر ټولو بدمرغه کسان هغه دي چې تر اوسه یې لا هم دا خبره درک نه کړه چې چا د نظام د ساتنې او چا د خپل واک د غځونې لپاره هڅه کوله. د حکومت مفسدو چارواکو په سلګونو کنځلماران کرایه کړي وو او هر هېوادپال افغان چې به د سولې او د نظام د حقیقي بقا غږ اوچت کړ، نو په زرګونو کنځلې به یې ورپسې خوشې کړې. زه د غني په حکومت کې داسې کنځلماران پېژنم، چې هغه مهال به یې موږ ته د دربار په پیسو په زرګونو کنځلې حواله کولې او موږ به یې نېکتایي داره طالبان ګڼلو، خو اوس دوی تر هر چا وړاندې د طالبانو د حکومت منشیان، درباریان او غوړه مالان دي، خو موږ خپل مسیر بدل نه کړ. نه طالبان وو، نه یو او نه به شو، لکه څنګه چې غني او د هغه ټامي ټیم ته مو حقیقتونه ویلي، د طالبانو نوي حاکمیت ته هم همغه څه وایو چې د ملت په ګټه دي.

د دې اثر ليکنې په دوو زمانو پورې اړه لري: نږدې پنځه میاشــتې د جمهوریت د وخت او نږدې اووه میاشـــتې د امارت د مهال دي. لوســـتونکي قضـــاوت کولای شي چې نظامونو تغير کړی او که ليکوال؟ ايا ليکوال خپل مســـوليت ادا کړی او که نه د ځينو نورو په شـــان يې پر خوله مهر لګولی دی؟ دلته همغه فکري خط تعقيب شوی چې د کال په سر کې و، د کال په پای کې هم همغه خط دی.

د (۱۴۰۰ل) کال د پيل پر لومړۍ ورځ د يوه خوب په تعبير کې (ليکل يې په ما او تعبير يې په تاســـو)، د حکومت يا نظام د چپه کېدو وړاندوينه شـــوې وه، خو د همدې کال په پای کې (د کال پر وروســـتۍ شـــپه وروســـتۍ خبره) کې د دې بـل نوي نظـام پر نيمګړتياوو تحليلي ليکنه شوې ده.

له ټولو ليکوالو څخه مو هيله دا ده، د دې پرځای چې پر يو بل ليکنۍ او ګړنۍ نيوکې وکړو، راځئ چې د حوادثو په باب پر خپل وخت څه وليکو، پېښـــه انځوريزه کړو او بيا د خپلو ليکنو ټولګه پر خپل وخت چاپ او خپره کړو. دې کې به د ليکوال ســـياسي جرئت، اخلاقي شخصيت او تاريخي مسووليت هم ښه په ډاګه شي او د ټولنې په سمون کې به هم د يوه عاطفي او فکري عـــنصر په توګه خپله ونډه واخلي.

د همداسې ورځې د ليدو په هيله

محمد اسمعيل يون

۱۴۰۱ل کال د وري لومړۍ نېټه

کابل- افغانستان

# لیکل یې په ما او تعبیر یې په تاسو

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د مارچ پر (۲۲)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میاشتې له (لومړۍ) نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |
| یادښــت: دا یو خوب و، خو یو تعبیر یې داســې و چې د غني حکومت به سقوط کېږي او نوي خلک به راځي، هغه مهال د دې خوب په باب د حکومت غوړه مالانو ډېر بد غبرګون وښــود، خو څلور میاشتې او څلورویشت ورځې وروسته د غني حکومت ړنګ شو او دا خوب پر واقعیت بدل شو. |

نه پوهېږم چې په کومه وجه. او له کوم لوري را ته د جمهور رییس غني د ملاقات زمینه برابره شــوه؛ ما غوښــتي وو که ده غوښـتي وو؟ د یو مســتطیل په شـان باغچه وه، دی یې په سر کې پر څوکۍ ناست و او زه یې ښي لاس ته یو دوه متره لـرې پر ځمکه کېنا ستم، ا سد دانش یې څنګ ته دومره نږدې نا ست و چې خپلې ورو خبرې هم غوږ ته ورسولی شوې، مخامخ یې؛ لس متره وړاندې د دېوال غاړې ته خپل یو مشـاور(لعل پاچا ازمون) ودرولی و، داســې ښــکارېدل چې د کوم څه امتحان ترې اخلي، جمهور رییس ورته

ویل چې ته همالته ودرېږه او څه شـــی چې زه درته وایم، هماغه ځوابوه، عیناً لکه د یو تـــدریسي امتحان صحنه، ازمون هم غلی و، هېڅ یې نـه ویـل، خو دلـتـه زمـا راتـګ او د جمهور رییس خنګ کې د اسـد دانش کېناسـتل پرې ښـــه نـه لګېـدل، جمهور رییس ډېر پـه



قهر و، دې وخت کې یې د عبدالغفور لېوال د شـــاعری ډېره یادونه او ســـتاینه وکړه، بیا یې یو څو شـــعرونه وویل، خو ډېر ژور او قوي شـعرونه وو، د لېوال صیب نه وو، د بل چا وو، خو شـعرونه یې ډېر هنري وو او ژوره فلســفي مانا یې لرله، زما زړه ډب ډب کاوه چې بیا به یې غلط ولولي، خو شـعرونه یې دومره سـم او په ژور احســاس ولوســتل، لکه څنګه چې شــاعر د درد پر مهال لیکلي وي، دا مهال یې زه مخاطب کړم، ماته یې وویل چې دغسې وي شعرونه! پر دې وخت یې اسد دانش غوږ ته ورنږدې شو ورو یې ورته وویل؛ ته چې د چا یادونه او ســتاینه کوې، فکر دې نیســه چې دا دواړه ګوره د ده شاګردان تېر شوي، دې سره یې په روحیه او څېره کې فوق العاده بدلون راغی؛ ښــا ښــه.. تر لږې شــېبې وروســته یې بیا زه مخاطب کړم، وګوره کنـه څومره کتـابونـه مې چـاپ کړل؟ څومره فرهنګي کارونه مې وکړل؟ تا څه کړي؟ ته څومره شاته پاتې شوې؟ ټوله ورځ تا وېلې ما وېلې، غیر له غیبته مو بل کار نه شـــته، وګوره ما داســـې

وزیران مقرر کړي چې ته یې ګرد ته هم نه شې رسېدلی، هر یو یې په منطقه کې ســاری نه لري او نور یې د خپل حکومت او کابینې



ستاینې شروع کړې او دا ټولې خبرې یې ما ته په داســې یو غوســه ناک انـداز کولې چې ګنې زه یې همدې ته راغوښــتی یم چې پېغور راکړي، ومې رټي او زما د هغو خبرو ځواب راکړي چې زه یې کله کله د ده او د ده د حکومت پر نیمګړتیاوو کوم. همدا به یې ویل ټوله ورځ نا ست یې دا کار دا سې دی او دا کار دا سې دی. ووا یه زما کوم وزیر سره د مقایســې وړ یې؟ کوم یو سره مقابله کولای شـې؟ او کوم یو سره ځان مقایسـه کولی شـې؟ دې سره زما هم اوســېله تنګه شــوه، ورته ومې ویل، اجازه ده چې یو څو خبرې وکړم؟ ده که څه هم د خبرو اجازه نه راکوله، خو په خپل سر مې خبرې شروع کړې، ما وویل دا ته څه شــی یادوې، تاته دې د دربار غوړه مالانو غلط راپورونه درکړي دي، اول ته ولې ماته پېغور راکوې، زه خو یو عادي ښــوونکی یم، عیناً لکه تا غوندې چې یو وخت ښــوونکې وې، زه خو حکومت نه یم چې زما کارونه له حکومت سره مقایســه کوې، خو بیا هم که د پرتلې خبره شــې ما په یوازې ځان ســتا د حکومت په بهیر کې د نورو لیکوالو تر دوه ســوو عنوانونو زیات کتابونه چاپ کړي چې ستا ټول حکومت دومره نه دي کړي او که خبره ســتا له وزیرانو سره د مقایســې او پرتلنې شي، نو که دا

خلک رښــتیا هم دومره لایقه، پاکنفســـه او کارپوه وي، نو بیا دا کارونه چا خراب کړي دي ؟ دا فســاد چا کړی ؟ نو چې دومره ښــه خلک دي، ولې یې د فســاد په تور تورنوې ؟ میاشــت لا وتې نه وي چې ببرته یې گوښــه کړې، زه په هغه صــورت کې ســتا له وزیرانو سره امتحان او مقابلې ته حاضر یم چې یو بې طرفه کمېسیون زموږ د کـارونو ارزونـه وکړي، خیر تـه دې هم د دې کمېســیون غړی اوســـې، خو د یوې رایې حق بـه لرې، کـه تـا وږ کسان تشخصولی شوای، نو په تېرو اوو کلونو کې به دې خپلـه کـابینـه تکمیـل کړې وای. اســـد دانش



باندې زما خبرې زړه کې ښې، خو شاخوا ته ولاړو مشاورینو او نورو درباریانو باندې خورا بدې لگېدې، خو په خبرو کې د مداخلې چانس ورته نه برابرېده، زما پر دې خبرو جمهور رییس ســخت په غوســه شو، خپلو درباریانو ته یې امر وکړ چې هلئ ژر شئ له لاسو او پښو یې وتړئ، راته یې وویل چې اوس به زما د غابښونو په زور خبر شې. ما ورته وویل چې رییس صیب یوه خبره درته مخکې تر مخکې کوم چې پر پنډۍ او مټ مې خوله ولگوه کـه چېرې مـې اهـ او فریاد له خولې ووت بیا چې ووایې دا وطن پرېبږده هم پرېبږدم یې. هغه زما پر پر ورانه خوله ولگوله، ښه زور یې وواهه، له ډېره قهره وشښېده خو ما د ډېر درد احســاس و نه کړ، غابښــونه یې واړه واړه او نرم وو،

لکه د دویم فصل غانښونه؛ زور په کې نه و، بیا یې زما پر مټ خوله ولګوله ښه زور یې و کړ، خو بیا یې هم و نه دردولم، داسې ښکارېده چې زما په درد دی هم دردېږي او خفه کېږي او نه غواړي چې ومې دردوي، عیناً لکه پر یو وړوکي ماشــوم چې څوک کله ډېر په قهر شي هغه لږ وډار کړي او یا یې ودردوي، خو وروســته بیا دی تر ماشوم ډېر پښېمانه وي او کلـه چې هغه بېرته غېږ کې ونیسـي، نو له ډېر درده یې ســترګو کې اوښــکې راشي، جمهور رییس غني به چې زه څومره کېکاږلم، نو تر ما به ده ډېر درد احساساوه، په سترګو کې مې ورته د اوښکو څلا ولیده، د دې له خاطره چې زه د ده حالت درک نه کړای شــم، مخ به یې بل پلو ته واړوه او و به یې ویل څنګه شـوې اصلاح شـوې کنه؟ ما ویل نه خپل اخري زور دې ووهه چې



زړه کې دې ارمان پاتې نه شي، دې سره نو نور هم په قهر شــو، درباریـانو تـه یې امر وکړ او ویې ویـل چې مخـامخ دېوال تـه یې ودروئ او راوړئ هغه غـــشي چې ده تـه زه اوس خپـل ایمان معلوم کړم. زه یې د دېوال خوا ته ودرولم اوږده اوږده او تېره تېره مېخونه یو یو زما د تندي او سر پر لوري راولي، ما لاس کې یوه توره تېره پټه نیولي وي، کله چې مېخ زما تندي ته رانږدې شي، تیره ورته ونیســـم، مېخ پر تیره ولګي، له تندي بچ شي او پر دېوال ولګي، نهه لس مېخونه یې زما د وچولي،

سترگو، سر او تندي پر طرف را گوزار کړل، خو ټول مې د خدای په فضل له لګېدو بچ کړل. دا جنجال نور همدلته ختم شو، نور نو زه د دربار له باغچې څخه د بهر پر لوري د راوتلو په حال کې یم چې جمهور رییس له ګڼو مشاورانو او درباریانو سره زما پر لوري راروان دی، اسد دانش یې هم تر څنګ راروان دی، سړی ډېر قهرجن معلومېده، خو داسې انګېرل کېدله چې چا ورته ویلي وي چې له ده (یون ) سره دې کړی چلند مناسب نه و، کله چې ما ته مخامخ شو، نو راته ویې ویل څنګه شوې اصلاح شوې کنه؟ عقل دې سرته راغی او کنه اوس هم همغاسې یې؟ دسړي په سترګو کې لړ لړ اوښکې ښکارېدې، ما ورته وویل رییس صیب ستا په چلند خفه نه یم، خو پر دې خفه یم چې تا پوره خوړ نه کړم؛ کله چې به دې غاښ کېښود نو ډېر زور دې نه کاوه، داسې ښکارېدله چې نه غواړې خوږ مې کړې، داسې لکه د بل چا له خوا چې دربانديې فشار وي، خو ما ویل کاشکې ښه دې خوږ کړی وای چې پر زړه دې ارمان نه وای پاتې شوی، دې سره نو د هغه په سترګو کې د اوښکو څپې په ځلېدو شي، د دې په خاطر چې څوک پرې پوه نه شي، شا ته خلکو ته امر وکړي؛ راځئ چې ځو! ما به لا لس ګامه مزل نه وي کړی، چې اسد دانش او که کوم بل چا غږ راباندې وکړ؛ ویې ویل رییس ډېر خفه و او ویې ویل چې یون صیب مو ناحقه خفه کړی، هلئ ژر شئ تحفه ورته یوسئ، ښښنه ترې وغواړئ او پوخلا یې کړئ، شاته مې یو دولس دیارلس کلنه جلۍ را روانه ده، د مېوې یو پتنوس یې لاس کې نیولی، په سره دسمال کې یې مېوه تړلې او

همدا نارې وهي: او يون کاکا ودرېږه، زه د وکيل اټک لور يمه، ســتا وربره يـمه، ماتـه ولسمشر دغـه تحفه راکړې چې تا ته يې درکړم، کاکا ودرېږه ودرېږه، لږه شـــېبه انتظار وکړه، هغه اخوا ته د نورو ماشـومانو غږونه وو، هغوی هم په لاسـونو کې پتنوسـونه نيولي وو او همدا يې ويل يون کاکا ودرېږه يون کاکا ودرېږه، د همدې اوازونو په څپو کې د دربار له باغچي نه را بهر شـوم، کله چې زه له باغچې راوتلم، نو يو شـــمېر نوي نوي خلـک مې وليـدل چې ښـــځې او ماشومان هم په کې شامل وو، پر باغچې ور دننه شول، خو تر ډېره لرې ځايه مې د وکيل اټک د لور دا اوازونه اورېدل چې ويل يې يون کاکا ودرېږه وربره دې يم وربره يون کاکا...

د وربرې پـه همـدې غمجنو اوازونو کې يو دم د خوب لـه څپو راويښ شوم، پر بالښت لوېدلې او ښکې مې، چې تر دې دمه ښې يخې شـــوې وې، پر مخ يخې ولګېدې، کله چې مې ســـترګې رڼې کړې، کوټه روښـــانه وه، زه له هېواده بهر وم، نه ارګ و، نه باغچه وه، نه اشرف غني و او نه هم دربار، خو د هغې کوچنې ماشـــومې اوازونه مې اوس هم په غوږونو کې انګازې کوي چې ويل يې يون کاکا ودرېږه ودرېږه، زه ســـتا وربره يمه ســـتا وربرمه، چېرته مه ځه تاته مې تحفه راوړې تحفه...

اوس نو زما دا خوب تا سې خپله تعبير کړئ چې څه په کې دي؟ او څه به وشي؟

# له موضوع څخه تېښته

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د مارچ پر (۲۳)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میا شتې له (۲) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

په لیکوالۍ کې یوه موضــوع ده؛ چې څوک پر اصــلي موضــوع حاکم نه وي، بیــــا څنګزنې مو ضوعګانې تــــ شریح کوي؛ ا صلي موضــوع نه توضــیح کوي، یوه موضــوع پر یوې، بله پر بلې پســې تړي، نو ځکه له لوســتونکي او اورېدونکي اصــلي موضــوع هېره او تېره کړي. اوس د بهســـودو د حـادثې، علیپور، د دفـاع وزارت د الوتکې ویشــتل او هغې کې د مســلکي پوځیانو د شــهادت موضــوع کې هر څه واضــح دي، اضــافي بحث ته په کې هېڅ اړتیا نه شــته. عامل، سبب او مسبب، زمان او مکان ټول معلوم دي، نه څوک انکار کوي او نه دا موضــــوع نورې څېړنې ته اړتیا لري. علیپور د چا د تنظیم غړی دی؟ او د چا وســـله ورسره ده؟ د چا له خوا یې ملاتړ کېږي؟ د چا له خوا نیول شوی و؟ او د چا له خوا یې ضمانت و شو؟ دا اعترافونه، تضــمین خطونه او ســندونه ټول موجود دي، نو نور بیا کوم روایت او حکایت ته اړتیا ده چې لا هم وخت ضــــایع شي او د غمیزې لپاسه بله غمیزه راشي؟

نن څخه نږدې درې کاله وړاندې جمهور رییس غني رســنیو ته وویل چې پر علیپور به قانون تطبیقوم او که مې تطبیق نه کړ، نو

مســـوليت يې موږ ته راجع کېږي او بايد له ما او معاون صـــيب (دانش) څخه پوښـــتنه وشي. اوس د هېواد په عدلي او قضـــايي ارگانونو کې دا سې د نر زوی شته چې جمهور رييس غني او د هغه مرستيال د مسول او متضمن په توگه د محاکمې مېز ته راکاږي؟ او يا لږ تر لږه ترې يوه پوښتنه وکړي؟ قاضيان او څارنوالان څه وايي چې له متضمن څخه څه وخت او په کوم حالت کې پوښتنه کېږي؟ ښه مې په ياد دې چې يو وخت همدې ښاغلي غني اعلان وکړ چې



په تېرو دوو ورځو کې يې تر يو نيم زر تنو زيات طالبان وژلي دي. کـه څـه هـم دا اعلان د جمهور رييس لـه خولې له مسـلکي، وظيفه يي او عاطفي پلوه ښــه نه و، خو ده د خپلو ايتلافي ملگرو؛ صــالح او دانش د خوشــالۍ په خاطر په زغرده دا چغې وهلې، نو پوښتنه دا ده چې هغه پوځ څه شو چې په يوه ورځ کې (يو نيم زر) طالبان وژلی شي، خو پنځو کلونو کې يو عليپور نه شي ختمولای؟ صالح او دانش د هغو جنايتکارو تنظيمونو غړي دي چې د طالب، حزب، ترهگر، القاعده او نورو نومونو تر چتر لاندې يې د پښـــتنو ډله ييزې وژنې او تصـــفيې ته کار ويلی دی. اوس يې د مفکر صــيب د واک د دوام په پلمه د هغه پر اوږه توپک ايښـــی دی او له اقتصـــادي، ســـياسي او کدري پلوه د پښـــتنو د حذفونې پاليسۍ ته دوام ورکوي. تر ټولو دردوونکې خبره بيا دا ده؛

کومو ډلو چې پر خپل وخت یې پښـــتنو ته تر ټولو زیات زیانونه اړولي، پښتانه د همغو ډلو د یارۍ په تور کړول کېږي.

اوس نو د یو علیپور د نیونې لپـاره دومره ســـیـاسي او پوځي کمپاین روان دی، چې ته به وایې د پاکستان او یا کوم بل هېواد پر وړاندې د عمومي سفر برۍ اعلان کېږي. وه ورورہ شف شف ولې کوئ، شـــفتالو ( دانش) تیار په ارګ کې ناســـت دی، هم د مجرم شریکباڼی دی، هم یې ملاتړی، هم مسبب دی او هم متضمن، نو چې دی ونیســـئ او ورته ووایئ چې که په دریو ســـاعتونو کې دې



قاتل حـــاضر نه کړ، نو د عدالت د تطبیق کړۍ ته دې غاړه برابره کړه، تا سې بیا ګورئ چې څـــــه کېږي؟ دلـته نـه یوازې د پوځ د افـــسرانو د شهادت مـــوضـــوع مطرح ده، بلکې بیت المال ته د رســـیدلي تاوان د غرامت او د ټول نظام او حکومت د حیثیت موضـــوع هم مطرح ده. که علیپور ونیول شي او یا په جګړه کې ووژل شي، په هر حالت کې د نظام، دولتي حاکمیت حیثیت او بیت الـــمال ته د رسېدلي زیان او د شهیدانو له کورنیو څخه د ښښنې غوښتلو موضوع باید له یاده و نه ایستل شي.

داســې نه شي چې یو دوه ورځې عملیات وشي، علیپور یا وتښـتي، یا ووژل شي او جګړه کې د یو څو ملکي وګړو پوزې وینې وشي، بیا به نو د علیپور موضـــوع پاتې وي، دانش، خلیلي، محقق، جنرال مراد، (( جنبش روشـنایي))، (( شـورای انسجام جامعه هزاره))، د غزني مدام العمر هزاره وکیلان، سـیما سـمر او د ایران نور مینوال به د بهسودو له موضوع څخه د کربلا موضوع جوړه کړي او وایي به

چې: (( ما برای مردم بهسود عدالت میخواهیم، امنیت میخواهیم، برابری میخواهیم، امنیت خود مان را خود ما تامین میکنیم، غنی



فاشیست است، غنی برادر طالب است، متعصب است، افکار عبدالرحمن خانی دارند، افکار طالبانی دارند.. )) او داسې نور شعارونه به سر کړي، نو غني د دې په خاطر چې له دې تورونو ځان وژغوري، بیا به هغو ته د تېر په څېر د امتیازاتو د جوال خوله خلاصه کړي او و به وايي چې: (( ما و شما برادر استم، بیاید که راه شهید استاد مزاری، شهید وحدت ملی را تعقیب کنیم، کلی ما دست به دست هم بتیم، طالب و تروریزم را شکست دهیم...)).

خدای دې وکړي چې دا خبرې عملي نه شي، خو د ټولو او یا هم د یوې برخې عملي کېدل یې له امکانه لرې نه دي. هو، په تلو تلو کې له هغه مرستیال صیب؛ امرالله صالح څخه هم ډېره مننه چې د بهسودو د پېښې په باب یې ډېر چټک( پنځه ورځې وروسته) توند! غبرګون وښود، هېوادوال دې هغه وخت هم په یاد کړي چې د عامې روغتیا په څلور لارې کې د یوې وکیلې او یو پولیس ترمنځ لفظي شخړه رامنځته شوې وه او خبره تر سوک څپېړې رسېدلې وه، نو صالح صیب په دوو ساعتونو کې د پېښې ځای ته ځان ور سولی و او هلته یې غاړه تازه کړه، اوږې یې پورته واچولې او ویې ویل چې:

(( ما در کنار پولیس خود ایستاد استم و به کسی اجازه نم دهیم که پولیس مرا اهانت و توهین کند.. )) خو د بهسودو په مسله کې ایله پنځې ورځې وروسته هغه هم د فسیبوک د غبرګون په زور له غاره را ووت او یو سست عکس العمل یې څرګند کړ، چې هغه کې هم دا نه دي ویل شوي چې در کنار سربازان و بازماندگان شهدا ایستاد استم و انتقام انها را در یک روز دو روز میگیرم، دا ځکه چې دوی د لنډغرو تنظیمونو د سلسلې مشترکې ریښې لري.

که ښاغلی غني غواړي د شرمونو په لړۍ کې یې نور شرمونه



زیات نه شي او هغه تېر هم تر یوه بریده جبیره کړي، نو وخت دې نه ضایع کوي، دانش دې ژر تر ژره د محاکمې مېز ته را کاږي، هغه به له کومو نظامي عملیاتو او تلفاتو پرته علیپور د قانون منګولو ته وسپاري، محاکم او قانون باید شریعت پرې تطبیق کړي او دانش باید مجبور کړي چې بیت المال ته د رسېدلي زیان تاوان ورکړي. د قانون د تطبیق او د عدالت د عاملو همدا لاره ده، نورې ټولې لارې له مضرو سیاسي مصلحتونو ډکې دي، ملت او نظام ته یې د خیر پر ځای زیات شر او ضرر وررسېږي.

# څه سپینسترګی عجیبه شانته مخلوق دی؟؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د مارچ پر (۲۸)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میاشـتې له (۷)مې نېټې سره سـمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

سرچپه زمانه او سرچپه مانا وې؛ ملت نه منم، خو ملي قهرمان غواړم، کلی نه شـــته، خو ملکي غواړم، افغانســـتان نه منم، خو جمهوري ریاســت یې غواړم، حکومت نه منم، خو پنځوس سـلنه د واک ونډه وال یې یم، سـوله په رښـتینې مانا نه منم، خو د سـولې د مارکېټ رییس یم، ملي بیرغ نه منم، خو امتیاز یې اخلم، جهاد مې نه دی کړی، خو د مجاهد په نوم یادېږم، جمهوریت نه منم، خو د جمهور رییس مر ستیال یم، له شوروي سره مې اوربند کړی، خو د شـــوروي د مخالف په نوم یادېږم، امریکایانو ته مې وویل غت غت بمو نه واچوئ، خو د امریکا مخالف هم یم، طالبان مې د نجات پربښـــتې وبللې، خو چې زما مخالف شـــول، نو بیا د (ای ایس ای ) زامن شول، طالبانو تر کولابه ورسولو، خو موږ ځانونه د دوو یرغلونو د مخنیوي مبـارزین ګڼو، د کعبې شریفې لـه حرمـه نیولې بیـا د

سپیدار تر ماڼۍ مو غبرګ غبرګ قسمونه وخوړل، خو بیا هم موږ د دین ممثلین یو، یوه ورځ مو هم ملت ته ربښــتیا خبره و نه کړه، خو بیا هم د ملت اراده تمثیلوو، د څلوېښتو نامسلمو هېوادو عسکر دلته پراته دي، خو بیا هم ځانته مجاهدین وایو، په ټول عمرکې مو یو کیلو متر ســړک او نه هم کوم پل او پلګوټی جوړ کړ، خو بیا هم



ځانونه د هېواد معماران او انجنیران ګڼو. یو عجیبه شــان پاراډکس روان دی.

د کرزي صــیب د واکمنۍ اتیا سلنه واک ورسره وو، خو بیا به یې هم ځانونه د نظام او حکومت اپوزېشــن ګاڼه، د غني صیب د جمهوریت پنځوس سلنه واک ورسره دی، خو بیا هم ناراضــه دي، یو یې ټګ شي بل تراټ، یو یې د حکومت لوړپوړی چارواکی شي، بل یې مخالف، واکمن یې د مخالف ملاتړ کوي او مخالف یې بیا د واکمن پر فساد سترګې پټوي.

د کرزي صــیب په واکمنۍ کې چې به دې د دې ارزالو په باب لږ غبرګون وښــود، نو ســم له لاســه به د تعصــب په تور تورن شــوې، درباري غوړه مالان او مړغوړي پښتانه چارواکي او مامورین به درته ټول یوې خواته شــول، د نفاق اچوونکي او ملي وحدت د مخالف په توګه به یې په ټولنه کې معرفي کړې، عجیبه خبره خو دا وه؛ هغو خلکو چې نه ملي بیرغ مانه، نه هېواد او نه ملي هویت، هغوی ملي

خلک گڼل کېدل او هغوی چې به د دې ارزښــتونو د خوندیتابه لپاره سر قرباني کاوه، هغوی به فاشــســتان گڼل کېدل. کله چې خبره د غني صــيب انحصــاري جمهوریت ته راغله، نو که ده هر څومره په پیل کې دا خلک په غېږ کې ونیول،



د (( مسـعود شـناسـی او مـزاري شـــنـاســـی )) کورسونه یې ورته پرانیستل، خو گرگ زاده اخر گرگ شود..

غني هم د کرزي په شــان فاشــیســت وگڼل شــو او له دومره ځانصفایی سره سره بیا هم له دې توره خلاص نه شو، نو اوس چې کله د غني پر ځینو کړنو نیوکه کوو، د ارگ څو جمبوریان او د وخت په نرخ څو نور رووړدي غوړمالان د غني ډار او وېره او د دې ملک له وینو څښــونکو جلادانو سره معاملې د جمهوریت له لمنې سره غوټه کړي او یو دم کنځلو ته خولې خلاصې کړي.

که څوک غواړي د دې وطن د اصلي مخالفینو پر وړاندې شعوري مبارزه وکړي او د خپلو موقتي سیاسي او دولـتي مـشرانو په تېره بیا د کــرزي او غني لــه مضرو معاملو دواړو څخه پرده پورته کړي؛ نو هغه به له شل ډوله ستونزو او تورونو سره مخامخېږي.

نر هغه څوک دی چې د کرزي د واکمنی پر مهال یې هغه ته د هېوادنیو خیاتونو تــر کـــچې پورې د دې مضرو مصلحتونو یادونه کړې وي او بیا هم نر هغه څوک دی چې اوس د غني په واکمنی

کې په ډاګه ده ته ووایي چې د ((جهاد او مقاومت)) په نامه افغان ضــد ډلو ټپلو ته د هر ډول امتیاز ورکړه، له ملي خیانت پرته بله مانا نه لري. سبا چې د کرزي په شان غني له واکه لرې شي او بیا موږ نیوکو ته کش ورکړو، نو هغه بیا د ډارنو او تاریخ تېرو منتقدینو کار دی او هېڅ درد نــه درملوي. د سرور دانش او امراللـه صـــالح د خوشــالۍ په خاطر د وطن له ملي ګټو تېرېدل او د ســترو جنګسالارانو بـښل همغه مانا لري، لکه څنګه چې کرزي د فهیم او خلیلي د خوشالۍ په خاطر سترو جنګسالارانو ته امتیاز ورکاوه.



لکه څنګه چې کرزی نن د هغو جنایتکارانو په منځ کې ډېر وړوکی، ذلیل او د ملت د یوې لویې هسـتې په مخ کې رټلی ښــکاري، که غني هم د جنګســالارانو پر وړاندې همدې ډول چلند ته دوام ورکړي، د تاریخ د قضاوت څپېړه ورته همداسې انتظار کاږي.

# د وړاندیز په مقابل کې وړاندیز

> دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اپریل پر (۴)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میاشتې له (۱۵) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

که څه هم د افغانستان د مشوړې سر د نړۍ د سترو زبرځواکونو او سـیمه ییزه قوتونو په لاس کې دی، خو کورني لوبغاړې هم، لکه د سترنج د دانو په شان په کې خپل خپل رول لري. په دې لوبه کې شاه خپل، وزیر خپل، فیل او اس خپل او پیاده خپل رول لري.

پـه دې ورځو کې جمهور رییس غني تر وخـت وړانـدې ټـاکنو وړاندیز کړی، چې که طالبان یې ومني، نو د شپږو میاشتو او ان تر هغو هم په کمه موده کې به ټاکنې ترسره کېږي، چې ملګري ملتونه یې باید څارنه وکړي او رڼه بڼه باید ولري.

که څه هم د دې وړاندیز د کره او ثقه بڼې په باب تر اوسه پورې لومړۍ درجې مسولینو د تایید مهر نه دی لګولی، خو د یوې فرضیې او احتمالي وړاندیز بڼه یې خپله کړې ده.

زمـــا په شخصي نظـــر د مسلې د حل لپاره دا یو ښه وړاندیز او تګلوری دی، خو له دوو غرضونو لرې نه برېښي:

۱-مناففت: د منافقت غرض او مرض په کې ځکه نه شي ردېدلی چې جمهور رييس غني داسې فکر کوي؛ راځه طالبان په داسې يو وړانديز کې راګير کړه چې هغوی ته د منلو وړ نه وي. دلته اوتومات څو پوښتنې مطرح کېږي: ايا طالبان له اوسني حکومت سره يوازې د ټاکنو ستونزه لري چې په دې به شخړه حل شي؟ ايا د ولسمشرۍ تېرې دوه دورې



ټاکنې چې ډاکتر غني پرې جمهور رييس شو، رڼې او عادلانه وې؟ که رڼې او منصفانه وې، نو بيا شريکباڼې ته څه اړتيا وه او منتخب حکومت ولې ايتلافي او ګډوله بڼه خپله کړه؟ ايا دې حکومت د دې توان پيدا کړ چې د ولسواليو او ولايتي شوراګانو ټاکنې تر سره کړي؟ ايا د همدې حکومت د بې کفايتۍ په وجه د غزني ولس له خپلو منتخبو استازو بې برخې نه دی؛ ايا همدا اوس هم ايرانپالي اشخاص په ناقانونه ډول د غزني د ولس په استازۍ د همدې نظام او ملي ګټو پر ضد ولاړ نه دي؟ د ښاروالیو او نورو انتخابي ادارو ټاکنې خو به لا نه يادوو، نو په داسې يو حالت کې خپل مخالف ته د ټاکنو وړانديز کول، د خپل واک د غځونې او د سولې د بهير له ټکنې کولو پرته بله مانا نه ورکوي.

۲-صداقت: کېدې شي په دې وړانديز کې صداقت او رېښتينولي هم نغښتي وي؛ جمهور رييس وغواړي، نظام و نه

پاشـــل شي، اســـاسي قانون پر ځای پاتې شي او له یوې مدني او قانوني لارې د واک لېږد تر سره شي، دی به په تاریخ کې په ښـــه نوم یاد شي، د نظام اډانه او جوړښت به هم خوندي شي او اوسني نسـبي پرمختگونه به هم تداوم پیدا کړي. جمهور رییس غني فکر کوي چې که د ده له دې وړاندیز سره توافق هم وشي د ټاکنیزو کمېســـینونو د غړو د انتخاب څرنگوالی، د ټاکنو لگښـــت، د رڼاوي تضمین او بیا د نتایجو اعلان پوره وخت غواړي او خبره تقریبا د ده



د کـاري دورې اکـمال تـه رسي، نو هم به خرما شي او هم ثواب، هم بـه دی د ســـولې اتل شي او هم به ملـک د یو منتخـب نظـام څښـــتن شي او د قدرت د انقطـاع مخـه بـه هم ډب شي. خو اوس راځو دېته چې دلته اســـاسي ســـتونزه چېرته ده؟ د واک د انډول څرنگوالی څه ډول دی؟ د غني او طالبانو مجبوریتونه کوم دي؟

د طرفینو مجبوریتونه: د غني مجبوریت دا دی چې حکومت یې ایتلافي او مشـــارکتي دی، د گډوله حکومت یوه زیاته برخه د سولې مخالفه ده، دوی نه غواړي چې په رښتیا دې هم طالبانو سره ســـوله وشي، دوی د غني د واک غوښـــتنې د غریزې او له طالبانو سره د واک پر سر د هغه د ټکر له امله، د غني پر اوږه توپک ایښی

او په قصــدي ډول د ســولې بهير تخريبوي، کله که هم پر دې پوه شول چې غني رښتيا هم طالبانو سره يوې روغې جوړې ته رسېږي، نو همدا ډلې به تر ټولو زياتې د غني تخريب ته کار وواييي. بيا به د پخوا په شــان وواييي، چې : ((غني خودش يک طالب اســت، از



ســابق افکار طالباني داشـــت، يـک طـالـب نيکتايي دار و يک طالب بی ريش است، يک قوم پرست متعصب است که هيچ نوع عقبه سـياسـی ندارد، صلح غنی با طالب يک صــلح درون قومی اســت، نه يک صــلح ملی و فرا قومی. ما خواهان ان نوع صلح هستيم که در ان ارزشهای جهاد و مقاومت و دستاوردهای بيست سال گذشته ما محفوظ باشند)).

د غني اوســنی طالب ضــد دريځ، که څه هم کېدی شي د ده د واکخوښــونې له غريزې سره تړاو ولري، خو دا دريځ له بلې خوا په شـعوري يا نامسـتقيم ډول د دې سـبب شـو، چې شـمالټواله دومره وارخطا شي چې په ډېره بېړه په مســکو او نورو ځايونو کې طالبانو سره خبرو ته کېني. اوس نو که غني له طالبانو سره په يو انقلابي حرکت خبرو ته وړاندې کېږي او روغې جوړې ته رســېږي، ټلواله هېڅ ډول منطقي غبرګون نـه شي ښــودلی، ځکـه چې پـه څلورو مذهبونو ملامته ښکاري.

د طالبانو مشـــکل بیا دا دی چې هغوی ډېر شـــیان د مذهب او برچې له عینکو ګوري، طالبان تېر ځل هم د شر او فساد د وحشت له امله راوټوکېدل او دا



ځل هم د همغو عناصرو پر وړانـدې یو غبرګون دی، دوی د مـذهـبـي منطق، جـذبې، انګېزې او پوځي وسـلې تجربه لري، خو د ســیاسي او مدني خوځښـــتونو پوره تجربه نه لري، دوی په ولس کې د خپلې مذهي انګېزې او د خپل توپک په زور مطرح دي، کله چې ســـوله راشي، بهرني قوتونـه ووځي، د طـالبـانو انګېزه او د برچې زور کمزوری کېږي، د وخت له غوښـــتنو سره موازي حرکت هم ورته ګران کار دی، نو دوی ته به بیا ډېره سخته وي چې د مدني مبارزې له لارې ځان د پخوا په شـان مطلق واک ته ورسـوي، ان د انحلال ګواښ هم ورته متصـور دی. نو ایا په دې منځ کې کومه بله منځنۍ لاره او وړاندیز هم شته او کنه؟

زه خو فکر کوم چې شته او کېدی شي یو په کې همدا وي:

د وړاندیز په مقابل کې وړاندیز: د غني دا وړاندیز چې تر وخت وړاندې ټاکنې دې وشي، د صـــداقت د شرط په قید سره معقول بریښـــي، خو د عملي کېـدو لپـاره یې ځینو نورو ارتبـاطي موضوعاتو ته هم اړتیا ده:

یو وړاندیز کېدې شي دا وي، لکه څنګه چې طالبان له حکومته بهر دي، د طالبانو غټ مخالفان، چې د حکومت اساسي رګونه یې نیولي، دوی هم باید له حکومته بهر شي او ځای یې په ناپېیلو مسلکي اشخاصو ډک شي، ټول شپږ اوه زره کسان کېږي چې هم په غلا کې شریک دي، هم په فساد کې او هم په تېر شلکن حاکمیت کې. د دې ډول کسانو په حاکمیت کې خپل مخالف ته د ټاکنو د بلنې ورکول، دا مانا ورکوي لکه چې طالبان، غني او شمالټلوالې ته ووایي چې را شه زموږ تر حاکمیت لاندې ساحه کې صندوق کېږدئ او موږ سره ټاکنې وکړئ؟ دا نه عادلانه کار دی او



نه منطقي خبره. که غني غواړي ربښتیا هم ټاکنو ته لاره اواره کړي، نو تر هغه وړاندې باید حکومت په داسې ډول ناپېیلی کړي، چې د طالب او ټلوالې د پلویانو پر وړاندې یې چلند یو ډول وي. غني باید د بهرنیو ځواکونو د وتلو په باب د طالبانو اساسي شرط یقیني کړي. طالبان باید د دې په مقابل کې لومړی لندمهاله او بیا اوږدمهاله اوربند او د ټاکنو او یا هم له کومې بلې ممثلې لارې د ملت ارادې ته غاړه کېږدي، او له تېرو تجربو باید عبرت واخلي.

که د بېځايه او ناقانونه امتيازونو د ورکړې خبره نه وي، نو که فهيم او دوســـتم ته د مارشـــالۍ رتبې ورکول کېږي، نو بیا خو ملابورجان او ملادادالله اخوند زر ځله د مارشالۍ رتبې مستحق دي؛ يو د شر او فســـاد په مقابل کې او بل د بهرنيو قوتونو پر ضـــد جنګېدلي وو، خو اوس چې چاته مارشـــالۍ ورکړل شـــوې، هم تر غوږونو پورې په فساد کې ښکېل دي او هم د پرديو دا سې غلامان او تاليځتي دي، چې تاريخ يې دا ډول کمې بېلګې ثبت کړي دي. کله چې رباني ته د ((ســـولې شـــهيد)) لقب ورکوو او مزاري ته د ((ملي وحدت شـــهيد)) وايو، نو بيا خو بايد ملا عمر هم د شر او فساد د ختمولو، د ټوپکسالارۍ د له منځه وړلو، د هېواد د راټولولو او د بهرنيانو پر وړاندې د يو بې مثاله مقاومت کولو په توګه ياد شي. ا يا ښـــاغلی غني حاضر دی د ټول هېواد د يو ناپيېلي جمهور رييس په توګه د دې متخاصمو ډلو تر منځ د ستاينې او يا غندنې انډول برابر کړي؟؟

نو که غواړئ چې رښـــتيا هم ســـوله رامنځته شي، له خپلو ډېرو غوښـــتنو بايد تېر شـــو، خپل قضـــاوت بايد د عدالت او واقعيت پر محور را وڅرخوو او که ډېره ســـخته قرباني نه شـــو ورکولای، نو رښتيا رښتيا خو ووايو، پر دې خو هېڅ لګښت نه راځي...

# د سولې وروستي فرصتونه

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د اپريل پر (۱٦)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) مياشتې له (۲۷)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

پر دې اکثره کارپوهان پوهېږي چې افغانســـتان کې روانه درې ځلوېښتکلنه جګړه، د سترو زبرځوکوانو جګړه وه او افغانان په کې د ســـونتوکو په توګه قرباني شـــول. البته په دې غميزه کې د افغانانو توره او مېړانه پر خپل ځای د يادونې وړ ده، خو دلته توره او سياسي بصيرت کله هم سره موازي نه شول، نو ځکه خو يې د يوې مثمرې نتيجې پرځای افغانانو ته دا لويه غميزه د ميراث په توګه پرېښودله. اوس تقريباً د وروستي ځل لپاره بيا د سولې لپاره يوڅه فرصت برابر شوی، که له دې فرصت څخه هم ښکېلې غاړې سمه ګټه پورته نه کړي، نو د دې اټکل شـــته چې هېواد داســـې يو لوی ناورين ته لاړ شي چې تر تېرو غميزو به هم ډېر خطرناک وي.

اوسـنيو فرصـتونو ته هم د هيله منتيا او هم د نهيلۍ په سـترګه کتل کېدی شي:

۱-نهيلي: نهيلي دا ده چې ستر زبرځواکونه له هر اشغال شوي هېواد څخه د هر علت؛ ماتې، مجبوريت، تېروتنې، ضرورت او ان خپلې خوښـــې له امله وځي، په نړيواله کچه د هغوی باور ته زيان رسي، نو د دغه زيان د جبران او پامغلطۍ لپاره دوی هغه هېواد

جوړ او سـلامـت نـه پرېږدي؛ یـا یې د تجزیې لـه ګواښ سره مخامخوي، یا له کورنیو جګړو سره، یا له اقتصادي بحران او یا هم له نورو ناروغیو سره. کله کله یې بیا کوم خپل ملګري، خو د دې بـل، رقیـب ګـاونـډي هېواد تـه د کنټرول لپـاره پـه اجـاره یي ډول ورسـپاري. وېره دا ده چې امریکا او ناټو، افغانسـتان په لوی لاس




کورنیو جګړو ته ورسـتون نه کړي او یا یې پاکسـتان ته په ټیکه ور نه کړي. پاکستان له سخت اقتصادي بحران سره مخ دی، امریکا سره ان د خپل عزت په بیه هم هر ډول معاملې ته حاضر دی. نو پاکسـتان به د پیسـو د ډالۍ او همدارنګه د اقتصـادي بندیزونو د ختمېدو په بیه پر طالبانو د پخوا په شـان د یوې پروژې په توګه معامله وکړي، طالبان به له زوره او ځوا که وغورځوي، داسـې یو حالت ته به یې ورسـوي چې نه به د حکومت د نیولو وس ولري او نه به هم حکومت دا سې یو ځواکمن حالت کې وي چې طالبان ختم کړي، نتیجه به دا وي چې وروروژنه او افغانوژنه به روانه وي، هېواد به د یو کمزوري حکومت څښتن وي او ان د خپل جوړښت په داخل

کې به هم د ســمون وس و نه لري. د دې احتمال هم شــته چې پاکســتان امریکا ته یوه غوړه مړۍ خوله کې ایښــې وي، چې د



طالبانو واکمني تاســو ته هېڅ ډول خطر نه دی، له هند سره زموږ د مقابلې لپاره په افغانستان کې موږ ته همدا سې یو دو ست حکومت په کار دی، دوی به په هېڅ وجه د القاعدې، داعش او نورو ډلو په شان ستاسې مخالفې ډلې په افغانستان کې نه پرېږدي، د دې ډول خطرونو تضــمین موږ کوو، نو په داســې یو حالت کې به امریکا د افغانستان له او سني حکومت سره خپلې مر ستې کمې کړي، نو دا حکومت چې هسې هم د اضدادو یوه مجموعه ده او په نورو لسگونو مرضــونو ککړ دی، له طالبانو سره به اوږده جګړه و نه کړای شي، ښارونه او ښارګوټي به لاس په لاس شي، طالبان به په انقلابي ډول کابل ته راننوزي او یو ځل بیا به هماغه جهادي دا ستان تکرار شي، د روسـیې، هند او ایران له خوا به د طالبانو د مخالفو ځواکونو ملاتړ وشي او بیا به د نویمو کلونو غمیزه راغبرګه شي.

۲-هیله منیتا: د هیله منتیا یو څه ځرکونه هم شــته او هغه دا چې هم بهرنیو ځواکونو او هم کورنیو لوبغاړو ســیاســتوالو ته یو غـوړېـدلـی کـتـاب



پروت دی، ټول پر دې پوهېږي چې یو وړه تېروتنـه هم د تېرو غمیزو د تکرار سـبب کېدی شي، امریکا یان زړه کې پوهېږي چې دوی ته کوم سردرد پېښ شــوی، پاکســتان په کې دخیل و، پاکســتان هم د دې ویره احســاســوي چې امریکا پر دې پوهېږي چې دلته امریکایانو ته د ستونزو په ټوکېدو کې د پاکستان اساسي نقش و، هسې نه چې له سیمې څخه تر وتو وروسته د دې ستونزو غچ له پاکستانه واخلي. پاکستان بیا له اقتصادي، سیاسي او نظامي پلوه د ګړنګ پر غاړه ولاړ دی او د امریکا یوه وړه ټېله یې له ګړنګه ګوزارولو ته بسنه کوي. طالبان باید پر دې پوه شي چې د پاکســتان دوســتي تر زهرو هم خطرناکه ده، دوی دا مزه یو ځل څکلې او د بیا څکلو تجر به یې د دوی د مرګ په بیه تمامېږي، پاکســتان اســاســاً په افغانســتان کې یو بې ثباته اقلیت محوره حکومـت غواړي، نـه یې طـالبـان طبیعي متحـدین دي او نـه هم اســلامي حزب، البته دا دواړه حرکتونه داســې وســیلې وې چې د بهرنیانو په مقابل کې یې د جنګ پوره ځواک درلود، نو ځکه یې د

جنګ پر مهال د هغوی له قوت څخه د خپل ځان لپاره اعظمي ګټه پورته کړه، خو کله چې په لاهور او پینډۍ کې د څوکیو وېش مطرح کېده، د حکمتیار پر ځای یې رباني غوره وباله، نو پاکســتان غواړي یو ځل بیا هماغه زوړ فورمول تکرار کړي او طالبان د واک د وېش پر



مهال د اسلامي حزب له برخليلـک سره مخـامخ کړي. دلته بیا په دې بل اړخ؛ حکومـت کې هم خبره د پخوا په څېر ده، ډاکـټـر غـنـي د ډاکـتـر نجیب په رول کې دی، صالح د محتاط، دانش د کشمند، د نــــبي عـظیمي او جنرال بابه جان په رول کې هم ورته کسان شته، جنرال دوســـتم لا لړ ترلړه په خپل رول کې دی، ایران هم د پخوا په څېر وحدت حزب ته نوی پوځي روح، سر او سامان ورکوي، غني پر دې پوهېږي او یا باید پر دې پوه شي چې وړه تېروتنه یې هم د ده او هم د نظام د ړنګېدو ســبب ګرځېدلی شي. دی پر دې پوهېږي چې د ده پر شاخوا راټول څو اومغلن سیاسي ما شومان د تورې نه دي، نو ځکه خو د پخوانیو تاریخ تېرو او بګېل شـــویو جنګســـالارانو د انســـجام هڅې کوي؛ هماغه ټوپکمار چې هم د ده، هم د وطن او هم د ټول نظام مخالف دي.ډاکټر غني ته د ډاکټر نجیب د حکومت ړنګېدل خپله یو غوره‌ېدلی کتاب دی، دی خپله هم تر هر چا زیات د همغه حالت یادونه کوي.

**نتیجه:** زموږ د لیکنې هدف دا دی چې هم ډاکټر غني او هم طالبان اوس پوره تجر به لري، که له دې تجربو یې راتلونکو څو میاشـــتو کې دقیقه او پرځای ګټه پورته نه کړه او خپلمنځي روغه جوړه یې رامنځ‌ته نه کړه، نو کېدی شي غني د ډاکټر نجیب او طالبان د اســلامي حزب پر برخلیک اخته شي او هم د راتلونکي احتمالي غمیزي غټ عاملین وګڼل شي، خو روغه جوړه د ټولو په ګټه ده، هم حکومت له پاشـــنې ژغورل کېږي، هم د نظام اډانه نه ماتېږي، هم هېواد بېرته تېر بحران ته نه ستنېږي او هم د ګاونډیانو شــومې ارادې شـــنډېږي. افغانســـتان لوی هېواد دی، ټول په کې ځایېږي، هم بډایه اشرف غني او هم د مدرسې طالب.

که د قدرت د وېش مو ضوع مطرح وي، نو که دا سې یو وړاندیز وشي چې د پوځي او عدلي ارګانونو یوه غوښـنه برخه دې طالبانو ته ورکړل شي چې د دوی په اصـــطلاح شریعت پلی کړي، اقتصـــادي چارې، د بندونو جوړونه او نړیوال اړیکي دې غني او د ده اړوند ټیم ته وســـپارل شي، تر یو لنډمهاله دې په دې ګډ حکومت او اوربند کې ګوزاره وکړي، بیا دې ورو ورو ټاکنو ته لاړ شي. وروسـتی هدف سـوله او د نظام تداوم دی، که د دې دواړو مطرحو لورو رښـتیا هم پر وطن او هېوادوالو زړه دردېږي، نو د دغو دوو ســـترو ضرورتونو د ټینګښـــت او پوره کولو لپاره باید هلې ځلې وکړي، نه دا چې د هغو مخې ته تیرې تولې کړي.

# محصلي د ژوند يو طلايي پړاو

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د اپريل پر (۱۷)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) مياشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

نن مې د استاد يحيى همای په مرسته د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې له لومړي ټولگي څخه ازموينه واخيستـه. عمر د باد په شــــان تېرېږي؛ (۳۴ ) کاله وړاندې زه په همدې دريځ کې وم. (۳۰) کاله مې د ا ستادۍ تېر شول، خو د محـصلۍ دوره ډېره خوږه او طلايي دوره وي؛ مســـوليت يې ډېر کم، خو صــــلاحيت يې هم محدود وي.

انســـــان کې د لومړي ټولگي زده کوونکی وي، که د پوهنتون د دورې محصل او يا ان د دوکتورا دورې محصل وي، که د نړۍ د هر گوټ وي، گډې ځانگړنې لري:

۱ -امتحان يې تر ټولو سـخته شـېبه وي، لايق او تنبل شـاگرد دواړه ورته وارخطا وي.

۲ -که ووړ زده کوونکی وي که لوی محصل، د غريبۍ او مفلسۍ احساس به په کې کوي.

۳ -له مور او پلار او د کورنۍ له نورو غړو سره به يې د جيب خرڅ پر سر لانجه وي.

۴ -ضرور به يو وړه او پټه شان سپما جوړوي .

۵ -په دې دوران که کوم خپل او خپلوان ورته څه پټ جېب خرڅ ورکړي، نو د ژوند تر پایه پرې هغه شخص خوږ لګي.

٦ -کومه ورځ چې اســتاد ټولګي ته رانه شي، نو هغه شــېبه پر دوی نیم اختر وي.



۷ - له درس څخه د ډلییزې تېښــتې لپاره ډېر ژر پر متفقه دروغو توافق ته رسېږي.

۸ - قانوني او منظم، تریخ او با پرنیســپه اســتاد یې ډېر نه خوښېږي.

۹ -کوښــښ کوي د هر اســتاد له تکیه کلام څخه هغه ته د دوی تر منځ یو توافقي او شفري نوم غوره کړي.

۱۰ -هغه استاد چې له دوی سره ټوکې کوي او د درس یوه برخه پر فرعي موضوعګانو تېروي، هغه یې ډېر خوښېږي.

۱۱ -شوخي او ازادي ټوکې يې د طبيعت يوه برخه ګرځي، ان که جمهور رييس هم شي، خو چې په ټولګي کې د شـــاګرد په توګه کېناست، ياد خصوصيات خپلوي.

۱۳ -هر ډول خوراکي توکو ته يې ا شتها راځي، خو د پيسو کمی ورسره هر وخت محسوس وي.



۱۴- که شـــاګرد لايق وي کـه تنبـل، خو چې پر نقـل يې لاس بر شـــو صرفه پرې نـه کوي، عينـاً لکه قاضي چې مفتو شرابو ته د ټينګې نه دی او يا هم رشـــوتخور مامور چې رشـــوت ته ځان نه شي ټينګولی او داســـې نورې ځانګړنې چې تاســـې خپله ورپسې زياتولای شئ.

خو دې ټولو تنګســـياوو او ځـانګړنو سره سره د زده کړې او تحصـــيل دوره د ژوند تر ټولو خوږه او بې مســـوليته دوره وي، د يو انســان د ژوند اســاس دلته جوړېږي، په ســلګونو او زرګونو ملګري پيدا کوي، چې د ژوند ترپايه يې په غم، درد او خوشالۍ کې شريک وي. کاشـــکې ژوند بيا تکرارېدلی چې دا ځل مې له دې ټولو تجربو سره ځان په لومړي ټولګي کې شـامل کړی او تر شـلم ټولګي پورې مې رسولی وای!

# بریښنايي تذکره او د ترکتبارانو

# د پیوستون ورځ

**دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اپریل پر (۱۸)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میاشتې له (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.**

**نن مې د افغانستان د ترکتبارانو د پیوستون شورا په بلنه په هغه**



**غونډه کې ګډون وکړ، چې د يادې شورا له خوا په بریښنايي تذکره**

کې د ( ترک) قوم د لیکلو او د ترکتبارانو د پیوســـتون د ورځې په ویاړ جوړه شوې وه.

د غونډې ټولو ویناوالو په برېښــنایي پېژندپاڼه کې د ( ترک) قوم د لیکلو له امله خوښــي وښــوده او دا یې د قومي هویت د خوندیتابه او د ملي وحدت د ټینګښــت لپاره یو ښــه ګام وباله. ویناوالو وویل چې موږ ټول مســـلمانان یو، افغانان یو، ملي هویت مو افغان دی، خو د افغان تر چتر لاندې خپل قومي هویتونه هم لرو. ویناوالو هغو کړیو ته هم د نیوکې ګوته ونیوله چې تل یې له بېلابېلو لارو هڅه



کړې د نورو قومي هویتونه غصـــب کړي او ځان تـه یو مصـــنوعي چتر جوړ کړي. د غونډې یو اصلي ویناوال؛ ډاکټر خنجاني وویـل : دلتـه داســې خلـک هم شـــتـه چې د قوم د افرادو تر شـمېر یې د رهبرانو شـمېر زیات دی، دا هماغه ډله خلک دي چې همېش د ملي وحدت چغې هم وهي، خو تر ټولو زیات د ملي وحدت مخالف هم دي او په دې تېرو وختونو کې همدا خلک وو چې په برېښـنایي تذکرو کې د نورو قومونو د هویت د لیکلو مانع ګرځېدل.

د غونډې ګډونوالو برېښـــنایي تذکره نه یوازې د ملي او قومي هویت د تثبیت یو ښــه وثیقه وګڼله، بلکې دا یې د ښــې حکومتولی، بشري خدمتونو د تر سره کولو او د جنايي جرمونو د کنټرول او مهار لپاره یو ښه وسیله هم وګڼله.

# د یو لوی علمي بنسټ

# د جوړېدو په تکل

> دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اپریل پر (۱۹)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (وري) میاشتې له (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

هر څومره چې فکر وکړئ، د ټولنې د سـو کالۍ غوره او نرمه لاره همدا ده چې، نوي نسـل ته د زده کړې او تحصـیل ښـه زمینه برابره شي.

هغه وخت چې ما په ډېر تکلیف له ښـاغلي کرزي صـیب څخه د کونړ او لغمان پوهنتونونو د جوړونې امرونه واخیستل او هیله مې تر دې وروسته دا وه چې نورستان کې هم یو پوهنتون جوړ شي او په دې ډول به ځلور واړه ختیز ولایتونه د دولتي پوهنتونو خاوندان شي. د دې تر څنګ مې بله هیله دا وه چې په ختیځ کې یو بل داسې خصوصي پوهنتون، د لوړو زده کړو موسسه او یا هم داسې یو خصـوصي تحصـیلي بنسـټ جوړ شي، چې د ډیورند کرښـې د دواړه غاړو وروسـته پاتې سـیمو ځوانانو او د ختیزو ولایتونو د وروسـته پاتې کلیوالي سـیمو هغو خویندو او ځوانانو ته، چې په دولتي پوهنتونو کې ورته د جذب چانس نه پیدا کېږي، دلته ورته د تحصیل زمینه برابره شي.

د دې کار لپاره مې هغه ځمکه په پام کې ونیوله چې د کامې پله تر څنګ مې نږدې اولس کاله وړاندې اخیسـتې وه. تر اولسـکلنې ذهني نقشې او شپږکلن فزیکي ودانیز کار وروسته دا دی خبره دې

حد ته ورسېدله چې ودانۍ (۹۸) سلنه بشپړه شوه او پاتې (۲) سلنه چارې به يې هم ان شاالله چې تر کوچني اختره پورې بشپړې شي.
دا ودانۍ د يو پوهنتون او تحصيلي موسسې لپاره ډيزاين شوې او تـــر (۸۰) زياتې درسي خونې لري او د نورو تــدريسي خونــو د



زياتونې ظرفيت هم لري. اوس غواړم په دې اړه د علم او فرهنگ مينوالو، حکومت او د علم نورو لېوالو افغانانو ته څو وړانديزونه ولرم او هم ورسره په دې ځای کې د يو تحصـــيلي بنســـټ د جوړېدو په باب مشوره وکړم:

**هدفونه:** د دې علمي مرکز يا پوهنتون غټ هدفونه په دې ډول دي:

۱ -د ډيورند کرښـــې دواړو غاړو د وروســـته پاتې پرتو ســـيمو، ځوانانو ته د تحصيل د زمينې برابرول.

۲ -د ننگرهار، کونړ، لغمان، نورســتان او د هېوادو د نورو ممکنه برخو ځوانانو او د ننگرهار د کليوالو وروسـته پاتې سـيمو خويندو ته د حرفه يي زده کړو او تحصيل زمينې برابرول.

**وړانديزونه:** خپله شخصاً زه نور تر دې زيات د دې تحصيلي بنسـټ د بشـپړاوي، پيل، ودې او بيا د منظم انکشـاف لپاره نه وس

لرم، نه وخت لرم، نه هم نور امکانات او نه هم د پرمختبیولو پوره تجربه او کاري وړتیا، په نورو چارو کې هم ډېر بوخت یم، نو ښه به وي چې د داسې لویو علمي پروژو د ارمان د پورو کولو چارې له نورو ارګانونو، د نظر او وس له خاوندانو سره شریکې کړو او یا یې ټولې هغوی ته وسپارو، چې یوې مطلوبې پایلې ته ورسېږو. ما د دې ارمان د بریا لپاره لاندې کته ګورۍ ارګانونه او یا اشخاص په پام کې نیولي دي:

۱ -حکومت: له حکومت په تېره بیا له قبایلو چارو وزارت سره مې خبرې روانې کړي، چې په دې سیمه او ودانۍ کې یا مستقل



پوهنتون، یا هم یو بشپړ روغتیایي کمپلکس، چې طبي زده کړې به یې هم یوه برخه وي، جوړ کړي، یا دې هم د کوم حکومتي پوهنتون لکه، باچاخان او یا بل پوهنتون څانګه دلته فعاله کړي. حکومت ته ځکه لومړیتوب ورکوو چې اینده کې یې د پراختیا لپاره امکانات هم لري او محصلین به هم له وړیا تحصیله برخمن شي.

۲ -د نظر خاوندان او منتقدین: زموږ په ټولنه کې اوس دا یو دود ګرځېدلی چې که هر څومره ګټور او مثبت کار هم تر سره کړې، بیا به هم په اصطلاح د نظر خاوندان او منتقدین په کې شګې لټوي او یوه منفي تبلیغاتي اور به درپسې بلوي، نو ښه دا ده چې دوی ته هم د نظر او نیوکې پر ځای د کار او عمل فرصت ور کړای شي؛ دا

ځای د دوی په واک دی، را دې شي او پر علمي معیارونو برابر یو تحصیلي مرکز دې په کې جوړ کړي، که ګټه په کې متصوره وي، هغه به هم تر لاسه کړي.

**۳- د علمي ډګر ملي پانګوال :** هغه هېوادوال چې په علمي ډګر کې له پانګونې سره مینه لري او په دې برخه کې عملي تجربه هم لري، له هغو څخه هم هیله لرو چې د هېواد د اولادونو د ښې روزنې لپاره په دې علمي بنسټ کې پانګونه وکړي او د چلولو ټولې چارې یې پرمخ یوسي، متصوره مالي ګټه یې هم د دوی خپل ملکیت.



**زموږ شرایط:** موږ کوم خاص او س خت شرایط نه لرو، پر هر نرم فورمول چې پانګوونکی وغواړي، موږ ورسره توافق کوو، زموږ شرطو نه یوازې هماغه دي چې په اهدافو کې ورته اشاره شوې او که اشخاص پانګونې کوي، نو یوازې دا هیله ترې کوو چې خویندو، بېوسه او بېوزله محصلینو ته د فیس په برخه کې ځانګړی تخفیف وزغمي.

که څوک لېوالتیا ولري، په ( ۰۰۹۳۷۰۰۶۰۳۴۸۴) تلیفون او وټساپ شمېره له ماسره مستقیماً اړیکي نیولای شي، د ودانۍ په باب بشپړ معلومات ان شاالله یوه میاشت وروسته په ویډیویي راپور کې.

درناوی

ستاسو یون

په هېواد کې د سولې، سوکالۍ او د علمي مرکزونو د غوړېدو په هیله.

# لغمان کې ژوند او تراژيدي

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۴) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غويي) مياشـــتې له (۱۴) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

د يو څو ضروري فـاتحو لپـاره نن لغمان تـه لاړم، يوازې دوه ســاعته په مرکز (مهترلام) کې پاتې شــوم. دلغمان په ويالو کې د ژوند اوبه هم روانې وې او پر کليو او بانډو کې د مرګ اورونه هم بل



وو؛ الينګار او اليشــنګ کې د مرګ اســتازي ګرځي راګرځي؛ د يوې لويې غميزې ورم لګېږي.

ځینې خلک به فکر وکړي چې په داسې حالاتو کې سفرونه څه مانا؟

ربښتیا هم دلته سفر د ژوند او مرګ تر منځ پر یوه نرۍ او باریکه لار تېرېږي چې پرخدای توکل، چانس او تدبیر یې درې ملګري دي. چانس او توکل مو خدای پاک ته سپارلي او د تدبیر برخه یې زه خپله ترسره کوم او هغه دا چې تر نیم ساعت وړاندې هېڅوک هم پر خپل سفر نه خبروم. خو تر دې دمه چې خدای ساتلي یو، د توکل، چانس، تقدیر او د خدای د لورېینې برکت دی .



خدای دې له ښکلي لغمان او ټول افغانستان څخه د بدمرغه جګړې لمن ټوله کړي او دا خوره تراژیدي دې نوره په خوشالۍ بدله کړي، چې له خپلو ملګرو سره په ارام زړه ښکلي لغمان او ټول ښایسته افغانستان کې خلاصې تنې وګرځو را وګرځو.

# جنګ دې ورک شي رنګ

# دې ورک شي

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۴) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غويي) مياشــتې له (۱۴) مې نېټې سره ســمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

جنګ چې په هر نامه وي او د هر مقصــد لپاره وي، خو د هغو خلکو لپاره چې ســيمه يې د جګړې ډګر وي، ســختې بدمرغۍ او غميزې زېږوي. په دې تصــوير کې تاســو د ننګرهار ولايت د کوز



کونړ ولسـوالۍ د سـلګونو ان زرګونو يتيمانو له جملې څخه يوازې د شـپېتو تنو يتيمانو څېرې ګورئ! دا تصـوير د افغانسـتان د هر کلي

او هرې ســـيمې تصـــوير دی. جگړې له رواني او فزيکي پلوه زموږ ټولنه دومره ځپلې چې تر لسگونو کلونو کار او زيار وروســته يې هم عادي حالت ته را گرځول اســـانه کار نه دی. د دې غميزې پر مخ د ځپېړې او کلک گوزار يوه لاره دا ده چې د دغســې يتيمو، بېوســه او بېکســه ماشـومانو لاسـنيوی وشي، د دوی پر سر لاس راکاږل شي او پر ښـــوونې او روزنې يې پانکو نه وشي. لور مې (هيلې) چې دا مهال د ما ستېرۍ لوړې زده کړې کوي، د يتيمو او بېو سه ما شومانو او خويندو د لاســـنيوي لپاره يې ځانگړی پروگرام پيل کړی، نن يې هم تر خپله وسه پورې دې يتيمو او بېوزله ماشومانو ته يوه يوه وړه اختريزه ډالۍ برابره کړې وه.

له ټولو هغو هېوادوالو څخه چې د مالي وس او امکاناتو خاوندان وي، هيله کوو چې په خپله ســـيمه او د هېواد په هر گوټ کې د بېکســـه او بېوزله ماشـــومانو او يتيمانو لاســـنيوی او په تېره بيا په تعليمي برخه کې پانگونه وکړي.

# که نظام ړنګ شي!؟

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۹) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غویي) میاشـــتې له (۱۹) مې نېټې سره ســـمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

که نظام ړنګ شي یو ځل بیا به د اویایمو کلونو تجربه تکرار شي. ان تر هغې به څو ځله زیات وحشـــت او دهشـــت خپور شي، کور پر کور به جګړه وي، د وینو رودونه به روان شي، له کلیو او کوچنیو ښـــارونو به د نوي را ټوکېدلي تمدن لمن راټوله شي، لوی او واړه ښـــارونه به لاس په لاس شي، د جګړې اورونه به پر هرې ودانۍ بل شي، بانکونه به لوټ شي، شریر ګاونډي به دربانديې خپلې دروازې وتړي، دا ځل به د ډله ییز مهاجرت امکانات هم له منځه لاړ شي، ټلویزیونونه به اعدام شي، راډیو به د غمونو ترانې غږوي، د بریښـــنا او رڼا ســـتنې به پر ملا ماتې شي، او به خور سستمونه به ړنګ شي، شنې ځمکې به شاړې شي، د اوبو بندونه به په بمونو والوزول شي، اوبه به یې زموږ ښارونه او کلي ړنګ کړي او بیا به ورو ورو د ګاونډیو ځمکې او تونديې خړوبې کړي. ښـــارونو کې به یو ځل بیا وحشـت او دهشـت خور وي، د بریښـنا مزي به له هوا او ځمکې راټولېږي او د پاکستان په بازارونو کې به پلورل کېږي، ټانکونه او الوتکې به اره کېږي او په زرګونو لویې او وړې فاجعې، چې تر دې دمه مو لا په ذهن کې هم نه ګرځي، دا به ټولې رامنځته

کېږي، تر ټولو دردوونکې غمیزه بــه لا دا وي چې زموږ د ملالو خویندو او میندو له سرونو به پړونی غورځېږي او د هغو صــحنو د پېښېدو امکان هم شتـــه چـــې د بشریت تاریخ به تر اوسه نه وي لیدلي، نو مخکې تر دې چـــې له داسې ستر بشري نـــاورین سره مخامخ شــو، ښــه دا ده چې ټول د نظام د بقا، تداوم، ســمون او د سولې د ټیګنښت لپاره تر وروستي حده هلې ځلې وکړو.

تر هر څه وړاندې باید دا خبره د جګړې ټولې خواوې له ذهنه وباسي چې دلته هېڅوک د دې توان نه لري چې یو بل په بشپړ ډول محوه کړي، که یو پر بل غالبېږي هم، نو غالب به تر مغلوب ډېر تکه تکه او پارچه پارچه وي؛ د مرحوم ډاکټر نجیب خبره چې اصلي نا کام همغه دی چې د جګړې په ډګر کې بر یالي وي او یا ځان بریالی ګڼي.اوس راځو د همدې ســترې احمتالي انســاني غمیزې څو بېلابېلو اړخونو او بیا حللارو ته:

## الف -د نظام بقا او تداوم:

له هرې ممکنې لارې چې وي نظام باید تداوم وکړي، نظام د حکومتي چارواکي او یا د غني، عبدالله او څو نورو کســانو د واک د تداوم په مانا نه دی. نظام د دولت ټوله اډانه او فزیکي جوړښــتونه دي چې ولس، جغرافیه، حکومت، د حکومت مخالفین او موافقین یې ټول بېلابېلې برخې ګڼل کېږي. دلته باید داخبره سپینه شي چې د واک نیول باید د نظام د ړنګونې په بیه تمام نه شي او یا د واک ساتل هم د دې سبب نه شي چې په پای کې د نظام د ړنګېدو عامل شي.

موږ یو نیم کال وړاندې قطر ته سفر وکړ، د طالبانو مشرانو سره مو وکتل، د ســفر اصــلي هدف مو همدا و چې طالبانو ته دا خبره تفهیم کړو چې په هر ترتیب وي، د نظام د ړنګېدو مخه باید ونیول

شي؛ موږ د بې نظامۍ د بدمرغه تجربې مزه څکلې او دا ترخه تجربه باید بیا تکرار نه شي؛ هر څوک چې د واک وځواک مینوال او لېوال وي، کولای شي د نظام له ړنګونې پر ته پر ســوله ییزو او معتدلو لارو چارو ځان واک ته ورســوي. خو اوس له روانو جګړو څخه داسې ښکاري چې طالبان ځان پیاوړي احساسوي او لا هم د



ســولې تر خبرو اترو، جګړه ییز بهیر وړاندې روان دی، دا حالت او تصور د دې سبب کېږي چې هره ورځ په هېواد کې داسې یو ناورین پېښ شي چې یو تر بله دردوونکی وي. د دې لپاره چې دا اوســنی نظام او د هغه مجریه قوه، سره له دې چې ډېر نیګړتیاوې لري، خو بیا هم تر (نه نظامه) غنمیت دی او د ړنګېدو په حالت کې یې دغه اوسني حالت ته بیا ځان رارسول هم لسګونه کلونه وخت غواړي او ان ناشــونی کار برېښــي. د دغه نظام د بقا په خاطر دغه څو بېړني وړاندیزونه کوو:

۱-بېړنی حالت: جمهور رییس د اســاسي قانون له مخې په بحراني شرایطو کې د اضطراري حالت د اعلان صلاحیت لري، په دې حالت کې ملي شــورا د درېیو میاشــتو لپاره معلق کېږي،

صـــلاحیتونه یې جمهور رییس ته محولېږي. په دغه موده کې دې جمهور رییس د شورا ټول مالي امکانات او امتیازات امنیتي سکتور ته انتقال کړي، هم به ملي پوځ پیاوړی شي او هم به د بودجې کسر رامنځته نه شي.

**۲ -رســـنیز فعالیتونه:** په بېړني حالت کې د قانون له مخې رسـنۍ هم یو شـمېر محدودیتونه زغمي، په دې بهیر کې دې هغه ر سنۍ هم په ځیر سره وڅارل شي چې همدا اوس یوازې د مالیې د نـه ورکړې لـه املـه پـه میلینونو ډالره د حکومـت پوروړې دي، هم ګاونډیو هېوادونو سره لار او تار لري او هم ملت ضـــد او نظام ضـــد تبلیغات کوي.

**۳ -لوړ پوړي دولتي چارواکي:** جمهور رییس دې عاجل یو داسې غوڅ فرمان صادر کړي چې سره له همدا اوسه بیا د اضطرار حـالـت تر ختمېـدو او د حـالاتو تر عـادي کېـدو پورې هېڅ دولتي چارواکی له ډېرو مهو دولتي ســفرونو پرته بهرني ســفرونه نه شي کولای. دا چارواکي که یو ګونی تابعیت لري که دوه ګونی، د ټولو پاســـپورتونه باید تر یادې مودې پورې دولت سره قید شي. جمهور رییس باید لومړی خپل اولادونه هېواد ته راستانه کړي او بیا پر ټولو چارواکو همدا کړنه عملي کړي، خپله دې هم د اعلی سر قوماندان په توګه عســکري یونیفورم واغوندي او پر نورو چارواکو دې هم دا عملیه تطبیق کړي، ټول دې له خپلو بالغو نارینه اولادونو سره لږ تر لږه یو ځل د جګړې لومړۍ لیکې ته لاړ شي، دې سره بیا ګوره چې د پوځ د سرتېرو روحیه اسمان ته پورته کېږي او کنه؟

**۴-دولتي مشـاورین:** ټول دولت مشـاورینو نیولی، کار نه شـته او معاشـونه شــته، مشـوره نه شــته خو امتیازونه شــته، د جمهور

رییس د مشـــاورانو په شـــمول دې د دولت په ټولو برخو کې د ټولو مشـــاورینو بســـتونه له منځه یوړل شي، د دوی ټول امتیازات او معاشونه دې امنیتي سکتور ته انتقال شي.

**۵-د پخلاینې عالي شورا:** دا شورا چې له حکومت سره نږدې موازې تشـکیلات لري او دې ته ورته د سـولې لپاره نور جوړښـتونه ټول باید له منځه لاړ شي. دوی نه یوازې د سـولې لپار مرسـتندوی نه دي، بلکې د سـولې پر وړاندې د خنډ جوړوونکو سرچینو په توګه یې رول ادا کړی دی، ټول امتیازونه یې باید امنیتي سکتور ته حواله شي.

**٦-امنیتي خدماتي پرســـونل:** یو شـــمېر سرتېري او امنیتي پرسونل له بېلابېلو جهادي او الحادي رهبرانو او په اصطلاح بانفوذه شـخصـیتونو سره خدمتي دي. دوی باید د اشـخاصـو د سـاتنې پر ځای د عامه نظم د ساتنې لپاره وګومارل شي.

**۷-نظام ضـــدي حکومتي چارواکي:** په دې نظام او حکومت کې داسې اشخاص او جریانونه شته چې تر طالبانو څو برابره زیات د دې نظـام مخـالفین دي، لـه حکومتـه هم امکـانـات اخلي، هم امتیازات، خو بېرته یې د همدې نظام او حکومت پر ضــد کاروي، د نظام مخالفت خو پر پرېږده چې ان د افغانستان ماهیت او ارز ښت هم نه مني، ځانته سرود او ځانته بیرغ لري. دا ډلې د اوســـنـي حکومت بېلابېلې ایتلافي او مصـلحتي برخې دي. په بېړنیو شرایطو کې جمهور رییس اړ نه دی چې د دې ایتلافیانو ناروا غوښـــتنو ته غـاړه کېږدي، بـایـد لـه یوې مخې یې لـه حکومتـه جـارو کړي او امتیازات یې د امنیتي سکتور د پیاوړتیا لپاره وکاروي.

۸ -اداري تورم: حکومت کې پر یو مهال په ورته برخو کې ګڼ شمېر موازي ادارې فعالیت کوي، دا ادارې باید ژر تر ژره تشخیص شي او د دې بې ضرورته ادارو معاشـــونه او امکانات باید د امنیتي سکتور پیاوړتیا ته ځانګړي شي.

۹ -د امنیتي سکتور سمون: که څه هم په تېرو څو کلونو کې په امنیتي ســـکتور کې تر زیاته حده ســـمون راغلی، خو بیا هم د جهاد او مقاومت په نامه یو شـــمېر تنظیمي وېرســـونه لا هم په کې فعال دي، چې د ملي پوځ جوهر ته یې یو څه زیان رســـولی، که دا ویروس له امنیتي سکتوره لرې شي، نو پوځ به لا ملي ماهیت خپل کړي.

## ب- طالبان:

په افغانســـتان کې پر طالبانو سربېره د حکومت او نظام نور مخالفان هم شـــته، خو غټه برخه یې همدا طالبان دي، که دوی له حکومت سره روغې جوړې ته ورســـېږي، حکومت به پیاوړی شي، بیا نورې ډلې د دومره درنې جګړې وس نه لري. اوس راځو د طالبانو سنجونو، محاسبې او تېروتنو ته:

۱ -د طالبانو محاســـبه: طالبان فکر کوي چې څلوېښـــت هېوادونه مو مات کړي، بېرته نه راګرځي، حکومت کمزوری دی، ایتلافي بڼه لري، روحیه یې هم کمزورې ده، همدا وخت دی چې جګړې ته دوام ورکړو، کېدی شي حکومت په زور ونیسـو او د پخوا په څېر ټول واک را خپل کړو. په دې کې کېدی شي پاکســـتان هم خپل خپل رول ولري او د خپلې ستراتېژۍ په پام کې نیولو سره یې د دې تفکر په پیاوړتیا کې اغېز لرلی وي.

**۲-تېروتنه:** د طالبانو تېروتنه به دا وي چې يو ځل بيا پر پاکستان باور وکړي، ډېری کتونکي په دې نظر دي چې پاکستان د طالبانو په جوړونه، پرځونه او بيا جوړونه کې خپل نقش لرلی دی. د دې احتمال بيا هم شته چې پاکستان يو ځل بيا له سترو ځواکونو په تېره بيا امريکا سره د طالبانو د پلورنې پروژه مطرح کړي. لکه څنګه چې يې دمخه دا معامله کړې وه. د طالبانو د مشرانو پر سر به معامله وکړي او کشران به يې دومره کمزوري کړي چې د حکومت د نيونې توان به نه لري، خو جګړه به غځولی شي، له بلې خوا به حکومت هم په داسې يو دريځ کې وي چې نه به ړنګېږي او نه به يې حاکميت غځېږي، جنګ به دوام پيدا کوي، افغانان به وژل کېږي، هېواد به کمزوری کېږي او په دې ډول به د پاکستان ستراتيژۍ عمق ته لاپسې زمينه برابرېږي. نو مخکې تر دې چې خبره د ټولو خواوو ناکامۍ ته ورسېږي. ښه به وي چې پر داسې معقولو لارو غور وشي چې ټول په کې د بريا احساس وکړي.

## ج-حللاره:

حللارې کېدی شي ډېرې وي، خو يو څوو ته به يې دلته په لنډيز سره اشاره وکړو :

**۱-د حکومت معقول مقاومت:** طالبان اوس ځان په داسې يو دريځ کې ګڼي چې ګڼې جګړه کې ګټونکي دي. له جګړه ييزې لارې د طالبانو احتمالي بری د دې حکومت د اختتام مانا ورکوي، خو د جګړې د پايته رسېدو مانا نه ورکوي، يو ځل بيا به زوړ سريال تکرارېږي. د امنيتي سکتور له پياوړتيا او د اضطرار حالت له اعلان څخه زما هدف د جګړې د ګرمولو په مانا نه و، بلکې موخه مې دا وه چې که حکومت درې مياشتې هم خپله اوسنۍ واک لاندې جغرافيه

وساتلای شي، طالبان به پر دې پوه شي چې د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی، نو ربښتینو خبرو اترو ته به لېواله شي.

**۲- طالبان او خبرې اترې:** طالبانو هغه مهال موږ سره قطر کې په خپلو خبرو کې وو یل چې موږ زورواکو حکومتونو څخه یو ږخه تجر به تر لاســـه کړې، هېڅ ډ له او جر یا ن په یوازې سر حکو مت نه شي کولای. موږ هیله لرو طالبان پر خپلو خبرو عمل وکړي، د استانبول او یا نورو غونډو ته د سولې له څرگند پیغام سره ورشي، د خبرو د سر ټکي باید د افغانسـتان د سـالمیت او د نظام د بقا تضمین وي، جمهورییس غني باید له طالبانو څخه د نظام د بقا تضمین واخلي

طالبان باید اوربند وکړي او په مقابل کې یې جمهور رییس غني له سوله ییزې لارې یوې دا سې بې طرفه ادارې ته دواک د لېږدولو تضـــمین ورکړي، چې ټولو خواوو ته د منلو وړ وي او په یو ټاکلي زماني واټن کې د افغانســتان د راتلونکي نظام او دواک د چلولو څرنگوالی وټاکي.

# د سرېتوب يو ګام

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۱۰)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غويي) مياشــتې له (۲۰) مې نېټې سره ســمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

موږ يو غمځپلی او جګړه ځپلی ولس يو، نږدې نيمه پېړۍ ده چــې دلــته جنګ روان دی، دا د بــشريت د تاريخ تر ټولو اوږده، بېرحمه او دردونکې جګړه ده، اوس چې په دې جګړه کې يوه ورځ هم اوربند کېږي، د زرګونو افغانانو ژوند ژغورل کېږي، اوس ورځنۍ جګړه لږ تر لږه د پنځه ســوو افغانانو د ژوند په قېمت تمامېږي، افغان ولس د دايمي اوربند مستحق دی، که اوسنی درې ورځنی او يا څو ورځنی اوربند د دايمي اوربند لپاره يو ښــه پيلامه شي، لکه څنګه چې د ټولو افغانانو هيله ده، نو دا به د ټول ولس د نېمګرغۍ لپاره يو ښــه زېری شي. خدای دې وکړي د تېر اوربند په شــان يو

ځل بیا د هېواد سرتېرى او طالب یو بل ته د مینې او پوخلاینې غېږه ورکړي او د سولې دښمن مو ذلیل شي. له فیسبوکي جنګیالیو هم هیله کوو چې د مجازي نړۍ له لارې د کرکې د خورولو هڅه مه




کوئ، ښه کار ته په ښه نظر وګورئ، د جګړې ټولې خواوې دېته وهڅوئ چې دا درې ورځینی اوربند درې میاشتني ته او هغه بیا کلني ته او کلنی بیا دایمي اوربند ته وغځوي. د همداسې ورځې د رارسېدو په هیله.

# د هېواد زينتي ډبرې او ښکلي وګړي

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۱۰)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غويي) مياشـــتې له (۲۰) مې نېټې سره سـمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

په دې انځورونو کې چې تاسـې کومې ښـکلې ډبرې ګورئ دا د هېواد قېمتي او زينتي ډبرې دي او اوس تـازه پـه تـازه د ټولنيزو رسـنيو مخ ته کوم افغـان پورتـه کړي دي. دا ډبـرې تــر صـيقلولو وړانـدې دومره ښـکلې او ښـايسـته نـه ښـکاربدې، پر دې



ډبرو د زمانې ډېرې دوړې او خاورې ناسـتې وې، خو د ډبرو زړونه ښکلي او صفا وو، کله چې ترې ګردونه لرې شول، نو د ډبرې اصلي جوهر هم څرګند شـو او قېمت يې هم څو برابره لوړ شـو، اوس يې څوک پر ليدلو نه مړېږي. د دې خاورې د هر وګړي اصلي ماهيت او

جوهر هم په حقیقت کې همدې ډبرو ته ورته دی. د هغه پر ذهن او فکر د جګړو او نفرتونو ګردونه ناست دي، خو که دا ګردونه د مینې، پوهې او عاطفې په اوبو وویندځل شي، د وژنې او رټنې پر ځای یې ښوونې، روزنې او پالنې ته پاملرنه وشي، نو د دغو زینتي تیږو په څېر به یې زینت او قیمت څرګند شي. ښه فکر وکړئ د دې هېواد ډبرې چې دو مره



ښایسته وي، نو انسانان به یې څومره ښکلي وي!؟ خو د دې ډبرو جوهر او ښکلا ته موږ هغه متوجه شو چې هغه مو صیقل کړې؛ بدرنګه برخې مو ترې وتوږلې، نو که موږ د خپلې ټولنې د انسان دسرسري او ظاهري ګردونو او بدرنګیو سمون ته ملا وتړو، نو نتیجه کې به یې هغه ښکلا راڅرګنده شي چې بیا به یې پر لیدلو نه مړېږو، نو راځئ انسان مه وژنئ اصلاح یې کړئ!

# د يو شهيد معمار ابدي کور

دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۱۸)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غويي) مياشـــتې له (۲۸) مې نېټې سره ســـمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

شهيد سردار محمد داودخان د افغانستان د معمارۍ اتل دی. د هغه تر شهادت دري څلوېښت کاله ورو سته هم چې په ټول هېواد



کې کومه لويه اقتصـــادي او ودانيزه پروژه پرانيســـتل کېږي، نو د شهيد داودخان نوم ورسره يادېږي.

نن له ښاغلیو او قدرمنو؛ محمد قاسم باز منګل، ډاکټر کریم باز منګل، حاجي خان محمد باز منګل، حاجي عمر او نورو مخورو سره د شـــهید سردار محمد داود خان زیارت ته لاړو، د هغه د مقبرې د



جوړونې چارې مو له نږدې وکتلې، د پـام وړ پرمختـګ پـه کې شـوی، د لومړي لاټ چارې يې پنځه اتیا سـلنه بشـپړې شـوي او د مسـولینو یه وینا پاتي پنځه لس سـلنه چـارې بـه يې هم تر راتلونکو څلوېښــــت پنځوس ورځو پورې بشـپړې شي، خو د دویم لاټ چارې يې لا نور وخت او امکاناتو ته اړتیا لري او په دې اړه شخصاً د جمهور رییس ډاکتر غني ملاتړ او پاملرنه غواړي.

خدای دې د هېواد دې شـــهید معمار او د هغه کورنۍ ته واړه جنتونه نصـــیب کړي او د جنتونو سردار دې کړي او د هغه د ابادۍ ارمانونه دې خدای پوره کړي.

# د لغمان اوسنی وضعیت

# د چا له خوا او پر کومه خوا؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۲۴)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرګولي) میاشــتې له (۳) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

شـــل ورځې وړاندې لغمان ته تللی وم، حالات مې چې وکتل د لغمان په ویالو کې د ژوند اوبه هم بهېدې، خو د یوې تراژیدۍ وړم هم لګېده، پر همغه شـــېبه مې د لغمان له والي، امنیې قومندان او نورو اړوند مســـولینو سره په لغمان کې د احتمالي ناورین په باب خپله اندېښـــنه شریکه کړه، بیا کابل ته راغلم، دلته مې په کابل کې په خصـــوصي ډول د کورنیو چارو سرپرســـت وزیر او نورو اړوند چارواکو ته په لغمان کې د جګړې او بشري ناورین احتمال توضیح کړ. په تېره نږدې یوه میاشت کې مې هره شېبه له چارواکو سره په لغمان کې د غمیزې د پېښېدو اندېښنه شریکه کړې، ر سنیو ته مو ځکه خبره نه ایســـتله چې کېدی شي چارواکي پاملرنه وکړي او ستونزه له قانوني لارې حل شي.

زموږ غټه اندېښـنه دا وه او ده چې کلي، پوســتې او ولسـوالۍ به لاس په لاس شي او په تېرو شلو کلونو کې چې په دې سیمه کې د مدنیت کومې نښـــې نښـــانې راټوکېدلې، هغه به ټولې لولپه شي. چارواکو ته مو همدا ویل، چې د (نورګرام) او (منګو) د بېزونو سقوط

د (الینګار) ولسوالۍ د سقوط په مانا دی او د الینګار سقوط بیا د (شختری) د بېز د سقوط مانا ورکوي او همداسې خبره د لغمان مرکز ته رارسي، دغه راز له دې بلې خوا بیا د (دولت شاه) سقوط د (الیشنګ) د سقوط مانا ورکوي او د الیشنګ په سقوط سره جګړه مهترلام ښار ته رسي. مهترلام ښار که څه هم د مساحت له مخې کوچنی (تر څلور کیلو متره مربع زیات مساحت نه لري)، خو د خدای په فضل اوس ښه اباد شوی او په لکونو خلک په کې مېشت دي، نو مهترلام ښار د ډېرې اوږدې محاصرې او جګړې تاب نه لري. د مهترلام په احتمالي سقوط به د ننګرهار، کاپیسا، پروان او کابل د سقوط احتمال هم متصور شي. نو ښه لاره دا ده چې د (الینګار) او (دولت شاه) استحکامات پیاوړي شي او مخکې تر دې چې جګړه د لغمان مرکز ته راورسي، پر همغو لومړیو کرښو کې باید مهار او د دې ترڅنګ د سولې محلي پروسه هم پسې تعقیب شي.

## حالات چا کړکېچن کړل؟:

د لغمان حالات دومره کړکېچن نه وو، البته د محلي پولیسو د پوستو پر شاوخوا جنګ دوام درلود. نه طالبان دومره قوي وو او نه حکومت دومره کمزوری و، خو کله چې نوي والي پر لغمان باندې د یو څو واکمنو مافیایي کړیو، چې د ولسي جرګې کوم وکیل هم په کې شامل و، ګټو ته لاس وروړ او له عایداتي سرچینو یې د هغوی اړوند اشخاص لرې کړل، نو د هغوی غوسه یې راوپاروله، دې مافیا چې تېرو دېرشو څلوېښتو کلونو کې یې د لغمان د ولس وینې زبېښلې وې، پر عایداتي سرچینو سربېره یې د الینګار او الیشنګ

په یو شــمېر ســیمو کې ځینې ســیمه ییز پولیس هم درلودل او له طالبانو سره یې هم پټ اړیکي پالل. دوی د یو شــمېر ســپینږیرو په



منځګړیتوب خپل یو شـمېر اړوند محلي پولیس دې ته وهڅول چې له جنګ پرته یو شمېر امنیتي پوستې طالبانو ته خوشې کړي، دې کار د طالبانو روحیه پیاوړې کړه او ګام پر ګام د نورو امنیتي پوستو د سـقوط اسـباب برابر شـول او په دې ډول جګړه د لغمان مرکز ته راورســېده. اوســنی حالت په حقیقت کې په دولت کې د مافیایي کړیو، یو شـمېر بې کفایته دولتي چارواکو او د سـیمه ییزو طالبانو د ګډو اعمالو نتیجه ده.

## اوسنی حالت:

اوس ګرمه جګړه روانه ده، خو نه طالبان د لغمان په اوســنیو نیول شــویو ســیمو کې د زیات وخت لپاره پاتې کېدلای شي او نه

دولتي تازه دمه سرتېري. حکومت مجبور دی اوســني کماندويي ځواکونه نورو ســيمو ته هم د جګړې لپاره ولېږي، نو ځکه خو د (الينګـار) او (دولـت شـاه) په مسـير کې پرتې ســيمې بـه اوسـمهال يو ځل بيا لومړی د حکومت او بيا د طالبانو لاس ته لو ېږي او دې سره به يو ځل بيا د خلکو



سر او مال ته درانه زيانونه واوړي. که دا لړۍ څو ځله تکرار شي، نو په سيمه کې به شين بوټی او د ژوند نښې نښانې پاتې نه شي.

## حل لاره:

حل لاره همدا ده چې مرکزي حکومت لغمان ته د او سنيو حالاتو له ضرورت سره سم امنيتي تشکيلات او پر سونل زيات کړي، هغه لګښـت چې اوس پر جګړه کېږي، د امنيتي پرسـونل د زياتونې تر لګښـته څو ځله زيات دی. د پرسـونل ترکيب بايد له داسـې افرادو جوړ شي چې هم ســيمه ييزه پېژندنه او نفوذ ولري او هم نظامي تعليم او تربيه، له (مهترلامه) تر (دولت شــاه) او داســې بيا له (مهترلامـه) تر (نورګرامـه) دواړه لويې لارې بـايـد لـه امنيتي پلوه خوندي کړي. دا حالت هم په دې مانا نه دی چې طالبان به هېڅ ځان نه خوځوي او جګړه به پايته رسي، طالبان به د پخوا په شــان

خپل پوځي تحرکات کوي، جګړه به هم روانه وي، خو حکومت باید د دې ترځنګ د ربنستینو سیمه ییزو مشرانو له لارې طالبانو سره د خبرو اترو لړۍ هم جاري وساتي. طالبانو ته هم باید دا خبره تفهیم کړای شي چې جګړه له بدمرغۍ پرته بله نتیجه نه لري، که اسلامي امارت همدا وي چې د سیمې تر نیونې وروسته د هغې ټوله



شتمني لوټ شي، نو دا خو سوچه یو ډول وحشت دی، نه اسلامي امارت. د حکومت محلي چارواکي هم باید و پوهول شي چې له خدماتو پرته د ولس زړونه نه شي ګټلی. کله چې په حکومت کې شر او فساد واکمن وي او د مافیایي کړیو سل نور رزالتونه هم ورسره مله وي، نو هغه بله خوا کې که استبداد او اختناق هم وي، خلک جبراً د استبداد خواته ورټېلوهل کېږي. اوس نه یوازې لغمان، بلکې ټول افغانستان د (اختناق+استبداد) او په دې بله خوا کې بیا (مافیا+ شرو فساد) ترمنځ د مقابلې په اور کې کړېږي. که حکومت یوه میاشت هم خپل وجود له غلو، شر اچوونکو، مقاومتیانو، سیاسي اقتصادي مافیاوو او پردیپالو چارواکو څخه خلاص کړي، نو د طالبانو په شمول به یې هېڅ بل مخالف د اوسني حالت په شان مقابلې ته تم نه شي.

د هغو سرتېرو او افسرانو خبره د اوسني حکومت له فاسدو چارواکو جلا ده چې په پاک زړه د نظام او وطن لپاره قرباني ورکوي. هغه نظامي چارواکي هم د ربښتينو سرتېرو له قربانۍ څخه لرې دي، چې د ښار په منځ کې فيسبوکي انځورونه اخلي او بيا د ټول ولايت د فتحې دعوه کوي او د دې ترڅنګ د پوځ د ټيټ رتبه افسرانو او سرتېرو د حقونو او امتيازونو پر لوټ مصروف دي. راځئ له مجازي، تصنعي او تکلفي نړۍ څخه حقيقي نړۍ ته راستانه شو؛ واقعيتونه بيان کړو. حقيقت هغه نه دی، کوم چې د دواړو لوريو په فيسبوکي تصويرونو کې د پردې مخې ته راوځي، حقيقت تر دې ډېر تريخ او ډېر زړه بوږنوونکی دی.

د لغمان ننني تصوير د ټول افغانستان تصوير دی، دلته که عسکر وژل کېږي، که طالب او که عام وګړی، ټول افغانان دي، کلی او وطن هم د افغانانو ورانېږي، جګړه پردۍ ده، ايډيالوژي او ستراتيژي يې پردې ده، په نيابت يې افغانان جنګېږي او وطن يې ورانېږي. شعارونه اسانه دي، رنګين دي، اهنګين دي، خو نتيجه يې د جګړې ګرمول او د خلکو وژل دي. تر ټولو ستر اتل همغه دی چې د جګړې اور د تدبير او مهارت په اوبو مړ کړي. نن موږ په خپل هېواد کې همداسې سياستوالو او سرتېرو ته اړتيا لرو چې له هرې ممکنې لارې د دې جګړې دا بدمرغه ټغر نور له خپل هېواده ټول کړي.

# د اوږدې غميزې يو

# دردوونکی تصوير

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د مې پر (۳۱)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرگولي) ميا شتې له (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

دلته يو افغان ځوان ( ډاکټر ميوند نجرابی) پر ابدي خوب ويده دی؛ د البېروني پوهنتون ځوان استاد او ځوان ډاکټر. تر څنگ يې پلار ( ډاکټر فاروق نجرابی) د درد په بستره کې تاو او د غم پر خوب ويده دی. د يوه شهيد مړي او د يو ژوندي مړي لپاسه يوه



دردوونکې رڼا په دې خاطر خوره ده، چې د دې دردوونکي حالت يو ويرجن تصوير زموږ سترگو ته را ورسوي. ډاکټر فاروق نجرابی عادي سړی نه دی، هغه د دې وطن يو طبيب دی، يو رنځپوه دی، يو سياستوال دی او يو سياستپوه دی، هغه دوه درې ځله د وطن د مالکيت د

احساس له مـــخې ځان ولسمشرۍ ته نوماند کړ، خو نن هـــماغه نـــوماند ولسمشر جګړې دا سې پر ملا مات کړ چې د خپل شهید ګلاب تـر څنګ داسې پاڼې پاڼې رژېدلی، چې د نړۍ هېڅ طبیب یې د رغېدو او ډاډګېرنې وس نه لري. دا دی د ادیانو او ایډیالوژیو په نوم د ســاده، بېســوه او بېکســه ولس د ژوند او مبارزې د نتیجې ورو ستی تصویر. د ډاکټر فاروق نجرابي دا تصویر د ده تصویر نه دی، دا زما تصویر هم دی، د تا هم دی، د غني هم دی، د هیبة الله هم دی، دا د هر افغان او زموږ د هېواد د هر کور تصـویر دی.د هغو کســانو د اینده تصــویر هم دی چې د واک لپاره جګړه غځوي او د هغو انځور هم دی چې د واک د نیولو لپاره جګړه کوي. ډاکټرصیب ډېر دې وځورولم، ډېر دې وژړولم، خدای دې زموږ د مظلولم ولس له اوښکو داسې یو سېلاب جوړ کړي چې نه یوازې د جګړې اورونه مړه کړي، بلکې ظالمان هم پسې لاهو کړي.

جګړه ډېره بدرنګه ده،مینه، سوله او عاطفه ډېره ښکلا لري. نور هېڅ نه شـــم ویلی، دې تصـــویر نه به څوک په ځیر ځیر وګوري؟ ډاکټر صیب خدای دې مل شه..

# د بېکسه غره سفر

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۵)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرگولي) ميا شتې له (۱۵) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

يوازې پرون يې له ناروغۍ خبر شوم، په وټساپ مې ورته پيغام پرېښود، ما ويل بهر کې يم کنه ضرور دې پوښتنې ته درتلم، خو د دفتر ملگرو ته مې ويلي نن دې ضرور ليدو ته درځي. نن يې په فيسبوک کې د مرگ خبر خپور شو، وټساپ مې چک کړ، لکه چې دردونو او نهيلۍ ډېر پسې ستړی کړی و؛ زما د غږيز پيغام د کتلو مجال يې نه و پيدا کړی.



مصطفی عمرزی صيب يادوم، د اوسېلې، سرېتوب، کار او ز يار يو لوی غر. هغه تر پنځوسو عنوانونو زيات کتابونه ليکلي او ژباړلي وو چې اکثره يې چاپ شوي دي. زه خو يې ځکه د زيات احسان پوروړی يم چې يوازې تر لسو عنوانو زيات يې زما کتابونه په داسې دري ژباړلي وو، چې له اصل سره يې پوره پوره سيالي کوله. هغه ته خدای پاک

داسې یو خارق العاده استعداد ورکړی و، چې ځنګه یې به یې پښتو متن وکوت، نو سم له لا سه به یې دري ژباړه چالان شوه.له ګړني پلوه د ده پښـتو ټکنۍ وه، خو کله چې به یې دري ته وژباړله، نو ان د لیکوال لفظي او ګرامري تېروتنې به یې هم ورسـمې کړې. په دري ادب او د افغانستان په سیاسي او ټولنیز تاریخ کې یې مطالعه



دومره زیاته وه چې افغانستان مېشتي ستمیان او ایرانپالي خو یې د ځواب نه وو چې نه وو، ان د ایران د مذهبي فاشـیزم په رنګ کې را ټوکېدلي لیکوال یې هم د ځواب جوګه نه وو. د ایران د تاریخ د جعلي او تصـنعي برخو په باب د ده وروسـتۍ تنقیدي او څېړنیزې لیکنې د زیات ارزښـت وړ دي. عمرزي صـیب خپلې دا لیکنې په ((دانشـنامه افغان)) وېبپاڼه کې، چې ده خپله جوړه کړې ده، خپرې کړې دي. د دې تر څنګ یې تر یو زر عنوانو زیات نور مهم اثار هم د دې وېبپاڼې په کتابتون کې خوندي کړي دي .

عمرزی به شپه او ورځ پر لیکنې، ژباړې او مطالعې بوخت و، نه يې حکومتي دنده درلوده او نه کومه بله داسې عايداتي سرچينه چې د ده ژوند دې خړوب کړي .



ده يوازې ژوند کاوه؛ د کورنۍ غړي يې لا پخوا دانه دانه له لاسه ورکړي وو، دی په خپل لوی وطن کې د کوم کور نه، يوازې د يوه کرايي اتاق خاوند و، بې کسه و، خو بېوسه نه و، ډېر لوړ همت يې درلود، نه يې چا ته طمع درلوده، نه يې چا ته لاس غځوه، د غره غوندې اراده يې درلوده.

زه هېڅ فکر نه کوم چې د غره په شان دا قلموال ورور مې له موږه خپله لاره بېله کړې وي، تر ټولو ستر ارمان خو مې پر زړه دا پاتې شو چې د ده جنازې ته مې اوږه ور نه کړای شوه، کرونا ډېره بده وبا ده، سړی اول نهيلی کوي او بيا يې وژني، نو زما ورور به د ژوند په وروستيو شېبو کې څومره د بېوسۍ او بېکسۍ احساس کړی وي؟ دا حالت مې ډېر ځوروي، پر مخه دې ګلونه وروره! ټول درپېسې يو، هلته به بيا سره ګورو او د خپلو وطن د غمونو داستانونه به بيا سره ليکو....

# د سرېتوب يو بل

# تاريخي منار هم ونړېده

**دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۱۲)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرګولي) ميا شتې له (۲۲) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.**

**داسې يو ليکوال و چې د هېواد دتاريخ هره ډېره او هره تږه ورته معلومه وه، تر ځمکې لاندې او د ځمکې پر سر يې د خپل وطن د تاريخ هر ه زړه پاڼه او هره زړه ودانۍ وپلټله، پوره پنځوس کاله يې په دې کار کې ځان سترې کړ، خو راتلونکي پښت ته يې د پنځه زره کلونو تاريخي اثار را برسېرن کړل. هم د ليک سړی و، هم د مجلس، هم د جرګې سړی و، هم د مرکې، خبرې يې لکه د ګوړې په شان خوږې وې، نثر يې خوږې شکرې وې، ډېر زغم يې درلود، هره خبره به يې په ټوکو اړوله، د مقابل لوري ترخه خبره به يې د خواږه ځواب په پرده کې تاوه کړه، د ځينو نورو په شان يې د ورځني سياست او مقام په خاطر له ملګرو مخ نه اړوه، تر فکري پوخوالي**

**او د پوهنتون تر ا ستادۍ وروسته يې هر کال لږ تر لږه يو علمي او تاريخي اثر ټولنې ته وړاندې کړی، د ټولو اثارو شـــمېر يې تر (۳۰) عنوانو زياتېږي. هېڅ باور نه کوم چې نور دې نو زموږ استاد؛ پوهاند رسول باوري زموږ په منځ کې نه وي، د انځور صيب، غريب صيب، احمدزي صيب، ډاکټر طارق رشاد، امين جان باوري صيب او نورو**



**ملګرو هغه مـجلس به اوس څومره پيکه او بې خونده وي چـې مشر باوري صـيب په کې نه وي، اسـتاده پر مخه دې ګلونه! لوی رب ته دې د خپل ولس سلامونه وايه...**

# د یوې مبارزې کورنۍ یو اصیل بچی

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۱۴)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرګولي) میا شتې له (۲۴) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

په وطن کې هم د جګړې وبا خوره ده، هم د کرونا، دواړه تنکي ګلونه او د کار سرونه ریبي، نه څوک له چا مر سته کولای شي او نه څوک چا ته لاس ورکولای شي. په جنازو پســې جنازې دي او په غمو پســې غمونه. د غمونو په دې لړۍ کې یو بل دروند غم زیات شـو. د هېواد د ملي او سـیاسي شـعور یو بل سـتوری هم د ژوند له مداره پرېوت. ډاکټر نبي مصـــداق د هېواد یو لوی علمي کدر و، نږدې نیمه پېړۍ یې د هېواد د هویت او عزت لیاره خپل فکر او قلم وچلاوه. هغه د پکتیا په یوه داسې مبارزه کورنۍ کې زېږېدلی و، چې مـشرانو یې د سقاوي اړودوړ پـه ختمولو کـې کارنـده رول لوبولی و. ډاکټر مصـداق په نړیواله کچه د خپل هېواد د ملي او اصـلي هویت په ځلولو کې خپل موثر ولوباوه، اثار یې ولیکل او په نره یې د هېواد پر تـاریخ د نویو تورو څپو د خورېـدو د مخنیوي لپـاره هلې ځلې وکړې. کله چې د ډاکټر نجیب د واک تر ختمېدو وروســته زړه سـقاوي په نوې بڼه راڅرګنده او دواک څښتنه شـوه، نو دې سره د

هېواد د ټولو ملي ارزښـــتونو د مســخه کولو لپاره هر اړخیزې هڅې پیل شــوې، خو نبي مصــداق او د ده په شــان ځینو نورو افغانانو په دقیق او شـــعوري ډول د دغو تاریخي جعلکارانو پر وړاندې مبارزه



وکړه او په دې ډول یې د خپلې مبارزې کورنۍ تاریخي اصـــالت یو ځل بیا په ډاگه کړ.

ښاغلی نبي مصداق په ورو ستي لسکلن سیاسي بهیر کې هم فعال پاتې شـــو او تر ډېره بر یده یې د تلوېزیوني بحثونو له لارې خپل فکر ټولنې ته وړاندې کاوه،مصـــداق په ټاکنیزه مبارزه کې د ډاکټر غني ملاتړ وکړ او د هغه تر بر یا وروســـته یې نوم د هغو سلگونو مشاورانو په لست کې شامل شو، چې نه په ا سانۍ سره جمهور رییس کتلی شي او نه هم خپله مشــوره ورکولای شي. کله چې ((اســـلامي جمهور یت)) نور هم د (( ســـیاسي وړکتون)) په

انحصار کې راغی، نو مصداق او نور دېته ورته مشاورین لاپسې له جمهور رییسه لرې او له سیاسي پلوه منزوي شول. که څه هم د نبي مصداق پر زړه دا نه اوارېدله چې د سیاسي وړکتون په انحصار کې دې راګیر وي، خو د ژوند مجبوریتونه سړی ځینې وخت د ډېرو شیانو زغملو ته اړباسي. کله چې به ما مصداق صیب په ټلوېزیوني بحثونو کې د حکومت د ملاتړ لپاره د جبري دفاع په کمزروي موقعیت کې ولید، نو زړه به مې ډېر خفه شو، چې ولې ځینې مجبوریتونه سړی په داسې یو خراب دریځ کې ودروي، چې په حکومت کې د شتو ناخوالو او واکمن لنډغریزم ملاتړ ته هم اړ شي. نبي مصداق دې حالت زړه کې ډېر ځوراوه، خو کېدی شي بله چاره یې نه لیدله.

زه په دې ډېر خفه یم چې زموږ د هېواد سیاسي واک د داسې اومغلنې سیاسی ډلې او ډلګۍ په لاس کې دی چې د نبي مصداق په شان د لوړې کچې یو کدر ته هم په کې د ازاد تنفس او کار مجال نه و، نور وطني کدرونه خو لا پر ځای پرېږده. نبي مصداق دې خدای وبښي، دی خو د مرګ په قېمت د بېلابېلو ازرالو د انحصار له کړۍ څخه ازاد شو، خو د وطن نور کدرونه دې خدای په ژوندوني ترې ازاد کړي.

# مقري صیب هم کډه بار کړه!

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۲۰)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرګولي) میا شتې له (۳۰) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

یادښت: له هغه راهیسې چې مقری صیب په روغتون کې بستر و، نو له میرویس مقري ( د مقري صـــیب زوی ) څخه مې وخت پر وخت د هغه د روغتیا احوال اخیسته، خو رغېدو ته یې هیله من وو، څو ورځې وړاندې یې د ډله ییزه رســـنیو له لارې د مرګ دردوونکی خبر نشر شو، ژر مې میرویس مقري ته زنګ وواهه، متواتر زنګونه، خو تلفون ځواب نه شــو، درد او احســاســاتو راباندې غلبه وکړه، په ناکنتروله او دردوونکي حالت کې مې لیکنه وکړه، وروسته خبر راغی چې مقری صــیب ژوندی دی، ما ویل شــکر خدایه چې په غم کې دې د خوښــۍ خبر راکړ، میرویس ته مې بیا زنګ وواهه، تلفون یې جګ کړ، ویې ویل پلار مې ژوندی دی، خو په ( ای، سي، یو) کې دی. پر ســبا روغتون ته ورغلم، میرویس، بل ورور او خپلوان یې ټول د غم پر ټغر ناســت وو، ورسره کېناســتم، ما ویل څنګه دی اســتاد؟ میرویس له ډېره غمه څمکه ګروله، ویل یون کاکا پلار مې لاړ، پلار مې بیا نه راځي، فقط پر مصــنوعي اکســیجن ژوندی

دی...هغه نورې خبرې نه شوې کولی او ما هم د نورو پوښتنو لپاره څه نه لرل، ترپرونه پورې هم یوه څه هیله وه، له میرویســـه مې احوال اخیســـته، خو نن یې بیا د مرګ خبر خپور شــو، میرویس ته مې زنګ ووا هه، هغه



وویــل : پلار مې لاړ کاکا، پلار مې لاړ..

په بېړه روغتون ته ورغلم، شــپېرم پوړ ته ورپورته شــوم، د دې وطن ســوی لوی بلبل یې په سپین کفن کې تاو کړی و، له شــپېرم پوړه تر امبولانســـه ورسره راکښــــته شــولو، دی یې له (ډاکټر هېلټ روغتون) څخه د شهید سردار محمدداودخان روغتون پر لوري روان کړ، تر هغه مې امبولانس پورې کتل چې ســـترګو مې کار کاوه، ورو ورو د موټرو په ګڼه ګوڼه کې خپل هنرمند ورور رانه پناه شو.

سـبا به په دې نړۍ کې د ده د لیدو وروســتۍ ورځ وي او نور به مو ږ خپل هنرمند د ابد لپاره نه شو کتلای..

دا هم زما هغه د تېرې اوونۍ لیکنه:

## مقري صيب هم کډه بار کړه..

انســـان د خدای لو یه ډالۍ ده، ډېر پېچلی موجود دی، خدای پرې ډېر فکر او لګښت کړی، خو دا قیمتي ډالۍ کله کله دا سې په اسانۍ له لاسه والوزي چې هېڅ اټکل یې نه کېږي.

څو ورځې مې زړه ډب ډب کاوه چې خدای مه کړه مقری صـــیب رانه لاړ نه شي.په زړه مې خوړلې وه، هغه رانه لاړ، بې خدای پامانۍ لاړ..

خلک به وایي چې مقری هنرمند و، ســـندرې یې ویلې، پر زړه به یې هېڅ غم نه و، خو د هغه له زړه نه ډېر کم خلک خبر وو، زما دومره نږدې ملګری و چې د زړه یوه خبره یې هم را نه پټه نه وه، ډېره ځله یې د شـــپې نا وخته له ژوندون ټلوېزیونه تر کوره رســـولی یم، د ځان په غم کې نه و، ویل به یې د هنرمن قدر په پښـــتنو کې نه شته، که زه مړ هم شم نو څه ؟ خلک به وایي چې یو ډم مړ شو، خو تا دې خدای راته ژوندی لري، پر تا مې ډېر زړه ډاډه دی. هغه د ډېر لوړ سیاسي شعور خاوند و، په (۲۰۱۴ م) کال ټاکنو کې راپسې راغی، ورو یې غوږ کې راته وویل، که د ورور خبره دې منې، نو له ډاکټر غني څخه ټینګ ملاتړ وکړه؛ د پښـتنو لپاره ګوره دا وروسـتی چانس دی، بله لار نه لرو. تر ټاکنو دوه درې کلونه وروسته یې راته وویل ســـخته ناځواني یې درسره ونه کړه؟ ما ویل یتیم په ژړا پوخ دی، پروا نه کوي .

کله چې به په کابل کې و، نو غلی به یې موټر کې کېنولم، ویل به یې څه چې غزنیچې شورا در باندې وخورم، ده به غوښه په خپلو

ګوتو میده کوله او زما مخې ته به یې را ټېلوهله، ما چې به په خوند ډوډۍ وخوړله، نو دی به سخت خوشاله شو، د ده په لاس تیاره شوې ډوډۍ کې چې مې کوم خوند څکلی، د شاهانو په ډوډۍ کې به نه و.

مقری صیب عادي سړی نه و، هغه د دې قوم یو لوی سیاسي سندرغاړی و، د زړه له تله یې د دې وطن لپاره ملي سندرې وویلې، کله به ما سره په سیاسي بحثونو کې ډېر تېز شو، زه به پرې ډېر په قهر شوم، خبره به راڅخه ترخه شوه، دی به رانږدې شو پر تندي به یې مچ کړم، دغسې قصداً مې په قهر کولې چې خبرې درڅخه راوباسم، ډېر مینه ناک انسان و، اوس ځان ډېر ستړی او پښېمانه احساسوم چې ولې زه د ګل په شان یو انسان باندې د سیاسي خبرو له امله په قهر شوی یم. د هنرولۍ، پښتونولۍ، مېلمه پالنې او ملتپالنې تر څنګ د مقري صیب یوه بله غټه ځانګړنه دا وه چې هغه ډېر پوخ معتقد ملسمان و، هغه د طالبۍ دوره هم تېره کړې وه، هر کله چې زه دوبۍ ته تللی یم، نو مقري صیب مېلمه کړی او تر څنګ یې په مسجدونو هم ګرځولی یم، یوه ورځ مو د ماسپښېن، مازیګر، ماښام او ماسخوتن لمونځونه په بېلابېلو جوماتونو کې په جماعت سره ادا کړل، مقري صیب ته مې وویل: ته خو اوس هم پوره ملا یې، هسې به خلک فکر کوي چې ته هنرمند یې، راځه بېرته دا خپل کسب ونیسه، غیر له هغې هم همدا رواج دی چې په پښتني ټولنه کې څوک دیني علم یا طالبي په نیمه کې پرېږدي، بیا سندرې شروع کړي، تر یو څو مودې وروسته بېرته تبلیغي شي.

دی په خندا شـو، ماته یې وویل پښـتنو کې ملایان ډېر دي، ما ویل راځه زه به ورته ډمګري شروع کړم که دوی چېرته لږ سړي شي. ما و یل ما با ندې خو دې پر یوه ورځ دومره جو ماتو نه وکتل او په جماعت سره دې دومره لمونځونه راباندې وکړل چې د طالبانو د واک پر مهال هم خبره دومره ټینګه نه وه. خو بیا به هم خلک فکر کوي چې مقری... ده ویل ډم دی .

مقری صـیب نو دومره خوږ انســان و چې هره خاطره یې یادوم ژړا راځینه..

یو ورځ ژوندون ټلوېزیون ته راغی، ما ته یې وو یل چې څنګه دې خوښه ده چې د اخر ځل لپاره پر دې پښتنو وګرځو او خپله غاړه پرې خلاصـــه کړو، یو غټ موټر ونیســـو، له همدې هوتخېلو یې شروع کړو، کلي پر کلي وګرځو، زه خپله ارمونیه غاړه کې واچوم او په سندرو کې ورته دا پیغام ورسوم او ته په خپلو سیاسي خبرو کې چې د خدای په پار نور په خپلو کې سره یو شــئ، جنګ بس کړئ، سړي شئ، تعلیم ته مخه کړئ کنه والله په بالله چې غرق استئ او لاپســـې غرقېږئ، که بیا و نه شـــول، ما او تا خو به خپله غاړه پرې خلاصه کړې وي.

مقری صـــیب ټولنیزو ارزښـــتونو ته زیات ارزښـــت ورکاوه، زما مېرمن (ارین یون) ته یې زیات درناوی درلود، راته ویل به یې چې دا زما یوازینۍ غیرتي خور ده، دوبۍ کې یې موږ ته یو ډېره خوندوره افغاني ټیپ مېلمستیا کړې وه، زما مېرمن ته یې پړونی سوغات کړ، کله چې به کابل ته راغی، نو خپلې خور ته به یې یو پړونی ډالۍ کړ،

یوه ورځ زما مېرمن ورته مېلمستیا وکړه، کله چې ټلوېزیون ته راغی،



نو ما ورته وویل څه چې ځو کورته؛ نن دې خور درته مېلمستیا کړې، سـړي وویل زه خو نه ځم، ما وویل ولې ؟ ده ویـل هغـه ټولـه ورځ پارلـمان کې د هـواد پـر سـر خـلکو سـره دعـوې ووهي، ستړې سـتومانه راشي، بیا دلته ماته ډوډۍ تیاره کړي دا ډوډۍ زما له ستوني تېرېږي ؟ چې هر څومره ټینګار مې وکړ سړی راسره لاړ نه شـو. کله کله به یې په ټوکو ټوکو کې وویل خور مې تر تا ډېره تکړه ده، پارلمان کې چې خبرې کوي زړه مې ورته دعا وکړي..

څوک به څه فکر کوي چې داسې یو ورور، یو عزیز، یو خوږ ژبی بلبل او د هېواد یو خواخوږی نور د تل لپاره درڅخه جلا شي، ستا پر زړه او ضمیر به څه تېرېږي؟

کله چې به مو په مظاهرو کې د ده په غږ کې: دا د ازادۍ خاوره دا د جګو غرو وطن..... ځاله د بازانو ده، دلته کې زمریان اوسي... ملي سـندره اورېدله، نو د وطن په مینه کې به داسـې مسـت شـولو چې پر ځان به نه پوهېدلو...


نه مقری مړ نه دی، مقری ژوندی دی، ژوندی دی....

# د لوی افغانستان یو زړور مبارز

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۲۱)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (غبرګولي) میا شتې له (۳۱) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

که به پر لر افغان ظلم و، که به پر بر، نو عثمان لالا به لومړی سړی و، چې د دې ظلم پر وړاندې به یې خپله ناره پورته کړه، هغه د پنجاب په زړه کې د لر او بر یو افغان رسا غږ اوچت کړ. هغه په بر افغانستان کې د محکوم افغانستان استازی و او د لوی افغانستان په محکومه برخه کې د لوی هېواد د داعیې ستر داعي. هغه چې د پنجاب د ظلمونو او دسیسو پر وړاندې د مظلومو افغانانو غږ څومره اوچت کړی، ډېر کم خلک دې برید ته رسېدلی شي، کله چې د پښتون ژغورنې غورځنګ جوړ شو، نو عثمان لالا له هغو لویو سیاسي مشرانو څخه یو و چې په زغرده یې د دې غورځنګ ملا وتړله. عثمان لالا د سیاسي تفکر داسې یوې پخې مرحلې ته رسېدلې و چې پښتانه یې د مبارزې مېوې ته سخت منتظر وو، خو هر پښتون مشر چې داسې یو مشر پړاو ته ورسي، نو بیا یا د انتحار، یا د زندان، یا د انفجار او یا هم د مرموزې توطیې ښکار

شي. شهیده وروره! تا تر وروستي حده د خپل ولس حق ادا کړ، پر مخه دې ژېړي ګلو نه، خو مور دې ډېر پوروړي یو ډېر... هلته به



سره ګورو، که ما ستا د مبارزې له باغه د ګلونو ډکه لمن دروړه، نو بـــیا به راشخه مخ نه اړوې، د جنازې بازو دې نه شم نیوی وروره، دلته د اورونو په زنځیر تړلی یمه...

# جنگسالاران په کوم قیمت!؟

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د جون پر (۲۴)مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (چنگاښ) میاشــتې له (۳) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د دې او سني حکومت د ژوند تداوم د امریکا په ژمنو، مر ستو او لېوالتیا پورې تړلی، نه یې جنگســالاران ســاتلی شي او نه یې بې ریښــې ټامیان. د ولس او نظام خبره له منځه وتلې ده، نه دا ولس له دې حکومت څخه ملاتړ کوي او نه هم دا حکومت د جمهوریت او نظام اصــولو ته ژمن دی. د حکومت واکمنو لا وختي د جمهوري نظام او ولس پر مخ څپېړه ورکړې : څلور ځله یې ولس تېرویســتی او بیا یې له جنگســالارانو او مافیایي کړیو سره ګډوله حکومت جوړ کړی دی.

د جمهوري نظام او اساسي قانون تر ټولو ستر مخالفین اکثره همدغه حکومتي چارواکي دي چې هم د حکومت او نظام له مالي، ســیاسي، پوځي او نورو امکاناتو ګټه اخلي او هم بېرته د دې نظام متې او پښې غوڅوي. د طالب خطر او ضرر بیا بله مسله ده، هغوی د حکومت او نظام مخالفین دي، خو معا شخواره او پیاړمه خواره یې نه دي.

ﭙﺮ ﺟﻨګﺴــﺎﻻراﻧﻮ او ﻣﻠېﺸــﻮ ډاﮐټﺮ ﻧﺠﯿﺐ ډه ډه وﻟګﻮﻟﻪ، ﭘﻪ ﻧﺘﯿﺠﻪ ﮐې ﭘﺮ ﻫﻐﻪ ﺑﺮﺧﻠﯿﮏ اﺧﺘﻪ ﺷــﻮ. د ﺑﻦ ﭘﻪ ﮐﻨﻔﺮاﻧﺲ ﮐې اﻣﺮﯾﮑﺎ او ﻧړﯾﻮاﻟﻮ ﺑﯿﺎ ﻫﻤﺪا ﺟﻨﮑﺴــﺎﻻران واک ﺗﻪ ورﺳــﻮل، ﭘﻪ ﻧﺘﯿﺠﻪ ﮐې د ﻫﻐﻮی د ﻧﺎﮐﺎﻣۍ او ﺷﺮم ﺳــﺒﺐ ﺷــﻮل. ﺣﺎﻣﺪﮐﺮزي ﻫﻢ ﺗﺮ وروﺳــﺘي



ﺑﺮﯾﺪه ﭘﺮ دوی ډه ډه وﻟګﻮﻟﻪ، ﺗﺮ ﭘﺎﯾﻪ ﯾې ﭘﻪ ﺣﮑﻮﻣﺖ ﮐې ﺷﺮ، ﻓﺴﺎد، ﻏﺼــﺐ او ﺑې ﻋﺪاﻟتۍ ﺧپې ووﻫلې، ﺧﺒﺮه ډاﮐټﺮ ﻏﻨي ﺗﻪ راورﺳــېده، ده ﻟﻪ ﺧپل ﻏﻮراوﭘﺶ او ژﻣﻨﻮ ﺳﺮه ﺳﺮه ﺑﯿﺎ ﻫﻢ ﺗﺮ ﻧﻪ اﻧﮑﺎرېدوﻧکي ﺣﺪه ﻟﻪ ﺟﻨګﺴــــﺎﻻراﻧﻮ ﺳﺮه د ﺑﻮﺟۍ ﺧﻮﻟﻪ وﻧﯿﻮه، دوه ځﻠﻪ ﯾې ﭘﺮ اﺳــــﺎﺳي ﻗﺎﻧﻮن ﻣﻌﺎﻣﻠﻪ وﮐړه او ﺑﯿﺎ ﯾې ﯾﻮ ﭼﯿﻨﺠﻦ او ګډوﻟﻪ ﺣﮑﻮﻣﺖ ﺗﻪ ﻻره اواره ﮐړه .

ﻃﺎﻟﺒﺎﻧﻮ ﻟﻪ ﻫﻤﺪﻏﻪ ﻣﺰﺧﺮف ﺣﺎﻟﺖ څﺨﻪ ګټﻪ ﭘﻮرﺗﻪ ﮐړه، ﺧﺒﺮه د ﮐﻠﯿﻮ ﺗﺮ ﻧﯿﻮﻟﻮ وروﺳــﺘﻪ وﻟﺴــﻮاﻟﯿﻮ او اﻥ د ﻟﻮﯾﻮ ښــﺎروﻧﻮ ﻧﯿﻮﻟﻮ ﺗﻪ راورﺳېده.

اوسنی ﺣﮑﻮﻣﺖ اﺻﻼً د څﻮ ﻣﺘﻀﺎدو ډﻟﻮ ټپلو او اﻓﺮادو ﯾﻮ ﻣﺘﻀﺎد او ﻧﺎﻣﺘﺠﺎﻧﺲ ﺗﺮﮐﯿﺐ دی؛ ﻣﺨکې ﺗﺮ دې ﭼې د ﺧپل ﺑﻬﺮﻧي دښــﻤﻦ او رﻗﯿﺐ ﭘﻪ ﻣﻘﺎﺑﻞ ﮐې ودرېږي، ﺧپله ﻟﮑﻪ د ګﻮر ﭼﯿﻨﺠي ﯾﻮ ﺑﻞ ﺳﺮه

پر جګړه او رقابت اخته دي.د حکومت اســاسي برخه او بدنه د شمالټلوالې له لنډغرو او جنګسالارانو جوړه ده، چې د پرېکړو او په ځينو برخو کې د ويتو حق هم لري.دويمه برخه يې له غربه راغلي ځيـنـې تـکـنـوکـراتـان دي چې نـه پـه دې وطـن کـې ريښـه



لري، نه د جنګ او مبارزې انګېزه؛ وخت او حاکميت يې غنميت ګڼلی، دوی نو د غني په پوټکي کې ورننوتي او هغه يې داســې تلقين کړی چې ټول وطن ګلی ګلزار دی او ته يو ټولمنلی محبوب الـقلوب او بـې بـديله مـشر يې. د حـکومت درېيمه برخـه ملـي او ديموکرات خلک دي چې هم يې پر دې وطن زړه سوزي او هم ملي فکر او انګېزه لري، خو دا کته ګوری خلک په اصـلي پرېکړو کې شريک نه دي، څلورمه برخه يې عادي مامورين او يو زيات شــمېر غوړه مالان دي چې له معمول سره ســم په هر حکومت کې ځای لري.

اوس اصـلي ایتلاف د جنګسـالارانو او ټامیانو تر منځ دی، دوی فکر کـوي چـې په دې ایتلاف به د طالبانو د بریدونو مخه ونیسي او دوی به په حکومت کې خپل محسوس او نامحسوس لوټ ته دوام ورکړي.

د دې خبرې ښکارندول هم په کار دي چې په اوسـنیو حالاتو کې هېڅوک هم د ولس د ربښـتینې اسـتازۍ دعوه نه شي کولای، که



ولس ربښـتیا هم په غوښه توګه د کوم لوري ملاتړ کولای، نو حالاتو پـــه دې ډول دوام نه شو کولای، ولس یوازې پر خپل غم او جنازو مصـروف دی. طـالبان د خـپلې قهریـه قوې او وسلې په زور مطرح دي او اوســني حکومتي چارواکي او جنګســالاران بیا د حکومتي مقام، پیسـو او حکومتي وسـلو په زور. که بهرني ځواکونه پر خپل وخت ووځي او له اوســني حکومته پراخ مالي او نظامي ملاتړ و نه کړي، نو دا حکو مت له فیســبوکي دوړو، تبلیغاتو او دومره مالي

امکاناتـــو سره سره له طالبانو سره د مقابلې تاب نه لري، د طالبانو انقلابي برى هم ولس ته مطلوب حالت نه دى، ولس غواړي چې هم نظام او هم حکومت دواړه جوړ پاتې شي او هم د جنگســالارانو او ټامیانـو له منگولو وژغورل شي. دوی د طالبانو حاکمیت او د نظام د نشـــتوالي خلا دواړه تجربه کړي دي، هېڅوک نه غواړي ترخې ماضي ته لاړ شي، خو له بده مرغه چې همدا مفسد چارواکي یو ځل بیا د تېرې ترخې ماضي د تکرار سبب گرځي.

عجیبه خبره خو دا ده چې اوس حکومت امنیتي ســکتورځنډې ته کړی او خپله ټوله تبلیغاتي دستگاه یې د ټوپکوالو د زور د نندارو انعکـاس تـه را اړولې ده. غني چې پخوا بـه یې تر ټولو زیـات د زورواکی ضـــد شـــعارونه ورکول، تر ټولو وړاندې جنگســالارانو ته گونډه ووهله، ټلوالې ترې په زوره تر نیم زیات حکومت راخپل کړ، دوستم ترې په شنه زور مارشالي واخیسته، محقق ترې مشاوریت راخپل کړ او ده نو ورته د غوړه مالۍ تر کچې د ((مسعودشناسۍ او مزاري شـناسـۍ )) کورسـونو د خلاصـولو ژمنه ورکړه.دا ټول کېدی شي د غني پر زړه نه اواړېدل، خو عمل کې داســـې وشـــول، د دې علت دا و چې غني له خپل ولســـه او له خپلو طبیعي متحدینو لرې وساتل شو.

اوس پوښـــتنه دا ده چې ولس ته طالبان تر جنگســالارانو بدتر دي او که جنگســالاران تر طالبانو ډېر بدتر دي؟ بله پوښـــتنه دا ده چې ټوپکیان تر طالبانو غښتلي دي او که طالبان تر هغوی پیاوړي؟

حقیقت خو دا دی چې طالبان هم په سلګونو مشکلات لري او د ملتپالو افغانانو لپاره يې د وچ حاکمیت زغمل اسـانه کار نه دی، خو که له جنګسـالارانو سره يې پرتله کړې، بیا نو ولس کېدی شي د پخوا پـه شــان طـالبـانو تـه ترجیح ځکـه ورکړي، چې طـالبـان د جنګسالارانو په شان غله، فسادګر او د خلکو د عزت لوټونکي نه وو، همدا جنګسـالاران پخوا هم د طالبانو د ظهور سـبب شـوي وو او شلکلن حاکمیت يـې يو ځل بیا د هغوی قوت او مشروعیت ته لاره اواره کړې ده، ځینې بیا دا کمزوری دلیل وړاندې کوي، چې همدا طالبان دي چې د جنګسـالارانو واک ته يې لاره اواره کړې، که دوی نه وای په اسـانۍ سره سـمون ته لاره اوارېدله! د دې منطق سـلنه ډېره زیاته نه برېښــي، ځکه چې د طالبانو تر ظهور وړاندې هم دې ډلو د خلکو پر سر، مال او عزت تېری وکړ، کابل ښــار يې ویجاړ او ټول هېواد يې د خپل واک د ظلم په لمبو کې وسـیزه، د کرزي د واک په لومړۍ او دویمه دوره کې خو طالبان کمزوري او جنګسالاران په واک وو، ایا سـمون راغی؟ فسـاد ورک شـو؟ عدالت تامین شـو؟ امنیت ټینګ شـو؟ د غني د حکومت امنیتي جغرافیه او د حکومت داخل کې خو طالبان نه شته ایا غني ترې یوه شپه ارامه خوب وکړ؟

نو ایا د ټوپکوالو بیا مطرح کول به د طالبانو د ماتې سـبب شي؟ تېرو تجـــربو ته په کتو اټکل دا دی چې جنګسـالاران نه یوازې د طالبانو د ماتې سـبب نه ګرځي، بلکې د هغوی د لاپیاوړتیا او مشروعیت اسـباب هـم بـرابروي، طالبان د جنګ قوي مذهبي انګېزه لري او په ځینو سـیمو کې دزورواکو د زیات ظلم او قومي

تعصـــب له امله دخلکو ملي روحیه هم ورسره ملګرې کېږي.خو جنګســالاران کوښــښ کوي دې جنګ ته قومي بڼه ورکړي، چې دا کار هم کېدی شي طالبـانو تـه تر یو حـده پـه ګټـه تمام شي . جنګســالاران چې پر غلا، زنا، فســاد، رشــوت او لواطت روږدي شـوي، هغوی بیا هېڅکله په مذهبي روحیه او جنګي وسـله سمبال لښــکر سره نه شي جنګېدلی. غوره مثال یې د طالبانو او د همدې تنظیمي ټوپکیانو تېر جنګونه دي، چې د مسـعود، رباني، سـیاف او دوســتم په ګډون یې ټول تنظیمي ټوپکیان له غرونو واړول، تازه مثال یې همدا اوس له څو طالبانو څخه د غني په فرمان د جوړ شوي ((مارشال)) دوستم تېښته ده.

حقیقـت خو دا دی چې غني او د هغـه پر محور راټول واکمن ټـامیـان لـه جنګســلارانو ډارېږي او هغوی تـه بـاج ورکوي او جنګسالاران بیا له طالبانو.

تر ټولو ریشــخند خبره خو دا ده چې ټوپکوالو د امنیتي ځواکونو او د نظام د ملاتړ او د طالبانو د مخالفت په نامه ټوپک راپورته کړي، خو کله چې علیپور او قیصــــاري د ملي پوځ پیلو ټان او سرتېري ووژل، یو جنګســالار هم د هغوی پر ضـد وسـله څه چې غږ یې هم پورته نه کړ. د جنګســـالارانو هدف نه د پوځ ملاتړ دی، نه د نظام، دوی له طالبانو څخه وېره احســاســوي چې تېر حســابونه ورسره تصفیه نه کړي. دې پوښتنې ته به اوس څوک ځواب ورکړي چې دا دومره ناقانونه وسلوال او دومره وسله له کومه شول؟ که دا وسله د حکومـت وي، ولې یې امنیتي ســکتور تـه نـه ورکوي؟ او کـه

جنگسالارانو سره پټه ایښـې وه، نو دا خو هم ولس او نظام ته پټ او بیا محسوس خطر و، ولې یې په شلو کلونو کې همداسې وسلوال پرې ایښي وو؟

اوس راځم خپلو وروســتیو خبرو او همدارنګه د ځو وړاندیزونو برخې ته، چې جمهور رییس غني ته متوجه دي:

۱-د جمور رییس غني د حکومت بقـا اوس یوازې، د امریکـا مینې، مهربانۍ، مالي او پوځي مر ستو پورې تړلې ده، نو که غواړې حکومت دې دوام وکړي، امریکایان قانع کړه، چې درسره مرســته وکړي او د ګاونډیانو، په تېره بیا د پاکســتان او د ایران د مداخلو مخه ونیسي.

۲ -د ولس د ملاتړ په هیله کېننې، ځکه چې هغه ســتا هوایي ژمنو، حاکم فســاد، نا مســولو ټوپکوالو او نورو ناخوالو دومره له تا لرې کړی چې په هېڅ وجه ســتا د ګډوله حکومت ملاتړ ته زړه نه ښه کوي. ځو فیسبوکي تصویرونه د ولس د حقیقي حالت انځورنه نه شي کولای.

۳-جنګسـالاران د هېچا زامن نه دي، هغه د خپلو ګېډو زامن دي، پر هغوی ډه ډه لګول دې د ډاکټر نجیب پر برخلیک اخته کوي. دوی غواړي هېواد کې قومي جنګونه پیل کړي او یو ځل بیا د تېر په څېر د نظام سقوط، ګډوډۍ، لوټ او تالان ته لاره اواره کړي.

۴ - که فرض کړو جنګســالارانو، طالبانو ته ماتې ورکړه، دې جنګســالارانو ته بیا په چا ماتې ورکوې؟ ایا اوس دې ترې په ارامه حکومت وکړ چې هغه وخت به یې ترې وکړې؟

۵-خپل امنيتي سـکتور ناپيلي او پياوړی کړه چې که ته په واک نه اوسې، هم د دې هېواد د ساتنې لپاره اساسي هيله او سرچينه موجوده وي.

٦-له هرې ممکنې لارې چې وي طالبانو سره د حکومت او نظام د خونديتوب په تضمين سوله وکړه.

۷-د يو امتحان په توګه طالبانو سره يوازې يو څو ورځې اوربند وکړه، دا اوربند به د امنيتي سـکتور او طالبانو تر منځ وي، نه د جنګسـالارانو او طالبانو تر منځ، پرېږده چې دوی سره معلومه کړي چې څوک په څومره اوبوکې دي؟ طالبان که رښـتيا هم د ټوپکيانو، شر او فسـاد ضـد وي، نو دې ډول يو اوربند ته دې غاړه کېږدي، د ملي پوځ تنکي ځوانان دې نه وژني، د شر او فساد له اصلي عاملينو سره دې خپل حسابونه تصفيه کړي.

۸-جمهور رييس غني ته وروستی وړانديز دا دی، چې که طالبان دې په جنګ سقوط هم نه کړي، نو نږدې يو زر ورځې دې د پاچاهي پاتې دي، دا پاچاهي په دومره سرټيټۍ نه ارزي چې ته په کې دو ستم غوندې خاين، عطا غوندې فاسد، محقق غوندې مېخکوب او نورو ډول ډول ارزالو تـه دومره سرټيټۍ وکړې، دومره امتيـازات ورته ومنې او خپل اينده تاريخ پرې بدرنګه کړې؛ يوه ورځ حکومت وکړه، خو په نره يې وکړه!

که له پيله دې زموږ د مسکينانو خبره منلی وای، نن به د ټاميانو، زورواکو او غوړه مالانو د خبيثه کړيو تر محاصرې لاندې نه راتلې. نيت دې صـفا دی، زړه دې هم صـفا، فکر دې هم ښـه دی، خو افسـوس چې د قدرت او شـهرت ډېر شـوقي يې او د خپلې ټولنې د حقيقتونو له درکه ډېر لرې يې....

# د افغانستان د استحکام اتل

د هېواد د شـــلمې پېړۍ په ســـياسي او پوځي تاريخ کې محمد ګل خان مومند هغه ستر شخصيت و، چې په ډېر دقت، پوځي مهارت، فرهنګي قـوت او ولسي ذکاوت يې د افغانستان د بقا لپاره کار وکړ. ده د يوه مســـلکي پوځي په توګه، په ملي پوځ کې خدمت وکړ، عسکري پوړۍ يې ترلاسه کړې او بيا چې کله د انګرېزانو په مقابل کې د جګړې وخت راورســـېد، نو په مېړانه يې په دې غزا کې برخه واخيســـته. محمد ګل خان مومند د هېواد په ختيزه جبهه کې هغه مهال چې د صـــالح محمد خان د ډار او وېـــــرې لـه املـه پـه (ختيزه جبهه) کې د جګړې ليکې ماتې شـــوې او انګرېزان د چټک پرمـــختګ په حال کې وو، نـــو محمد ګل خان مومـــند د ولسي او منظمو لښکرو په زور د هغوی د پرمختګ مخه ډب کړه. د استقلال تر بريا وروسته يې د غونډ مـشر، فـرقه مشر او نورو لوړو عسکري دنـدو د مشر پـه توګه کار وکړ. کله چـې د سقاو د زوی (حبيب الله کلکاني) او د تورې ارتجاع له لورې هېواد له لوی بحران سره مخامخ شو، نو محمد ګل خـان مومند لـه اعليحضرت غازي محمد نادرخان سره لاس يو او هېواد يې له سقاوي اړودوړ او بحران څخه وژغوره. تر هغه وروســـته يې د هېواد په شـــمال او کندهار کې د تنظيمه رييس، د کورنيو چارو د وزير او نـــورو دولـــتي مقامونو د مشر په توګه دنده ترسره کړه، د خپلو دندو پرمهال يې په شـــمال؛ کندوز، بغلان، سمنګان، بلخ او نورو سيمو کې پراخ پرمختيايي کارونه پيل کړل، ښـارونه، سـړکونه او عامه تاسـيسـات يې جوړ کړل او د دې ترڅنګ يې د ټولنيز سمون لپاره لاره اواره کړه. شاړې ځمکې يې د يوې ځانګړې دولتي لايحې له مـــخې د يـــو ټاکل شوي قيمت په

مقابل کې پر بېوزلو هېوادوالو ووېشلې او په دې ډول يې شاړو ځمکو ته د ابادۍ لاره اواره کړه. د هغه وخت د حکومت له دې ملي پلان سره، هم شاړې ځمکې ابادې شوې، هم ټولنيز سمون رامنځته شو او هم د هېواد د کورنيو او بهرنيو دښمنانو شوم نيتونه له ناکامۍ سره مخ شـــول. غازي محمد گل خان مومند، په کندهار او د هېواد په نورو ســـيمو کې پراخ ټولنيز او فرهنگي اصلاحات پيل کړل، د هېواد تاريخي ځـلي، د مـلي اتـلانـو مـزارونـه او تـاريخي ابـدات يې جوړ او ورغول، سيمه ييز اخبارونه او ادبي انجمنونه يې رامنځته کړل او د پښـــتو ژبې د




ودې، پراختيا او تعميم لپاره يې پراخې هلې ځلې وکړې، وروســـته يې بيا کابل کې د پښـــتو ټولنې تاســيس ته لاره اواره کړه، خپله يې هم گڼ شـــمېر اثار وليکل او د نورو گڼو ليکوالو اثار يې هم چاپ او خپاره کړل. ليکوال او فرهنگيان يې وهڅول او د هېواد د رښـــتيني تاريخ د ثبت لپاره يې هم گټور گامونه پورته کړل.

وزيـــر محمد گل خان مومنـــد هغه شخص و، چې د ده په مشرۍ جوړې شـــوې لويې جرگې پرېکړه وکړه چې د ډيورنـډ کرښــــه د انگرېزانو له خوا پر افغانانو په زوره تپل شـوې او افغانانو ته په هېڅ ډول د منلو وړ نه ده.

د سنبلې (۹) نېټه يې له پښتنو او بلوڅو سره د پيو ستون ورځې په توگه د هېواد په رسمي تقويم کې ثبت او د کابل ښار په زړه کې يې يو واټ د (پښتونستان واټ) په نامه ونوموه.

غازي، مجاهد، ليکوال او مفکر وزيرمحمد ګل خان مومند په ډېر ژور او دقيق ډول د افغانســتان د اســتحکام، پرمختګ او ټولنيز سـمون لپاره ټول هغه څه چې له واکه کېدل، هغه يې ترسره کړل، خو د دې ستر انسان او ستر افغان له ډېرو زياتو کارنامو سره سره، د ده د افکارو او شخصيت په باب ډېر څه نه وو ليکل شوي او لا نه دي ليکل شوي.

زه چې د ښـوونځي زده کوونکی او بيا د پوهنتون محصـل وم، نو د خلکو لـــه خولې مې د وزير صاحب د مبارزو په باب ډېر څه اورېدلي وو، کله چې له پوهنتون څخه فارغېدلم، نو د پايليک يا مونوګراف لپاره مې (د وزير محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه) موضـــوع وټاکله. کله چې مې څېړنه پيل کړه، نو له ډېرو محدودو اخځونو، په خپله د وزير صـاحب له چاپي کتابونو او د خپل وخت په يوه اخبار کې د ده د جنازې له اعلان پرته مې نور ډېر څه پيدا نه کړل.

هغه وخت ماته د خپلو خلکو پر حال ډېر افســوس راغی، چې ولې د خپل دومره ســـتر خدمتګار له افکارو او اثارو دومره ناخبره او دومره بې تفاوته دي، ما خو (د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه) تر عنوان لاندې خپل مونوګراف بشـــپړ او وروســـته بيا درې ځله چاپ کړ.

پر (۱۹۹۴م) کال په پېښور کې د پښتو د يو نوميالي ليکوال ( صابر شاه صابر) له خوا د وزير محمد ګل خان مومند په باب لومړی علمي سـيمينار جوړ شـو، دويم سـيمينار يې د وزير صـاحب په باب پر (۱۹۹۸م) کال جوړ کړ. د ښـاغلي (ګل رحمن همدرد) په هلو ځلو او شخــصي لګښت پـــه بــلخ ولسوالۍ کې يوه لويه څلورلارې د وزير صاحب په نوم جوړه او ونومول شوه او همدارنګه د وزير صاحب په

باب د ډاکتر ښادمن یو اثر (حکومت پوهنه، وزیر محمد ګل خان) د افغانستان ملي تحریک له خوا چاپ شو، په پېښور کې بیا هم د صابر شاه صابر د رڼا ملګري له خوا د وزیر صاحب په باب درېیم علمي سیمینار پر (۲۰۲۱م) کال جوړ شو. دغه راز په جرمني کې د مېشته افغانانو له خوا هم د وزیر صاحب پر ژوند او مبارزې یو بل علمي سیمینار دایر شو. په کابل کې هم دېته ورته یو علمي سیمینار جوړ شوی و. صابر شاه صابر د (لوی افغان) او (بابای پښتو) په نامه د وزیر صاحب په باب دوه بېلابېل اثار چاپ کړل.
لنډه دا چې د وزیر صاحب له حیاته بیا تر مماته او له مماته بیا تر (۱۴۰۰ل) کال پورې د وزیر صاحب په باب ټول څلور عنوانه اثار او پنځه بېلابېل علمي سیمینارونه جوړ شوي دي، البته یو شمېر متفرقه لیکنې هم خپرې شوې دي، چې دا ټول کارونه او اثار د وزیر صاحب د افکارو او مبارزو ډېره کمه برخه رو ښانولی شي. موږ هیله لرله چې د وزیر صاحب نور اثار هم ترلاسه شي او د هغه پر افکارو او اثارو نورې ز یاتې څېړنې وشي. له نېکه مرغه د وزیر صاحب د فکر د روښانتیا په باب موږ ته یوه بله دریځه هم پرانیستل شوه؛(د افغانستان د بقا محور) ولیکل شو. دا اثر چې د ښاغلي (زلمي نصرت) له خوا ترتیب شوی او لیکل شوی دی، د وزیر صاحب د هغو یادښتونو پر بنسټ لیکل شوی چې ده د وخت واکمنو ته لیکلي دي، تراوسه چاپ شوي نه دي او د دې اثر مرتب ته په لومړي ځل لاسته ورغلي دي.
دې اثر ته (د افغانستان د بقا محور) نوم ورکړل شوی. رښتیا هم له عمل او محتوا سره یو مناسب او منطقي نوم دی، په دې یادښتونو کې چې کوم مسایل بیان شوي، هغه په رښتیا هم د افغانستان د بقا په نیت لیکل شوي دي. افغانستان ته پېښ

خطرونه، له بهرنیو کـړیـو سره یــو شمېر اقلیتونو د منسوبو مضرو اشـخاصـو اړیکي، د ایران مذهبي، ژبنۍ او سـیاسي لاسـوهنه، د ترکانو مداخلې، د قبایلي جوړښــت مدني کول، ســني حاکمیت، د پښــتو ژبې تعمیم او پراختیا، د ځینو پښــتون ضــد چارواکو ناوړه عملونه، د پښـتنو له کلتور سره سـمه اسـلامي ولسـواکي، د ملک د اســتحکام لپاره د (حزب الله) په نامه د یو ګوند جوړول، د پښــتنو ســیاسي بې کفایتي او بې اتفاقي، ایران پلوي مرکزونه او د هغوی نشراتي فعالیتونه او نــور ګڼ شمېر مسایـــل په دې یادښتونو کې راغلي او پر هغو بحث شوی دی. دا لیکونه او یادښتونه له نن څخه نږدې اته لسـیزې وړاندې د وزیر صـاحب له خوا د وخت واکمنو ته لیکل شــوي دي. خو که ســړی ورته دقیق شي د اوســنیو ناخوالو کومې جرړې چې اوس ځېرې دا لـه نن څخـه دوو پېړیو وړانـدې حالت پورې تړلي دي. د وزیر صـاحب تر وفات وروســته اوس موږ په خپلو سترګو ولیدل، چې مرکزي سیـستم او ملي پوځ ړنګ شو، اقلیت محوره قوتونه واک ته ورسول شول، ملي هویت له خطر سره مخ شــو، ایراني او نورې پردي پالې کړۍ یو ځل بیا د پردیو په وسیله واک ته ور سول شوې، پښتون د ملک د یو ا صلي وارث په توګه په خپل کور کې ذلیل شــو.نتیجه دا شــوه چې ملک له بحران سره مخ شي او دا بحران بیا تر ننه نور نور اړخونه خپل کړي.

د دې اثر د لیکوال یـا مـرتب ښاغلي (انجنیر زلـمي نصرت) ذکاوت او مهارت بیا په دې کې دی چې په ډېر دقیق ډول یې له اوســنیو پېښو سره د پخوانیو پېښو ارتباط ته ګوته نیولې او د هغوی ارګانیک اړیکي یې ځېرلې دي. د دې اثر لیکوال خپلـه د یو ملي فکر او لیدلوري خاوند دی، که داســې نه و، نو اســانه نه وه چې په دومره دقیق ډول دې د پېښو تل ته کښته شوی وای. ده نورو هغو توطیو

ته هم په ژوره توګه ګوته نیولې چې په تېرو څلوېښـــتو کلونو کې د خاصــو کړیو له خوا، په ټوله کې د افغانســتان او په ځانګړي ډول د پښتنو پر ضد ترسره شوې دي.
د دې کتاب له محتوا سره به طبعاً یو شـــمېر افغان ضـــد کړۍ حساسیت وښیي او دا به په خپل نظر د ملي وحدت پر ضد یو ګام وبولي او ترڅنګ به یې یو شمېر هغه ضعیف النفسه پښتانه، چې همېش یې پښتنو ضد کړیو سره د پښتنو پر ضد لاس یو کړی او وزیر صاحب محمد ګل مومند هم دې ډول اشخاصو ته په خپلو دې یـادښـــتونو کې اشـــاره کړې، هغوی بـه هم د معمول پـه څېر دا یادښتونه د ملي وحدت خلاف تعبیر کړي، خو حقیقت دا دی چې دا د تاریخ د پاڼو داســې واقعیتونه دي، چې نننی او ســبانی نسـل باید پرې پوه شي؛ خپل کورني او بهرني دښـــمنان وپېژني او د توطیو مخه یې ډب کړي.
زه نور د دې کتاب او لوستونکو ترمنځ حایل کېږم نه، لیکوال (زلـمي نصرت) ته کور ودانی وایم چې دا یادښتونه یې خوندي کړل او خپله علمي، سیاسي او ټولنیزه شننه یې هم ورسره مله کړه.
د وزیر صیب روح دې ښاد وي او د لارویانو لاره یې روښانه.

په درنښت

په افغانستان کې د ملي حاکمیت د زیات استحکام په هیله

محمد اسمعیل یون

۴/۴/۱۴۰۰

کابل - افغانستان

# درې نامثمره معجزې

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د جولای پر (لومړۍ)، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (چنګابښ) میاشتې له (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

افغانانو د تاریخ په اوږدو کې ډېرې جګړې کړي، چې اکثره یې ګټلي او ځینې یې بایلولي هم دي .

افغا نانو نږدې ټولې هغه جګړې ګټلي چې د خپلې عقیدې له مخالفانو سره یې کړي، لکه د انګریزانو، روسانو او اوس د امریکایانو پر ضد جنګونه، خو یو شمېر هغه جنګونه یې بایلولي چې د دوی خپل همدینه په کې په مستقیم او نا مستقیم ډول را ښکېل وو، لکه د مغلو پر وړاندې جګړه او د پنجاب له خوا د افغانستان پر ضد اویا کلنه پټه او نا اعلان شوې جګړه.

د اسلام د مخالفو او مغایرو زبرځواکونو پرضد جګړې که څه هم ډېرې خونړۍ وې، خو افغانان یې د میدان داسې بریمن وو، چې زیان یې دوی، خو ګټې یې نورو ته ور ورسېدلې.

د شلمې پېړۍ په سر کې د انګرېزانو ماتې یوه پوځي معجزه ګڼل کېدله، دا معجزه افغانانو وپنځوله، ثمر یې نورو وخوړ، خو زیان یې افغانانو وزغمه.

د همدې شلمې پېړۍ په پای کې د شوروي د امپراتورۍ ماتې هم تر تصوره پورته کار ګڼل کېده، دا جګړه په تاریخ کې د افغانانو

د یوې بلې معجزې او تورې په توګه ثبت شوه، شوروي هم په کې ړنګ شـــو، ختیزه اروپا په کې ازاده شـــوه، خو افغانســـتان په کې ویجاړ شو او افغانان په کې برباد شول.

د یویشـــتمې پېړۍ په پیل کې امریکایي امپراتوري له نوي رنګ او جنګ سره راغله، حقیقت خو دا دی چې امریکا هم د همدغو دوو



امپراتوربو برخلیک ته نږدې ده، د امریکایانو داســـې ماتې، داســـې سپېره وتل او خپل کورني متحدین په دې ډول په ډاګه پرېښودل د تاریخ یو بله ننداره ده او د یوویشتمې پېړۍ بله معجزه.

دا معجزه او جنګ هم افغانانو ته په ډېر غټ قېمت پرېوته او امریکایانو ته هم د نړۍ د یو بې مثاله قېمتي جنګ په بیه ناتمام پاتې شو.

اوس پوښـتنه دا ده چې تر دومره پوځي معجزو وروسـته بیا هم ولې افغانان نه د پوره خپلواکۍ او نه هم د سوکالۍ خاوندان شول؟

علتونه به یې ډېر وي، خو کېدی یو ا ساسي علت یې دا وي چې له پوځي مبارزې سره ســـیاسي تدبیر او فرهنګي ملاتړ همغاړي او

موازي نه وو. د جګړې په برخه کې برى د ژوند په ډګر کې د برې مانا نه لري. د جګړې بريمن تر جګړې وروسته دومره ځپل شوى او ټوکر ټوکر وي چې ډېر وخت ايله د خپلو هډوکو پر کوشـــېر بوخت



پاتې کېږي؛ د ابادۍ او سوکالۍ ظرفيت له لاسه ورکوي.

د تاريخ څرخ ګرځي، خو د تاريخ او ښکېلاک محتوا نه بدلېږي، البته شـــعارونه او شـــکلونه به يې بدلېږي؛ انګرېزانو به يو هېواد په دې پلمه ښـــکېلاوه چې دلته تمدن او پرمختګ راولو، شـــورويانو د غريبو د حقوقو تامين او دانټرنېشنليزم شعار ورکاوه او امريکايانو او غربيانـــو بـــيا د بشر حقوق او ولسواکي د خپل نيواک لپاره وسيله ګرځوله. د دې ټولو زبرځواکونو د غلامانو رنګونه او شکلونه بدل وو، خو محتوا يې کټ مټ يو شـــان وه، هغه حکومت چې د انګرېزانو، هغه چې د شـورويانو او هغه چې د امريکايانو له خوا واک ته رسـول شـوى او بېدرېغه مالي او پوځي ملاتړ يې هم شـوى، يو هم پر دې نه دى بر يالى شـــوى چې د خپل ولس د يوې برخې مخالفينو پر وړانـدې مقـاومـت وکړي. د حکومتونو تر ړنګونې وروســـتـه بيـا ګوريلايي مبارزين واک ته رســـېدلي، له هغوى څخه خبره نوره هم پسې خرابه شوې، هغوى د جنګ مهارت درلود، خو د ابادۍ هنر يې نه لاره. اوس زموږ هېواد يو ځل بيا د يوې بلې نامثمرې تاريخي

معجزې په درشل کې دی؛ د پردیپالو، بې کفایته او مفسدو دولتي چارواکو د بی غورۍ او فســاد له امله حکومت او ټول نظام د ګړنګ



څنډو ته رســېدلی، مخالف ګوریلایان (طالبان ) په ســخته مذهبي جذبه او ولوله کې دي، ورځ پـر ورځ ولسوالۍ نیسي او ټوله شوې ابادي په کې د اور تر ستوني تېرېږي، که خبره د کابل تر نیونې هم په همدې ډول را ورسي، نو په هېواد کې به د ابادۍ یو څرک هم پاتې نه شي، بیا نو که او سنی طالب یا مجاهد د پوځي بري جام پر سر واړوي نو څه؟ پر مړو او کنډوالو حکومت؟ ایا کوم تاســیسـات چې د سترګو په رپ کې ورانېږي بیا ابادي یې په څو کلونو کې او په کومو امکاناتو ممکنه ده؟ له بلې خوا بیا دې بل پلو یو څو پردیپال د واک په نشــه کې داســې مســت دي، چې تر څو ورته طالب د ارګ دروازې ور و نه ټکوي، له واکه لاس نه اخلي. ملت د داســې ډلو تر منځ ګیر دی چې له داسـې سـترو نامشرو تاریخي تجربو څخه هم ګټه او عبرت نه اخلي، سالم فکر نه کوي، سولې ته غاړه نه ږدي او د تاریخي لېونتوب په څپو کې ډوب دي. خدای[ج] دې د دې ولس مل شي.

# د پاکستان د دښمنیو تسلسل

# او د هغو اساسي چاره

دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د جولای پر (۱۸) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (چنګاښ) میاشـــتې له (۲۷) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

پاکستان یو مصنوعي هېواد دی، چې د انګرېزانو له خوا پنځول شوی، کلتور یې د هندوستان، دین یې د عربستان او د خاورې یوه



پـامـوړ بـرخـه یـې پـه افغانســتان پورې اړه لري، نه کوم ملت دی او نه هم کوم تـاریخي هویـت. کلـه چې له هنده جلاکېده، نو پر همغه وخت افغان دیپلوماتو له انګرېزانو څخه درې ځله د خپلې خاورې د بېرتـه استرداد او الحاق غوښـتنه وکړه، افغانســتان په ملګرو ملتو کې د پاکســتان د غړیتوب مخالفت وکړ، په همدې وجه خو د وخت ملتپال افغان ډیپلومات او ملي شخصیت؛ عبدالرحمن پژواک سره پـاکســتـان تر پـایـه د خپلې کینې پـاللو تـه دوام ورکړ. د

اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال د وزیر محمدګل خان مومند په مشرۍ لویې جرګې پرېکړه وکړه چې ډیورندکرښه د انګرېزانو له خوا په زور راکاږل شوې کرښه ده او په هېڅ ډول افغان ملت ته د منلو وړ نه ده.



پر (۱۹۵۱م) کال کله چې د پاکستان لومړني صدراعظم؛ لیاقت علي خان په یوه لویه غونډه کې افغانانو ته ناموسي کنځلې وکړې، د ببرک خان ځدراڼ زوی؛ سیداکبرخان، چې دا مهال د افغان حکومت د وخت له واکمنو نارا ضه و او د پاکستان د حکومت له خوا دې غونډې بلل شوی و، د غونډې له اوولسمه کتاره په خپلې لاسي تومانچې پر لیاقت علي خان ډزې وکړې، په لومړي ډز یې پر تندي وویشت او پاتې کنځلې یې ورته په خوله کې وچې کړې. سید اکبرخان ځای پر ځای شهید شو او کوچني زوی یې؛ دلاورخان اولس کاله د پاکستان په دوزخي زندان کې تېر کړل.



سردار داود خان چې کله د خپل صدارت پر مهال د پاکستان پر ضد سفربري اعلان کړه، نو تر اټکه پورې ټول دکانونه له وهمه تړلي وو، خو ذوالفقارعلي بوټو د عربو په منځګړیتوب کابل

ته راغی او له داودخان څخه يې د خپلو سپوره خبرو له امله بښنه وغوښته.


پاکستان بیا حکمتیار، رباني، مسعود ته پناه ځایونه ورکړل، د هغوی روزنه او پالنه يې وکړه، هغوی بیا په لغمان، پنجشېر، پکتیا



او نورو سیمو کې بغاوتو نه وکړل، خو څرنګه چې ولس له حکومته ملاتړ کاوه، دا بغاوتونه پر وخت ختثی شول. د خلک دموکراتیک ګوند په بري سره، حفیظ الله امین هغه چې ي مشر و چې له ډېر پخوا څخه يې له پاکستان سره ژوره کینه او دښمني لرله، امین به ویل چې زما یو غټ ارمان دا دی چې زما په لاسلیک د پېښور والي مقرر شي دا زما یو غټ ارمان دی، ډاکټر نجیب بیا د همدې ګوند بل مشر و چې د پاکستان نېتونه يې ښه درک کړي وو، سره له دې چې له بېلابېلو جهادي ډلو سره پر سخته جګړه اخته و او د پاکستان درې قول اردوګانو د مجاهدینو په رنګ کې پر جلال اباد يرغل وکړ، خو بیا يې هم سخته ماتې وخوړه، ښه مې په یاد دي چې پاکستان د ملګرو ملتو امنیت شورا ته د افغانستان د سکارټ توغندیو او برلاسي هوايي ځواک له امله څو څو ځله شکایت وکړ. پاکستان هغه وخت هېڅکله د دې جرات نه کاوه چې د اوسنۍ سپینسترګۍ په شان په ښکاره ډول ډیورند کرښې ته رانږدې شي او د افغانستان خاوره لاندې کړي.امین د شوروي او نجیب د خپلو

بې وفا او نازولو ملګرو له خوا له هغه ډول برخلیک سره مخامخ شول.

په داسې حال کې چې د شوروي او د وخت د حکومت پر ضد پراخه جګړه روانه وه، پاکستان خپلې توطیې لاپسې اوډلې او پراخولې، د (ای ایس ای مشر جنرال اختر عبدالرحمن ) او جنرال ضیاالحق د دې غمیزې اصلي طراحان وو، دوی د جهادي ډلو لپاره چریکي جګړه پلان کړ او د دې جګړه هدف دا و چې سیمې او ښارونه لاس په لاس کېږي او وطن ورسره ډېر ورانېږي، جنرال اختر به ویل :((کابل باید وسوزي)).



د هغوی ارمان پوره شو، کابل د هغوی له خوا د ملاتړ شویو بېلابېلو ډلو په واسطه د څلورو کلونو په ترڅ کې پر کنډواله بدل شو، روسیې، ایران او ځینو نورو ګاونډیو هم خپل غچ واخیست. په تېرو شلو کلونو کې پخواني سریالونه او داستانونه په یوه نه یوه بڼه بیا تکرار شول او لا هم تکرارېږي .

له دې اوږده داستانه مې هدف دا و چې زموږ اوسنی ځوان احساساتي نسل د پاکستان د دښمنیو پر تسلسل تر یو حده پوه شي.

## اوس راځو یو څو حل لارو ته:

۱-که غواړو چې د پاکستان توطیو ته دایمي حل لاره پیدا کړو او وخت پر وخت د هغو مخه ونیسو، نو په ولس کې باید ملي روحیه

او د لـــوی افغانستان جذبه ژوندۍ وساتو. زه روحاً ډېر خوشاله یم چې پنځه دېرش کاله مې له خپلو ملګرو سره په دې برخه کې مبارزه کړې او نږدې یوه نیمه لسیزه مو په کابل کې، چې چا له ډاره په پښــتو خبرې نه شــوې کولای، موږ د لر او بر یو افغان ناره او داعیه پاللې ده.

۲ -منبر او محراب باید راخپل شي، پاکســتان له همدې درې ځلوره متره مقدس ځای څخه د افغانستان د ورانۍ سنګر جوړ کړی دی، پنجابیان یوازې د اســلام یو رکن؛ روژې ته ځان نه شي ټینګولای (پټان پوه شه او روژه یې پوه شه)؛ خو افغانستان کې بیا د جهاد په نامه د جنګ اور ته لمن وهي.

۳ -موږ باید دا ناره هم پیاوړې کړو چې موږ په پاکســتان او افغانســتان دواړو کې د اســلامي شریعت تطبیقول غواړو، موږ د شریعت له تطبیق سره پوره روږدي یو او هم یې زغم لرو؛ عملاً یو شرعي ولس یو، خو که په لاهور، کراچۍ او اسلام اباد کې د واقعي شریعت د تطبیق مسله مطرح شي، ټول پاکستان به انفجار وکړي؛ بانکونه او ســړکونه به یې بند شي او روژه خواره به یې خپل رقیب هندوستان ته پناه یوسي.

۴-پر دې خپل حکومت او په هغه کې پر ځینو مطرحو بامبړانو هم زړه مه تړئ، دوی خپله ګڼ شمېر همغه خلک دي چې د پنجاب په لوښــي کې یې اوبه څښــلي، څوک وایي ما په لاهور کې مدرســه لوســتې، څوک وایي ماته هلته د جهاد تمرین راکړل شــوی، څوک وایي پاکســتان زما د هجرت کور دی، څوک دا شــل کاله کېږي چې

له هغوی سره د پاکستان د سفارت د ساتنې او پالنې تړون لري، د چا کورونه همدا اوس پاکستان کې دي، چا ورسره خپښــې کړي دي، همدا اوس د پاکستان سـفیر د دپلوماتیک عرف خلاف همغو کسانو سره ګوري چې د غني او عبدالله په لاسلیک مقرر شوي، زغروال ګاډي لري او لوړ دولتي معاشونه.

۵ -په فیسبوک کې تکلفي چغو او نارو سورو ته اړتیا نه شته، دولتي چارواکي باید عملي چارې تر سره کړي، نه فیسبوک کې شکایت، که دوی کې د عوامو په اصطلاح لږ د سرېتوب او غیرت مالګه وای، نو پاکستان پر ډیورند کربښې دوه زره کیلو متره اغزن تار نه شو تېرولای، دوی ولې هغه وخت یوه ورځ چغه پورته نه کړه او ان لس متره سیم یې هم راټول نه کړای شو؟ یو شمېر دولتي چارواکي غواړي خپله بې کفایتي او فساد دواړه له پاکستان سره د تصنعي مخالفت تر ورېځو لاندې پټ کړي، اصلي خبره دا ده چې د همدغو مفسدو او بې ریښې واکمنو بې کفایتۍ د پاکستان سپینسترګۍ او مداخلې ته لاره اواره کړې ده.

٦- له طالبانو سره په هر ترتیب چې وي باید سوله وشي.دا او سنی حالت نه یوازې د پاکستان نورو لا سوهنو ته لاره برابروي، بلکې پر حکومت د واکمنې مافیا عمر هم غځوي.

۷-افغانستان ته هم د نظام بقا او هم تدوام په کار دی او سمون یې هم ضروري دی او د دې تر څنګ له طالبانو سره پخلاینه هم. ځوک چې په هر نامه د سولې مخالفت کوي د پاکستان اصلي لاسپوځي همغه دي.

۸ -موږ هیله لرو چې طالبان د پاکستان له اسارته ځان خلاص کړي او ملي پوځ د ټامیانو او جنګسالارانو له رزالته. طالب باید د پاکستان د ګټو وسیله نه شي او ملي اردو باید د جنګسالارانو د واک او هوس د تداوم سبب نه شي، که دا دواړه قوتونه په خپل منځ کې سوله وکړي، نو نه پنجابی دې خواته بد کتلی شي او نه هم ټوپکیان، ملېشې او فسادګر د جمهوریت تصنعي ماسک پر مخ غوړولی شي.

۹ -که څوک د امارت پلویان دي که د جمهوریت ټول باید پر دې پوه شي چې د پاکستان دښمني اساساً له افغان او افغانستان سره ده، پرون يې د امارت سفير بې عزته کړ او نن يې د جمهوريت د سفير له کورنۍ سره دغسې انساني ضد چلند وکړ، سبا به يې بل افغان سره کوي، موږ ته تر ټولو لومړی افغانستان دی، جمهوريت او امارت هغه نسخې دي چې کله کارېږي او کله يې کاروونکي په داسې بڼه کاروي چې تر کارولو يې نه کارول په سوونو ځله ملت ته په ګټه دي.

۱۰-وروستۍ خبره دا ده چې اول وي که اخر پاکستان به ټوټې کېږي، لږه اوسېله کار ده، چانس، تدبير، زمان، مکان او امکاناتو ټولو ته منتظر يو، له هر يو څخه بايد پر خپل وخت ګټه پورته کړو، زه خو ورته وارخطا نه يم، نو تاسې هم خپلې ارادې پخې ساتئ او اوسېلې لوړې..

# د ايمان ضرر مه خپروئ!

**دا ليکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د جولای پر (۲۴) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) مياشـــتې له (۲) مې نېټې سره ســمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.**

**په اسـلامي شرع کې دروغ د ايمان ضرر ګڼل شـوي، الله تعالی هم پر دروغجنو لعنـت ويلی دی، زموږ پـه ټولنـه کې هم د دروغو خطر او ضرر ته په ټينګه نغوته شـــوې: تر څو چې رښـــتيا راځي دروغو به کلي وران کړي وي، خو د دروغو له دومره خطر سره سره بيا هم وايي چې د دروغو مزل لنډ دی او د دروغجن مخ تور دی، اخر وي که اول وي دروغ رسوا کېږي.**

**لکه څنګه چې ټولنه پرمختګ کوي، دروغ هم ورسره پرمختګ کوي، شـــکل يې بدلېږي، خو محتوا، خطر او ضرر يې پر خپل ځای پاتې کېږي.**

**اوس دروغ له کليوالي محيطه د انټرنېټ څپو ته پورته شـوي؛ ان د ((سايبريايي هاکرانو او غلو )) اصطلاح هم رامنځته شوې ده .**

**زموږ په ټولنه کې چې فيسـبوک په ناکنټروله ډول پراخ شـوی، نو فيسبوکي دروغ هم ورسره عام شوي دي، د يو چا جعلي فوټوشاپ شـــوي انځورونه، د بل چا په نامه جعلي ايډيانې، د ښـــځينه وو په مســـتعارو نومونو ايډيانې، د مطرحو افرادو په نومونو جعلي پاڼې او ايډيانې جوړې شوي او دا لړۍ لا روانه ده. له دې ډول ايډيانو څخه اکثره وخت يو بل ته سپکې سپورې ويل کېږي او جعلي خبرونه او د دروغو اوازې او انګازې ترې خپرېږي.**

په تېرو څوکلونو کې زما (محمد اسمعیل یون) په نامه هم ځینې دا ډول ایډیانې جوړې شوي چې له ځینو یې دا سې مطالب خپرېدل چې په بشــپړ ډول زما له روحیې، عقیدې او مفکورې سره مخالف وو، یو زیات شمېرکتونکو او لوستونکو ته هم ګرانه وه چې اصلي او جعلي لیکنې سره بېلې کړي. دا لړۍ اوس هم روانه ده، یوه تازه بېلګه یې (( د افغانســتان په تاریخ کې دوه ورته پېښــې)) په نامه یوه وړه ســیاسي لیکنه ده، چې په دې دوه درې ورځو کې زما په نامه په فیســبوک کې کښــته او پورته کېږي. دا لینکه زما نه ده او دا د همغه ډول دروغو او جعلکاریو یوه لړۍ ده، چې په فیســبوک کې دود شــوې ده.

موږ له هر ډول جعلکارانو په جدي ډول غوښــتنه کوو چې د بل هر چا په نامه د هر ډول دروغو له خپراوي څخه ډډه وکړئ، دومره زیاته انرژي چې پر جعل، فرېب او بل ته پر منســوبو دروغو لګوئ، تر هغې ډېره کمه انرژي د خپلو رښــتیاوو پر خپرولو ولګوئ، هم به مو غاړه خلاصــه شي، هم به مو دا دنیا روښــانه شي او هم به مو هغه نړۍ، د رښتیاوو خپرول هېڅ اضافي لګښت نه غواړي.

دروغ نه یوازې یو انفرادي تخریب دی، بلکې یوه ټولنیزه ویجاړي هم ده. مرتکبین یې لکه د نورو مجرمینو په شان مجرمین دي.

په ډله ییزه رسنیو کې د هېواد یو زیات شمېر ټولنیز، سیاسي او علمي شخصیتونه د دې ډول دروغجنو له خوا له ستونزو، ناخوالو، ګواښــونو او ان ناوړه باج ورکولو سره مخ دي. نو راځئ چې په ټولنه کې د دې ډول ناروغیو د مخنیوي لپاره هم دارو درمل پیدا کړو، په ګډه دا ډول ناروغي تشخیص او په ګډه یې درملنه وکړو.

# کندهار د هېواد تاریخي او سیاسي محور

| |
|---|
| دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د جولای پر (۲۵) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشــتې له (۳) مې نېټې سره سـمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

له نن څخه نږدې (۲۰) کاله وړاندې په ببړنۍ لویه جرگه کې د پکتیا یو مشر راتــه وویــل؛ (( لوی کندهار د افغانستان زړه او تنه ده، لویه پکتیا یې مټ او بازو دی، لوی ننگرهار یې مغز او تفکر دی او شمال یې د جود نور اندامونه)).

د خپل هېواد پـه بـاب د دې مشر درک او پېژندنه تر هغو کسانو ډېره ژوره وه، چې د نړۍ په معتبرو پوهنتونو کې یې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې کړې دي.

د افغانستان طبیعي جوړښت همداسې راغلی چې هره سیمه او هر ټبر یې یو بل سره داســې اوبدل شــوي، چې یو د بل متمم دي، لکه د یو وجود بېلابېل غړي، چې هر غړی یې ټپي او دردمن شي، نو د درد څړیکې یې ټول وجود ته رسي.

اوس چې د هېواد پر هرې ســیمې او هر کور اور بل دی، نو دا درد ټول وجود ته رسي، د وطن د وجود هېڅ غړی د ارامۍ احساس نه کوي. اوس د وجود د هر غړي دردونه د زړه رگو ته ور رسېدلي او که خدای مه کړه زړه له حرکته ولوېد نور نو بیا د وجود د رغېدو هېڅ چانس نه شته.

اوس د جګړې لمبې د هېواد زړه؛ کندهار ته رسېدلي دي، کندهار د اور په لمبو کې سوزي، هغه کندهار چې د دولت جوړونې او تاریخي فتحو محور و، هغه کندهار چې یو وخت به ډیلی، لاهور او اصفهان ترې کنترولېده، نن همغه ځای د واکمنو سیاسي کړیو د سیالیو پر ډګر بدل شوی دی.



کابل مېشتي واکمن له ځانه دېوالو نه را تاووي او دزرغونې انا هغه تاریخي وصیت چې خپل زوی؛ احمدخان ته یې کړی و، چې له ښاره دېوال مه راتاووه، دښمن پسې تر ښاره بهر ووځه، د ټولو له حافظې وتی دی. واکمن یوازې په چغو او د پنجاب په مداخلو ځان له تاریخي مسولیته خلاصوي.

حقیقت خو دا دی چې په تېرو (۲۰) کلونو کې د کندهار محوریت او مرکزي رول له پامه وغورځول شو، کرزی صیب که څه هم د کندهار د تاریخي برم په برکت د جمهوري ریاست مقام ته رسېدلی و، خو پې یې پر شمال ټلوالې پرېښودلې، خواره یې هغوی ته رسېدل او د تاریخي پېغورونو بدنامي یې کندهار ته پاتې کېده.

کله چې د طالبانو نظام رنګ شو، نو ډاکټر اشرف غني چې دا مهال د کرزي د حکومت د مر ستو د انسجام مشر و، نظر دا و چې کندهار کې باید زیات عمراني کارونه تر سره شي، هدف یې دا و چې دې سره به په سیمه کې نوی مدنیت رامنځته شي او همدا مدنیت بیا د دې سبب کېږي چې په سیمه کې د طالبانو او مذهبي

افراطیت د بیا ټوکېدو مخه ونیسي. دا بهیر یو څه وخت تعقیب شو، په کندهار کې یو څه پرمختیایي کارونه تر سره شول، د محمود کرزي په شخصي هلو ځلو (عینو مېنه) او د ګل اغاشېرزي په کوښښ یو څه پرمختیایي کارونه تر سره شول، خو په هېڅ ډول د کندهار او بیا د لوی کندهار په کچه د هغه له استحقاق سره برابر نه وو او بسنه یې نه کوله. اصلي خبره دا وه چې کندهار په کابل کې د واکمنو اصلي ستمي او جمعیتي کړیو له خوا قصداً سیاسي انزوا ته بیول کېده. دا انزوا چې د کرزي د واکمنۍ پر مهال پیل شوې وه، د غني د واکمنۍ تر دې مهاله یې په بېلابېلو بڼو تداوم موندلی دی.

نتیجه دا شوه چې د کندهار محلي مشران او سیاسي قشر په محلي اداره کې مصروف او د هېواد په غټو سیاسي پرېکړو کې له واک وځواکه محروم پاتې شي. په محلي واک کې د شراکت اساس، چې له قومي او قبیله یي ریښې سره یې تړاو درلود، په خپله په وروستۍ نتیجه کې د قبیله یي سیالیو سبب کېده.

په تېرو شلو کلونو کې ما شخصاً پنځه ځله کندهار ته سفر کړی او د وخت لومړۍ درجنه واکمنو ته مې د کندهار د اساسي ظرفیت او پوتنسیال یادونه کړې او ټینګار مې همدا و چې له دې کیفیت څخه باید د ټول افغانستان د سیاسي ثبات لپاره کار واخیستل شي، نه دا چې دا ظرفیت په خپلمنځي سیالیو کې اوبه شي. څه کم پنځه کاله وړاندې مې کندهار ته څو ورځینی سفر وکړ، له خلکو، مشرانو، سیاسیونو او فرهنګیانو سره مې وکتل، له مرکزي حکومت څخه یوه عامه نارضایتي موجوده وه، ځانونه یې له سیاسي پلوه د هېواد د برخلیک ټاکنې په برخه کې په حاشیه کې حسابول.

کابل کې مې محمدحنیف اتمر سره، چې دا مهال د جمهور رییس غني امنیتي سلاکار و، په دې باب ځانګړی ملاقات وکړ او وضع مې ورته په دقیق ډول تشریح کړه، هغه وویل مشخص وړاندیز! ما وویل د اوس لپاره باید څلور کلیدي وزارتونه، لکه دفاع، معادن، پوهنې او د اوبو او برېښنا وزارت د کندهار کدرونو ته ورکړئ او بیا دا لړۍ د لوی کندهار نورو کدرونو ته هم پسې پراخه کړئ، تاسې خو هسې هم شمالټلوالې ته باج ورکوئ، نو که غواړئ له دې باجه خلاص شئ جنرال رازق د عبدالله حبیبي پر ځای، دفاع وزارت ته راولئ، نو یو خو به په حکومت کې له ټلوالې څخه را پیدا شوی دا موجود وهم ختم شي، بل به سیاسي لندغر او نور بدماشان هم له منځه لاړ شي او همدارنګه به رازق په کندهار کې له محلي رقابتونو را بهر شي، کله چې



رازق غونډې یو سړی په کابل کې واکمن وي، دلته نو بیا څوک بدماشي نه شي کولای او د کندهار خلک به هم په مرکزي حکومت کې خپل یو پوخ استازی ولري، اوس نو په څو معینتونو د کندهار د خلکو زړه نه شي ساتلی. جنرال رازق تر دې وړاندې څو ځله له جمهور رییسه د یو په یو ملاقات غوښتنه کړې وه، خو د حاکمو مافیایي کړیو له خوا د دې ملاقات مخه ډب شوې وه.

له هغه وخته مې په پټه له چارواکو سره ډېر ځله په مرکزي حکومت کې د لوی کندهار د کمرنګه رول مسله مطرح کړې، خو په علني ډول مو ډېر ځکه څه نه و یل چې منفي‌با فان ترې منفي او ناسمه ګټه پورته نه کړي.

د ډاکټر اشرف غني نېت ښــه و که ښــه نه، خو کوم څه چې حقيقت دي هغه دا دي چې د ده په شاوخوا کې هم داسې اشخاص وو او لا هم شته چې د کندهار محوري او تاريخي رول ته متوجه نه دي او يا هم قصداً نه غواړي چې د کندهار ملي کدرونـــه د ملت په کچه خپل رول تر سره کړي.

د مرکزي حکومت همدې شــلکلنې بې تفاوتۍ، بې پروايۍ او په ځينو وختونو کې ان ضــديت، اداري فســاد او همدارنګه نور ګڼ شمېر عوامل د دې سبب شول چې ټول هېواد او په تېره بيا تاريخي کندهار له دې ناورين سره مخامخ شي.اوس نو بې کفايته چارواکو ته يوازې همدا پلمه پاتې چې هله پنجاب دی او هله پنجاب، او د خدای بدمرغو ! پنجاب څه ترا بان دېو دی چې له لاهوره پرواز وکړي، کله په اسلام کلا کې کښته شي، کله په شېرخان بندر کې، کله په اقينه کې، کله په سپين بولــــدک، کله په تورغونډۍ کې او کله هم په لغمان او نورو سيمو کې ؟

له پنجابه دومره افراطي شــکايت خپله له رواني پلوه د غټې بې غيرتۍ ښکارندويي کوي .

هغه خلک چې په ټوليز ډول د يو قوم په توګه روږه نه شي نيولی هغه به د هلمند په ســوزنده دښــتو کې جګړه څنګه وکړي ؟ او هغه هم په داســې حالاتو کې چې همدې حکومتي سرچينو او مبلغانو بار بار ويلي چې پاکســتان مو منزوي کړی، خړ لېســت، تورلېســت او نورو ته غورځېدلی دی.

دا خبره هم له منطقه لرې ده چې څوک دې ووايي چې پاکستان مداخله نه کوي، د هغوی خـو پـاليسي همدا ده چې قوي او سوکاله افغانستان نه غواړي، اويا کاله د هغوی د مداخلې لړۍ روانه ده، ان هغه خلک هم اوس په همدې حکومت کې غوښــنه برخه لري چې يو وخت د دې ګرمو مداخلو اســاسي برخه وه. موږ د دې پر ځای چې د مداخلو مخه ونيســو او يا ورته عمل تر سره کړو، يوازې له مداخلو شکايت کوو، تاته خو يې خپل لاس په خوله کې درکړی، که

ته هرڅومره زور کوي خپل ځان خوروي، د جنګ جغرافیه ســتا ده؛ د جـــنګ بشري قوه هم ستـــا ده، د موافق او مخالف دواړو مرمۍ ســتا پر کور او کلي لګېږي. د عقل او سـیاسـت تقاضـا خو همدا ده چې په ډېر مهارت سره لـــه دې ناوړه حالت څخه ځان و باسـې. د افــغانــانو په تېره بیا د سیاسي مشرتابه لاس تر تیږې لاندې دی. اوس باید په ډېر مهارت دا لاس خوندي راوباســو. که د حکومت او طالبانو په سیاسي مشرتابه کې سیاسي بصیرت او وطني مینه وای، نو ښه او ایډیال حالت خو همدا و چې ژر تر ژره یې سوله کړې وای، یو لوری د واک له تداومه او بل یې له نیولو تېر شـــوی وای. د ملت جرګې او پرېکړې ته سره ناست وای. څومره به ښه وای چې طالبانو او د ملي اردو سرتېرو په ګډه د ســـپین بولدک پر ځای لومړی پر کوټه او بیا پر لاهور برید کړی وای، طالبانو به هلته پر روژه خورو شریعت پلی کړی وای او موږ به تر ملي بیرغ لا ندې بېرته خپله خاوره خپله کړې وای، خو اوس چې کندهار او په تېره بیا په ســپین بولدک کې کومه غمیزه روانه ده، دا نه یوازې کندهار او ټول افغان ولس ته یوه لویه تراژیدي ده، بلکې د ظلم او بربریت دا حالت به په خپله د طالبانو د زوال ســبب هم شي. د هرې واکمنۍ نزول د هغې د ظلم له انتها سره تړلی دی.

په پای کې جمهوررییس غني ته د وړاندیز په توګه وایو چې د کندهار محلي ادارې، د کندهار مشرانو او مخورو ته صلاحیت ورکړه چې د کـنـدهـار د دې حـالـت د نورې خرابۍ د مخنیوي پـه خـاطر خپلمنځي جرګه جوړه کړي، طالبانو سره د ســولې د خبرو او اوربند لپاره خبرې او سلا مشوره وکړي. طالبان هم باید د ماشې له څوکې راپرېوزي، ولس سره خبرې وکړي، په زور که څه کېدلی، نو تر تاســو نور ډېر زورور دلته روغ سرونه راغلي وو، خو مات او ټیټ سرونه بېرته وتلي دي. د خدای له قهره او د ولس له ښــېراوو ځان وژغورئ!

# د یو بل مینه پال قلموال سفر

| |
|---|
| **دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اگست پر (٦) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میا شتې له (۱۷) مـــې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.** |

**د زابل له ســوو او غمځپلو دښــتو یې فرهنگي مبارزه پیل کړه، د هوتک بابا دعاوې ورسره ملې وې، په ســختو شــپو او ورځو کې یې ســـخـت، خو مثمر فرهنگي مزل وکړ. نـه یې زر درلودل نـه یې زور، نه یې واســـطه وه او نه یې هم وســـیله، خو له سپېرو دښتو یې د خپـل اســـتعداد پـه برکت ځان د خپل هېواد د جمهوري ریاســت تر**



**کاري چاپېریاله ورساوه،. دی د خپلې دندې په چاپېریال کې د هغو**

ګوتو په شـــمار قلموالو له جملې څخه و، چې هم يې خپل وطن او ولس پــېژنده او هم د عــصر له غــوښتنو او ټکنالوژۍ سره بلد و، مينه ګر هم و، مينه ناک هم و او مينه پال هم و. جګړه ګورئ دومره بدمرغه ده چې نه قلموال پرېږدي، نه قلم، نه مينه پرېږدي نه مينه پال، نو که غواړئ چې په هېواد کې د نېږدې نيمې پېړۍ د غميزې د دوام مخه ونيســو، بايد د جګړې اورونه مړه کړو. د نفرت پر ځای محبت وکرو او د کرکې پر ځای مينه، های های مينه پاله وروره...

# جنگونه او شرمونه

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۸) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کـــال د (زمري) میا شتې له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

د (۲۰۱۴ م) کال تر ټاکنو وړاندې مې ښـــاغلي ډاکټر صـــیب اشرف غني ته وویل، چې د شمالټلوالې لـــه مشرانو او نورو لنډغرو سره به د تعامل په برخه کې له ډېر احتیاط او دقت څخه کار اخلې، وارخطا کېږې به نه، دوی غوروپش کوي، تقاضـا یې ډېره لوړه وي، خو بیا د یو امتیاز په مقابل کې له خپلو ډېرو غوښـــتنو تېرېږي، بل خصـوصـیت یې دا دی چې یو امتیاز دې ورکړ بیا سـم له لاسـه بله تقاضا کوي.

دا ډول خلک چې له قومي، سـمتي او ژبني تعصـبه ډک دي هېڅ ډول، ملي، وطني او دیني ارزښـتونو ته ژمن نه دي، سـیاسي ژوند یې پر معاملې ولاړ دی او پر معاملې پایي.

غني د خپـل حـاکمیـت پـه بهیر کې دري ځلـه؛ د ملي وحـدت حکومت، اوسـني حکومت او اوسـمهال د طالب ضـد جنګسـالاریز ایتلاف په جوړونه کې لـه دې ډول ډلو ټپلو سره جوړجاړی او ایتلاف

وکړ. ځینو برخو کې غني او د هغه د ټیم ملي برخې له زړه څخه نه غوښــتل چې دا ډول ناوړه؛ ملت ضـد جوړښــتونه رامنځته شي، خو بهرني فشــارونه، کورني حالات، خپله له واک سره د غني ځانګړې مینــه، جګړه او نور ترینګلي حـالات د دې ســبـب شــول چې جنګســالاران یو ځل بیا په حکومت کې د ځان ځایونې ځای پیدا کړي.

دوســتم ته د (( مارشـالۍ)) رتبه د اوسـني حکومت د جوړښـت لپاره د ســیاسي توافقاتو یوه برخه وه. جمهور رییس غني دوه انتخابه لرل: یا به یې ټول توافقات ردول او یا به یې د دوســتم



مارشـالي ورسره زغمله. غني او ټیم یې په سـخت حالت کې وو. دا مهال ما د یو افغان په توګه خپل مســولیت وګاڼه چې پر چارواکو خپله غاړه خلاصـه کړم، د چارو د ادارې له رییس ښـاغلي (فضـلي) سره مې وکتل، ما ورته وویل د ملي وحدت حکومت تجربه مو په یاد

ده؛ ګورئ بیا هغســې حالت رامنځته نه شي، بله خبره د دوســتم د مارشــالۍ رتبې ده چې په هېڅ وجه باید دې ته غاړه کېښږدئ، ما وو یل: جمهور رییس قانع او تلقین کړئ چې په خپل تاریخ کې ځان ته د پېغور دا ټکی پرېنږدي چې د نړۍ یو مفکر د نړۍ یو ستر جنایتکار ته د خپل ولس د وژنې په بدل کې د مارشـالۍ رتبه ورکړه.
دا مهال فضلي صیب ما ته له خپل مېزه د دو ستم د مار شالۍ هغه لیکلی فرمان را ښکاره کړ چې تر دې دمه لا جمهور رییس لاسلیک کړی نه و، خو متن یې تیار لیکل شــوی و. په هغه متن کې یې دوستم ته (( اعزازي )) مارشالي لیکلې وه.
فضــلي صــیب وویل جمهور رییس هم نه غواړي چې دا رتبه ورکړي، نو ځکه خو یې تر دې دمه معطل کړې هم ده؛ موږ تر اخري حـده مقـاومـت کوو، وګورو چې څـه کېږي، خو کورني او بهرني فشارونه هم ډېر زیات دي.
ما ویل که فشــارونه تر حده زیات وي، نو کېدی شي کوم بل امتیاز ورکړئ، بل هر ډول امتیاز که څه هم جایز به نه وي، خو د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي، خو دا رتبه به په تاریخ کې افغان ملت ته د یو پېغور په شکل پاتې وي، چې یو کمسېواده، جنګسالار او قاتل وګړی پرې مارشال شو.
فضـلي صـیب هم ما سره زړه کې موافق و، خو یوازې همدومره یې وویل چې تر اخري حده کوښښ کوو چې له دې مسلې ځان بچ کړو.

کور تــه راغلم ډېر خواشــینی شــوم، د دې رتبې د ورکړې د مخنیوي په خاطر د یوې مظاهرې د جوړونې په لټه کې شـوم، ورځ دوه لا وتې نـه وې چې د کرونـا گرمې څپې را ونیولم، پوره پنځـه ویشت شـپې یې د بسـتر کړم، په همدې بهیر کې مې عبدالرشـید دوســتم ته د مارشــالۍ رتبې د ورکړې مراســم له تلوېزیونه ولیدل، ډېر خواشــینی شــوم، بیا مې زړه کې دا هیله وگرځېدله، چې خدایه داســـې ورځ هم راوله چې موږ ژوندي یو، (( مارشـــال )) دوســـتم مخکې وي او طـالبـان ورپســـې وي او دومره یې وځغلوي چې د مـارشالۍ رتبه او دریشي یې تر شا پاتې شي او مصنوعي دوړې یې هم ټول ولس ته معلومې شي. طالبانو ته مې په نورو برخو کې هیله نه وه، خو په دې برخه کې مې ځکه ورته دا هیله وه چې دې شخص ته د طالب د وژنې او ځپنې په پلمه دا بهادري ! ورکړل شوې وه.

نن هغه وخت راورسېد چې ((مارشال ))له توپونو او ټانکونو سره مخکې او طالب له خپل یو کلاشـینکوف او موټرسـایکل سره پر شـا ورپســـې روان دی، دا شرم نه یوازې دوســتم ته راجع دی، بلکې د دې رتبې ورکوونکي او غوښتونکي ټول په دې شرم کې شامل دي.

مارشالي هغه لوړه پوځي رتبه ده چې گټونکی یا اخیستونکی یې باید د دې جوگه وي چې نه یوازې له خپل هېواده د جگړې ټغر ټول کړي، بلکې د جگړې جغرافیه نورو هېوادونو ته هم انتقال کړي، لړه تر لړه په څلورو فتحه شــویو هېوادونو کې یې عســـکر پراته وي او جگړه له دې ځایه کنترول او رهبري کړي. د خپل کلي او کور فاتح ته څوک مارشــــالي نه ورکوي، که نه نو خو بیا هر ملک، ملا او قوموندان د خپل کلي مارشـال دی. اوس به نو د نړۍ نور مارشـالان

هم خپل ځان ته کوزګوري وي، چې زموږ له ډلې یو ((مارشـــال )) ولی داســـی پیکه او ډوزمار وخاته. اوس نو که دوســتم یو ځل بیا د



ملي اردو او امریکایي الوتکو په زور طالبان پر شـــا وتمبوي دا خپل شرم په هېڅ ډول بېرته نه شي جبرانولای.

له طالبانو هم هیله کوو چې د دې موقتي بریا په خوښـــیو کې د غرور پر اس سپاره نه شئ، خپل رب ته د تعظیم سرونه ټیت کړئ، د خلکو له کورونو او مالونو د جګړې د ســـپر په توګه کار مه اخلئ، ولس مه ځوروئ، خدای پاک هر چاته یو چانس ورکوي که په هغه موده کې یې د غرور ښـــکرونه وکړل، نو بیا یې نه یوازې ښـــکرونه ورماتوي، بلکې پـه شرمو یې هم شرموي. لـه واکمنو او نـاواکمنو سیاستوالو او جنګیالیو ټولو څخه هیله کوو چې جنګونه مه ګرموئ، جنګونـه غمونـه او شرمونـه زېږوي، خپـل شـــلکن تـاریخ درتـه د غوږ بدلي کتاب په ښه پروت دی، د بي (۵۲) الوتکو بمونو ته مه خوشـــالېږئ، تاســو غوندې یو بل شـــخص (برهان الدین رباني) به

هم يو وخت امريكايانو ته ويل چې غت غت بمونه واچوئ، دا واله دي تاثير نه کوي... نن رباني نه شـــته، خو تاريخي شرم يې پاتې دی.



که زموږ سياسـتوال هوښــيار وای د جګړې جغرافيه يې بايد بدله کړې وای، که جګړه په لاهور او پنجاب کې وای، نو بيا که هر چا بم غـورځـولـی، زيـان يــې هغوی ته رسېده، اوس چې جنګ زما په خپل کلي، کور، ښــار او ولس کې دی، که طالب ډز کوي، که سرتېری اوکه امريکايي يا عرب او پنجابی، د دې ټولو زيان زما ولس او وطن ته رسي، دا جګړه ګورئ فاتح او مفتوح، غالب او مغلوب نه لري، دلته موقتي بريمن او موقتي ناکام دواړه ناکام دي، نو راځئ چې په هر ترتيب وي د جنګ ټغر ټول کړو، تر څو جنګونه وي، مرګونه او غمونه به هم وي او شرمونه به هم وي، د دوسـتم د (( مارشـالی)) شرم يو د هغو شرمونو له جملې څخه دی، نو که جنګونه کوئ نورو شرمونو ته هم منتظر اوسئ!

# د پاکستان په باب د افغانستان

# د واکمنو تاریخي تېروتنې

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱۲) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۱) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

کله چې د رقیب، دښمن او سیال ګاونډي په باب د خپل هېواد د چارواکو له خوا تېروتنې و نه شي، د هغو لا سوهنه بیا لسیزو، نیمه پېړۍ او چارک کم یوې پېړۍ ته نه رسېږي. له بده مرغه باید ووایو چې زموږ د هېواد واکمنو د هر علت او مجبوریت، لټۍ، ډار او نا تدبیرۍ له وجې چې و، تېروتنې وکړې او دا متواترې تېروتنې د دې سبب شوې چې کفاره یې زموږ اوسنی نسل ورکړي، دلته به په ډېر لنډیز سره دې تېروتنو ته نغوته وکړو:

۱ -پر (۱۹۴۷م) کال افغانستان ته په کار وه چې د هند او پاکستان د وېش پر مهال یې په سیمه کې پوځي مداخله کړې وای او تر اټکه پورې یې خپل طبیعي حدود خپل کړي وای.دا مهال په دې سیمه کې هېڅ دا سې پوځي ځواک نه و چې د سیمي د وراثت او حفاظت دعوه یې کړې وای.

۲ -پر (۱۹۴۸م) کال د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر پر سر لومړۍ جنګ ونښت، د دې جنګ پر مهال افغانستان ته ډېره ښه موقع وه چې له هند سره د خپل مشترک د ښمن په مقابل کې لاس یو کړي او خپله خاوره بېرته تر لاسه کړي.

۳-پر (۱۹٦٥م) کال د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر پر سر بیا درنـــه جګړه ونښته دا جګړه هم د تېرې په شان د پاکستان پر ناکامـــۍ تمامه شوه، افغانستان ته ډېر طلایی چانس و چی بیا یې



له هند سره لاس یو کړی او خپل طبیعي حدود یې را خپل کړي وای.

۴ -پر (۱۹۷۱م) کال پاکستان او هند یو ځل بیا سره ونښتل خو دا ځل جګړه د کشـــمیر پر سر نه، بلکې د بنګله دېش د ازادۍ پر سر وه، په دې جګړه کې پاکســـتان ســـخته ماتې وخوړه، (۲۵) زره عســـکر یې ټپیان، (۹) زره یې و وژل شـــول او (۹۰) زره یې هند ته ســـلامي شـــول، هند د یو بل مســـلمان هېواد د جوړېدو لپاره قرباني ورکړه، خو افغان چارواکو د خپل مســـلمان ورور او خپلې تاریخي خاورې د خپلولو لپاره له تاریخي طلایي چانس او پوځي تدبیره کار وانخیست.

۵ -سردار محمد داودخان یو ستر سیاسي او پوځي جرئت وکړ؛ د پاکســـتان پر ضـــد یې د عمومي ســـفربرۍ اعلان وکړ، خو د هغه هڅه هم د عربو او عجمو په منځګړیتوب غلې او بې ثمره پایته ورسېده.

۶-پر (۱۳۵۸ل / ۱۹۷۹م) کال روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، دا یرغل هم ستر جنایت و، خو که د وخت واکمن هوښیار وای، روسان یې باید مجبور کړي وای چې تر ډیورند کرښې اخوا اوښتي وای، د جنګ جغرافیه یې لاهور او اسلام اباد ته انتقال کړې وای، هم به روسان ګرمو اوبو ته رسېدلي وای، هم به زموږ اوسنی جغرافیه له جنګه ژغورل شوې وای او هم به مو په یو بل ډول، خپله له لاسه وتلې جغرافیه خپله کړې وای، که د پنجابي او روسي تر منځ جنګ وای، افغان ته یې څه تاوان و؟ د کفر او اسلام خبره دلته د بحث موضوع نه ده، عیناً لکه پنجابیان چې دې ته خوشالېدل، چې په افغانستان کې دې د امریکایانو او افغانانو تر منځ جنګ وي او ګټه دې دوی ته ور ورسي، د همدې نېت په تناسب افغانان هم حق لري چې د پنجابي مسلمان په باب ورته نېت او ورته نظر ولري.

۷-پر (۲۰۰۳م) کال د امریکې جمهو رییس جورج ډبلیو بوش جمهور رییس کرزی امریکا ته دعوت کړ، د دعوت په بهیر کې یې هغه د خپل استوګنځي هغې خونې ته بوته چې د دنیا ډېرو کمو جمهورو رییسانو ته دا طلایي چانس او اعزاز برابر شوی دی، بوش کرزي ته وویل؛ په دنیا کې د ګوتو په شمار جمهور ریسانو ته موږ د دې اعزاز ورکوو چې دې ځای ته راشي، ووایه هره مهمه غوښتنه چې دې ده هغه به عملي کېږي، ووا یه له موږه څه غواړې؟ هغه وخت کرزي ورته و نه ویل چې موږ د پاکستان له لاسه په تنګ یو، دا جګړه واړوه هغې خواته، څو چې پېنډۍ، لاهور او اسلام اباد کې د (ای ایس ای) مرکزونه ونه ولې دلته جګړه نه ختمېږي، که امریکایي پوځیان مخکې او افغان ځواکونه ورپسې وای، نو لږ ترلږه خو به یې قبایلي سیمې له تروریزم سره د جګړې تر پلمې لاندې خپلې کړې وای، دا کار بیا پاکستان وکړ، په سیمه کې یې جعلي

ترهګرۍ ډلې جوړې کړې، له امریکا یې مهمات، پیسې او امکانات واخیستل او ټوله (پاټا )یې د ترهګرو د له منځه وړلو په پلمه راخپله کړه.

۸-پر (۲۰۱۴ م) کال ښاغلی ډاکټر غني واک ته ورسېد، امریکا حاضره وه چې د امنیتي تړون د لاسلیک په بدل کې د افغانستان



هره غو ښتنه ومني، خو غني د دې تړون لا سلیک ته دومره وارخطا و، لکه یو روږه تي چې روږه ماتې ته وارخطا وي، له کوم ځنډ، خنډ او شرط پرته یې په (۴۸) ساعتونو کې دا تړون لاسلیک کړ، که هغه وخت غني او وارخطا ټیم یې یوازې دا یو شرط هم امریکا ته ایښی وای، چې د پاکستان د لاسوهنو د مخنیوی تضمین به راکوې او له پاکستان سره به زموږ په تاریخي داعیه او دعوه کې زموږ پلوی کوې او که پلوی نه کوې، نو تاریخي واقعیتونه به منې، نو امریکا مجبوره وه چې د افغانستان غو ښتنې ومني، خو د نړۍ د مفکر فکر هغه وخت د خپلې خاورې له تاریخي شالیده لرې د قدرت په مینه کې ډوب و. بیا د ډیورند پر کرښه د امریکا په پیسو په ډېره بې شرمۍ د پاکستان د پوځیانو له خوا (۲) زره کیلو متره

اغزن تار تېر شــو، لر او بر ولس يې پر ضــد چغې پورته کړې،خو واکمنو، الوتکې څه چې چوغکه هم پورته نه کړه، خو نن پر خپلو ښــارونو د پنجابيانو د يرغل په پلمه په ټنونو بمونه اوروي. نه يې چېرته نړيوالو ته خپل ګرېوان څېرې کړ، چې خير دی؛ زه که نن



کمزوری يم، خو تاريخي حقيقت دا دی چې ډيورند کرښــه او دا اغزن تار په وچ زور زما پر سـينه تېر شـوي او تېرېږي، که نور هېڅ نه وای د د نيا په يوه معتبر پوهنتون يا څېړنيز مرکز کې خو يې د سـلګونو پوهانو او ژورنالســتانو پر وړاندې په دې باب يو مسـتدلل لکچر ورکولای شــو، دا خو هېڅ ونه شــول، بلکې له پنجاب سره نورې پټې معاملې هم وشــوې چې تاريخ به يې پر خپل وخت راوسپړي.نو د هېواد نني او سباني نسله! که زموږ تېرو مـــشرانو تـاريـخي تېروتنې نه وای کړې، نو نن به يې موږ او تاسې کفاره نه ورکولای، د تېرو د تېروتنو بار به موږ اوچتوو، زموږ او زموږ د اوسنيو معامله ګرو چارواکو کفاره به سبانی نسل ورکوي او همدا سلسله به روانه وي.

# جمهور رييس څنګه اغفال شو!؟

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱۲) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) مياشتې له (۲۱) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

يو سړی د خپل يو ملګري، چې نوی د رياست مقام ته رسېدلی و، مبارکۍ ته ورغلی و، نوي رييس ورته وويل: ښښنه دې وي ومې نه پېژندې؟ هغه ورته وويل: زه پلانی يم ستا پخوانی دوست، اوس خبر شوم چې ته په سترګو ړوند شوی يې او څوک نه وينې او نه پېژنې، نو زړه مې در باندې درد وکړ، نو ځکه مې د سترګو د اعلاج درمل درته راوړ؛ مبارکۍ ته نه يم راغلی.



قدرت ډېر بد شی دی، واکمن په کې يو دم په سترګو ړوند شي، په غوږو کوڼ، د غوړه مالانو له خوا څلور دېوالونه ترې راتاو شي، ولس ترې بهر پاتې شي او دی د دربار په خوږلنيو کې راګير شي. د دربار په هندارو کې هر څه رنګين ښکاري، ټول لاس په نامه ورته ولاړ وي، د واکمن د وښکي له خلاصېدو سره د ټولو خولې له خندا ډکې شي، هر خبره او

مـــکالـــمه یې یوه علمي اصطلاح شي، بېوزنه خبره یې هم په خوړه ټوکه بدلـــه شي، په ګونګي او توتله باندې هم د ژبور او عالم القاب بار شي او نورې په لسګونو اصـطلاحوې ورته منسـوبې شي، نو په واکمن کې د ځانخوښـــونې دومره جذبه او غرور پیدا کړي چې له عقله کډه وکړي او تېر هر څه یې هېر شي.

پر ډاکټر اشرف غني باندې هم داسې کانه وشوه، پر (۲۰۱۴م) کال ټاکنو کې ولس د خپل مجبوریت او د وخت د خاص نزاکت د



درک پر اساس له اشرف غني څخه بې دریغه ملاتړ وکړ، د ټاکنو په بهیر کې ولس له غني سره دومره مینه او جذبه وښـوده چې غني لا د جمهوري ریـــاست څوکۍ ته نه و رسېدلی، خـــو د ولسمشرۍ د پګړۍ مستحق ګڼل شوی و .

کله چې د جمهوري ریاست ماڼۍ ته ور سېد، نو ولس یې شا ته پرېښود؛ مـشر یې ارګ تـه لاړ، خو ولس یې په ولس کې هماغسې ناهیـلی پاتې شو. غني د ناوړه او مزخرفو ایتلافونو لـمن ونیوه، خپل هغه کمپاینران یې په لغته ووهل چې دی یې په سـخته کې تر دې

مقامه را رسولی و، دا وخت نو درباري غوړه مالانو ترې لاړې راتاوې کړې، د غني د شـخصـيت کمزوري ټکي يې درک کړل، پر دې وپوهېدل چې غني هم د هغو واکمنو لـه جملې څخـه دی چې د شـخصـيت کيس لري، پر خپل توصـيف ډېر خوشـالېږي، نيوکه نه شي زغملی، له نسبي خلکو سره يې جوړه نه ده، په هر څه کې ورته ځان جامع الکمالات ښکاره کېږي، نو ځکه خو دی يې ټول وخت په داسې کارونو کې مصروف کړ چې دی لکچر ورکړي، خلک ورته غوږ ونيسي او جبري چکچکې ورته وکړي.

متواترې غونډې يې ورته جوړې کړې، خو هرڅه به فلتر شـوي وو، قومـي مشر، مدنـي فعال، د ښځينه فعالانو، حکومتي ټيټرتبه او لوړرتبه مامورينو او هر هغه چا ته، چې جمهور رييس سره ورته د خبرو او مخامخ کتنو چانس ورکول کېده، ټولو ته اسـاسي شرط همدا و چې داسـې خبرې به نه کوئ چې د جمهور رييس پر مزاج برابرې نه وي. هغه ته به غونډې په شـاندارو مراسـمو جوړېدې، سره غالۍ او فرش به ورته اوار وو، ان که په دښـته کې؛ په عسـکري بارکونو کې به هم غونډه وه، نو سـور فرش به ضرور اوار و. د غونډې تر پيل وړاندې به ماشـومانو د ده په سـتاينه کې يوه توصـيفي ترانه وويله، بيا به يې ګلان لاس کې ورکړل، بيا به د رسـمي غوړه مالانو له يو ټولي سره د غونډو تالار ته لاړ، په درنو چکچکو به بدرګه شـو، يو نيـم به لا په کې د ناره تکبير چغه هم راپورته کړه، يو څو کسانو به هڅه وکړه چې لاسونه يې ښکل کړي، خو امنيتي مسـولينو به لږ لرې کړل، غونډې به په سـتاينو پيل او د

جمهورریس په نوو لاپوشاپو او تازه ژمنو به پایته ورسېدي، بیا به د کومې نوې پروژې ډبره هم کېښـودل شـوه او که نوې به نه وه، نو پخوانۍ به یو ځل بیا پرانیستل شوه.

د جمهور رییس ډېـر وخت پـه همدې ډول تشریفاتي غونډو او هوايي لکچرونو کې تېر شو .د دې پر ځای چې اداري استحکامات رامنځته کړي، د شـخص د خوشـالۍ په خاطر به یوه اداره کله له یوې او کله بلې سره مدغم شـوه او بیا به بېرته جلا شـوه .په اتو کلونو کې یې خپله کابینه تکمیل نه کړای شـوه.د جمهور رییس طبیعي متحدین او نسبي خلک ورو ورو له حکومته لرې شول او ان د حکومتي دستگاه له خوا په کنځلو ودګل شول، د واکمن شاوخوا وړو وړو سیاسی ماشومانو او له بهر څخه یو شمېر صادر شویو



تنکیو هلکانو ونیوله. د (ټامي ) په نامه یو نوی مکروب وپنځېد او د پښـتنو اصـیلو ملتپالو ونډه د هغوی سـهم وګڼل شـوه، ټامیانو د ((جوان سازۍ)) په نامه یوه پروژه پیل کړه او یو اویا کلن شخص

يې په دې تلقين کړ چې اداره بايد ځوانه شي. اوياکلن د جوانسازۍ فورمول پر ځان نه تطبيقاوه، خو په په زرګونو مسلکي صاحبمنصاحبان يې په دې پلمه له دندو لرې کړل او ځای يې د (جندر) په نامه په خامه خولو نجونو ډک کړ. ارګ د سياسي وړکتون بڼه خپله کړه، د غلا او فساد انګازې تر اسمانه پورته شوې. څرنګه چې بې ريښې ټاميانو حکومت ورو ورو د نابودۍ کندې ته ټېلواهه، نو د ځپل واک د دوام لپاره يې جمهور رييس غني ته دا انګېزه ورکړه چې د طالبانو د بريدونو د مخنيوي په خاطر بايد له لنډغرو او جنګسالارانو سره د ايتلاف مزي نور هم ټينګ شي، چا ته يې مار شالي ورکړه، څوک يې قومندانان او جنرالان کړل او خبره د پچو د غلو لاسنيوي او بيا واکمنۍ ته هم ورسېده. د قدرت ساتلو نشه د جنون وروستي حد ته ورسېده، غني همغه غلو ته پناه يوړه چې ده يې پر ضد شعارونه ورکول. په غلو او لنډغرو د حکومت جوړول او د ولس ساتل دا مانا ورکوي، لکه مږه چې پر ګودام پيره کړې. خو درباري غوړه مالانو غني د تلقين او اغفال داسې يو حالت ته رسولی چې هغه فکر کوي، هر بحران يو بل فرصت او غنميت را زېږوي، هغه ته يې ويلي، ته د بحرانونو د کنترول مدير يې، لکه څنګه چې دې د هېواد اوبه مديريت کړې، هوايي دهلېزونه دې جوړ کړل، ان دا اصطلاحګانې پخوا چا نه پېژندلې، خو د تاسو جلالتماب په مدبرانه لارښوونو دا اصطلاحګانې دود شوې، نو اوس د ولسواليو او ولايتونو سقوط هم يوه څپه ده دا تېرېږي او د جمهوريت صف بريالی کېږي، ستا سو په لار ښوونه دا بحران کنترولېږي او تر دې لا سخت بحرانونه کنترول کړي دي، نو ښاغلی غني چې هم ستېج ته پورته شي يو ځل بيا لاپې ووهي، طالبانو او نورو ته د مرګ او جنګ ګوابښونه وکړي. هغه تر اوسه لا خبر نه دی چې هېواد کې

څه روان دي؟ د ورځې څومره هېوادوال شـــهیدانېږي، ټول هېواد په لـــــمبو کې لوليه شـــو، د پوهنتون د یو اســتاد په واکمنۍ کې پوهنتونونه او روغتونونه بمبارد شول، ښارونه وسوزېدل، نو یو څوک چې د خپل د ښمن په مقابل کې تر ښاره بهر جګړه نه شي کولای، د ښـار داخل کې بیا جګړه خو د ښـار د تباهۍ مانا ورکوي، ښـار چې څوک ساتي تر ښاره بهر جګړه کوي، نه په ښار کې.

خو جمهور رییس غني لا اوس هم خپلې خبرې تـه غره دی، هغه د ارګ هغه غوږه مال چاپېریال ګوري، فکر کوي چې ټول ولس یې دغســـې مدیون او ســتایونکی دی، هغه په دوه اویا کلنۍ کې د سـیاسي وړکتون په یوه وړه کړۍ او د جنګسـالارانو په یو ژوبڼ کې را ایسار دی، د هېواد له واقعي تصویره هېڅ خبر نه دی، بده یې لا دا ده چې اوس لا هم داسې فکر کوي چې هرڅه سم روان دي.

وروســـتی چـا نس او د حـل وروســـتۍ لاره همـدا ده چې جمهورریيس غني د ټاميانو او جنګســـالارانو له دې ناولي ایتلافه را ووځي، ژر تر ژره د ملګرو ملتو او نړیوال اســلامي کنفرانس تر چتر او ملاتړ لاندې یوه واقعي لویه جرګه را وغواړي، واک همدې جرګې ته انتقال کړي، دې سره به د نظام د بشـــړ ســـقوط مخنیوی هم وشي او د یو بل قانوني او سوله ییز حکومت د جوړونې زمینه به هم برابره شي، نه ټامیان، نه جنګســـالاران او نه هم لندغر له دې بحرانه د وتلو ظرفیتونه دي، بلکې دوی په خپله د بحران عوامل او دلایل دي.

# د خانزاده یو تصویر او سل خبرې

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱۴) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۳) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

دا تصویر د یوې اوږدې غمیزې د یوې برخې انځورګري کوي، په دې تصویر کې ډېر درد هم پروت دی او ډېره ستړې مینه هم په



کې ښکاري، دې تصویر کې د اسلامي جمهوریت پخوانی والي او د اسلامي امارت اوسنی والي یو بل ته غېږه ورکړې؛ د جمهوریت والي(خانزاده) رښتیا هم خانزاده دی، د خپلې واکمنۍ د دوام په خاطر یې د جګړې لاره خپله نه کړه، هغه وویل: تر دې وروسته بل چېرته نه ځم، خپل کلي ته ځم، خپله خاني به کوم. اوس د ازموینې توپ د اسلامي امارت په میدان کې پروت دی، تاریخ ته به منتظر شو چې د امارت نوی والي ( وفا) کندهار او افغان ولس ته څه شی ډالۍ کوي؟ له خانزاده او نور کندهاري ولس سره پر خپلو ژمنو وفا کوي؟ او که نه دی هم د نورو سیاستوالو په شان ولس او وطن سره پر خپلو ژمنو پښې ږدي؟

دلته مشکل د (خانزاده ګانو) او (وفاګانو) په شان خلکو کې، چې نسب، ځای او ځایګی یې معلوم دی، نه دی، مشکل په هغو لنډغرو او هغو نسب ورکو ټامیانو کې وو، چې هم د افغانستان پر امتیازاتو روږدي وو، هم د هېواد پر اقتصادي رګونو سواره وو او هم د هېواد



د ارزښتونو مخالف وو، تر ټولو مخکې یې جمهور رییس غني، چې تر ټولو زیات پر دوی ډېر مهربانه و، یوازې پر میدان پرېښود.

موږه د هغې ورځې په هیله یو چې ډاکټر اشرف غني او ملاعبدالغني برادر اخند هم د (خانزاده ) او (وفا) په شان یو بل ته د پخلاینې او مینې غېږه ورکړي او دا ملت نور د سولې له نعمته برخمن کړي. خدمت یوازې د حاکمیت له لارې نه تر سره کېږي، له واکمنۍ پرته هم تر سره کېدی شي، حاکمیت یو ستر مسولیت دی، د غني نسب، ځای او ځایګی معلوم دی، که افغاستان خپل ګڼي، بېرته دې خپل کور، کلي او ولس ته لاړ شي، هلته دې پوهنځی، روزنځی، درملځی، روزنتون او پوهنتون جوړ کړي، خپل پاتې عمر دې، لکه څنګه چې یې ژمنه کړې وه، همالته تېر کړي، وبه ګورو چې طالبان بیا دا تاریخي مسولیت څنګه په یوازې ځان پر خپلو اوږو پورته کولای او تر وروستي هدفه رسولای شي؟؟؟

# ملي بيرغ، ملي هويت او ملي عزت

**دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د اگست پر (۱٦) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۵) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.**

حکومتونه ځي راځي، تنظیمونه او گوندونه هم ځي راځي، خو په یو ملت او وطن کې ځینې داسې تلپاتې اعتقادي او ملي ارزښتونه او سمبولونه وي چې پر هغو باندې د ټولو ملت ټولیز توافق او اجماع موجوده وي، هغه که هر گوند او ډله واک وځواک ته رسېږي، نه یوازې د دې ارزښتونو د تغیر هڅه نه کوي، بلکې د هغو د پاللو او ځلولو لپاره هم هلې ځلې کوي.

په افغانستان کې ا سلامیت چې د ا سلام جوهر دی او افغانیت چې د افغان جوهر دی، دا دواړه زموږ اعتقادي او ملي ارزښتونه دي، پالنه او ځلونه یې د هر مسلمان افغان مسوولیت او مکلفیت دی. د تاریخ په اوږدو کې چې هر فرد او سیاسي ډلې دې ارزښتونو ته په سپکه کتلي او یا یې په دې دوو کې یو له پامه غورځولی، هغوی سپک شوي او د تاریخ له یوې درنې څپېړې سره مخامخ شوي دي.

په دې تېرو شلو کلونو او په تېره بیا د ډاکتر صیب غني د حکومت په بهیر کې چې د قدرت پر سر د طالبانو او د حکومتي پوځونو تر منځ جنگ روان و، د ټولو هیله دا وه چې دواړه خواوې باید لږ تر لږه پر دیني او ملي منل شویو ارزښتونو توافق ولري او هغو ته ستونزې پېښې نه کړي، خو اوس چې گورو د طالبانو د تحریک له لوري چې کومې سیمې ونیول شوې، له ټولو نیول سیمو

څخه د افغانستان ملي بېرغ را کښته شو او پر ځای یې د طالبانو د اسلامي تحریک یا اسلامي امارت بیرغ پورته شو.اکثره خلکو فکر




کاوه چې طالبان په ګرمه وینه دي؛ کله چې یې کابل ونیو دې ارزښت ته به پام وکړي او سیاسي رهبري به یې د ملي بیرغ د راکوزولو مخه ونیسي، خو داسې و نه شول او خبره ان د ارګ تر بیرغه هم ورسېدله.

دلته غواړو په لنډیز سره د طالبانو د تحریک مشرتابه ته څو ټکي بیان کړو، چې سره له همدا اوسه ورته پام وکړي او د نه پاملرنې په حالت کې به یې زیان ټول ولس او په تېره بیا د طالبانو تحریک ته متوجه وي:

۱ -د افغانستان ملي بیرغ هم ملي دی او هم تر ټولو اسلامي دی. ملي ځکه دی چې هر رنګ یې د خپلې زمانې د حالاتو او زموږ د پلرونو د تورو څرګندونه کوي، که دې بل اړخ ته یې واړوې، نو د رنګونو له مخې اسلامي ځکه دی چې د اسلام په ټولو غزواتو کې له تور، سپین او شنه رنګه زیاته ګټه پورته شوې، نو له دې اړخه له درې برخو څخه یې دوه برخې له اسلامي رنګونو رغېدلې دي او د اسلام په ښکلې کلمه هم مزین شوی دی.

د دې تر څنګ زموږ ملي بیرغ په ملي نښان هم ښکلی شوی، چې دا نښان بیا په خپل ذات کې د اسلامي اعتقاداتو له جوهرونو رغېدلی؛ منبر لري، محراب لري، مسجد لري، مناره لري او (الله اکبر) یې هم په سر کې لیکل شوی دی. د هېڅ اسلامي هېواد په بیرغ کې د دین دومره کیفیت نه دی تمثیل شوی، نو بیا ولې له

دې بیرغ ګڼه نه پوره کېږي چې پرځای یې بل بیرغ ته ترجیح ورکول کېږي؟

۲ -د طالبانو د تحریک او یا د اسـلامي امارت بیرغ هم اسـلامي دی؛ هم یې رنګ اسلامي دی او هم په کلمې مبارکې ښکلی شوی، خو ملي نه دی او د دیني ارزښـتونو د اعتقادي ریاضي له مخې هم ترې زموږ د ملي بیرغ ضریبونه زیاتېږي.



۳ -د طـالـبـانـو اسـلامي تحریـک کولای شي خپل دا بیرغ، لکـه د نورو تنظیمونو د بیرغ په شان د یو تنظیمي بیرغ په توګه وکاروي او د ملي بیرغ تر څنګ یې اسـتعمال کړي، خو هېڅکله یې باید د ملي بیرغ عوض نه کړي او نه یې د هغه د تضعیف وسیله کړي.

۴-طالبان تر اوسه پورې یوازې نـازک مـذهبي مشروعیت لري، چې هغه یې هم د تورې او برچې په زور تر لاسه کړی دی، له دوی څخه د یو زیات شـمېر افغانانو د ملاتړ یو علت همدا و چې دوی له ملي ارزښـتونو سره په ټکر کې نه وو او د دوی اسـاسي سـیاسي مخالفین سـخت ملت ضـد عناصر وو، نو که دوی د ملي بیرغ په مقابل کې همدې ډول چلند ته دوام ورکړي، نو د یو زیات شمېر هغو افغانانو له ژورې کرکې، خفګان او غبرګون سره به مخ شي، چې ملي بیرغ سره مینه یې رګونو ته ورننوتې او د ملي احسـاس یوه اساسي برخه یې جوړوي.

۵ -ا سلامي امارت یو ځل بیا د نړیوال مشروعیت له بحران سره مخ دی، د هېواد ملي بیرغ ټولې دنیا په رسـمیت پېژندلی، دا به

هغوی ته یوه ښــه پلمه شي او وبه وایي دا ډول یو حکومت، چې له خپل ملي بیرغ او تاریخ سره ســتونزه لري، نو موږ سره به څه ډول نرمښـــت او تفاهم وکړي؟ نو ښـــه ده چې هېڅ ورسره اړیکي و نه ساتو او په چورلټ ډول یې له رسمییت پېژندنې څخه تېر شو.



٦ -زموږ ملي بیرغ لږ تر لږه ســـل کا له رســـمي مزل کړی، د نورو بیرغونو عمر د تنظیمونو د واکمنۍ تر عمره محدود دی، ا یا اوس د دې وخت دی چې موږ پر یو ســـل کلن توافقي ارزښـــت له سره بیا جنجالي بحث ته داخل شو؟

۷-دلته پخوا نورو واکمنو ډلو هم د ملي، دیني او تاریخي هویت د مســـخه کولو هڅې کړي دي، خو په پای کې له نا کامۍ سره مخامخ شـوي دي. د کرزي او غني په تېرو واکمنیو کې افغان ضـد او اسـلام ضـد عناصرو هڅه وکړه چې د هویت په تذکره کې د دین او ملت ستون له منځه یوسي او په دې ډول په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) کلمو د لیکلو مخه ډب کړي، خو شــعوري ملتپالو او اســلامپالو افغانانو یې پر ضــد پراخ لاریونونه وکړل او د تصــویب شوي قانون بیا سمون ته یې لاره اواره کړه، نو د طالبانو د تحریک مشـــرتابه باید دې ملي نزاکتونو او حساسیتونو متوجه وي، داسې نه چې د ملت له یوه مخالف موج سره ځان مخامخ کړي.

۸-همدا نن او سبا کې طالبان مجبور دي؛ تر هغه پورې چې خپل نوی اســـاسي قانون جوړوي، له نړېوالو سره د تعامل او د ورځنیو چـــارو د پرمخیون په خاطر په موقـــت ډول یا د اعلیحضرت محمد

ظاهرشـــاه د وخت، یا د سردار محمد داود خان د وخت او یا هم د اوسـني تېر جمهوریت پر همدې نوي اساسي قانون ډه ډه ولګوي، په دې ټولو کې خو همدا درې رنګه بیرغ منل شــوی او تصــویب شوی دی.

۹-مـــوږ د طالبانو له مشرتابه څخه په ډېر جــدیت او صمیمیت هیله کوو چې د ملي بیرغ په برخه کې مو پر پالیســـۍ له سره غور وکړئ، همدا ملي بیرغ چې په حقیقت کې تر ټولو اسلامي بیرغ هم دی، تایید کړئ، ویې ځلوئ او ویې رپوئ، د ځان پر خلاف ب‍له جبهـه مـه خلاصـــوئ. عجیبـه خبره خو دا ده چې طـالبـان خپـل مخالفین، لکه تورن اســمعیل خان او نور، چې د دوی ورسره د سوونو مړو حساب او کتاب پاتې و، هغه یې ټول په غېږ کې ونیول، خو خپل ملي بیرغ په غېږ کې نه نیسي؟

۱۰-طالبانو ګورئ تېروتنه ونه کړئ، خدای مه کړه چې سـتاسـې مخالفین او لنډغر، چې کلونه کلونه یې د همدې ملي بیرغ د مسخه کولو لپاره هلې ځلې کړي، د همدې بیرغ ساتنه پلمه کړي، ستاسو او د ولس تر منځ تضاد پیدا کړي او بیا وروسته دې بیرغ ته هم شا کړي او خپل بیرغ ته مخه.

۱۱ -وروسـتۍ خبره مو همدا ده چې ځو ورځې نور هم طالبانو ته انـتظار کـوو، چې دوی په هېواد کې داستقرار او امنیت جوګه شي، تر هغه ورو سته بــــه د طالبانو مشرتابه ته ورځو، دلیل او منطق به ورسره وایو او د دوی په اصــطلاح د شریعت په رڼا کې به خپل ملي هویت ګټو، ټول ملتپال او اسلامپال افغانان دې د دې ملي داعیې د ګټلو لپاره یو ځل بیا سره متحد شي. اوس همدومره.

# نو ته به څه وکړې؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱٦) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۵) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

چې ستونی دې غریو نیولې وي او د مېرمنې او اولادونو له شرمه دې پټ ځان په کمپله کې پټ کړی وي، له سترګو دې ترخې او ښکې روانې وي، په خپلو سترګو د خپل هېواد د شهادت سلګۍ وینې، د ژړا غبر دې د شرم د پټونې لپاره په ستوني کې غلی ساتې، یوه یوه اوښکه دې د تلېفون پر سکرین څاځي او د شهادت په ګوته یې پاکوې، د خپل ناکام اتل سرتېري سلګۍ دې په خپلو سترګو ګورې، د



خپلې بریا په اوج کې د خپل بل ناکام ورور طالب مبهمه اینده ګورې، د پوخلاینې پر ځای د خپلو چارواکو د تېښتې او یرغل ناعلاجه ناروغي په خپلو سترګو ګورې، د خپل ولس د درک مړاوې قوه او د ځاندښمنۍ او بلپالنې څپې هم لکه د لاس د ورغوي په شان ګورې، په خپلو بې حسه او ناپېژانده لاسو د خپل توغ سپکاوی وینې، د بې هدفه لښکر د ځانمرګو هیلو نندارہ چې ګورې،

د وطن د واک پر گدۍ چې د وطن د دښــمن راج، باج او ناشــکره امتیاز وینې، د اتل او غل د تفکیک لاره چې درنه ورکه وي او ولس دې هم د دښــمن د مطرحو څېرو د نمانځنې ترانې غږوي، پر خپل بلبل د سوو لوو او پاروونکو ترانو تورونه پورې کوي او وایي موږ دې له خوبه و ایستلو او زموږ دښمن دې راته نور هم هوښیار او متوجه کړ، چې هر سـهار دې د غم پر خبرونو پېلېږي، چې هره ورځ دې د لسگونو گلابونو او سلگونو نرگسو جنازې د سترگو له مخې تېرېږي، چې نه درسره د مهدي توره وي او نه هم د حاتم طایي پانگه او



ســخا، داســې یو مین یې چې معشـوقه دې د مرگ تر پایه هم پر مینې او ساندو خبره نه شي، نو په داســې یو حالت کې به ته څه کړې؟ هېڅ نه شــې کولای، یوازې یوه دعـا ده او یوه ژړا، چې هېڅ قېمت او لگښـــت نه غواړي، زه خپل وطن او خپل ولس ته اوس یوازې همدا قېمت ورکوم، پټ مین یمه، پټ ژاړم او خدای ته دعا کوم، نه مې دعا د خدای تر کوره رسي او نه مې د اوښــکو څپې د ظالم تر اوره.. دا اوس د بل هر دردېدلي افغان په شان زما د ورځني او سهارني ژوند مهالوېش دی، د ډېرو نورو به هم دا حال وي!

# د عدالت او سرېتوب په دايره کې

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱۸) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) مياشتې له (۲۷) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

د طالبانو اسلامي تحريک نږدې ټول افغانستان ونيو، خپلو ټولو مخالفينو ته يې عمومي بښنه اعلان کړه، د خپل تحريک او ملت ستر قاتلان، لکه قيصاري، تورن اسمعيل خان او ځيني نور يې لاس په لاس ونيول او په ډېر عزت يې بېرته خوشې کړل او ځينې نور ترې په خپله، په تېښته بريالي شول.

خو په ټول افغانستان کې يوازې د لغمان د پخواني والي (عبدالولي واحدزي ) او پخواني امنيه قومندان (لطف الله کامران) په ګډون يو څو تنه نور لا هم له طالبانو سره بنديان دي.

موږ د طالبانو د اسلامي تحريک له مشرتابه څخه جدي هيله لرو چې دواړه مطرح هېوادوال په ډېر عزت خپلو کورونو ته ستانه کړي. واحدزی په خوست کې ديوې يادې او ښادې درنې کورنۍ غړی دی، د خوست دولسونو رسمي استازی و، د ملي فکر خاوند، ديني او ملي ارزښتونو ته ژمن سړی دی، د اشرف غني د واکمنۍ په بهير کې، چې هغه پر غني او د هغه پر ټامي ټيم پر څومره صريحه ژبه نيوکې کړي، د ډېرو کمو خلکو جرائت دې حد ته رسېدلی شو، خو وروسته چې د يو خاص حالت له کبله دې مقام ته راغی او ډېره کمه موده هلته د واکمن په توګه پاتې شو، نو د دې واکمنۍ قرباني بايد تر دې حده نه وي چې پر ټول افغانسان دې يوه هوا چلېږي او پر لغمان دې بله. د امنيې قومندان هم يو

مسلکي افسر دی او د افسر دنده هم دا ده چې پورته اوامر تعقیب کړي، هغه یوازې له خپل مسلک سره خپله ژمنه عملي کړې ده. طالبانو او د بل هر نظام چلوونکو ته په حقیقت کې همدغسې ژمن خلک په کار دی.



که موږ د اسلامي امارت د مشرتابه عمومي بنښنه د عدالت او سړیتوب د منطق په دایره کې واچوو، نو بیا خو هېڅوک د دې دلیل نه شي وړاندې کولای، چې دا دوړاه دې له دې دایرې بهر کړي او تر کوم بل ځانګړي جزایي فورمول لاندې دې راولي.

زه معمولاً پر اشخاصو لیکنې نه کوم، خو څرنګه چې دا دواړه د طالبانو د عامې بښنې له فورمول څخه بهر پاتې شوي، نو ځکه زه اړ شوم، چې د طالبانو له مشرتابه څخه جدي هیله وکړم چې له خپلو ا صولو او ټاکل شوي فورمول څخه بهر نه شي. طالبان چې په ژمنه او عمل کې نړیوال نوم او ریکارډ لري، هیله ده پر خپل ریکارډ تور داغ پورې نه کړي. بیا هم که له دې دوو شخصیتونو څخه طالبان په اینده کې د کوم خطر انګېرنه لري، که شخصاً زما او د لغمان د نورو مخورو شخصیتونو هر ډول مالي او ځاني تضمین ته اړتیا وي، موږ حاضر یو چې دې ډول تضمین ته اوږه ورکړو. دوی که په لغمان کې چارواکي وو، نو په ورته وخت کې د لغمانیانو مېلمانه هم وو او اوس خو د لغمانیو زنداني مېلمانه هم دي، له لغمانیو طالبانو

او طالب چارواکو څخه مو هم هیله ده چې ګورئ، ډېر احتیاط کوئ، د یو څو ورځني واک وځواک په خاطر خپل تاریخ مه ننګوئ او مه بدرنګوئ؟

پــه ټوله کې طالــب مشرتابه ته دا یادونه هم کوو، ګورئ چې د کرزي صـیب او غني صـیب د واکمنیو تجربې پر پښـتنو کدرونو مه تکراروئ، هغوی به د نورو قومونو جنګســالارانو ته امتیاز ورکاوه او نازول به یې، داســې کاذبې هیلې یې لرلې چې په هغوی کې به ګرانښت او منښت پیدا کړي او



بر عکس د پښـتنو شـخصـیتونه به یې د طالب او متعصــب په نومونو تورنول او ځپل به یې. د ټول افغان ولس او په تېره بیا د پښــتنو ازار و چې هغو بـانـدې خدای هغه شـان ورځ راوسـتله.

له طالبانو مو هیله ده چې د کرزي او غني د پښتون ځپنې او بلپالنې د سیاست او مضر مصلحت ښکار نه شئ؛ د دې په خاطر چې هغه نور تاسـې ته د یو فاشـیسـت او متعصـب حرکت خطاب و نه کړي، تاسې هغوی ته د منسوبو جنګسلارانو په غاړه کې ګلان ور واچوئ او پښـتنو کدرونو ته یوازې په یو ګړني او سرسري مخالفت سـخته سـزا ورکړئ، دا تجربې د ډاکتر نجیب له وخته پیل، کرزي او غني پســې تکرار کړي، خو ډېره منفي نتیجه یې ورکړې، نو ځکه خو له تاسې څخه هیله لرو چې د عدالت او سړیتوب د منطق په دایره کې اقدام وکړئ او بس.

# ټولشموله که چورشموله حکومت؟؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست پر (۱۹) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

په دې ورځو کې یو ځل بیا د ټولشموله حکومت اوازې دي، خو دا ځل دا اوازې د طالبانو له خولې راوځي. نږدې درې کاله وړاندې دا غږ د ډاکتر عبدالله په خوله کې زمزمه کېده. اوس راځو د دې اصطلاح مانیز او تطبیقي اړخ ته:

## الف- مانیز اړخ یې:

(ټوله) کلمه مطلق حکم لري، یانې دا چې هېڅ شی یا برخه ترې بهر پاتې نه شي؛ تر اکثریت، نسبي اکثریت او غوڅ اکثریت پورته حالت ته ویل کېږي، یانې سل په سل کې برخه چې ان نیم سلنه یې هم بهر پاتې نه شي.

## ب- تطبیقي اړخ یې:

لکه ځنګه چې سیاسیون وایي موږ یو ټولشموله حکومت جوړوو او یا یې غواړو او یا داسې حکومت چې ټولو ته د منلو وړ وي.

دا اصطلاح یو ځل مخکې ډاکټر عبدالله عبدالله هم درې کاله وړاندې وکاروله، یو زیات شمېر سیاستوال ورته په طمع وو چې په دې ټولشموله کې خو به ضرور موږ هم راځو، خو کله چې غني ورته په واک کې پنځوس سلنه ونډه ومنله، ټولشمول پر پنځوس شموله

بدل شو او په هغه کې هم بیا یوازې پنجشېریانو ته درې څوکۍ او جمعیت ته هم دومره ونډه ورکړل شوه چې نورو ته ډېر کم څه پاتې شول؛ نو بیا ټولشموله مانا پر کمشموله واوښته.

د منطق له مخې هم دا خبره، نه ســمه ده او نه عملي چې ټول خلک او ټولې ســیاسي ډلې دې په یو واحد حکومت کې ځای شي. حکومت یو وړوکی، منظم، تخنیکي چوکاټ دی چې چارې یې د حرفه یي او مسلکي اشخاصو له خوا پر مخ بیول کېږي او مشخص ســیاســتوال یې لارښــوونه کوي، چې یا د زور له لارې او یا هم د ولس د رایو پر بنســټ ټاکل شــوي وي، دا ټیم ولس ته خدمات وړاندې کوي. په ولسواکۍ کې د انتخاب وروستی معیار د پنځوس جمع یو رایو خپلول دي. هر حکومت خپل مخالف یا اپوزشــن لري، ښــه حکومت هماغه دی چې ولس ته خدمات وړاندې کړي او د مخالف پر وړاندې له زوره کار وانخلي او قوانین تطبیق کړي او ښه اپوزېشن هم هغه دی چې قوانین ومني، د امتیاز د اخیستلو لپاره له چل او فرېب او همدا رنگه له قهریې قوې څخه کار وانخلي.

نو ځکه خو د ټولشموله اصطلاح په دې خاصه برخه کې نه علمي ده او نه عملي.

دویم بحث د تاریخي تجربو تکرار دی، چې اوس یې بېخي، د تاریخي حماقتونو بڼه خپله کړې ده؛ یوه اشــتباه هغه وخت د حماقت حد ته پورته کېږي چې څو ځله تکرار شي او څوک ترې پند او عبرت وانخلي. دلته غواړو په دې برخه کې څو تېرو غټو تېروتنو

ته اشاره وکړو چې هم یې مرتکیبینو ته د زوال اسباب برابر کړل او هم د ټول هېواد د بربادۍ سبب شوې.

په تېرو دېرشـــو کلونو کې د دې تېروتنو ځینې اړخونه او عاملین اوس له منځه تللي، خو یو اصـــلي اړخ؛ جمعیت + نظار شـــورا او د هغوی دوه ایتلافي اندیوالان یې لا پر ځای پاتې پاتې دي.

جمعیت او نظار شورا خپل لومړنی اسلامي او جهادي خصلت له لاســـــــه ورکړی؛ پر یو بـــشپړ مـــضر ستمـــي، ســـمـتـي، ژبـنـي او فاشـــیســـتي حرکت بدل شـــوی، افغان ضـــد او افغانســـتان ضـــد روحیه


Der damalige Innenminister Junus Kanuni (Bildmitte) unterzeichnete im Januar 2002 im Beisein von Außenminister Abdullah Abdullah (links) ur Verteidigungsminister Kasim Fahim (rechts) den Vertrag zur Stationien ausländischer Streitkräfte auf dem Gebiet Afghanistans.

لري او د پښتنو پر وړاندې تعصب یې د اوسني فکر اساسي محتوا تشکیلوي.د دوستم په مشرۍ د جنبش گوند او د خلیلي او محقق پـه مشرۍ د وحدت گوندونه هم نظار شورا ته ورته نظریات لري او دې ایتلاف هر وخت ملي وحدت او د افغانســـتان گټې گوابنـــلي او هر چا چې ورسره د بل ایتلاف او گډ حکومت رســـۍ نیولې، هم یې ځان ته تاوان اړولی او هم یې ټول ملت ته. دلته به یوازې دریو غټو تېروتنو ته نغوته وکړو:

۱ -ډاکتر نجیب له دې ډلو ټپلو سره د ایتلاف تار وغځوه، دوه ســـوه کلن پوځ ته یې پاملرنه کمه کړه، خاص گارد، قومي غونډونه یې جوړ کول، استخباراتو کې یې د دې دریو اقلیتونو سکتاریستي عناصرو ته زیاته ونډه ورکړه، خپل پنجشېری مرستیال؛ عبدالحمید

محتاط يې له احمدشاه مسعود سره د رابط په توګه غوره کړ، جمعه اڅک يې د شمال له عمومي قوماندانۍ څخه لرې او پرځای يې نبي اعظيمي مقرر کړ، په پای کې دا ټولې تېروتنې سره يو ځای شوې؛ د جبل سراج منحوس تړون په وا سطه مسعود، مزاري، دو ستم او سيدکيان ګروپونو ګډ ايتلاف رامنځه کړ، د ملګرو ملتو د سولې بهير يې ګډوډ کړ او په پای کې د نجيب د مرګ او د هېواد د بربادۍ سبب شول.

۲ -د طالبانو نظام تر ړنګولو وروسته په بن کنفرانس کې له امريکا او نړيوالو غټه اشتباه او خيانت وشو، د تاجک، هزاره او ازبک په نوم يې د همدې درېيو اقليتونو همدې سکتارستي ډلو مشرانو ته تر حده زيات واک ورکړ، د پښتنو پر حقوقو يې خاورې واړولې، زعامت يې تش په نوم پښتنو ته ورکړ، نور ټول قدرت او صلاحت همدې ډلو ته حواله شو. کرزي صيب دې ډلو سره د ايتلاف لمن ونيوه، څوارلس کاله په حکومت کې دومره فساد وشو چې بوی يې ټولې دنيا ته ورسېد، نه ملي حاکميت ټينګ شو او نه له پراخو نړيوالو امکاناتو څخه د ولس په ګټه کار واخيستل شو، قصداً هېواد د فساد او جګړې لوري ته ټېلوهل شو، پښتانه د نړيوالو په زور د طالب په نامه قصداً له سياسي صحنې لرې کړای شول، کورونه يې بمبار او اقتصاد يې کمزوری شو.

۳ -د ډاکټر غني واکمنۍ ته د خلکو هيله وه، خو هغه هم ډېر ژر د خپل قدرت او شهرت په څپو کې ډوب شو؛ کورنيو او بهرنيو فشارونو ته يې ځان ټينګ نه کړ، همدې منفورو ډلو سره يې د ايتلاف لمن ونيوه، اوه اته کاله يې له دې ډلو سره د مخالفت، موافقت او امتياز په پړاوونو کې تېر کړل، د فساد او بې عدالتۍ غږونه يې تر اسمانه پورته شول، جګړه اوج ته ورسېده، خبره ان د

(مور) بم کارونې ته هم پورته شــوه، نړیوال هم ســتړي شــول، د حکومت د همدې متضــاد او امتیاز روړدي ایتلاف له امله طالبان لاپسـې قوي شـول او په څو ورځو کې یې د غني او جنګسـالارانو له افراطي لاپو شـاپو سره سره یې هغوی ټول له هېواده تېښـتې ته اړ کړل. پوره باور دی، که ډاکټر نجیب، حامد کرزي، ډاکټر غني او



نـورو نـړیـوالـو پـر دغـو منحوسو غلو او جنکسلارانو ډډه نه وای لګولې، نو نه به دوی او نه به هېواد له داسې یو تر یډنګلي حـالـت سره مخامېده.

اوس راځو طالبانو ته د دې سکتاریستي او جنګي ډلو په باب د یو څو ټکو توضیح ته:

## الف - د جنګسلارانو ځانګړنې:

۱-هېڅ ډول اخلاقي، وطني،دیني او نورو انســاني معیارونو ته ژمن نه دي.

۲-د سـیاسـت په سـټاک مارکېټ کې ولاړ دي، د ورځې په نرخ خرڅېږي، هر کورني او بهرني سوداګر چې یې پر ولي لاس کېښود (نـــه) ورته نه وایي. خو ژمنه او وفا یې تر هغه حده ده چې څومره یې خوله خوږوې، خو که کوم بل ســوداګر کوم چاکلېټ زیات ورکړ پر همغه شېبه یې لوری بدل دی. ایران او روس یې ا صلي ملاتړي وو، خو کله چې امریکایان راغلل د هغوی د ډالرو د باران خوند یې چې ولید، پخواني یاران یې هېر کړل.

۳ -دا ډول خلک هېڅ ډول روحیه، جذبه او عقیده نه لري؛ کاغذي پړانګان دي، غوروپش او پوځي ننداره يې تر دې حده وي چې ټوله نړۍ يې په سر اخیستې وي، خو کله چې مخالف طالبان پسې رامنډه کړي بیا نو له هېوادونو هم پناه شوي وي.

۴ -دا خلک امتیاز غواړي، صلاحیت او قدرت غواړي، خو مسولیت نه مني، ښه مثالونه يې د کرزي او غني حکومتونه وو، دوی دواړه حکومتونه ټول له مخې وخوړل او وخټل، خو ټول مسولیتونه يې په پای کې کرزي او غني ته راجع کړل.



۵ -دا ډلې ټیلې غواړي ټول عمر په دوو رولونو کې پاتې شي؛ حکومت کې هم وي او مخالفت کې هم؛ پوزېشن او اپوزېشن دواړه ورسره وي، د ورځې سره مخالف وي د شپې سره پوخلا، په پټه د یو بل ملاتړ هم کوي، خو په ښکاره بیا ځان یو د بل د مخالف په توګه څرګندوي.

٦-دوی همېشه یوه سیمه د فشار د وسیلې په توګه ساتي، نړیوالې مغرضې کړۍ هم ورسره په دې چار کې ملګرې دي، پخوا به يې شمال ولایتونه او په تېره بیا بلخ ولایت د امتیاز لپاره د فشار د وسیلې په توګه کاراوه او ژر به يې د تجزیې غبږ پورته کړ.اوس ورته یوازې د پنجشېر دره پاتې ده، غواړي له طالبانو څخه له دې درې څخه د جګړې د پیل په پلمه امتیاز تر لاسه کړي.

۷ -یو وخت جهاد او مقاومت د امتیاز اخیستلو وسیلې وې، جهاد جمع مقاومت دواړه پوره سل نومرې لرلې، نو دوی د سلو نومرو په

لرلو سره په حکومت کې د اســاسي ځوکیو خاوندان وو. د کرزي صــیب د واکمنۍ په پیل کې یوازې په کابل کې له(۱۱۰۰) مهمو ریاســتو څخه (۸۳۲) یې د پنجشــېر د درې د اوســېدونکو په برخه رسېدلي وو، په ورته وخت کې یې (۱۸۰۰) جنرالان هم درلودل، خو بیا به هم ناراضــه وو او ویل به یې حکومت کرزی یک حکومت فاشیستی است.

۸-دې ډلې او ډلو ته چې هر څومره امتیاز ورکړې، دوی نه قانع کېږي. د لا نور امتیاز غوښتنه کوي، غوښتنې یې لایتناهي دي.

## ب- طالبانو ته څو وړاندیزونه:

اوس غواړم طالبانو ته د تېرو تجربو په رڼا کې د عام ولس د وړاندیزونو او نظرونو په توګه څو ټکي وړاندې کړم:

۱ -د ډاکترنجیب، کرزي او غني تېروتنې باید په هېڅ ډول بیا تکرار نه شي، دې خلکو ته په حکومت کی هېڅ ډول ونډه مه



ورکوئ، دوی اوس لکه د کب په شــان دي چې له اوبو پرته ورته ژوند شــونی نه دی، که له حکومته ووتل، له ســیاسي پلوه په خپله مري، فزیکي امحا ته یې هېڅ ضروت نه شته.

۲-طالبان باید زموږ درانه تاجک، هزاره او ازبک قومونه نور د دغو لنډغرو له انحصــار او اختطافه خلاص کړي، په دې قومونو کې ډېر درانه او مخور کدرونه شــته، هغوی ته دې پراخه ونډه ورکړي، هم

به د نړیوالو د یو شرط په توګه د هغوی یوه غوښــتنه پوره شي، هم به په رښتینې مانا ملي وحدت او مشارکت رامنتځته شي.

۳ -حکومت باید یو واحد ملګری ټیم وي، چې خلکو ته خپل خدمات وړاندې کړي، نه دا چې انرژي یې د تېر په څېر پر داخلي اختلافاتو مصرف شي.

۴ - طالبان باید د پنجشــېر درې په ګډون ان د هېواد یوه وړه ســیمه هم د خپل کنترول له دایرې بهر پرېنږدي، څکه که وړه ســیمه هم د حکومتي حاکمیت تر چتره بهر پاتې شي، د مرکزي حکومت پر ضد د ګوابښ د یوې وسیلې په توګه کارېدلی شي.

۵ -د تېرو تجربو پر بنســټ که طالبان هم، د کرزي او غني په شــان دې ډلو ته امتیاز ورکړي، نو حکومت به یې مفســد شي، وروست به شي او بیا به خپله وشنېږي.

٦ -وروســتی وړاندیز مو دا دی، چې طالبان دې د قدرت له انحصاره ډه ډه وکړي، د جنګسـالارانو او قومي ټیکه دارانو پر ځای دې د افغان ولس له بېلابېلو پرګنو څخه مسلکي کسان راټول کړي، د حکومت مهمې تخنیکي او مســلکي څوکۍ دې ور وســپاري، د ټولشموله پر ځای دې مثمر، ګټور او مانا شموله حکومت جوړکړي، نه دتېرو حکومتونو په شــان چور شــموله. نور نو ملاصــاحبان تېرو تجربو ته په کتو تر موږه ډېر ښه پوهېږي.

# د خپلواکۍ ورځ او یوه یادونه

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اگست پر (۱۹) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

نن د هېواد د خپلواکۍ د بېرته گټنې (۱۰۲) مه کالیزه ده. په کار خو دا وه چې له ټولو سیاسي اختلافاتو سره سره هر افغان ته د دې زمینه برابره شوې وای چې دا ورځ یې په خپله خوښه نمانځلې وای، خو د نن په گډون په تېرو دوو ورځو کې زموږ یو شمېر هېوادوال له خپل ملي بیرغ او خپلواکۍ سره د بې کچې مینې له امله شهیدان او ټپیان شول، موږ پر دې پېښو د زړه له کومي دردېدلي یو، د خدای ج دربار ته د دعا لاسونه لپه کوو چې د هېواد د دې ځوانو شهیدانو شهادتونه قبول او ټپیانو ته عاجله روغتیا په نصیب کړي. د طالبانو د تحریک له مشرتابه څخه هم جدي هیله کوو چې د خپلو احساساتي جنگیالو ماشې کنترول کړي، ځکه د خدای ج له حساب او کتابه هېڅوک هم خلاصېدی نه شي.

په داسې شپو او ورځو کې چې په هېواد کې داسې یو دردناک حالت روان دی، د سړي خوله د خپلواکۍ مبارکۍ ته هم نه جوړېږي، خو څرنگه چې په هر ډول سختو شرایطو کې باید خپل ملي فرایض ادا کړو، نو ځکه خو ټولو هغو کور مېشتو او بهر مېشتو

افغانانو ته، چې روحاً، فکراً او وجداناً ازاد دي او پر ازادۍ باور لري، د هېواد د خپلواکۍ د کالیزې مبارکي وایم.

د دې تر څنګ دا باید هم ووایم چې د ملي بیرغ په باب له دې څو ورځو راهیسې د وټساپ له لارې د طالبانو د فرهنګي چارو له ځینو مسوولینو سره په تماس کې یم، چې دوی دې مسلې ته یو معقول سوله ییز حل را وباسي. د دوی نظر دا و چې موږ له ملي



بیرغ سره څه مشکل نه لرو او نه دا د مشرتابه فیصله ده چې دا بیرغ دې پورته شي او یا دې کښته شي؛

اوس حالات اضطراري دي، موږ ته لږ وخت راکړئ چې کله د اسلامي امارت مشرتابه کابل ته راشي، د حکومت بڼه او جوړښت معلوم شي بیا به د ملي بیرغ پلویان د اسلامي امارت مشرتابه سره کېني، پر دې مسله به ورسره خبرې وکړي. نو ورونو حالات ترینګلي دي، زه د ټولو هغو ځوانانو د احساساتو د درناوي ترڅنګ، چې دا څو ورځې یې د خپل بیرغ د لوړاوي لپاره څرګند کړل، له هغوی څخه د ژور فکر او پاخه تدبیر، زغم او اوسېلې هیله هم لرم، موږ باید له داسې ملي تدبیره کار واخلو چې هم خپل ملي هدف ته ورسېږو او هم د وینې تویېدو مخه ونیسو، دومره زغم مو کړی لږ نور زغم هم وکړئ، خپل فکر او تدبیر تر احساساتو لږ دمخه کړئ، یو څو ورځې خپلې ولولې کنټرول کړئ، چې د ناکنټروله ما شې له

اوره د خپلو تنکیو ځوانانو سینې وژغورو، د طالبانو مــــشرتابه ته به منتظر شـو، لکه څنګه چې اوس د طالبانو د دویمې پوړۍ یو شمېر چارواکي ســتاســو داعیه تاییدوي، ســیاسي مشرــتوب به هم ان شاالله زمور او ستاسو دا ملي داعیه تایید کړي.



د ملي بیرغ مسله ګورئ هېڅکله د تېر حکومت له مفســدو غرضي عناصرو او د جمهوریت په نوم له څو ټامواکانو سره مه تــړئ، دا د ټــولــو هېوادپالو افغانانو یو ملي داعیه ده؛ هغوی پورې هېڅ اړه نه لري.

زه په دې هم خوا شینی یم چې نږدې دولس دیارلس کاله مو په منظم ډول د هېواد د خپلواکۍ ورځ په شــاندارو مراســمو نمانځلې، خو ســږ کال زموږ له ډېرو هڅو سره سره بیا هم پر دې بریالي نه شــو، چې پرون او یا نن مابښــام د ژوندون ټلوېزیون په انګړ کې د خپلواکۍ ورځ په شــاندارو مراسـمو سره ونمانځو، نو څکه خو د تېر کال د همدې ورځې د غونډې یو څو تصویرونه تاسې ته د خپلواکۍ په مبارکۍ کې د یو یادګار په توګه ډالۍ کوم.

موږ څومره مظلوم او مجبور یو؟؟

# خویندو میدان وګاټه!

**دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست میاشتې پر (۲۵) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سنبلې) میاشتې له (٦) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.**

**تېر کال (شـــمســـیې) خور د کانکور په ازموینه کې لومړی مقام وګاټه، د اولیاوو د ښار؛ غزني نوم یې وځلاوه او د افغان خویندو بې مثاله اســـتعداد یې څرګند کړ، ســـږ کال بیا له لغمان شریف څخه (ســـلګۍ) خور د ټول هېواد په کچه لومړی مقام خپل کړ، دې نه یوازې د لغمان شریف ، په تېره بیا د الینګار ولسـوالۍ د فرهنګیالي**



**ولس شـــمله اوچته کړه او د خویندو پر لوپټې یې د ویاړ یو نوی ګل وټومبه، بلکې دې کار سره یې شـیطان ته هم یوه ســتره ماته ورکړه**

او د خپل لغمانیتوب اصلیت ، رسالت او له شیطان سره زړه دښمني او سیالي یې هم په ډاکه کړه ؛ شیطان د ډېرو متعصبو او لنډفکرو په ذهن کې دا خبره کېنولې ده ، چې ښـځې ته باید د تعلیم حق ور نه کړای شي چې فســاد ترې پیدا کېږي ، ځینې خلک بیا دا خبره هم کوي چې ښــځه تر نره په عقل کې کمه ده او یا هم عقلي نیمګړتیا لري، خو نن زموږ خویندو خپل علمي اســتعداد یو ځل بیا دنیا ته په ډاګه کړ او دوه ځله یې تر زرګونو ځوانانو د علم میدان وګاټه، نو اوس که نوی حکومت غواړي د شیطان له ذهني وسوسې ځان خلاص کړي ، د خویندو انساني او اسلامي حقه حقوقو ته باید زیاته پاملرنه وکړي.

شمســـي خور ته خو مې پروسږکال مبارکي ورکړې وه او سلګۍ خور ته دې تازه په تازه او د هېواد ټولو خویندو ته دې یو ځل بیا مبارک وي.

# له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ او د یوې اوږدې مبارزې تکل

دا لیکنه د (۲۰۲۱م) کال د اګست میاشتې پر (۳۱) مه چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سنبلې) میاشتې له (۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

پنځه دېرش کاله کېږي چې د لوی افغانســتان لپاره لیکنی مبارزه کوم، په تېرو دولس - دیارلس کلونو کې خبره له لیکنو څخه فرهنګي غونډو او مظاهرو ته ووته. په تېره نږدې یوه نیمه لســیزه کې مې هېڅ کال له پښتنو او بلوڅو سره دپیو ستون ورځ له یاده نه ده ایســتلې ، ان داســې وخت هم و چې واکمنو پښــتنو چارواکو نه یوازې دا ورځ نه یادوله ، بلکې دا یې د ملي وحدت خلاف کار ګاڼه او یو ډول کفر او شرک ورته ښکارېده ، خو زموږ عزم ټینګ و ، موږ ویل چې (لر او بر یو افغان ) شعار به یو وخت په ټول لر او بر وطن کې انګازې وکړي، زموږ هیله یو وخت هغه مهال د فکري بریا برید ته ورسېده چې د پښتون ژغورنې غورځنګ جوړ شو او د (لر او بر یو افغان) ناره ان د اسلام اباد په زړه کې هم ، لکه د یوې بلې لمبې په شان پورته شوه . دا ناره نه یوازې د پاکستان تر اشغال لاندې د ټولو محکومو پښــتنو غرو رغو ، کلیو او بانډو ته ورســېدله ، بلکې

اوس د ټولو لرو برو پښتنو پر یوې ملي داعیې بدله شوې ده ، ان د کراچۍ ښار لوړپوړې ودانۍ ترې هم لړزېږي.

هدف دا دی چې دا یوه اوږده مبارزه ده، اوسـیله، تـدبیر او



سـختې بختې دا هر څه به په کې راځي، خو لـه خپلـه مرامـه تېرېـدونکي نـه یو. د لوی افغانستان داعیه اوس ورو ورو لـه ارمـاني حـالت څخـه تطبیقي اړخ ته داخلېږي ، خو دا بهیر پوره وخت او قرباني غواړي ؛ هوډ ، تکل ، فکر ، تدبیر او د امکاناتو سنجول او له وخت او چانس څخه په مناسـبه توګه ګټه اخیسـتل ، د دې مبارزې نورې برخې او رغنده عناصر دي.

موږ په لر او بر وطن کې له خپلو ملګرو سره دا ملي داعیه او مبارزه پر مخ وړو ، دا د ډارنو ، بېزړه او غوړه مالو خلکو کار نه دی ، دوی خو خپله د دې مبارزې ګرم ډګر ته نه شي دانګلی خو هیله مو ده چې زموږ نور ځوانان هم د خپلې دې ناروغۍ پر نري رنځ اخته نه کړي.

سـږکال په ټول هېواد ، په تېره بیا په کابل کې داسـې حالات راغلل چې د تېرو څو کلونو په شان د سـنبلې د نهمې نېټې د ورځې نمانځل او په تېره بیا په هغې کې د کوزې پښـتونخوا د مخورو

شخصیتونو ګډون شونی نه و، نو ځکه خو مو د دې ورځې نمانځل راتکونکي وخت کې د یو علمي سیمینار جوړېدو ته محول کړل .خو په دې سختو شرایطو کې چې یوه خبره د یو نېک فال او شګوم په توګه د یادونې وړ ده ، هغه دا ده چې له هېواده د پردیو لښکرو وتل



هم د همدې سنبلې پر (۹) مه نېټه ، چې له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ ده ، سمون خوري ، خدای دې وکړي چې یو وخت داسې هم راشي چې پنجابي پوځیان هم په همداسې سرټیټۍ لکه څنګه چې انګرېزان ، روسان او بیا د امریکا په مشرۍ دا نور نړیوال له افغانستانه ووتل ، دوی هم همداسې سرټیټي د پښتنو له خاورې ووځي.

ځینو خلکو، په تېره بیا روښـــنفکره افغا نانو سره داســـې یوه اندېښـنه ده چې اوس خو بهرنیان له افغانسـتانه ووتل ، نو ځای به یې پـــــه نامسقیم ډول د پنجاب پوځ او یا د هغوی نیابتي جنګیالي ونیسي. اول خـــو دا تـــر دې دمـــه یو وهم دی، خو که دا وهم پر واقعیت هم بدل شي ، نو دا دومره غښ ملت او بیا دا دومره ملتپال روښنفکران به لاس تر زنې ناست وي ؟؟ هېڅ به نه کوي ؟

طالبان چې زموږ د ټولنې د مـذهبي قشر يوه برخه ده ، هغوی په يوازې ځان له ټولې نړۍ سره وډزوله، نو موږ چې د هېواد پالنې او



ملتپالنې دعوه او داعيه هم لرو ، په خپله خاوره د هغو پنجابيانو پر ضد ، چې د روژې د نيونې وس نه لري او يا د هغوی له نيم ځرګندو تاليځتو سره نه شو جنګېدلای ؟

دا هر څه ممکن دي ، موږ خو د يوې اوږدې او همدفمنې مبارزې لپاره همداســې يو هوډ او تکل لرو، خو که نور څوک دا ډول عزم نه لري ، دوی ته يې دا خپل ډار او وهم بس دی . زموږ نور ځوان او زړور نسل دې نه وېروي او نه دې ټکنی کوي .

د دې په خاطر چې د ســنبلې د نهمې نېټې د نمانځنې دود او ســنت مې له ياده نه وي وتلي تاســې ته د همدې ورځې په وياړ پر (۲۰۱۸م) کال د نمانځغونډې دا پورتني څو انځورونه ډالۍ کوم.

# اخر تر کومه دا سپينسترګي؟

دا لــــيکنه د (۲۰۲۱م) کال د ســـپټمبر پر (٦) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سنبلې) مياشتې له (۱۵) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

د سردار داودخان د واکمنۍ پر مهال پاکســتان ته وتښــتېده، د (ای ايس ای) او نصــيرالله بابر له خوا يې روزنه وشــوه ، وايي د پاکستان مخالف يو.

په پنجشېر کې يې د پاکستان په مستقيمه لمسونه د داودخان د رژيم خلاف وسـلوال بغاوت وکړ ، ناکام شـو ، خو وايي د پاکسـتان مخالف يو.

د شـوروي د يرغل پرمهال يې له پاکسـتانه وسـلې او پيســې تر لاسه کولې ، وايي د پاکستان مخالف يو.

له پېښــوره نيولې تر کوټې - چتراله ، له اســلام اباده نيولې تر ايبټ اباده د رباني د جمعيت دفترونه وو ، وايي موږ د پاکســتان مخالف يو.

د پېښـور په ارباب روډ کې د رباني په نامه بوه بشـپړه کوڅه او د ښــار په څنډو کې د خراســان په نامه د جمعيت ځانګړی کېمپ و، وايي د پاکستان مخالف يو.

د رباني نيم اولادونه د پاکستان تر اشغال لاندې سيمو کې پيدا شـــول ، د تنظيم حربي پوهنتون يې هم هلته فعال و ، وايي موږ د پاکستان مخالف يو .

د مجاهدينو په عبوري حکومت کې رباني دوه ځله د وزير په توگه غوره شوی و، وايي د پاکستان مخالف يو.

د ډاکتر نجيب د رژيم تر ســقوط وروســته هغه حکومت چې مجددی په کې د دوو، رباني په کې د څلورو ميا شتو لپاره د مشرانو او مسعود په کې د دفاع د وزير په توگه منتصب شوي وو، په پينډې او پېښور کې جوړ شوی و، خو بيا هم دوی وايي چې موږ د پاکستان مخالف يو.



کله چې رباني واک ته ورســېد ، نو د (ای ايس ای) مــشر؛ جنرال حميــد گل يــې کابل ته دعوت کړ چې په پوځي چارو کې زما مشاور شه، خو بيا هم وايي چې موږ د پاکستان مخالف يو.

د افغانستان پوځ د پاکستان او د همدې جمعيت تنظيم د گډې توطيې له امله و پاشــل شــو ، خو ببا هم وايي چې موږ د پاکســتان مخالف يو.

د مســعود پلار د پاکســتان تر اشــغال لاندې ســيمې کې ســاه ورکړه، هملته دفن شو ، خو بيا هم وايي چې موږ د پاکستان مخالف يو.

برادران مسعود او د مسعود زوی پاکستان ته هر وخت پټ او ښکاره سفرونه کوي ، خو بیا هم وایي چې موږ د پاکستان مخالف یو.

پاکستان ته د مسعود د خدمت له امله د هغوی استخباراتو په اسلام اباد کې یوه کوڅه د مسعود په نوم ونوموله ، خو بیا هم دوی وایي موږ د پاکستان مخالف یو .



همدا اوس یو غټه ډله ستمیان او جمعیتان پاکستان ته لاړل ، چې له طالبانو سره په واک کې د شراکت لپاره پاکستان ته ننواتې وکړي ، خو بیا هم وایي چې موږ د پاکستان مخالف یو او داسې نور په سلګونو مثالونه. اوس یې دې بل اړخ ته راځو:

له شوروي سره یې د جهاد په ګرمو شپو کې تړون او اوربند وکړ، خو بیا هم وایي چې موږ مجاهدین یو.

له شورویانو سره یې په ګډه په شمالي سالنګ او نورو سیمو کې د نورو مجاهدینو پر ضد ګډ عملیات کول ، خو بیا هم وایي چې موږ مجاهدین یو.

له شوروي ورته پټه وسله، مهمات، پیسې او نور امکانات راتلل، خو بیا هم وایي موږ مجاهدین یو.

په کولاب کې د روسي پوځيانو تر چتر لاندې ورته پوځي اډه جوړه شوه، خو بيا هم وايي موږ مجاهدين يو.

روسې ورته شپاړس نيم زره مليارد افغانۍ ضرب سل، بانکنوټونه چاپ کړل ، خو بيا هم وايي موږ مجاهدين يو.

د احمد شـــاه مســـعود مليشـــو په رڼا ورځ د کابل د صرافۍ لوی



مارکېټ چور کړ او بيا يې وسېزه خو بيا هم وايي موږ مجاهدين يو.

په کابل ښـار کې يې د افغان هندوانو او سـکانو پر عزت ډله ييز تېری وکړ ، د هغوی جايدادونه يې غصب کړل، خو بيا هم وايي موږ مجاهدين يو .

له نورو تنظيمونو سره په ګډه يې پنځه شپېته زره کابل ښاريان ووژل او اتيازره کورونه يې ړنګ کړل ، خو بيا هم وايي موږ مجاهدين يو.

قومي جنګونه يې پيل کړل او قومي تفرقې ته يې تر وروســـتي بريده لـمن ووهله ، خو بيا هم وايي چې موږ مجاهدين يو.

کله چې د امریکا او غرب څپه را والوته ، نو رنګونه او مخونه یې نور هم بدل شول:

له امریکا سره یې تړون وکړ چې د طالب په نامه د پښتنو کورونه بمباروه، خو موږ په واک ساته ، بیا یې هم ځانونه مجاهدین ګڼل .

امریکا ته یې په ســپینه ږیره ننواتې کولې چې ((غت غت بمونه واچوئ، واله واله تاثیر نه کوي ))، بیا هم دوی مجاهدین وو.

پر کابل ښـــار د جهاد او مقاومت په نامه د غلو او داړه مارانو یو لښکر را شېوه شو، حکومتي او شــخصي ځمــکې او جایدادونه یې غصــب کړل، څلور نیم ملیونه جریبه دولتي ځمکه غصب شـوه چې اکثره یې د مقاومت په نامه همدې ډلې راخپله کړه؛ یوازې په کابل ښار کې دېرش زره نومرې د پنجشېر ولسوالۍ وګړو ته ورکړل شوې او تر سلو زرو زیــاتــو شــخصي ملکیتونو باندې یې لانجې جوړې کړې. یوازې لـه همـدې یوې درې اتلس ســوو تنو نـالوســتو او کملوستو چریکانو د جنرالۍ رتبې واخیستې، خو بیا به یـــې هـــم د جهاد او مخالفت چغې وهلې.

درې دورې عمومي ټاکنې وشــوې، درې ځله دې درې د غني او کرزي د مضر مصلحت لــه امــله هم د جمهوري ریاست مرستیالۍ خپلې کړې ، هم یې مسـتقل نوماندان ودرول او هم یې د اپوزېشـن دریځ هم بل چاته پرېنښــود.، هم پوره حاکمیت کې وو او هم یې د مخـالفـت او محکومیـت چغې وهلې .پـه تېرو شـــلو کلونو کې پـه حقیقت کې اتیا ســـلنه واک همدې یوې درې سره و، خو بیا به هم قانع نه وو.

امریکایانو دې خلکو ته دومره امتیاز ورکړ چې د نړۍ تاریخ به یې بل مثال پیدا نه کړي ، خو په ورته وخت کې به دوی کله کله د امریکا پر وړاندې هم شـــعار ورکاوه ، بیا به یې هم ویلې چې موږ مجاهدین یو.

په تېرو شـلو کلونو کې په واقعیت کې د لنډغرو پوره واکمني وه، د لنډغرو د واکمنۍ تصویر هر کال د سنبلې پر اتلسمه نېټه ننداري ته وړاندې کېده.

ظلم او وحشت دې حد ته ورسېد ، هغه کس چې باید په کورنۍ او نړیواله محکمه کې د یو جنګي مجرم او د کابل د ورانوونکي په توګه محاکمه شوی وای ، هغه ته د (( ملي اتل)) لقب ورکړ شو.

عجیبه خبره خو دا وه چې د نظار شـورا اکثرو غړو چې اوس یې د ســتم رنګ اخیســتی و ، همدا ویل چې : (( ما یک ملت نیســتم، تاریخ ما جعل اســت، کشــور ما جعلی اســت،ما افغان نیســتم، ما هویت ملی نداریم)) او په ســـلګونه دا ډول نور تورونه او نظرونه به یې خپرول، څه عجب حالت و؛ ملت نه و ، خو ملي قهرمان یې درلود، کلی یې نه و ، خو ملک یې و، ولس نه یې نه و ، خو ولسـوال یې و!؟

دوی غوښـــتـل چې د بهرنیـانو پـه زور نوي مصـــنوعي اتلان وپنځوي. په همدې خاطر یې په ډېره ســـپینســـترګۍ ، څه چې له لا سه کېدل، هغه یې ترسره کړل، له کلي یې ولسوالۍ له ولسوالۍ یې ولایت او بیا یې له دې ناقانونه ولایت څخه دقدرت او جاسوسۍ یوه ځانګړې جزیره جوړه کړه. له فرانسـوي یهـــوده نیولې، بیا تر

امریکایي، روسي، پاکستاني، ایراني او عربي جاسوسانو هر چا دلته پټ او ښکاره سفرونه کولای شول او دوی ورسره د ټول هېواد د حیثیت سودا کوله.د ډېرې خواشینۍ خبره خو بیا دا وه چې دې ډول افغان ضد حرکتونو ته (( د ملي حرکت او ملي مقاومت !)) نوم ورکول کېده.

څه سپېره او بې خونده منطق دی،؛ ملت نه مني، خو ملي دی، افغان او افغانستان نه مني، خو د افغانانو د اتلانو په نوم یادېږي، د جهاد پر مهال یې ډزبندي کړې ، خو د مجاهد په نامه امتیاز اخلي،د



افغانستان د تجزیې چغې وهي، خو د هېواد مدافع ګڼل کېږي، تر غوږونو پورې په اخلاقي، سیاسي او ټولنیز فساد کې غرق دي خو سپینې کوترې ګڼل کېږي، له هر خارجي سره یې د هېواد پر ضد یو ځل معامله کړې ، خو د ازادۍ سرتېري ګڼل کېږي،

دا نو بیا داسې فرښتې دي چې په ټول عمر کې یې هېڅ ګناه او خطا نه ده کړې!؟

موږ دا نه وايو چې د طالبانو په ګډون د جمعيت او نظار شورا نور مخالف تنظيمونه له ګناه اوخطا پاک دي او سـپينې کوترې دي ، له هغوی سره مخالفت او يا پرې نيوکه د هر چا طبيعي حق دی، خو يوه خبره چې بايد په ډاګه او زغرده وشي هغه دا ده چې هېڅ تنظيم او ډلې د جمعيت او نظار شورا په اندول د دې ولس او هېواد پښو ته تېشــې نه دي نيولي، نورو تنظيمونو هم خپل ورانی کړی ، ســزا يې هم ليدلې ده.خو هېڅ ډلې د دې ډلې په اندول ملي وحدت نه دی تخريب کړی او نه يې دومره ســپينسـترګي کړې ده ؛ د افغانسـتان پر ضـــد دومره کتابونه هېڅ ډلې نه دي ليکلي او نه يې پرديو ته دومره جاسوسي او غلامي کړې ده، لکه دې ډلې چې کړې ده.

کله چې افغانسـتان کې يو رښـتينی ملي حکومت رامنځته شي، هغه وخت به د دې ډلې بو ساړې باد شي، نو تر هغه وخته که څوک د دې جنايتکارې او هېواد ضد ډلې د اعمالو غندنه نه شي کولی، په خپلې بې ځايه غوړه مالۍ او ســتاينو دې د خپلې غاړې د بندولو اسباب نه برابروي او د ملت ذهن ته دې پرازيت نه پاشي.

# د مظلوم ولس فریاد

> دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د اکتوبر پر (۱٦) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (تلې) میاشــتې له (۲۴) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د طالبانو واکمني په اوج کې وه ، د هېواد په ځینو ســیمو کې جنګونه او مرګونه هم وو او د طالبانو سختدریځي هم وه، هېڅ ډول نرمښت په کې نه لیدل کېده .

موږ ته چې د سـیاسي ریاضي دا فورمول معلوم و ، چې هر عمل عکس العمل لري او هر افراط یو تفریط زېږوي، نو په دې خاطر مو کندهار ته سفر وکړ چې مــشر مــلا صیب سره وګورو او هیله ترې وکړو چې له یو څه نرمښته کار واخلي او د اسلام له اصلي روح سره ســم د تعدل لاره خپله کړي. زموږ هدف دا هم و چې د طالبانو په حاکمیت کې یوازې ملا او طالب واکمن دی، خو په ناکامۍ یې ټول پښتون په تاوان کې شریک دی.

مشر ملا صیب سره ملاقات و نه شو، خو نورو چارواکو ، له هغې جملې څخه مو هغه مهال د طالبانو د تحریک له ویاند ښــاغلي (عبـدالحی مطمین ) او نورو چـارواکو سره وکتـل او د طـالبـانو تر حاکمیت وروسته حــالت مـــو ورته تشریح کړ، چې ګورئ احتیاط کوئ، ستاسې بریا یوازې د ملا او طالب بریا ده، خو د ناکامۍ کفاره به مو عام افغانان او ټول پښتانه ګالي . مطمین صیب اوس حیات نه دی، خدای دې وبښــي، د (پښــتون )لفظ پرې ډېر تریخ ولګېد،

ماته یې وویل : موږ ته د پښتو او پښتنو خبره مطرح نه ده، موږ ته اسلام ارجح دی. ما ورته وویل: زه پوهېږم چې دا تحریک یو سوچه مذهبي او اسلامي تحریک دی، خو ستاسو مخالفین تاسو د پښتنو د یو حرکت په نامه تورنوي، کله چې ستاسو حاکمیت ختم شي او ستاسو مخالفین له هرې ممکنې لارې واک تر لاسه کړي ، ستاسو غچ به له عامو پښتنو څخه اخلي، په لکونو پښتانه به یوازې له شماله مهاجرت ته اړ کړي او حیثیت ته به یې سخت زیان ورسوي، موږ دلته د دې لپاره نه یو راغلي چې تاسو څخه کوم مقام او امتیاز واخلو، بلکې د دې لپاره راغلي یو چې ستا سو د سقوط په حالت کې چې دا قوم کوم زیان زغمي او کومه کفاره ورکوي ، د هغوی د تاوان جبیره به څوک ورکوي؟ دا خو هم سخته بې انصافي ده چې گټې او واک کې به ته شریک یې او د تاوان پېټی به پر ما بار وي. زموږ مجلس ډېر پیکه او تریخ پایته ورسېد او ماښیجن کابل ته ستانه شولو.

پر (۲۰۱۴م) کال چې ډاکټر غني په ټاکنو کې د افغان ضد عناصرو له خوا، له سخت چلینج سره مخامخ و، نو د محمد حنیف اتمر صیب په کور کې ما او ډاکټر صیب اشرف غني دوه په دوه، نږدې دوه دوه نیم ساعته ځانگړی ملاقات وکړ، ما ورته وویل ، په زغرده دې ملاتړ کوو، خو چې د طالبانو کا نه ونه شي، چې قدرت کې یوازې ملایان شریک وو او تاوان کې ټول پښتانه . داسې نه شي چې ته واک ته ورسې، یوازې ته او جمع غوړه مالان واک خپل کړي او پښتون ولس او نور مظلوم افغانان بیا د ارگ څنډو ته هم

څوک پرېښردي؟ ما ډاکتر صـیب غني ته وويل : په ټاکنو کې سـتا ناکامي د ټول ديموکرات افغان ولس او په تېره بيا د پښتـون ولس ناکامي ده، خو د ګټنې په حالت کې بيا ټول ولس په ګټه او امتياز کې شريک نه دی ؛ موږ څومره مظلوم ولس يو ، په ګټه کې شريک نه يو ، خو په تاوان او کفاره کې شريک يو ! وېرېږم چې د طالبانو تجربه بيا تکرار نه شي؟

ډاکتر صـيب غني وو يل: په هېڅ و جه تېرې تجربې بيا نه تکراروو، زه د تاريخ پوره تجربه لرم، خو کله چې واک ته ورسـېد، خپل اصلي کمپاينران يې په لغته ووهل، پر پښتون مېشتمو سيمو يې ناترسـه بمبارد پيل کړ، د سـولې بهير ته يې هر ډول خنډونه رامنځته کړل او شخصاً ما سره خو يې د ټلوالې د خوشالۍ په خاطر دومره کينه و غځوله چې سـتمیانو هم دومره تاوان نه و راپېښ کړی.

دا سريزه مې په دې خاطر وليکله چې کله هم څوک په واک کې وي، د عقل پر ځای يې په سر کې نشـه او ځان خوښـونه ځاله وکړي. اوس چې د طالبانو تحريک تر يوې شلکلنې سختې مبارزې او قربانۍ وروسـته يو ځل بيا واک ته رسـېدلی او يو ځل بيا له يو سـخت امتحان سره مخ دی، وګورو چې تېرې تجربې بيا تکراروي او کنه له هغو څخه يو مثبت عبرت اخلي او د ملت د ارمانونو بېړۍ د سوکالۍ مقصد ته رسوي؟

په همدې خاطر د دې مظلوم او قرباني شــوي ملت د يوه وګړي په توګه ځانته د دې حق ورکوم چې نويو واکمنو ته د وروری یو څو وړانديزونه وکړم، منل او نه منل يې د دوی کار دی:

۱ -د امنيت ټينګښت: د امنيت په ټينګښت کې طالبان يو بې مثاله تجربه او نړيوال ريکارډ لري، دلته څه کم دوه لکه نړيوال ځــواکــونــه او د



پخواني دولت ټول امنيتي ســکتور د امنيـت پـه تـامين کې پـاتې راغلـل، خـو دوی پـه څـو ورځـو کـې د ټـول هېواد په کچه نمونه يي امنيت ټينګ کړ ، خو دا امنيت تر هغه پورې موقتي بڼه لري چې د امنيت د ټينګښـــت نور رغنده توکي ، لکه کاروبار، عدالت او نور يې ملګري نه شي.

۲ -ملي پوځ: طالبانو ته په کار دي چې څومره ژر کېدی شي ملي پوځ بېرته ورغوي ، البته پخوانی پوځ چې د ملي پوځ په نامه يادېده په واقعي او ټوله مانا ملي نه و، یوه پاموړ برخه يې تنظيمي وه، خو ډېر هېواد پال مســلکي پوځيان هم د دې پوځ برخه وه ، طـالبـان کولای شي همـدا پوځيـان بېرتـه راوغواړي او خپـل نوي پوځيان هم پرې وروزي او ورو ورو د يو بشــپړ ملي پوځ جوړېدو ته لاره اواره کړي.

۳ -زغم: طالبانو تر اوســـه پورې د خپلو مخالفانو پر وړاندې له پوره زغمه کار اخیستی، خو دې سره سره ځینو ځایونو کې خپلسرې پېښـــې شـــته، د هغو مخه هم باید ونیول شي، د طالبانو تحریک مشران ان د هغو خلکو کورونـو تـه هـم لاړل چـې د دوی د اعدام غوښـتنه یې کړې وه، دا یو سـتر اخلاقي حد دی ، چې د اسـلام له اســـاســـاتو سرچینه اخلي . ټول پر دې پوهېږي چې که د طالبانو



مخالفان د بري داسې یو حالت ته رسېدلي وای، له ډېر تشدد څخه به یې کار اخیستی وای ، خو طالبانو پوره سړیتوب وکړ، هیله ده دا سـړیتوب دوام وکړي او هېڅکله د غچ اخسـتنې حالت رامنځته نه شي .

۴ -نړیوال تفاهم : اوس ټوله نړۍ د یوه کلي حیثیت لري ، که طالبان غواړي ، په دې کلي کې د امام ، مقتدي او یا هم د عادي وګړي په توګه ژوند وکړي ، نو په کار ده چې له ټولو کلیوالو سره باید ښــه اړیکي ولري ، اوس د کلي ملک او خان معلوم دی ، دوی باید راســاً د کلي د ملک ګرېوان ته لاس وانه چوي ، د کلي ملک او خان ډوډۍ ورکوي ، افغانســـتان کې خو به هغه وخت کلی ارام و

چې هوجره او مسجد به سره پوخلا و، د ملا ، خان او ملک خبره به یوه وه. هدف دا دی چې نوی حکومت باید له هرې ممکنې لارې چې وي له امریکا او نورو نړیوالو سره خپل اړیکي ښه کړي.

**۵-ملي بیرغ:** هر هېواد یو ملي بیرغ لري چې د هغه هېواد د پېژندنې ملي سمبول ګڼل کېږی ، د حکومتونو او نظامونو په تغیر سره هغه نه بدلېږي، د هېواد ملي بیرغ اوس په ټول ولس او نړۍ کې پېژندل شوی او د ملت یو اتفاقي سمبول دی، طالبان کولای شي د خپل تحریک او تنظیم بیرغ هم ولري ، خو د ملي بیرغ په خپلولو سره د ټول ولس زړونه راخپلولای او په نړیواله کچه د دوی د مشروعیت په برخه کې مرستندوی واقع کېدلی شي.

**٦-ملي کرنسۍ:** افغانۍ نه یوازې زموږ ملي کرنسۍ ده ، بلکې زموږ ملي هویت هم دی، کېدی شي یو شمېر طالب چارواکي خبر او ځینې ناخبره وي چې دغه اوسني افغاني بانکنوټونه د طالبانو د تېر حکومت په ورستیو کې ډیزاین شوي دي، هماغه مهال یې یوې جرمنۍ کمپنۍ سره د چاپ تړون هم شوی و او د چاپ لپاره یې څو ملیونه ډالر هم انتقال شوي وو، خو د طالبانو حکومت ړنګ شو. کله چې د کرزي صیب حکومت راغی، نو عاجل یې باید پیسې چاپ کړې وای، دا مهال چې دا بانکنوټونه تیار ډیزاین شوي وو او د چاپ لګښت یې هم تر یو حده پرې شوی و، نو ځکه یې د همدغو پیسو چاپ ته ترجیح ورکړه. نو نوې واکمنۍ ته په کار دي چې نه یوازې د دې پیسو د تغیر په باب فکر و نه کړي، بلکې د هغو د چلند ساحه لاپسې پراخه کړي او د ارزښت لوړاوي ته یې ډېر پام وکړي

او کوښښ وکړي چې په هېڅ وجه بهرنۍ کرنسۍ په تېره بیا پاکستانۍ کلدارې او ایراني تومن د افغانۍ د چلند ساحې ته داخل نه شي.

۷-گاونډیو سره چلند: هېڅ گاونډی په تېره بیا ایران او پاکستان افغانستان او هم طالبانو سره رښتیني نه دي، روسیه او چین خپل مقاصد لري، ایران او پاکستان غواړي افغانستان کې قومي او مذهبي تفرقې ته لمن ووهي او ان دا ډول جنگونه پیل کړي، پاکستان د افغانستان اوبو ، ډیورند کرښې او معدنونو ته غل دی او ایران هم اوبه غواړي او هم غواړي د خپل فرهنگي او مذهبي نفوذ ساحه پراخه کړي. دواړه هېوادونه په هېواد کې قوي مرکزي نظام نه غواړي ، که طالبان غواړي د دې هېوادو له لاسوهنو ځان وژغورې نو وخت پر وخت دې له پاکستان ضد او ایران ضد افغان متخصصینو څخه مشورې واخلي.

۸-د ښځو حقوق: د ښځو حقوق که څه هم اسلام مشخص کړي ، خو له هغوی څخه بېلابیل تعبیرونه کېدلای شي. ښځو دا افتخار هم گټلی چې لومړی انسان چې د خدای پر پیغمبر؛ حضرت محمد( ص) یې ایمان راوړ ، هغه مېرمن ( بي بي خدیجه) وه.

د ښځو د حقوقو په باب هر بحث ته داخلېدل یوه اوږده او بحث جوړوونکې موضوع ده ، نړیوالو چې د ښځو د حقوقو دعوه کوله ، په کابل کې یې ښځو ته ورکشاپونه ، سیمینارونه او د موسیقۍ کورسونه جوړول ، خو پر کلیو او بانډو کې یې پر ښځو بمبارونه کول او د هغوی اولادونه یې وژل، په اوسني حاکمیت کې بیا د کلیو ښځې ارامه دي ، خو د کابل ښار یو شمېر ښځې بیا ان تر خپلو

حقه حقوقو اخوا هم ډېر څهٔ غواړي ، ځینې دا ډول ښځې چې بهرني لینکونه او لمسونې لري، کولای شي چې د اوسنیو واکمنو او سپله وننگوي، هغوی ځانته د مهاجرت کیس جوړ کړي او طالبان په نړیواله ټولنه کې له زیاتې انزوا سره مخ کړي. طالبان باید په دې برخه کې یوه منځنۍ لاره خپله کړي ؛ په نړۍ کې خو یوازې موږ مسلمانان نه یو، تر موږه نور ډېر پر اسلام ښه پوهېږي، ودې گوري چې کوم هېواد په دې برخه کې ښه تجربه لري، له همغې تجربې دې کار واخلي . د نړیوالو او د ښځو د حقوقو د ټولو رښتینو او کاذبو پلویانو خولې به په دې ډول بندې شي.

کېدی شي اندونیزیا او مالیزیا په دې برخه کې ښه مثالونه دي.

**۹-د رسنیو ازادي:** د رسنیو ازادي د یوې مدني ټولنې حق دی، خو هغه رسنۍ چې رښتیا هم ازادې وي ، د قومي تفرقې او د نورو د ازادۍ د سلب سبب نه شي، سرچینې یې معلومې اوکورنۍ وي او د نافذو قوانینو په رڼا کې فعالیت وکړي.




اوس چې یو شمېر رسنۍ د ازادو رسنیو په نوم فعالت کوي ، تر ټولو زیاتې هغوئ ، په بهرنیو سرچینو پورې تړلې دي، داسې رسنۍ هم وې چې حکومتي مالیه یې نه ورکوله او ان له حکومتي چارواکو یې باج اخیسته. داسې رسنۍ شته چې تر (۳۰) ملیونو ډالرو زیا ته د مالیې وزارت د ټکس پوروړې ده ، خو څوک ورته څه نه وایي. که اوسنی حکومت د رسنیو له اوسني قانون سره سم هم رسنۍ وڅېړي ، نو ډېرې هغه رسنۍ چې اوس د ازادو

رســـنيو په نوم فعاليت لري ، ملت ته به په ډاګه شي چې دا په واقعيت کې تړلې رسنۍ وې.

**۱۰-کاري وړتيا او کاروبار:** له سـياسي پوسـتونو پرته طالبان بايد په نورو تخنيکي برخو کې د مســلکي خلکو ګومارنې ته پاملرنه وکړي ، خلکو ته د کاراوبار زمينه برابره کړي، ژوند يوازې د عباداتو برخه نه ده، ژوند پر معاملاتو هم ولاړ دی، دا سمه ده چې انسان د خدای د عبادت لپاره پيدا شــوی، خو انســان بايد ژوندی وي چې عبادت وکړي، نو د ژوند د معاملاتو لپاره په کار دي، چې د اسلام له لارښـــوونو سره ســـم کار د کار اهل ته وســـپارل شي. که طالبان همداســـې روان وي، له دې اصـــل څخه به فاصـــله نوره هم زياته شي .

**۱۱ -قانونيت:** طالبانو ته په کار دي چې ژر تر ژره خپل کـارونه قانونمند کړي، په شفاهي او مبهمو امرونو د حکومت چلونه سختنه او ان ناشونې ده، څوک ، څوک ټاکي او ولې يې ټاکي؟ د کوم قانون له مخې يې ټاکي؟ تر او سه چې کومې ټاکنې شوي دا د ا ضطراري حالاتو زېږنده دي، ملت دا حالت درک کولای او زغملای شي، خو که تر پايه خبره په همدې شـــکل روانه وي، ټولو طرفينو ته به يې هضم ډېر سخت شي. د قانونيت تر څنګ د عدالت تامين هم خورا مهم دی، په دې برخه کې يو څه پرمختګ شـــوی، ولس د شر او فساد د ټوپکيانو او غاصبينو له شره يو څه خلاص شوی ، خو لا هم ډېر مزل لا پاتې دی.

**نتيجه:** که طالبان پر پورتنيو او يا دېته ورته پر نورو وړانديزونو غور و نه کړي او يوازې ميم زر ما ټوله زما او يا ټوله د ملا خبره روانه وي، نو کېدې شي طالبان يو ځل بيا له ډېرو ســـختو ســـتونزو او

چلینجونو سره مخ شي او دومره قرباني او په سر ګټلې لوبه يې يو ځل بيا په اوبو لاهو شي؛ ولس به د بېکارۍ او فقر له امله ترې مخ واړوي، روښـــفکره قــشر به ترې د هغوی د مدني ازاديو د سلب له امله پر مخالف جهت بـــدل شي، نړيوال او ګاونډيو هېوادو ته به يو ځل بيا د لاسـوهنې زمينه برابره شي، اوسـني سـياسي او وسـلوال مخالفين به بيا پر شا وتپوي،غرو او رغو کې به وسـلوال مخالفتونه او ښـــارونو کې به مدني لاريونونه پيل شي، طالبانو کې به داخلي مخالفتونو ته هم زمينه برابره شي، په نتيجه کې به د پخوانۍ شمالټوالې په مـــشرۍ يـــو ځل بيا د غلو او افغان ضد عناصرو يو مبتذل ترکيب پر کابل او د هېواد پر ځينو نورو برخو واکمن شي، هغوی به يو ځل بيا د پخوا په څېر د طالبانو غچ له عامو افغانانو په تېره بيا کليوالو او ښـاري روښـنفکره پښـتنو څخه پورته کړي، تېره ترخه تجربه به يو ځل بيا تکرار او له پخوا څخه په څو ځله زيات تشدد غبرګه شي.

نور نو ټول کارونه د خدای په لاس کې دي، خو زما ناقص عقل او دردېدلی ضـمير خو همدغه وهم پســې اخيسـتی ، نو ځکه مو خو مې د مظلوم ، تاواني شـــوي او قرباني شـــوي ولس دا فرياد ، چې هېڅ وخـت د هېڅ ډلې پـه حـاکميـت کې شريـک نـه و ، خو پـه محکوميـت کې يې د همغو ډلو جبران او تـاوان زغمـه او د اعمالو کفاره يې ورکوله، تاســو سره شريک کړ. خدای دې وکړي چې تېره غميزه بيا غبرګه نه شي.

# اعتقاد، فکر او کار

دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د اکتوبر پر (١٦) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (تلې) میاشـــتې له (۲۴) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

نن مـــو په مزارشریف کـــې حضرت علي کرم الله وجهه ته د منسوبې روضې مبارکې زیارت وکړ، د هېواد د پرمختګ او د ولس د سوکالۍ لپاره مو د لوی خدای ج دربار ته د دعا لاسونه پورته کړل. که حالات هر څومره اغزن شي نهیلي کېږو نه، هم اعتقادي ډاډ



لرو او هم پر دې معتقد یو چې تر هرې ســختې وروســته اسـاني راتلونکې ده. د خپـل فکر او احســـاس لـه مخې د خپـل توان تر وروســـتي بریده په پوره تدبیر خپل ولس او هېواد ته کار کوو، نه د ټامیانو د اجیرو او مقطعه یي په اصــطلاح لیکوالو په څېر چا ته کنځلې کوو او نه کنځلې او د نورو توهین د ډوډۍ د پیداکولو او د

ځان د مطرح کولو وسیله ګڼو، نه له موضوعي فقر سره مخ یو، نه د چا د جېب د کچ او مېچ د اندازه کولو پر رواني ناروغۍ اخته یو. فکري خط مو ملعوم دی، دا خط د افغانیت ، اسلامیت او انسانیت



له مســیره تېرېږي.لکه څنګه چې مو په دویمه ســقاوۍ او بیا ټامواکۍ کې د ملي هویت او ملي ارزښـــتونو لپاره په ګډه له ملتپالو او هېواد پالو افغانانو سره خپل غږ پورته کړی ، نویو واکمنو ته به هم په پوره تدبیر او فکر د ولس غوښــتنې رسـوو، د کنځلو پر ځای به د مدني او عقلي مبارزې له لارې د ولس د ارمانونو لپاره کار کوو، د هېواد نوی ملتپال او هېوادپال نسل باید په پوره تدبیر د یوې سوله ییزې فکري مبارزې له لارې خپل ارمانونه تعقیب کړي . موږ د همداسې هدفمنې مبارزې پلویان ، لارویان او د هېواد د ځوان نسل ملګري یو.

# داعش په فرانسه کې

**دا ليکنــه د (۲۰۲۱م) کـال د اکتوبر پر (۱۳) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (تلې) مياشـــتې له (۲۱) مې نېټې سره ســـمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.**

کله کله خو ځينې خلک فکر کوي ؛ هغه ملکونه چې د ســـاينس او ټکنالوژۍ په برکت پرمخ تللي دي ، د دوی ســـياسي او ټولنيز درک به هم ډېر ژور او انســـاني احســـاس به هم ورسره ملگری وي. خو داســې نه ده ؛ زيات وخت دې فرضـيې معکوســه بڼه خپله کړې ده. شوروي اتحاد د پوځي ټکنالوژۍ له پلوه لومړۍ درجه زبرځواک و، خو د افغانستان د ټولنيز او مذهبي جوړښت مطالعه يې کمزروې وه، پر افغانســـتان يې بې ضرورته يرغل وکړ او دا يرغل يې په پای کې د خپل جوړښت د پاشنې سبب شو. امريکا له ځلوېښتو ملگرو هېوادونو سره د اشر پــه توگــه لــه خپلې ټولې پوځي ټکنـالوژۍ، اقتصـــاد او تبليغاتي وســـايلو سره پر افغانســـتان يرغل وکړ، څرنگه چې د وطن د ټولنيز جوړښت د ماهيت دقيق درک يې نه درلود، نو د غلو او لنډغرو پر يوې ډلې برابره شــوه، هغوی يې واک ته ورســول، شل کاله يې د ترهگرۍ پرضد د جگړې د کاذبې پلمې تر چتر لاندې د نامفهومه جنگ پر دوام ولگول ، نتيجه يې نه يوازې صــفر ، بلکې دوی ته د نړيوال شرم سبب شوه.

اوس بيا د لنډغرو او ســـکتاريســـتي افکارو بېلابېلې ډلې په دې هڅه کې دي چې دا غربي او ټکنالوژيکي نړۍ، چې د حالاتو له ټولنيز درک څخه لرې ده، څنگه د ځان په گټه راوڅرخوي، خو دا

ځل د دوی د ټولو سیاسي حماقت د لېونتوب پړاو ته رسېدلی دی، هغه بل ځل خو د طالب پر وړاندې نیمه نړۍ راووته، لنډغر یی واک



ورسول ، د دواړو شعار او عمل یو و، خو دا ځل ستمي لنډغر دومره د قومي عقدې حساسیت پر سر اخیستي چې حیران دي څه ووایي!؟ په پاریس کې له داعش سره د پیوستون شعار یې یوه بېلګه ده.

څو موده وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې د نظار شورا د اړوندو لنډغرو یوه ویډیو خپره شوه چې په هغې کې یو ستمي جمعیتي له داعش سره خپل مشترکات بیانوي، دی وایي: (( دغه دی، فرانسویان دې واوري !

داعش هم وایي خراسان، موږ هم وایو خراسان داعش هم افراطي مسلمانان دي او زموږ خلک هم افراطي مسلمانان دي

داعش هم غواړي له طالبانو زموږ غچ واخلي، زموږ خلک هم غواړي له طالبانو غچ واخلي د داعش مطلق اکثریت تاجک او فارسي ژبي دي؛ د پښتنو حضور په کې ډېر کم دی، حزب تحریر، جمعیت اصلاح ، دغه او هغه ورسره همکار دي، نو خلک ګوري چې په دې کې یې حضور شته، نو کوم دلیل دی چې خلک له داعش سره همکاري ونه کړي!؟))

دا خبرې د فرانسې په زړه ؛ پاریس کې شوي او ویناوال یې په ټینګار سره وایي چې فرانسویان یې باید واوري!

نو په دومره سپین سترګۍ سره چې څوک په پاریس کې ځانونه داعشــیان بولي او د هغه هېواد حکومت ورته غږ نه کوي ، نو دا د هغه هېواد د حکومت پر سیاسي کمسوادۍ دلالت کوي.

که دا کار پښتنو ته کومې منسوبې سیاسي ډلې او یا شخص کړی وای ، نو بیا به دې د فرانسویانو ، غربیانو او جمعیتانو غبرګون او د هغې ډلې یا شخص برخلیک لیدلی وای.

د شرم او حیرانیتا ځای خو بیا دا دی چې سبا به همدا فرانسه او نور غربیان د داعش د ځپنې په پلمه د افغانانو کلي او کورونه بمباروي او وایي به چې دلته د داعش د روزنې مرکزونه وو .څوک به وي چې ورته ووایي داعش او ملاتړي یې اوس چېرته دی ؟ کاشکې افغان ولس او یا اوســني حکومت د دې مجال او ځواک لرلی چې د داعش د ځپنې په پلمه ، لکه څنګه چې دوی زموږ ختیین کورونه ونړول ، د پاریس ځینې ماڼۍ هم لړزولې وای ، بیا به نو پوه شــوي وای چې د ترهګرۍ په پلمه د بل ولس د کورونو ړنګول څه مانا او څومره درد لري؟

فرانســویانو تر دې وړاندې هم د پنجشــېر د قېمتي ډبرو د تر لاسه کولو په بدل کې د دې درې له یـو مضر شخص څخه د یو اتل

د جوړونې ډېره هڅه کړې ده او دا هڅې يې اوس له پلاره د هغه د زوی پر لوري هم روانې دي، خو هېڅکله د تاريخ قضـــاوت نه شي بدلولی.

څو کاله وړاندې مې يو ځل په کابل کې د فرانسې له سفير او څو ځله د هغوی له ســـياسي مســـولينو سره وکتل ، ما ورته په ډېره مودبانه ژبـــه وويل چې فرانسه د نړۍ يو پرمختللی او متمدن ملک دی ، تاسو د نړۍ انساني تمدن او په تېره بيا د نړۍ ادبياتو ته ډېر څه ورکړي دي، ســتاســې د هېواد ســياســيونو ته په کار نه ده چې خپـل فکر پر يوې وړې محـدودې ډلې متمرکز کړي؛ لـه صـــفر اعشـــاريـه درې ســـلنې خلکو ملاتړ وکړئ، د هغوی يو نـامـدني قومندان، چې يوازې په کابل ښـــار کې د پنځه شــپېته زره کابل ښـــاريانو په قتل او د ښـــار په ويجاړۍ کې تر ټولو زياته ونډه لري، هغه د اتل، بيا د دې ملک د ملي اتل په نوم ياد کړئ! دوی د خپلو دا ډول کړنو د توجيه لپاره پر خپلو دلايلو ټينګار کاوه، بيا ما ورته يو فرضيه وړاندې کړه، ورته ومې ويل: فرض کړو يو وخت فرانسه کې کورنۍ جګړه ونښلي، جګړه پر پاريس متمرکزه شي، د ښکېلو غاړو دوه مهم قومندانان نږدې اويازره پاريس ښاريان له تېغه تېر کړي، موږه افغانانو ته هم خدای پاک د تا سې فرانسويانو په شان قدرت راکړي، در شـــو پاريس کې خپل عســـکر پلي کړو، د پاريس د اويا زره ښاريانو يو قاتل په شلو بدو نومونو تورن کړو او بل قاتل ته يې د فرانسې د خلکو د ملي اتل لقب ورکړو ، غټ غټ تصويرونه يې د ښـار پر رنګو او زخمي دېوالونو او خپلو پوځي ګاډو را وځړوو، تاسې

فرانســوی ولس به موږ ته په کومه ســترګه وګوري؟ دوی وویل: ((موږ به تاســې ته د نفرت په ســترګه وګورو او لعنت به دربانديې ووایو)). ما ورته وویل افغان ولس هم د احمدشاه مسعود د پالنې له امله تاسو ته د همدغه نفرت په سترګه ګوري. ما ورته دا هم وویل چې د یوې محدوې ډلګۍ د تایید په خاطر د یوه لوی ملت تاریخي دښـمني پر غاړه مه اخلئ ! دا واقعیت دی چې افغان ولس په جنګ کې رانښکېل او په غمو کې ډوب دی ، خو دلته ګوره په غچ اخبستنه کې سل کاله واټن هم ببړه ګڼل کېږي . هغوی هغه وخت ماته وویل چې موږ کو ښښ کوو تر دې ورو سته له نورو افغانانو سره هم خپل روابط پراخ کړو او خپل تېر سیاست تصحیح کړو.

خو اوس څو کاله وروسته داسې ښکاري چې فرانسوي چارواکي لا هم د افــــغاني ټولنې د ټولنیزو واقعیتونو حقیقي درک ته نه دي ر سېدلي، لاهم د لنډغرو ملاتړ ته دوام ورکوي ، پاریس د مسعود د کورنۍ دویم کور دی او پنــجشر بــیا د فرانسوي یهودیانو ، ښکار ځای، دمه ځای او طمع ځای.خو دا ځل جمعیتي او ستمي داعشیانو خپل ملاتړو فرانسویانو ته هم داسې ګلان وکرل چې خوشبیویي به یې تر ډېره وخته د پاریس فضـا معطره سـاتي.اوس نو که چا ته د داعش پته معلومه نه وي ، پاریس ته دې لاړشي، هر لنډغر یې چې وکوت د داعش مینه دې پرې ماته کړي:

دشـمن دانا کـه غم جان بـود

بهتر از ان دوستیکه نادان بود

# په تودو شګو کې مزل

دا لیکنــه د (۲۰۲۱م) کــال د اکتوبر پر (۱٦) مــه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (تلې) میاشـــتې له (۲۴) مې نېټې سره ســـمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د روان کال د سرطان میاشـتې په وروسـتیو کې له خپلې مېرمن سره عربي متحده اماراتو ته لاړم او له هغه ځایه بیا ترکیې ته، له پوهنتون څخه مې شل ورځې رخصت اخیستی و او د اسد میاشتې پر شـلمه نېټه باید بېرته کابل ته راغلی وای. ټاکل شـوې وه د اسـد پر (۲۵) مه له معمول سره سـم د خپلواکې د کلیزې په مـــــناسـبت غونډه جوړه کړو او دوه ورځې وروسته یې نشر کړو. غـونډې ته مو له همغه ځایه ترتیبات ونیول. خو د اسـد تر (۸) مې وروســته هېواد کې پوځي بدلونونه دومره چټک شول، چې د اسد تر (۲۴) مې پورې خبره د کابل نیونې ته راورســـېده، نو په دې ډول هغو افغانانو چې غوښــتل یې له هېواد څخه بهر ووځي او هغوی چې غوښــتل هېواد ته راشي، ټول پر خپل ځای بند پاتې شول. تګ راتګ دومره سخت شو چې دې هېواد په خپل تاریخ کې نه و لیدلی.

هره ورځ یوې الوتنې یا ر ښایي ته منتظر وو،خو هېڅ چانس او مجال نه برابر ېده. خپل هېواد او ولس ته دومره ځور ېدلو، لکه دا نورو عاموافغانانو چې په خپل وطن کې د درد لمبې احساسولې. دې کې نو د فیســـبوکي پېغورونو بـاران شروع شـــو : چـا ویـل چې وتښـتېدل، چا ویل چې هانیمون ته لاړل، چا ویل چې دغســې نظام

يې غوښته اوس ترې خپله وتښتېدل، چا ويل چې قطر ته د طالبانو لیدو ته ورتلل اوس دې راشي دلته دې ورسره وګوري، ولې تښتي ؟ چا ويل چې د جمهوريت پر وخت يې چې مظاهرې ويســـتلې رادې شي اوس دې وباسي چې د خولې خوند يې برابر شي، چا ويل چې پخوا به يې چغې وهلې چې اشرف غني داســـې دی او هســـې خو اوس دې نويو واکمنو ته ولې چوپه خوله دي؟ خو دوه ســـوه تورونه او پېغورونه، لکه چې د تېر نظام تګ او د نوي راتګ ټول زموږ پر انتقادونو پورې تړلی وي او موږ په حال او ماضي کې داســـې کوم مقام درلود چې د نظامونو برخليک ور سره تړلی و.

په دې ليکنه کې غواړم د يو هدفمن افغان په توګه خپلې پرونی، ننني او سبانی ليد لوری در سره شريک کړم:

**۱-پرونی نظام او زموږ لیدلوری:** زه اســـاســـاً يو ملي ديموکرات افغان او معتدل مســـلمان يم. د بهرنيو ځواکونو تر يرغل ورو سته د طالبانو نظام ړنګ شو. د حکومت مرکزي هسته د داسې ډلو لاس ته ورغله چې نه يوازې د پښتنو ضد وه، بلکې د افغانستان لـــه ماهيت او جوړښت سره هم مخالفې وې. دوی د نړيوالو په زور د پښـــتون ولس عاموژنه پيل کړه او د طالب مخالفت نو بيا دوی ته د پښـــتون مېشـــتو ســـيمو د ځپنې لپاره يوه پخه پلمه وه او تر اخري بريده يې له دې و سيلې څخه کار واخيست، ان خبره د ملي هويت تغير او تحقير ته هم ورســـېده، موږ سره له دې چې نه مو د بهرنيو ځواکونو چلند خوښـــېده او نه د هغوی شـــتوالی، خو دا مو غوره وبلله چې له و سلوالې مبارزې پرته له نسبي دموکرا سۍ او خلاصې فضا څخه ګټه پورته کـړو او پـه ولسي پروسو کې شريک شو، په ټاکنو

کې مو د کرزي صــیب ملاتړ ځکه وکړ چې عیني منطق دا و چې مقابل جهت یې تر ده ډېر خراب و، د ډاکتر صیب غني په ټاکنه کې هم له ورته ســتونزې سره مخ وو، د دواړو په ټاکنه کې مو یو څه زیان زغمه، خو که مخالف کاندیدان یې بریالي شوي وای، بیا نو د تاوان کچه نوره هم زیــاتــېدله، موږ په هر حالت کې په تاوان کې وو، خو هڅه مو دا وه چې د تاوان کچه راټیټه کړو. کله چې کرزي صــیب او غني صــیب له ټلوالې سره د واک د شراکت لمن ونیوه او خپلې ژمنې یې تر پښــو لاندې کړې، نو زموږ په شــان په زرګونو افغانان یې جبري مخالفت ته اړ کړل، د شرم خبره خو بیا دا وه چې دا مــــضر ایتلافونه او هـــېواد ضد شراکتونه د جمهوریت تر چتر لاندې تر سره کېدل، خو که تا هر څومره چغې وهلې چې دا خپله د جمهوریت خلاف عمل دی، نو د کرایي فیسبوکیانو له خوا به یو دم د کنځلو باران پیل شو، موږ به یې بې ږیرې او نېکټایي داره طالبان وګڼلو او په حکومت شامل لنډغر چې نه یې اساسي قانون مانــه او نه هم افغانستان، هغوی به ټول د جمهوریت پالونکي وګڼل شول. غوره بېلګه یې عطامحمد نور، محقق، دوســتم او داســې په زرګونو نور قاتلین دي.

۲ -**قطر ته سفر:** قطر ته طالبانو د درېیمګړو په وساطت یو شــمېر افغا نان دعوت کړل، یو تن په کې زه هم وم، ما تر تګ وړاندې د جمهور رییس له سلاکـــار؛ ډاکټر صیب حمدالله محب سره مشوره وکړه. که څه هم زړه مې نه غوښتل چې دا خبره ورسره شریکه کړم، خو بیا مې وویل کېدی شي دوی هغوی او هغوی دوی ته د سـولې یو ښــه پیغام ولري او زموږ تګ د یو نېک تفاهم سـبب شي، ما ډاکټر صیب محب ته وویل چې د حکومت ورځني تلفات تر

جلب او جذبه پنځه ځله زیات دي؛ نو که حالات داسې روان وي دا حکومت تر دوه دریو کلو زیات دوام نه شي کولای، هغه وخت د حکومت تلفات د ورځې په اوسط ډول سل کسان وو چې په کال کې د تلفاتو ټولیزه شمېره (۳٦) زره کسانو ته رسېده او جګړې ته د روزل شویو استخدامېدونکو عسکرو شمېر د ورځې شلو کسانو ته رسېده چې په کال کې یې منځنی حد (۷۲۰۰) تنو ته رسېده. ډاکټر صیب محب ماته وویل چې د جمهور رییس په استازۍ هم درته وایم چې لاړ شئ دا سفر وکړئ.

قطر کې مېشتو طالب مشرانو ډېر نېک چلند وکړ، په سړه سینه یې زموږ نظرونه، نیوکې او وړاندیزونه واورېدل، خپل نظرونه یې هم موږ سره شریک کړل، هغوی ته مو وویل چې د خدای په خاطر د نظام او پوځ د ړنګونې تجربه بیا مه تکراروئ، دا نظام او پوځ په ډېر تکلیف جوړ شوی دی، دا سمه ده چې هم پوځ او هم ټول نظام دقیق او پوره سمون ته اړتیا لري، خو ړنګول یې د هېچا په ګټه نه دي او بیا جوړول یې هم د هېچا په وس کې نه دي. هغوی موږ ته وویل: موږ په هېڅ وجه د دې پلویان نه یو چې نظام او پوځ دې ړنګ شي ان موږ به په بعدي مذاکراتو کې پر دې ټینګار کوو؛ که امریکایانو سره توافق ته ور سېدو، نو دوی ته موږ د سوله ییزو وتو زمینه برابروو او دوی به خپلې وسلې دلته پرېږدي چې موږ پرې اینده کې خپل ملي پوځ سمبال کړو. د نظام د ړنګونې د اندېښنې په باب دوی وویل: امریکایانو سره تر توافق وروسته ټولو افغاني جهتونو سره خبرې پیلوو او د شپږو میاشتو په بهیر کې د امریکایانو تر وتلو وړاندې پر یو توافقي حکومت نتیجې ته ر سېږو. هغوی دا مهال تر جنګ سولې ته ډېر لېواله ښکارېدل، خو د جنګي

ظرفیت د درلودلو واقعیت یې هم څرګنداوه؛ مانا دا چې زور هم لرو، خو کاروو یې نه.

بېرته کابل ته راغلو ډاکټر صیب محب سره مې بیا ملاقات وکړ، ما ورته وویل چې کوم څه چې واقعیت دي هغه دا دي چې طالبان په زور نه شـــئ ماتولی، زه خو داســـې فکر کوم چې د هغوی پوځي ځواک ورځ پر ورځ زیاتېږي او د حکومت کمزروی کېږي، اوس لا هغوی په ډېر قوي دریځ کې نه دي، که دوی احیاناً له امریکایانو سره توافق ته ورســېږي او بهرني ځواکونه هم ووځي او تر هغه وړاندې دلته یو توافق رامنځته نه شي، نو بیا همغه د ډاکتر نجیب او د مجاهدینو تجربه تکرارېږي، نو د خدای په لحاظ دا ځل هېواد له دغه بحرانه وژغورئ.

زه فکر کوم زموږ خبرې همدلته له ښــاغلي محب سره پاتې شـوې او تر جمهور رییسـه و نه رسـېدې. دا ځل نو د جمهوریت په واکمنه بدنه کې د لنډغرو او ټامیانو د جمهوریت ضـــد ایتلاف د کرایي لیکوالو له خوا موږ ته دا سې کنځلې و شوې چې حد نه لري، همدا به یې ویل چې راشــئ اول دا کابل مېشـتي ړیرخرییلي طالبان په دار کړو چې هغه نورو ته د عبرت سـبب شي. نور نو د سـولې پر ضد دوه سوه ډوله توطیې پیل شوې، هدفي وژنې شروع شوې، چا چې به د سـولې نوم پر خوله اخیسـت د جمهوریت او نظام مخالف ګڼل کېده، لنډغرو او کوڅه ډبو به موږ ته د جمهوریت درس را کاوه!؟ جمهور رییس یې د ځان غوښتنې او واکخوښوونې د جنون داسې یو پړاو ته ورساوه چې ټول نظام یې ځان پورې وتړه، یا به زه د نظام په راس کې یم او یا به ټول نظام د ړنګونې داســې یو حالت ته رسـوم چې تر ما وروسـته یې څوک بیا د جوړونې وس و نه لري او نوي واکمن دومره ذلیل او ناکام شي چې خلک پر تېر نظام شکر

وکاږي، نو ځکه خو یې تر وروستي بریده د سولې د هر چانس او هر امکان مخالفت وکړ او خبره د شرموونکې تېښتې او ولس ته د وروستي تاوجن حالت دې پړاو ته راورسېده.

**۳ -نوی نظام او نوي چارواکي:** غني چې په واک کې د پاتې کېدو له ګډون پرته د واک د سوله ییز لېږد له هر ډول بهیر سره مخالفت کړی و، په وروستي ځل یې هم خپل وسلوال مخالفین او ان د خپل واک شریکبانې ناخبره او په ډاک پرېښودل، د ولایتونو تر سقوط ورو سته ټاکل شوې وه چې طالب د واک د یو سوله ییز لېږد له لارې کابل ته داخل شي، خو دا بهیر یې هم د خپل مرګ له وېرې ګډوډ کړ، په داسې حال کې چې ځو موده وړاندې یې ویلي وو چې زه د ډار سړی نه یم، ان چې مرمۍ مې له غوږه تېرېږي هم، ماته داسې ښکاري چې ماشې مې له غوږه تېرېږي، یو څوک چې پر خپلو اعصابو واکمن وي او نورمال وي هغه هېڅکله هم داسې خبره نه کوي، انسان د احساس او درک قوه لري او د هر چا چې دا قوې فعالې وي د خطر وېره احساسولی شي، خو کله چې حالت یو څه نور هم تریخ شو مرمۍ لا کابل ته نه وه رسېدلې چې اعلی سر او ادنا سر قومندان هر یو له کابله پښې سپکې کړې، وسلوال. طالبان اړ شول چې د ګډویو د مخنیوي په خاطر کابل ته راننوزي. کابل کې یو څه لوټ او تالان وشو، خو څنګه چې د ډاکتر غني او د هغه د ټامي ګروپ او لنډغر ایتلاف هیله وه هغسې و نه شول، عامه شتمني او دولتي تاسیسات تر ډېره حده خوندي پاتې شول، یوازې همغه برخې ډېرې خرابې شوې چې د امریکایي ځواکونو او د هغو د اړوندو صفري قطعاتو په لاس کې وې.

طالبانو يو ســـتر کار دا وکړ چې خپلو مخالفانو ته يې عمومي بښــنه اعلان کړه چې په هر ولايت کې له ځينو انفرادي متواترو پېښــو پرته لا هم د ټول هېواد په کچه په عام ډول پلې برېښـــي، د طالبانو دا کار ځکه ســـتر برېښـــي چې که د هغوی کورنيو او بهرنيو مخالفينو ته دا ډول پوځي بريا ور په برخه شـــوې وای، هېڅکله به يې دومره ستر انساني زغم او سړيتوب نه وای کړی، موږ شل کاله وړاندې د ټلوالې او د هغوی د امريکايي ملاتړو ســـړيتوب هم ليدلی و چې له تخاره تر ليليې دښـــتې پورې پر طالبانو څه ظلمونه ونه شـــول، د څرخي پله، بگرام او گوانتنامو زندانو ظلمونه خو د ظلمونو په تاريخ کې افسانې ښکاري.

نوي واکمن که په پوځي ډگر کې هر څومره بريمن ښـــکاري او ډېرې ســوبې يې وگټلې، غله، لوټمار او تجزيه غوښـتونکي يې ټول له مخې جارو کړل، تر ځلوېښتو کلونو وروسته يې هېواد بيا سره يو موټی کړ، د قدرت مختلفې جزيرې يې ختمې کړې او گڼ شمېر نور گټور کارونه يې وکړل، خو لا هم په سياسي، ټولنيز او فرهنگي ډگر کې د کاميابۍ نومرې نه لري؛هېواد له نړيوالې انزوا سره مخ دی، اقتصـــادي فقر په ډېرېدو دی، ډېری علمي او فرهنگي مرکزونه لا هم تړلي پاتې دي، حکومت لاهم يـــوازې يـــوازې د مذهبي قشر او هغه هم د يوه تحريک د لارويانو په لاس کې دی او گڼ شـــمېر نورې ستونزې، نو که دا ټولې ســتونزې يوه پر بله پســې غوټه شي او لاپســـې دوام وکړي، نو نه يوازې دا واکمن تحريک به يو ځل بيا له ناکامۍ سره مخ کړي، بلکې ټول هېواد به له ســـتر ناورين سره مخ شي، موږ د همدغې وېرې د احســـاس له کبله د دې لپاره چې وخت ضـــايع نه شي پر ســـختو لارو ببرته هېواد ته راغلو چې نويو

چارواکو ته د امکان تر بریده د مظلوم ولس فریاد ور ورســوو، که خدای وکړي د سمون او پرمختګ کوم څرک ولګوو.

**۴ -هېواد ته راتګ او زموږ لیدلوری:** د ســپټمبر پر نهمه مې له خپلې مېرمنې سره له ترکیې نه د هېواد پر لوري حرکت وکړ، تر درې ورځني سفر او مهال ورو سته کابل ته ور سېدو، په بهر کې چې مې هېوادوالو ته و یل: کا بل ته ځم، هغوی به یوه نرۍ خندا وکړه و یل به یې له پوهې سره سره بیا هم د لېونتوب خبرې کوې، خلک له هېواده تېښــتي دی ورته منډې وهي، کله چې له کوره راوتلو نو اولادونو مې، له خپلې مور لاســونه تاو کړل، مورې چېرته ځې؟ تا خو موږ وران بلد کړي یو، ته خو موږه ته خوله کې ډوډۍ راکوې، ته چې نه یې موږ ته به ډوډۍ څوک راکوي ؟ د مور په ســـترګو کې یې اوښــکې را تاوې شــوې، خپل اولادو نه یې ټینګ په غېږ کې ونیول، په ډېره سختۍ یې ترې خپله غېږه خلاصه کړه، یو زوی مې تر هوایي ډګره راسره راغی، د خـدای پـامـانۍ پر مهـال یې د مور ستونی غریو ونیو.

کله چې کابل ته راغلو دلته بیا خلکو وویل عجیبه خلک یاســـتئ لېونتوب تور وي که سپین؟ خلک په زرګونو ډالر ورکوي له دې خوا، اخوا ځان باسي، تاســې له اخوا را منډې وهئ، کله چې حالات سـم شوي وای بیا به راغلي وئ.

زموږ هدف دا و چې راشـــو دلته له نږدې نویو واکمنو سره وګورو چې د حکومت کولو او اصـلاحاتو وړتیا یې څومره ده ؟ مشـوره اوري او کنه ؟ څومره وخت کې به ســمون راشي؟ له نویو چارواکو سره د هـېواد د کادري او روښانفکره قـشر ګوزاره شونې ده که نه؟ ایا مـوږ غوندې خلک په کې کوم مثبت رول یا د پله حیثیت لوبولی شي کـه

نه؟ عام ولس د نوې واکمنۍ تر بار لاندې څومره فشار زغملای شي. ایا د واکمنو د نرمښت او د هېواد د پرمختګ چانس شته او کنه؟ بله مهمه خبره دا ده چې د نظام د بقا لپاره کوم تدابیر شته کنه؟ دا نظام سره له دې چې ډېرې نیمګړتیا لري، خو بیا هم تر نشت نظامه ښه دی، د غني نظام چې د جمهوریت په نامه مشهور و، خو په واقعیت کې د غلو، مفسدینو، ټامیانو او لنډغرو یوه ټلواله وه، خو بیا به هم موږ د نظام د بقا لپاره چغې وهلې چې غله باید تېرې لرې او نظام باید خوندي پاتې شي، خو چارواکو داسې کار وکړ چې له ځان سره یې نظام هم ختم کړ. د اوسنیو چارواکو له چلندونو هم داسې ښکاري چې که ژر تر ژره په ځان او حکومت کې مثبت تغیر رانه وړي، د دې احتمال شته چې یو ځل بیا تېره تجربه تکرار شي او یو ځل بیا یې حکومت ړنګ شي. د دې نظام په ترکیب کې که څه هم تر دې دمه یوازې ملا او طالب شامل دي، خو په تاوان کې به یې ټول ولس شریک وي، په تېره بیا خوار او بد قسمته پښتون به یو ځل د ملا او طالب د لنډ مهالي واک اوږد مهالی تاوان پرې کوي. د دې نویو واکمنو یا دې نظام بدیل عام ولس یا د هغه استازي نه دي، بلکې یا د ټلوالې لنډغر دي او یا داعش ډله، د هغوی اعمال خو ټولو ته څرګند دي چې چا سره یې څه کړي او څه به کوي؟

اوس زموږ ولس داسې درد نیولی چې پر تبې هم راضي دی، خو چې تر دې زیات ژور درد ته ور داخل نه شي.

د غني د بې کفايتو او د ټاميانو د عياشـــيو کفاره نن ټولو دولتي مامورينو ته ور پر غاړې ده او د دې اوســـنيو واکمنو د نظام د بيا سـقوط پېټی به د ځپل شـوي پښـتون ولس پر اوږو بار وي، نو په همدې خاطر هېواد ته راغلم چې له خپلو خلکو او اوســنيو چارواکو



سره مشورې وکړو چې د نظام د بقا، اصلاح او پياوړتيا لپاره څه کول په کار دي او څه شي زموږ په وس پوره دي؟

دلته چې راغلم په دوو ورځـو کـې مـې د ولس د بېلابېلو پرګنو له مخورو څېرو او ځينو طـــالبانـــو او د هغوی ملاتړو سره وکتل، ولسيـ خلک سـخت نهيلي او خواشـيني وو، په سلو کې اويا کسان د دې هيله لري چې که شرايط ورته برابر شي، له هېواده ځان وباسي، په چارواکو کې هم ځينې د واقعيـــــتونو حســاســيت ته متوجه دي او د ژور بدلون پلويان دي، له ښــاغلي شـــيخ عبدالحميد حماسي سره مې ملاقات وشـــو، کتنه ډېره هيله بښــونکې وه، هغه خبرې چې د ملي هـــــويت په باب زموږ له ګڼو هېوادوالو سره مطرح دي پر هغو مو سره صــميمي بحث وکړ، هغه وويل چې زه لــه نــورو مشرانو سره د خپل چينل له لارې دا خبرې مطرح کوم، تاسې يې په خپله ورسره مطـــرح کړئ خدای مهربانه دی مشران پوره اوسېله لري او حساسو مسايلو ته متوجه دي.

د ټيټې کچې او متوسـط لېول ځينو طالبانو سره مې هم وکتل هغوی کې نرم مزاجه کســان هم وو، خو ځينې بيا داســې هم وو،

لکه پر ګرمه تبۍ چې وازده کېږدې یو دم یې لمبه کوله. مقصد مې دا دی چې دلته د مثبت بدلون د راوستو لپاره مبارزه داسې ده لکه په ګرمو شګو کې چې پښې ابله مزل کوې او اوبه هم درسره نه وي، چېرته لرې د یو سراب څرک ولګي، هلته چې ور نږدې شې هغه نور هم در څخه لرې لاړ شي. هدف مې دا دی چې زه د خپل ولس د سوکالۍ او د نظام د بقا لپاره د داسې یو سراب په لټه کې یم چې خدای دې وکړې په پای کې د خپل ولس لپاره یو نوش دارو او د ژوند اوبه پیدا کړم، خو وېرېږم داسې نه شی چې دا نوش دارو څو پیدا کېږي زما سهراب



سهراب ولس د ژورو ټپونو او تندې له امله ساه ور کړې وي. ډېر سخت مزل دی د اور پر لیکه تګ دی، هره شېبه د مرګ استازي ګرځي، هره شېبه یوې ماشې ته ګوته ورتلی شي. دا خطر هم شته چې د مرګ له بلا سره مخ شې او دا احتمال هم شته چې یو ځل بیا د نویو واکمنو په یارۍ تورن شې، دا اټکل هم شته چې د بدې پېښې په حالت کې پر سیاسي حماقت ګرم شې، لکه څنګه چې د یو شمېر امریکا مېشتو ټامیانو او د هغوی د اړوندو کرایي لیکوالو له خوا په دې عمر کې ترکیې ته د تګ له امله پر هانیمون تورن شوم،

خپله چې امریکا کې د شپې په نایټکلپبونو کې په نڅاوو او د ورځې له خوا د وطن د ارزښتونو په سپکولو مصروف دي او خپله نڅا ورته د کلیســـا عادت او عبادت ښــکاري، خو د نورو یو عادي، کاري او ضروري سفر ورته هانیمون.

یتیم په ژړا پوخ دی: کابل ته تر را رسېدو دوه ورځې وړاندې ما ته د اوســنیو چارواکو یو مهم کس د تېلفون په لیکه وویل : ((کابل ته راشه خو تر راتګ وړاندې باید داسې فکر وکړې چې نه دي ټولې خبرې منل کېږي، نه دا حالت داســې دی چې ټولې خبرې دې ومنل شي، که څه هم معقولې به وې، خو د دې په خاطر چې ژر مایوســه نه شـــې یو څه به د دوی منې، یو څه به یې زغمې، خو یو څه به د تاسو منې.، مقصد ترخې او خوږې په کې شته.))

د دې چارواکي دا خبرې د کاڼي کرښـــې وې، په دې دوو ورځو کې مې هم ډېر څه تجربه کړل، خو زه خپل سـفر ته دوام ورکوم که خدای مه کړه کومه بده پېښــه رامنځته شــوه او یا هم د کوم مثبت تحول جوګه نه شــوم، خوله او قلم مې دواړه وتړل شــول، زه مخکې تر مخکې له خپلو مظلومو هېوادوالو څخه ښښـــنه غواړم. که ژوند و نورې خبرې به بیا....

# دا ځل د چا وار دی؟

| |
|---|
| دا لیکنــه د (۲۰۲۱م) کــال د اکتوبر پر (۲۲) مــه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (تلې) میاشــتې له (۳۰) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

- ډېر لرې تاریخ ته نه ځو، له انګرېزانو به یې راپیل کړو؛ کله چې انګرېزان د هند پر نیمه وچه واکمن وو او افغانســتان هم د دوی تر سـیاسي ښـکېلاک لاندې و، نو د هند وایسرـای او پـــه کابـل کـې د انګرېزانو سفیرانو به د افغانستان په کورنیو چارو کې ځانته د هر ډول ســیاسي مداخلې حق ورکاوه، د هېواد بهرنۍ او تجـارتي چـارې بــه یې هم کنټرولولې، د واکمنو ترمنځ بــه یې اختلافاتو ته هم لمن وهله او بیا به یې د هغوی ترمنځ د روغې جوړې صلاحیت هم درلود. د انګرېزانو هر سـفیر او اسـتازی هغه وخت د چارو هر کاره ګڼل کېده.
- کله چې شــوروي اتحاد پر افغانســتان یرغل وکړ، بیا نو د شوروي سفیران او د بهرنیو چارو وزیران د افغانستان د چارو هر کاره شــول. پوزانوف، ورنســوف، ادوارد شــیوارد نازي او نور د افغانستان د چارو هرکاره ګڼل کېدل. د خلک دیموکراتیک ګوند په

اختلاف، بېلتون او پيوستون کې يې اساسي نقش درلود، پر دولتي مقاماتو د تقرر وروستۍ پرېکړه به د روسي مشاور تر هوکړې منتظره وه. روسي مشاورين او نور چارواکي په حکومت کې دومره سره ننوتل چې ان د هغه وخت د ځينو چارواکو د خوښيو خصوصي محفلونو ته يې هم لاره وکړه.

- کله چې د امريکا په مشرۍ نړيوالو ځواکونو پر افغانستان يرغل وکړ، نو د پخواني شوروي اتحاد ځای بيا امريکايي چارواکو او د هغوی موئتلفينو ونيو، په



شلو کلونو کې د امريکا بېلابېلو سفيرانو او د بهرنيو چارو وزيرانو د افغانستان په ټولو چارو کې وروستۍ پرېکړې کولې. د امريکا سفيران؛ جيمز ډابنز، ايکنبيري، خليلزاد، ډاکتر فين، جانډابس او نور د هرې دولتي او نادولتي غونډې ګډونوال وو. خبره ان کله کله د ډپلوماتيک عرف له چوکاټه هم وتله. د امريکا د هغه وخت جمهور رييس مرستيال جوبايډن او د امريکا ځانګړي استازي (البورک) د وخت جمهور رييس حامدکرزي سره خبره څو ځله د ډپلوماسۍ له چوکاټه وايستله.

د ډاکتر غني او ډاکترعبدالله ترمنځ د ګډ حکومت حکم هم د (جان کيري) له خوا صـادر شـو. لنډه دا چې افغانسـتان مېشـتي سـياسي او پوځي امريکايان د هر محفل او هر کار د کتغ مالګه وه.



- اوس نو نوبت د پاکسـتان دی، د پاکسـتان لومړی وزير عمران خـان، بهرنيوچـارو وزير شـاه مـحـمـود قـريشي، داستخباراتو رييس فيض حميد او کابل مېشـتی سـفير (منصـور احمدخان) يې په افغانسـتان کې ځان د پخوانيو انګرېزانو، بيا شورويانو او وروسته د امريکايانو په رول کې محاسبه کوي.

په سـيمه ييزه او نړيواله کچه مخکې تر دې چې د نويو واکمنو له خوا غږ پورته شي، دوی له نړيوال سـټيجه د افغانسـتان په باب خبرې کوي؛ کنګل شـوې پانګه دې خلاصـه شي، نړۍ دې د افغانستان نوی حکومت په رسميت وپېژني، طالبانو سره دې تعامل وشي او نورې ګنې څرګندونې! سـفير او ځانګړی اسـتازی يې د روسيې او امريکا د سفيرانو په شان کور پر کور پر افغان سياسيونو ګرځي او کله کله ان د کوربه تمثيل هم کوي.

ټول پر دې پوهېږي چې له کنګل شويو پيسو څخه د پاکستان موخه څه ده؟

له بلې خوا بیا خپله پاکستان دومره کم جرئته دی چې د امریکا له ډاره د افغانستان نوی حکومت په رسمیت نه شي پېژندلای، نو ته چې خپله دومره ډارېږې او دومره کم جرئته یې، بیا له نړیوالې ټولنې ولې داسې غوښتنه وکړې او سربېره پر دې بیا ته نو په نړۍ کې کوم داسې نوم او نښان لرې چې د افغانستان په شان د یو هېواد او د هغه د حکومت لپاره د پېژندنې لابي وکړې؟ خپله له (خړ) څخه (تور) لېست ته نږدې کېږې، خو زموږ له غمه بیا د مکر دومره اوښکې تویوې؟



پاکستان په سختو شرایطو کې پر افغانستان خپلې ټولې لارې وتړلې، ان وېزه لرونکو افغانانو ته یې د تګ اجاره ور نه کړه، یوه بوجۍ اوړه یې هم افغانستان ته راپرې نښودل، هېڅ بل هېواد وېزه لرونکي افغانان له ورتګه نه دي منع کړي، خو پاکستاني چارواکو هم (۲۵۰۰) ډالرو ته د ګرېږدلې الوتکې د ټیکټ د پورته کولو، ګېټ پاس او نورو ګواښونو له لارې خپل هېواد ته د افغانانو د ورتګ مخه ونیوله او هم یې بندیزونو ته داسې بڼه ورکړه چې په هېڅ ډول، افغانانو ته د ورتګ چانس برابر نه شي. پر افغانانو، په تاریخ کې تر دې سختې ورځې نه دي راغلي، خو په دې سختو ورځو کې هم پاکستاني واکمنو له افغانانو سره تر وروستي بریده خپله عقده وپالله.

• نويو واکمنو ته د وړاندیز په توګه وایو چې څومره مو له وسه کېږي، له پاکستاني چارواکو ځان لرې ساتئ، د پاکستان د چارواکو په تېره بیا د استخباراتي کړیو په باب، هم په افغانستان او هم په نړۍ کې پراخ نفرت موجود دی. افغانان په عام ډول، پاکستان په افغانستان کې د تېرې څلوېښت کلنې جګړې یو منافق لوبغاړی ګڼي، د طالبانو پر تحریک چې په تېرو شلو کلونو کې د نړیوالو له خوا څومره بمونه اوروول شوي، په دې کې د پاکستان پوره لاس و، د دوی له هوایي ډګرونو د امریکا پوځي الوتکې پورته کېدلې او په



ټنونو بمونه یې پر طالبانو اورول. له ناټو سره یې پوځي اکمالاتو کې مرسته کوله، په زرګونو عربان یې د القاعدې په نوم لاسته ړلي امریکایانو ته ورکړل او خپله شېرني یې ترلاسه کړه. د ملا برادر، ملا ترابي، جهانګیروال، ملا عبیدالله، ملا منصور او نورو لسګونو طالب مشرانو په ګډون یې په سلګونو طالبان یا زنداني کړل، یا یې ووژل او یا یې امریکایانو ته په ګوته کړل. ملا عبدالسلام ضعیف یې د نړیوال ډپلوماتیک عرف خلاف ژوندی او روغ رمټ امریکایانو ته په لاس ورکړ، خو اوس بیا هم غواړي د طالبانو او هم د عامو افغانانو رنګه بده کړي. که څوک ر ښتیني طالب او ر ښتیني افغان وي، هېڅکله به د پاکستان دا بدرنګه سیاست او منافقت

هېر نه کړي. له دومره ناخوالو سره سره که بیا هم اوسني چارواکي پر پاکستان باور پالي، نو دا به له سیاسي پلوه د دوی غټه تېروتنه وي. د هېواد نوي حکومت ته په کار دي چې خپله اســتازولي په خپله وکړي، ښــه دی که خراب، پوره دی او که ناکره؟ نړیوالو سره بایـد پـه خپله اړیکـي ونـیسي. د پاکستان د واکمنو د کمېشنکارۍ لاره باید په بشپړه توګه بنده کړي.

- اوس که پاکســتاني چارواکي په ســیمه کې د یوې کوچنۍ امـــــپراتورۍ خوبونه ګوري، نو دا خوبونه دې اوبو ته تېر کړي. ځکه چې د پاکســتان اکثره ګاونډیان، ایران، هندوســتان او چین تر پاکستانه ډېر غښتلي دي، پاکستان تر غوړونو پورې په پورونو کې ډوب دی، د پوروړي ســـړي مې لا ملکي لیـدلې نـه ده. دا واقعیت دی چې افغانستان جګړې ځپلی او له پوځي پلوه کمزوری شوی. پاکستان به د لنډ مهال لپاره یو څو تنه کرایي سیا ستوال وپېري، خو دلته داسې یو ملت موجود دی چې که دولتونه، پوځونه او حکومتونه یې له منځه تللي، نو بیا هم ژوندی پاتې شوی، بېرته یــې خــپل حــکومتونه جـوړ کړي دي. د طالـبانو د مشر؛ ملا محمد عمر مجاهد په وینا، پاکستان کې دولت شته خو ملت نه شته او افغانســتان کې ملت شــته خو دولتونه یې وخت پر وخت نړېږي او بدلېږي، نو د هغه مشـوره پاکســتاني چارواکو ته دا وه چې تاســې خپل دولـــت وساتئ، ځکه که دولت مو له منځه لاړ نو ملت مو نه شـــته چې دولت راټینګ کړي او زموږ دولت که له منځه لاړ هم

شي، بیا مو هم ملت شــته دولت به بیا جوړ کړي، نو ځکه خو باید موږ خپل تاریخ وساتو.

- نو موږ یو ځل بیا پاکســتاني چارواکو ته د ملا محمد عمر مجاهد دا توصــیه ور په یادوو چې که غواړئ د پاکســتان په نامه کوم هېواد او دولت ولرئ د بل چا په کورنیو چارو کې لاسـوهنه مه کوئ. د افغانســتان جنګ انګرېزانو ته د هغوی د لویې امپراتورۍ



په ټوټه کېدو، پــــخــــواني شــوروي ته په (۹۵) ملیـارده ډالرو او د دوی د امپراطورۍ په پاشــنې او امریکا ته د (دوه ټریلیونه) ډالرو او د نړیوالې بېـــشرمۍ په قیمت تمام شــو، نو تاســود پاپړو په تولیداتو هېڅکله دلته د حاکمیت خوبونه مه ګورئ، منافقت او د نورو پر اوږه ټوپک ایښودل تر هغه وخته دوام کوي چې مقابل لوري دا منافقت او دوه مخي درک کړې نه وي، که پاکســتان ځان اصــلاح نه کړي، نو برخلیک به یې تر هغو نورو بدتر او پاشنې ته به برابر شي.

# له اوښکو ډکه بریا

| |
|---|
| دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د اکتوبر پر (۲۵) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (لړم) میاشـــتې له (۳) مې نېټې سره ســـمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

ټولو کور مېشـــتو او بهر مېشـــتو افغانانو ته دې د هېواد په دې دردمنو او ســختو شــېبو کې د کرکټ ننني ستره بریا مبارک وي.دا بریا موږ ته دا پیغام راکوي چې تر هرې ســختۍ وروســته اســاني راتلونکې ده. د کرکېټ په لوبه کې ننني بریا سره دا پیغام هم مل



دی، چې د کرکېټ مینوال باید د بایلونې پر مهال خپله خوله او خپل احســـاســـات کنټرول کړي؛ د کرکېټ لوبغاړي تحقیر او توهین نه کړي، ګټنه او بایلونه د لوبې دوه متضـــادې او حتمي خواوې دي.

څومره خوښـــي چې  په تېرو شـــلو کلونو کې د کرکټ اتلانو زموږ هېوادوالو ته وربښلې ده، نه حکومتونه او نه هم سیاسیون هېڅکله هم د دومره خوښۍ جوګه شوي نه دي.

د کرکېـټ اتلانو د افغـانســـتـان ملي بیرغ یو ځـل بیـا د نړۍ ملیاردونو وګړو ته د زرګونو رســـنیو له لارې وځلاوه، ملي سرود یې وغږاوه. له دې څخه دا ښکاري چې ملي ارزښتونه د ملت په روح او روان پورې تړلي، د حکومتونو مال او میراث  نه دی، تېر حکو مت رنـګ او نوی واکمن دی، خو ملـت د دوارو تر منځ نن خپـل ملي حیثیت وځلاوه. د نننۍ بریا او دردمنو اوښـکو په ترڅ کې دا سـتره هیله هم ځـــلېدله چې که حالات هر څومره ستونزمن او اغزن دي، خو ورو ورو نورماله بڼه خپلوي او داسې وخت به راځي چې هر څه د ملت د خوښــې او ارادې تمثیل وکړي.لږه اوســېله، یو څه جرائت او یو څه تدبیر په کار دی.

# ملي بیرغ، تدبیر، مبارزه
# او د حالاتو حساسیت

دا لیکنــه د (۲۰۲۱م) کـال د اکتوبر پر (۲۷) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (لړم) میاشـــتې له (۵) مې نېټې سره ســمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

ملي بیرغ د ټول ولس مشترک ویاړ او ملکیت دی، حکومتونه یې د پالنې او ساتنې مسولیت لري، سیاستوال یې پر درناوي مکلف دي، هېڅوک حق نه لري چې د هېڅ ډول زور او جبر د کارونې له لارې ملي ارزښتونه توهین او پالونکي یې د خپلې لارې بدلولو ته اړ کړي. د هغو سیاستوالو برخلیک تر ټولو بدتر دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته په سپکه سترګه کتلي دي.

اوس چې د سپین بیرغ تر سیوري لاندې نوي واکمن واک ته رسېدلي دي، د دوی په لیکو کې د ملي بیرغ پر وړاندې ځینې حساسیتونه، مصلحتونه او نزاکتونه رامنځته شوي دي، خو دا ټول ترکیب او مسیر تر اوسه پورې عملاً داسې تعبیرېږي چې نوي واکمن خپل بیرغ، چې دوی یې اسلامي او محمدي بیرغ ګڼي، غواړي او له پخواني ملي او دولتي بیرغ سره مخالفت څرګندوي.

د ملي بيرغ د توجيه لپاره پوره ديني، قانوني او منطقي دلا يل شــته، خو دا دلا يل بيا هغه وخت عملي بڼه خپلولای شي چي په هېواد کې جنگي فضــا خپل ځای څه ناڅه نورمال او قانوني حالت



ته پرېږدي. اوس چې په هېواد کې لا هم حالات اضــطراري دي او هدف هم مهم دی، نو په داســې يوه پېچلي او کړکېچن حالت کې څه کول په کار دي چې يار هم و نه رنځېږي او لعل هم تر لاســه شي !؟

دلته غواړم يو څو لارو چارو او وړانديزونو ته په لنډيز سره اشاره وکړم:

۱-تدبير: ملتپال او هېوادپال افغانان په بنــه دريځ کې نه دي، نه زر لري او نه زور، د جمهوريت په نامه د ټاميانو او لنډغرو يو مزخرف ايتلاف هم د ر بنتيني ولسواکۍ او جمهورت په مخ کې ډېر

ګلشالي دوړولي، دلته اوس هر سوله ييز او ملي لاريون نه يوازې د واکمنو له يوې قهرجنې څپې سره مخامخېدلی شي، بلکې دا ډول يو ملي حرکت د ځينو غرضي کړيو له خوا په اتو مات ډول د تېر حکومت له فاســدو کړيو سره تړل کېږي او د ځپنې لپاره يې پوره اسـباب برابرېږي، نو د ملي داعيې د پلويانو لپاره دا مهال په کار ده چې له پوره تدبير او زغم څخه کار واخلي، د شعاري او احساساتي خبرو او څرګندونو پر ځای له نويو چارواکو سره د خبرو او منطقي تفاهم له لارې پرمخ لاړ شي. په نويو چارواکو کې هم يو شــمېر داسې کسان تر سترګو کېږي چې د ملي بيرغ له ملي داعيې سره نه يوازې مخالف نه دي، بلکې همنظره او ملاتړي يې هم دي. نو هر ډول ټکر د دواړو خواوو په زيان پرېوزي. طالب چارواکي ادعا لري چې د دوی دا سپين بيرغ اسلامي دی، موږ وايو افغانان خو د اسلامي بيرغ مخالفت نه کوي، دا خو اسلامي شو، هغه ملي بيرغ چې هر ملت يې لري هغه بيا کوم دی ؟ موږ همغه بيرغ غواړو چې اوس نه شته او له دې شته سره هم د چا څرګند مخالفت نه شته . نويو واکمنو ته بايد دا تلقين شي چې د ملي بيرغ له پلويانو سره د مخالفت پر ځای بايد خپله ټوله پاملرنه د داعش او لنډغرو پر وړاندې پر مبارزې متمرکزه کړي او د نړۍ په کچه د خپل حکومت د رسميت پېژندنې بحران حل کړي. ملي بيرغ په خپله په دې برخه کې له نوي حکومت سره يو مرستندوی عنصر ګڼل کېدی شي.

**۲ -مبارزه:** ملي عناصر باید خپلې مبارزې ته دوام ورکړي، خو دا مبارزه باید ډېره نرمه، ملایمه، منطقي، قانوني او له هر ډول خشــونته لرې وي، که ملي مبارزین یو ځل له نویو واکمنو سره د تفاهم له لارې په دې باب یو ملي بحث ته داخل شــول، نو پوره یقین دی چې له ډېرې ځوربدنې او وینې تویېدنې پرته به خپل



هدف ته ورسېږي. څومره چې نوي واکمن یوې قانوني پروســې ته داخلېږي، هماغومره د ملي بیرغ په شمول نورو ملي مسلو ته په ښه توګه ور رســېدی شي. هدف دا دی چې مبارزه باید جاري وســاتل شي، خو نرمه، سوله ییزه او منطقي مبارزه.

**۳ -د حالاتو حســاســیت:** له ملي بیرغ او ملي مسایلو سره چې یو واټن، تضاد او حساسیت له ځینو نویو چارواکو او د هغوی د پوځي لیکو له ګڼ شــمېر سرتېرو سره شــته، هغه دا دی چې دوی

تصور کوي، تر همدې درې رنګه بیرغ لاندې پر موږ بمبارد شوی، موږ وژل شوي یو، فراري شوي یو او بیا مو تر خپل همدې سپین بیرغ لاندې قرباني ورکړې، نو اوس ولې له خپل دې سپین بیرغه تېر شو او هغه درې رنګه بیرغ ومنو؟

دلته باید رښتینی او سم پوهاوی رامنځته شي؛ دوی ته باید وویل شي چې تاسې ملي بیرغ نه وژلي یاست او نه یې هم رټلي یې، تاسې خو هغه چا وژلي او رټلي یاست چې هغوی سره خپله و سله وه او خپل بیرغ او له ډېر لرې ځایه درېسې راغلي وو او کوم اصلي کسان چې په کور دننه ورسره ملګري وو، هغوی هم تر هر چا زیات د دې درې رنګه ملي بیرغ مخالف وو: ایا جمعیت او نظارشورا همدا ملي بیرغ غوښته ؟ وحدت حزب د دې بیرغ پلوی و؟ لنډغرو او نورو راټاله شویو جنګسالارانو همدا ملي بیرغ غوښته؟ هغوی د ټول هېواد او ټول ملت له ملي هویت سره مخالف وو، نو ملي بیرغ خو یې یوه برخه وه. ټامیانو خو نه نسب درلود او نه یې ذات معلوم و، هغوی نو بیا له دې ملت او ملي بیرغ سره څه رواني رابطه درلوده؟ د کرزي صیب او غني صیب په ټوله شلکلنه واکمنۍ کې په سوونو ځله ملي ارزښتونو ته سپکاوی وشو، ملي بیرغ ته څو ځله د همدې لنډغرو له خوا اور واچول شو، هرې ډلې یې خپل خپل بیرغ درلود، نو که په هغو واکمنو کې دومره متره وای، د هغو لنډغرو مخه به یې نیولې وای؛ د جنګسالارانو او لنډغرو مشرانو به ټول ملت ته کنځلې کولې، خو دوی به ورته د اتلانو لقبونه ورکول او د مارشالۍ په رتبو به یې نازول.نویو واکمنو ته په کار دي چې ملي بیرغ او ملي هویت له جنګسالارانو او د غني له ټامیانو سره د نامنطقي رابطې په ټس کې زیانمن نه کړي. د ملي هویت او ملي بیرغ له پلویانو هم هیله کوو چې په تدبیر او ژورتیا، ټامیان، لنډغر

او یا د هغوی ګډ ترکیب د ملي بیرغ له داعیې لرې وســـاتي. هغه مبتذل ترکیب خو جمهوریت لـه ګړنګونو ګوزار کړ، اوس غواړي زموږ د ملي هویت لـه زاویې څخـه پر نویو واکمنو خپلې زړې او وروستې عقدې ســړې کړي ؟ نه ښـاغلو مهرباني وکړئ تاســې د خپلو غلاوو، غدیو او عیاشیو حساب او کتاب ورکړئ، ملي هویت او ملي بیرغ خپـل وارث تـه پرېږدئ؛ افغـان ولس د خپـل هویـت ســاتندوی او پالندوی دی. د هغوی چې خپله هویت معلوم نه دی، هغه به په کومه متره د ملي هویت ننګه وکړي؟

**۴-نتیجه:** زه هم د یو شمېر نورو افغانانو په شان هیله من یم او فکر کوم چې نوي چارواکي د حالاتو نزاکت او حســاســیت ته متوجه دي؛ اکثره یې نه غواړي ځان د ملت د عامې څپې په مقابل کې ودروي، خو دوی هم یو څه خفیف او شــدید مجبوریتونه لري، اټکل کېږي چې د یو څه وخت په تېرېدو سره به په دوی کې د سختو افکارو پلویان یو څه نرم شي او د ولس او همدارنکه په نظام کې د موجودو ســمونپالو چارواکو منطق ته، چې هم د دوی او هم د ټول ولس په ګټه دی، غاړه کېږدي. لکه څنګه چې یې د پاســپورت او تذکرو وېش د وخت او ملت ضرورت وګاڼه، دغسې به د ملي بیرغ داعیه هم ومني.

مبارزه به هم کوو، اوسېله به هم کوو او له تدبیر څخه به هم کار اخلو. انشاالله چې خپل ملي ارمان ته به رسېږو.

# پکه دا دې لا بله سپکه

> دا لیکنـه د (۲۰۲۱م) کـال د ډیســمبر پر (۲۰) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (لیندۍ) میاشتې له (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د یو ملک واکمنو چې اویا کاله په منافقت کې ژوند کړی وي او خپل ملک یې هم د منافقت پر بنسـټ رامنځته شـوی وي، له هغو څخه د خیر طمع لرل سیاسي جهالت دی. اساساً ټولې هغه افغان سیاسي ډلې چې په پاکستان کې رامنځته شوي او د افغانستان په باب ټولې هغه غونډې چې په پاکسـتان کې جوړې شـوي، هېڅکله یې افغانســتان ته خیر نه دی رســولی. د مذهب په جامه کې د افغانسـتان د ورانۍ یو سـیاسي فورمول له اویاوو کلونو راهیسـې را روان دی. اوس نو خبره د سـپینسـترګۍ وروسـتي حد ته رسېدلې ده. یو ځل مخکې د همدې پاکســتان یو صــدراعظم ( لیاقت علي خان) هم د افغان مېرمنو او افغان کلتور پر وړاندې همداســې یوه سـپوره او ترخه ژبه کارولې وه، خو هغه وخت د یو افغان اتل (ببرک خان ځدراڼ ) یو زړور زوی (سیداکبرخان) په هغه غونډه کې حاضر و، کله چې یې پـه خپلې تومـانچې لیـاقـت علي خـان پر تنـدي

وویشــت، نو د درېیمې ترخې خبرې مجال یې ورته په ســتوني کې وچ کړ.اوس نو هغه حال او احوال نه دی، افغانســتان د خپلو سـیاسـتوالو د سـیاسي تېروتنو له امله دومره منزوی شـوی چې په (۵۲) اسـلامي هېوادونو کې یې هم څوک د یو غړي مسـلمان هېواد



او دولت په توګه په رسـمیت نه پېژني. هغه هېواد چې د اسـلام په نا مه یې د هر کور له پنځو غړو درې قر باني شــوي، بیا هم په اسلامي نړۍ کې د مسلمان په توګه خپل ځای نه لري.

کاشـکې په دې غونډه کې د سـیداکبرخان په څېر یو څوک وای چې عمران خان یې د لیاقت علي خان پر برخلیک اخته کړی وای.

خو موږ د زمانې توپانونو دومره ومروړلو چې اوس نو د خپل وخت یو مدام الخمر هم زموږ پر کلتور خبرې کوي، هغه شـــخص چې نه کلتوري مطالعه لري، نه دیني او نه هم د افغاني ټولنې پر ټولنیز جوړښـــت، مدني بهیر او تاریخي شـــالید خبر دی، هغه هم اوس غواړي د افغاني ټولنې د تصویر تعبیر نړۍ ته وړاندې کړي. عجیبه خبره ده هغه هېواد چې لا تر دې دمه د توغندیو لپاره د خپلو سـړیو نومونه نه لري او د ښـــوونځیو لپاره د تاریخي مېرمنو، هغوی اوس نړۍ ته زموږ د تصویر انځور ګران دي.دا حالت زموږ د هېواد د تېرو شلکلنو او اوسنیو واکمنو د متواترو تېروتنو د ګډ ترکیب نتیجه ده.

هغه نسـلي پښـتانه چې په لر کې د پنجاب او په بر کې د فارس د کلتور په بطن کې حل شـوي او دل شـوي دي، هغوی ټول عمر د خپل پښت پر لمن تور داغ وو او د پښتنو تر ټولو لوی د ښمنان ګڼل کېږي، نصـــیرالله بابر او همدا عمران خان یې هلته یو دوه مثالونه دي او دلته یې هم د مثالونو کمی نه شته.

# د منني او قدرونې يو لايق
# او مستحق انسان

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۱م) کال د ډيسمبر پر (۲۴) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (مرغومي) مياشتې له (۳) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

داکټر منقادالرحمن رودوال زموږ د هېواد يو علمي کادر دی. رودوال هم فرهنګيالی دی، هم فرهنګپال، هم روغتياپال دی او هم هېوادپال. پوره دېرش کاله کېږي چې ډاکټر رودال علمي او فرهنګي ډګر ته عملي او علمي خدمت کوي. رودوال اوس د سره صليب له نړيوالې کمېټې سره کار کوي.درې څلور مياشتې کېږي چې د هېواد روغتيايي سکتور له سختو ستونزو سره مخ و، ان د ړنګېدو او پاشل کېدو وېره يې وه، خو رودوال چې له نږدې يې دا خطر او تر هغه وروسته بشري غميزه احساسوله، خپل هوډ باينلود، دوه مياشتې يې له خپلو کورنيو او بهرنيو همکارانو سره متواتر کار وکړ او په پای کې يې هغه ميکانيزم ته لاره اواره کړه چې نړيواله ټولنه او د هغې اړوندې مرستندوی ادارې کولای شي له هغو بنديزونو او

حقوقي کړلېچونو واوړي چې افغانســتان ته د مرســتې رســونې په برخه کې موجود وو. دې ادارو دې حقوقي ســتونزو او نورو بنديزونو ته حل لاره پيدا کړه او د افغانسـتان (لس زره) روغتيايي کارکوونکو



ته يې د معاشــونو او ياد ســکتور ته يې د روغتيايي خدمتونو او مرســتې رســونې زمينه برابره کړه. په دې ډول د هېواد روغتيايي سکتور تر يو وخته له بېړني سقوطه وژغورل شو.

نن د ډاکټر صـيب رودوال کور ته په همدې خاطر ورغلم چې له ده څخه ځانګړې مننه وکړم، کور وداني ورته ووايم او همدا راز ده ته دا يادونه وکړم چې په هېواد کې او له هېواد څخه بهر د سره صليب مشرتابه او ټولو هغو اشخاصو او موسساتو ته، چې افغان ولس ته يې په دې ســختو شرايطو کې د دا ډول انســاني مرســتو زمينه برابره کړې ده، د خپل ولس د مننې پيغام ور ورسوي.

کله چې یو هېواد د یو نړیوال ځواک او په تېره بیا د نړیوالو سازمانونو له بندیزونو سره مخ شي، نو ډېره سخته ده چې مرستندویه ادارې دې په دومره لنډ او تنګ وخت کې داسې مرستو ته زمینه برابره کړای شي، نو ځکه خو ټول هغه افراد او ادارې چې په دې کار کې یې له دقت، منطق او سرعت څخه کار واخیست او د مرستو د لېږد بهیر ته یې لاره اواره کړه، د قدردانۍ او کور ودانۍ وړ دي.

موږ له نړیوالې ټولنې څخه نوره هیله هم لرو او یادونه کوو، چې د حکومتونو او سیاستونو په نوم دې افغان مظلوم ولس نور نه ځوروي، دا ولس مظلوم دی؛ ازار لري، څوک چې د دې ولس ازار وهلي بیا نه دي رغېدلي، خو که چا د وروري او مینې لاس ورکړی، نو دوی یې په سرېتوب عوض ورکړی دی. هر نړیوال زبرځواک افغانانو سره خپله دوښمني او تربګني تجربه کړې، اوس د دې وخت دی چې له دې ولس سره مینه، لاسنیوی او دوستي هم تجربه کړي!

# د سیاسي لیکنو اخلاق

دا لیکنــه د (۲۰۲۱م) کـال د ډیســـمبر پر (۳۱) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کـال د (مرغومي) میاشـــتې لـه (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

سیاسي لیکنې د ادبي لیکنو په شان نه دي چې تخیلي او هنري برخه یې درنه وي، ســـیاسي لیکنې باید د عیني واقعیتونو، ثبوتونو او کـــله کـــله د سیاسي ریاضي او ساینسي تجربو پر دلایلو ولاړې وي. ډېر ځله باید د شخص هغه شخصي عملونه یا خصلتونه، چې له ســیاسي پېښـو سره تړاو لري هم په ښــه ډول تحلیل او وارزول شي. څوک حــق نــه لــري چې د یو چا شخصي حریم ته ور داخل شي، یو لیکوال حق لري چې د سـیاسي شـخص د ژوند هغه برخه وڅېړي چې د ده له ســـیاسي چلند سره مســـتقیماً اړیکي لري، که څوک د یو چا سـیاسي شـخصـیت هم ارزوي حق لري، خو اخلاقي پولې باید ړنګې نه کړي. خو اوس زموږ په ټولنه کې دوه طبقې خلک تر ټولو زیات دي: یو کرکټپوهان او بل ســـیاســـتپوهان. کله چې د کرکټ لوبه بایلو، نو بیا له یوې مخې کرکټ ټیم ته کنځلې شروع شي، نیم ولس مو کرکټپوهان او کرکټشــنونکي شي، خبره دومره

تـرخه شـي چې د کرکټیانـو شخصي حریم ته ورننوزي او د هغوی ټولې بریاوې د سـترګو په رپ کې تېرې او هېرې کړي، خو کله چې کرکټ ټیم بریا تر لاســه کړي بیا نو دوی د خوشــالۍ په څپو کې دومره ډوب شي چې د خپل ټیم څرګندې نیمګړتیاوې یې هم له یاده ووځي.

په ســیاسي ډګر کې هم همدا حال دی، په افراطي بڼه د یو چا ســتاینه او په معکوس ډول د یو چا غندنه، اوس زموږ د ســیاسي لیکنو کلتور دی.هر څوک سیاستپوه او هر څوک سیاستوال دی. د دې ډول خلکو اکثرو لیکنو ته چې وګورې، نو د املا او انشــا معیار خو یې څه کړې چې د لیکوالۍ له ابتدایي اصــولو هم خبر نه دي، خو مســله به یې ډېره غټه رانیولې وي. څرنګه چې ســیاسي منطق یې کمزروی وي، د دلایلو له فقر او معلوماتي خلا سره مخ وي، نو یو دم کنځلو ته اړم شي، کنځلې نو دلته د اکثرو دې ډول لیکونکو د خبرو منځپانګه جوړوي.

په دې تېرو څو کلونو کې د دې ډول لیکنو او ویناوو کلتور عام شوی، چې یوه بېلګه یې د ډاکټر اشرف غني په مشرۍ د جمهوریت په نامه او یا د هغه تر چتر لاندې د یو ایتلافي حکومت تر ســقوط وروســته د ځینو کســانو تر منځ په مجازي نړۍ کې ترخې او تروې نانددرۍ دي. په تېره بیا په دې دوو ورځو کې د انګلســتان له لوی درســتیز سره د ډاکټر غني د مرکې، یا په حقیقت کې د هغه د تفصــیلي لیکنې په باب د دوو متضــادوو خواوو افراطي څرګندونې. دې نظریاتو کې دومره افراط او تفریط لیدل کېږي چې له ورایه په

کې د عقل په پرتله د سیاسي لامنطقي څپې څرګندېږي. حقیقت خو دا دی چې غني خو څه ملایکه نه ده چې هېڅ خطا او ګناه دې و نه لري، که دی کومه فرښته وي، نو بیا یې د دې فرضیې مطابق څه کول چې سیاست ته یې دانګل؟ له بل پلوه غني بیا دومره ګناه ګار هم نه دی چې په خپله ټاکل شوې ساحه، سیاسي چاپېریال او د واک په زماني او مکاني محدوده کې یې دې وطن ته هېڅ هم نه وي کړي. زما په فکر غني او د هغه تر وزره لاندې کاري ټیم کې



نیمګړتیاوې هم وې او تر یو حده یې بریاوې هم لرلې چې په دې لیکنه کې یې لنډه یادونه کېږي، خو مخکې تر دې چې د غني د حکومت ښېګڼو او بدګڼو ته لاړ شو، ښه به وي چې د ده د شخصیت پر بېلابېلو خواوو هم یو څرګنده نظر واچوو، ځکه چې د ده د شخصیت دا اړخونه د ده د حکومت له کړیو کارونو سره تر یو حده مستقیم تړاو لري:

ډاکټر غني، نږدې څلور لسیزې له خپل وطنه لرې پاتې شوی و، مېرمن یې هم بهرنۍ وه او اولادونه یې هم بهر کې زېږېدلي وو؛ په

واقعیت کې سل په سلو کې له دې وطنه پردي وو، ده خپله هم په دې موده کې ډېر افغاني خصوصیتونه بایلولي وو، ان خپله ژبه یې هم ډېره کمزورې شوې وه، په دې مانا چې کومه تېزه، خوږه، تېره او پسته ژبه چې د یو سیاستوال لپاره په کار ده، هغه ژبه ده سره نه وه، د ده د لیک او وینا لومړۍ ژبه انګلیسي وه، کله چې به یې په پښتو خبرې کولې، نو انګلیسي مفاهیم به یې په ذهن کې په انلاین ډول پښتو ته رااړول، په همدې خاطر یې هغه مفهوم پښتو کې نه شو افاده کولای چې ده غوښته مخاطب ته وړاندې کړي، ځکه به یې د وجود د غـــــړو ژبه ( باډي لنګوېج) د وینا له ژبې سره واټن درلود، لا سونه به یې خوځېدل خو غږ به یې ورو سته ورسره ملګرې کېده، د حرکاتو او غږ تر منځ یې لږ تر لږه یو دوه ثانیې واټن و، نورمال وګړي دومره واټن نه لري. غني عملي سیاست ته تر داخلېدو وړاندې یوه اوږده فزیکي ناروغي زغملې وه، دې ناروغي د ده اعصاب کمزوري کړي او اوسېله یې ورته ټیټ حد ته رسولې وه، ان تر دې چې د عادي اجتماعي نزاکتونو او کلتوري اخلاقو د مراعتولو تاب یې نه درلود. غني د خپلې ټولنې له دودیز حوړښت سره کلتوري واټن هم پیدا کړی و، د افغاني ټولنې د سیاسي او مذهبي جوړښت او په تېره بیا د دې زمانې د سیاسیونو له اړواپوهنې سره پوره بلد نه و، طبیعي متحدین او غوړه مالان یې سم نه پېژندل .پر ځان ډېره غره وه، د ځان پر ستاینه نه مړېده، د قدرت او شهرت هم ډېر شوقي و، قومي او ملي شخصیتونو او هغو خلکو سره یې چندان جوړه نه وه چې څه ناڅه ولسي بېز یې او علمي

منطق یې درلود او بیـا د ده د ځینو نـامعقولو خبرو د رد ځواک یې درلود، رواني توازن یې هم یو څـه کمزوری و، دویمې خبرې سره یې د اواز تون بـدلېـده، پر مجـازي نړۍ یې ډېره ډه ډه لګولـه، د ځمکنیو واقعیتونو په اړوند یې هوایي دهلېزونو ته پاملرنه زیاته وه، بې نسبه، بې ریښې او غوړه مال خلک یې ډېر خوښېدل، په تېره بیا داســـې کســـان چې دی ورته کنځلې وکړي او هغوی بیا بېرته په سرټیټۍ او خندا غبرګون وروښـــيي، له یوې مخې یې نږدې ټول هغه کسان یو ځل یا څو ځله دګلي او کنځلي، چې ده سره یې نږدې کار کاوه او ده ته نږدې کســـان ګڼل کېدل، هغوی ته ده سره کار کول او د خپل مقام ســاتل ان د ناموسي کنځلو په بیه تمام شــوي دي.ډاکټر غني اساساً یو ښه سیاستوال نه و، خو یو ښه سیاستپوه ګڼل کېدی شي، عیناً د پوهنتون د اقتصاد پوهنځي یو استاد چې د اقتصــــاد درس ورکوي، خو خپـل اقتصــــاد یې تر ټولو کمزوری وي.اشرف غني د یو ســیاسي کادر په اړوند یو ښــه علمي کادر و، پخوا یې هم د ډېر سـخت سـیاسي مزله تجربه نه وه څکلې، نه یې د چا تندی مات کړی او نه یې خپل تندی په چا ټکلی و، چې دلته د دې ټولنې د سیاست یوه ځانګړنه وه، ډېر عمر یې په کاري او علمي محیط کې تېر کړی دی. دا د ده د شــخصــیت نیمګړتیا نه ده، خو زموږ د ټولنې له ســیاسي چاپېریال څخه د لرېوالي په مانا ده. نورې نیمګړتیاوې به هم لري چې دلته یې یادول ضروري نه برېښــي، خو له دې نیمګړتیاوو سره سره پوښـــتنه دا ده چې غني کې نو کوم کمال و، چې دا نیمګړتیاوې یې وروپوښـلې او تر خپلو ســیالانو یې

وړاندې کړ؟ اشرف غني د نړۍ په لومړۍ درجه تمدني حوزه کې را لوی شوی، هلته یـې عـصري علوم زده کړي وو، نړیوالو اقتصادي مراکزو کې یې کار کړی و، د نړیوالو پر ژبه او نزاکت پوهېده، علم، پوهه او تجربه یې نوي (اپډېټ ) وو، د متواتر کار اوسـېله یې لرله، د خبرو پر مهال یې د وخت نزاکت پـه پام کې نیوه، نه یې مخاطب ته تر حده زیات وخت ورکاوه او نه یې ځان ته، هېواد سره یې فردي مینه لرله، د ابادۍ ســخت مینوال و، د الفاظو په انډول یې د علم زېرمه زیاته وه، ځینو وختونو کې یې ســیاسي جرئت هم لاره، پر نړیوال ستېج یې د خپل هېواد ښه ا ستازولي کولی شوه، د نړۍ د مـــشرانـــو په غونډو کې د ګډون پر مهال پرې افغانانو ویاړ کولای شـو، د وطن له اقتصـادي ښـېرازۍ سره یې مینه وه او ګڼ شـمېر نورې ښــېګڼې چې ضرور نه ده ټولې په دې لیکنه کې راشي. همدا ښـېګڼې وې چې د ده د شـخصـیت کمزورې برخې یې لـــــه عامه ذهنیت څخه تره یوه حده پټې کړې وې.

که غني هر څومره نیمګړتیاوې او ښــېګڼې درلودلې، حقیقت دا دی چې یو خاص حالت او چاپېریال د دې سبب شو چې ډاکتر غني واک ته ورسي. رښــتیا خبره خو دا ده چې نه کرزی صــیب او نه ډاکټر صـیب غني د ولس د طبیعي بهیر له لارې واک ته رسـېدلي دي، امریکایانو د طالبانو نظام ختم کړ، له غربه یې خپل ملګري راوســتل، د ټاکنو لپاره یې نســبي شرایط برابر کړل، یوه خوا د شمالټلوالې کاندیدان وو، چې اقـلیت مـحوره پالیسي یې لرله او بله خوا دوه واره کرزی او دوه ځلې غني نوماندان شــول، څرنګه چې

کرزی او غني دواړه اکثریت پښتنو ته منسوب وو او فکر یې هم د ټلوالې د نوماندانو په اندول پراخ و، نو ځکه دوی د ټاکنو ګټونکي شول، ټاکنې که پاکې وای او که ناپاکې وروستۍ نتیجه یې همدا راوتله، د اکثریت نړیوالو او د اکثریت هېوادوالو وروستۍ غوښتنه او دکار نتیجه همدا وه، که د کرزي او غني پر ځای بل هر پښتون کاندید هم پر همدې دریځ ولاړ وای، د ټاکنو نتیجه به همداسې وای، کېدی شي د دوی خپلو مهارتونو هم یو څه رول لرلی وي، خو پښتانه د جبري مجبوریت پر داسې یوه کر ښه ولاړ وو، چې له دې مجبوریته دې کاندیدانو د موقتي او تصنعي محبوبیت په توګه کار واخیست او بیا درباري غوړه مالانو دوی ته داسې تصور ورکړ چې ګنې دا ولس د زړه لـه کومې ورسره مینـه لري. ډاکټر غني چې جمهور رییس یا ولسمشر شو، نو ولس او یا یې واقعي استازي له واک او ارګه بهر پاتې شول او دی ارګ ته داخل شو، کله چې دی له ولسه لرې شو او بیا چې د واک په پای کې پر ده سخته راغله، نو دی له وطنه بهر شـو او ولس په وطن کې پاتې شـو.غني له ټولو مشـکلاتو او نیمګړتیاوو سره سره نږدې اوه نیم کاله حکومت وکړ، په دې بهیر کې د بل هر واکمن په شـان ګڼې نیمګړتیاوې هم لري او ګڼې بریاوې هم، چې دلته ورته په لنډیز سره اشاره کوو:

## الف- نیمګړتیاوې:

**۱-ایتلافي حکومت:** تاریخي جبر، بهرنی فشـار، د ده او یا د ده د ټیم کمزوري، هر څه چې وو،دا ټول د دې سـبب شـول چې د ملي وحدت په نوم یو مزخرف ترکیب رامنځته او دا ترکیب بیا د دې

لامل شي چې نورو ناخوالو ته لاره اواره کړي. زه ویاړ کوم چې ما پر همغه وخت د دې ترکیب مخالفت وکړ او له غني مې خپله لاره جلا کړه، ما که څه هم تر ټولو غني ته زیات کمپاین کړی و، خو غني ته مې ویلي وو چې که ټاکنې مو وګټلې واحد او مستحکم حکومت جوړوو، که مو بایلولې اپوزیشن ته ځو، نه بل چا سره ایتلافي حکومت جوړوو او نه په ایتلافی حکومت کې ونډه اخلو، ده دا ژمنه کړې وه خو بیا یې د ژمنې خلاف کار وکړ.

**۲-له اساسي قانونه سرغړوای:** په سوونو څه چې په زرګونو ځله اساسي قانون تر پښو لاندې شو او خپله جمهور رییس تر هر چا زیات تر پښو لاندې کړ.

**۳ -غوړه مالي :** غوړه مالي د دربار د کلتور یوه اساسي برخه شوه، هر باشخصیته افغان چې دا رزالت یې نه کاوه، د حکومت له اساسي مقامونو لرې ساتل کېده.

**۴-فساد او مافیا:** د دولت اکثره اقتصادي رګونه ډول ډول اقتصادي او سیاسي مافیاوو نیولي وو او د ډېرو مثبتو پرمختیاوو مخه یې ډب کړې وه.

**۵-جنګسالاران او لنډغر:** د حکومت یوه غوښنه برخه له غلو، لنډغرو او جنګسالارانو جوړه وه، هم یې حکومت خوړ او هم یې د حکومت مخالفت کاوه، هېڅ ډول مسوولیت یې نه مانه، خو له صلاحیته یې خوند اخیسته.

٦ -ټامیان او پردیپال: یو ډول مخلوق چې د ټامیانو په نامه یادېده لــه غربه نازل شوی و، دوی پــه حــکومت کې پراخ اخلاقي فساد او له هېواده د پانګې فرار ته لاره اواره کړه او ګڼ شمېر وطني کادرونه یې له دندو لرې کړل.

۷-جګړه او ناامني: په قصدي ډول د سولې مخالفت کېده، په پښتون مېشتو سیمو کې جګړه جاري ساتل کېدله او د مخالفینو په نامه پرحکومتي دندو د پښتنو کادرونو د ګومارنې مخه نیول کېدله.

۸-ملي پوځ: سره له دې چې په امنیتي ســکتور کې یو څه ســمون راغی، خو د دربواړو امنیتي ارګانو اکثره مســولین د جمعیت او نظار شــورا غړي وو، د وطن په انډول تنظیمي ګټو ته ډېر ژمن وو.

۹-اغزن تار: د پاکســتان له خوا په ډېره بې شرمۍ پر ډیورند کرښــه اغزن تار تېر شــو، خو حکومت یې نه په نړیواله او نه هم په کورنۍ کچه پر ضد کوم غبرګون ونښود.

۱۰-کنځلماري: کنځلــــماري هم د غني د حکومت د اخلاقي کمزورۍ او پټې پالیســۍ یوه برخه وه، په مجازي نړۍ کې به د دولت په امکاناتو هر باعزته افغان ته له نومپټو ادرســونو کنځلې کېدلې، نن چې په مجازي نړۍ کې د کنځلو کوم کلتور دود دی دا تر ډېره بریده د غني د حکومت د عملونو زېږنده ده.

د دې تر څنګ د (( جندر او جوان سازۍ )) په نوم نور ګڼ شمېر مرضــونه د دولت رګو ته ننوتل چې نه یې زموږ له کلتور سره اړخ لګاوه، نه د وخت تقاضــا وه او نه د ټولنې لومړیتوبونه او همداســې نورې نیمګړتیاوې پسې حسابوه.

## ب- برياوې:

له دې ټولو ستونزو او مشکلاتو سره سره ځينې پرمختګونه او برياوې هم وې چې دلته ورته په لنډيز سره نغوته کوو:

**۱-ابادي:** د جګړې او ورانۍ تر څنګ ابادي هم روانه وه، چې داوبو او برېښنا بندونه او د ګڼ شمېر تاريخي ودانيو بيا جوړونه يې څرګند مثالونه دي.



**۲-علمي مرکزونه:** که څه هم د علمي کدرونو فرار تم نه شو، خو په زرګونو دولتي او په سوونو خصوصي ښوونځيو خپل فعالت ته دوام ورکاوه، همدارنګه ګڼ شمېر دولتي او خصوصي پوهنتونونه هم فعال وو.

**۳-اقتصادي وده:** که څه هم جګړو اقتصادي وده کمزورې کړې وه، خو له وروستي کاله پرته په نورو شپږو کلونو کې اقتصادي وده تر درې سلنې پورته وه، د اسعارو زېرمه له (اته مليار‌دو) ډالرو څخه (نهه نيم ملياردو) ډالرو ته پورته شوه.

**۴-نړیوا له پاملرنه:** د غني په واکمنۍ کې که څه هم د تېرو کلونو په انډول اقتصادي مرستې کمې شوې، خو بیا هم افغانستان له سیاسي انزوا سره مخ نه شو، نړدې سلو نړیوالو سازمانونو دلته کابل کې استازولۍ لرلې او افغانستان د نړۍ تر اقتصادي پوښښ لاندې و.

**۵-ملي او تاریخ هویت:** په تېرو اوو کلونو کې دې برخې ته ډېره توجه شوه، د ازادۍ ورځې په شاندارو مراسمو جوړې شوې، د ملي بیرغ ورځ تسجیل شوه، د ملي هویت تذکرې ووېشل شوې او په ځوان نسل کې ملي روحیه پیاوړې شوه.

**٦-د تدارکاتو مرکزي کول:** سره له دې چې په تدارکاتو کې هم د فساد پوره شواهد شته، خو تر هغه حالته ښه شول چې پخوا وو، دلته تر یوه حده د هغو دولتي او نادولتي جنګسالارانو د فساد مخه ونیول شوه چې پخوا په دې کار کې را ټاله وو، ګڼ شمېر هغه شرکتونه تور لېست ته واچول شول چې په مافیایي کړیو پورې تړلي وو.

**۷ -رسنیزه او مدني ازادي:** سره له دې چې ځینې رسنۍ د هېواد د ملي ګټو خلاف وې، خو بیا هم رسنیزه او مدني ازادي د خپل وخت مهم ضرورت ګڼل کېږي او پر ارزښت یې هغه وخت سړی ښه پوهېږي چې دا ازادي محدوده شي. د دې ترڅنګ نورې بریاوې هم وې چې د ټولو یادول یې دلته شوني نه دي.

**نتیجه:** که دا ټولې خبرې سره راټولې کړه، نو نتیجه او نچوړ یې دا راوزي چې که د غني په حکومت کې بریاوې تر نیمګړتیاوو زیاتې وای، بیا خو نظام دوام پیدا کاوه، له دې څخه ښکارې چې د نیمګړتیاوو تله درنه وه؛ ځکه دا اوسنی حالت رامنځته شو.دا خبره

هم مهمه ده چې وویل شي؛ تېر شلکلن حکومت پر بهرنیو مرستو متکي وو؛ د هغو له خوا جوړ شوی و، کله چې د هغوی مرستې پرې کمې یا بندې شوې، نو ژر تر ژره ړنګ شو. د غني پر ځای که بل شخص هم وای، له همداسې یو حالت سره به مخامخېده، خو دلته یو مسولیت سیاسي مشرانو ته هم راجع کېږي او هغه دا چې که دوی خپله کورنۍ دنده په ښه ډول تر سره کړې وای او په شلو کلونو کې یې د نړیوالو په دې پرېمانه مالي مرستو د خپل هېواد استحکامات ټینګ کړي وای، کېدی شي داسې یو حالت نه وای رامنځته شوی. اوس چې داسې وشول نو څه کول په کار دي؟؟

وړاندیز: د اشرف غني سیاسي فصل او باب نور ختم دی، څه یې چې له لاسه کېدل او څه یې چې وکړل هغه نور د تاریخ برخه دي، هېڅوک حق نه لري چې هغه ته سپوره او ترخه الفاظ وکاروي او یا د هغه د سپکاوۍ سبب شي او نه یې مینوال د دې حق لري چې د تېر په شان د هغه دومره افراطي ستاینه وکړي چې د هغه د مخالفینو تبر ته لاستی برابر کړي او بیا کنځلو ته اړم شي. بلکې هر څه دې خپل طبیعي مسیر ته پرېږدي. غني پرېږدئ چې تر دې وروسته د یو علمي، متنفذ شخصیت او اقتصاد پوه په توګه د هېواد په راتلونکې زرغونتیا کې ونډه واخلي، نه د یو سیاستوال په حیث.

زه وړاندیز کوم چې د هېواد د ملي، ټولنیزو او علمي شخصیتونو یوه جرګه دې جوړه شي، نویو واکمنو سره دې خبرې وشي.هېڅ لوری دې پر بل باندې کوم قید او شرط نه ږدي، غني دې د همدې جرګې له خوا په عزت سره بېرته خپل وطن ته راستون شي. نوي واکمن باید د هغه د ژوند ساتنې تضمین ورکړي او غني باید په سیاسي چارو کې د نه لاسوهنې ژمنه وکړي. غني دې له خپلې پخوانۍ ژمنې سره سم په خپل لګښت او یا هم د نادولتي مرستو

په واســطه په لوګر کې له وړکتونه نیولې تر پوهنتونه یو لوی علمي کمپلکس جوړ کړي او په تېرو شــلوکلونو کې دې د جګړې د ټولو غاړو د قر بانیانو اولادونه په دې پوهنتون کې وروزي.زه خو فکر کوم چې غني به د ســیاسي ډګر په انډول په علمي ډګر کې ډېر بریالی وي. که بیا نویو چارواکو ترې په سیاسي او اقتصادي چارو کې مشــوره غوښــتله ور دې کړي، خو فعال ســیاســت به یې تیرو تجربو ته په کتو نه ډېر ګټور وي او نه ډېر ممکن. نو ښه لاره همدا ده چې خپل وطن ته ژر تر ژره راشي او ځان، وطن او خپل مینوال د تېښــتې او فرار له دې تاریخي پېغوره خلاص کړي.خپل وطن ګل وطن دی، یوازې پاچاهي ته یې ســړی نه راځي، غم او خدمت ته یې هم سړی راځي، خدمت هم یوازې د سیاست او قدرت له لارې شــونی نه دی، له علمي ډګره هم تر سره کېدی شي.که زه د غني پر ځای وای، نو همدلته مې همدې ولس ته پوهنتون جوړاوه او ځان ته مې خپل قبر هم برابراوه، وایي چې خپل وطن کې چې د ســړي ځنکندن وي، نو روح یې په ارامه وزي. د مســاپرۍ مرګ سخت وي.

جانانه خپل وطن ته راشه!

پردی وطن د مېړو قدر کموینه

# اغزن تار باید څه وخت ټول شي؟

دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د جنورۍ پر (٦) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (مرغومي) میاشتې له (۱٦) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

له ډیورنډ تحمیلي کرښې څخه پوره (۱۲۹) کاله تېر شـول، په دې ټول زماني واټن کې لر او بر افغان ولس هېڅکله هم دا کرښه نه ده منلې، خو یو شـمېر واکمنو کله کله په دې باب چوپتیا غوره کړې او دا چوپتیا د دې کرښې د تداوم یو سبب ګرځېدلی دی. پر (۱۳۲۸ل) کال کابل کې لویې جرګې د افغان ولس اراده تمثیل کړه او ډیورنډ کرښه یې یوه جبري کرښه وبلله او پرېکړه یې وکړه چې افغان ولس او دولت ته هېڅکله د ر سمي کر ښې په توګه د منلو وړ نه ده.

تر هغه وروسته هېڅ افغان حکومت که څه هم کمزوری او لاسپوڅی به و، د دې جرئت نه دی کړی چې دې کرښې ته د ر سمي کر ښې په سترګه وګوري. په ورو ستیو پنځوو لسیزو کې د ډاکټر اشرف غني تر مشرۍ لاندې اداره هغه ایتلافي حکومت و، چې د واک په بهیر کې یې د انګرېز ځای ناستي او برګټې (پاکستان) له خوا پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار د غځولو عملي کار پیل شو، خو د غني حکومت په دې باب چوپه خوله پاتې شو، نه یې په کور دننه، د پاکستان د دې عمل پر وړاندې له ولس سره مشوره وکړه، نه یې لویه جرګه راوغو ښته او نه یې هم د سیمې او نړۍ په کچه د افغان ولس د دې برحقې داعیې غږ اوچت کړ. هغه وخت هم زموږ په ګډون یو شـمېر هېوادپالو افغانانو ډېرې چیغې ووهلې

چې حکومت باید په دې برخه کې یو جدي، قانوني او منطقي غبرگون وښيي، خو حکومتي کنځلمارو به د دې داعیې غوښتونکو ته هم په کنځلو ځواب ورکاوه. دا هم یو واقعیت و چې افغانستان




له نظامي پلوه کمزوری و، له کورنۍ جگړې سره لاس او گرېوان و او یوه بل غټ جنگ ته د ورداخلېدو توان یې نه درلود، خو د سیاسي او حقوقي منطق دروازې بندې نه وې.

هغه مهال پاکستان کې د هغوی سیاسیونو او ځینو حقوقپوهانو دا دلیل راوړ چې پر داسې غټو موضوعگانو د اړوند هېواد د حکومت چوپتیا د هغې مسلې د منلو او تائید مانا ورکوي. موږ د همدغه دلیل د بطلان په خاطر د وخت حکومتي چارواکو ته دا ویل که؛ له نظامي پلوه مو زور نه رسېږي، نو چیغه خو پورته کړئ، چې ستا سو نننۍ چوپتیا سبا د دې کربښې د منلو لپاره د یوه دلیل په توگه د افغان ولس پرضد و نه کارل شي، خو چارواکو به د (۵۰۰) بندیانو د

خوشې کولو لپاره لویه جرګه رابلله، خو پر دې موضوع به پټه خوله وو.

پاکستان له ډېرې پخوا دې کار ته لابې کوله او تیاری یې نیولی و. پر (۲۰۰۷م) کال زه امریکا ته تللی وم، هلته مې د نیسا (Near East South Asia Center) سنټر په یوه علمي سیمینار کې ګډون وکړ. د سیمینار یوه ورځ د افغانستان او پاکستان ترمنځ د مناسباتو ارزونې ته ځانګړې شوې وه، په یوه ځانګړي اتاق کې کېناستو، د پاکستان درې استازي وو او د افغانستان هم درې تنه استازي. زموږ په ټیم کې زه (یون)، (صبغت الله سنجر) او (جنرال انګار) شامل وو. د پاکستان په استازو کې د (دراني) په نوم یو کس (د پاکستان سفارت یو تن مسول) او دوه تنه نور وو. د جنوبي اسیا د ځینو هېوادونو استازیو هم په کې د درېیمګړو په توګه حضور درلود. د غونډې منتظم وویل چې دا خبرې د ثبت او نشر لپاره نه دي، (Off the Record) دي.




د افغانستان او پاکستان استازي به خپلمنځي ازاد بحث کوي، د جنوبي اسیا هېوادونو استازي او د سیمینار نور ګډونوال به ازاد او منصفانه قضاوت وکړي او په پای کې به د بحث نچوړ او نتیجه وړاندې شي.

د بحث موضوع وه، د پاکستان او افغانستان مناسبات، په دې کې د ډیورنډ کرښه او پر هغې د اغزن تار غځول مهمه موضوع وه، بحث د پاکستان د سفارت د مسوول کس (دراني) له خوا پیل شو، پر ډېرو مسایلو بحث وشو، خو کله چې د ډیورنډ کرښې ته راغی، هغه وویل چې ډیورنډ پوله د پاکستان لپاره یو منل شوی سرحد دی او دا زموږ لپاره نور د بحث موضوع نه ده، اغزن تار باید په دې خاطر وغځول شي چې افغانستان همېشه دعوه کوي؛ تروریستان له اخوا افغانستان ته را اوړي، نو که دا تار وغځول شي د تروریستانو د اوښتو او را اوښتو مخه به ونیول شي، د افغانستان پلمه به ورکه شي او دا ډول نور دلایل یې هم وړاندې کړل.

د پاکستاني هیئت خبرې تفصیلي وې، خو ما یې دا څو ټکي دلته یاد کړل. کله چې د هغوی خبرې خلاصې شوې، نو ما نوبت واخیست. ما وویل په دې خاطر چې د جنوبي اسیا د هېوادونو او په دې غونډه کې د نورو ګډونوالو معلومات یو څه زیات او اپډېټ شي، غواړم د پاکستان له موجودیته بیا تر دې دمه د پاکستان د مداخلو په باب معلومات وړاندې کړم. څه چې زما په ذهن کې وو هغه مې په مسلسل ډول توضیح کړل. د ډیورنډ د کرښې حقوقي او تاریخي شالیدمې هم ورته تشریح کړ او ومې ویل چې موږ له پاکستان سره په دې باب کوم تړون نه لرو، دا له برېتانوي هند سره د وخت د امیر (عبدالرحمن خان) یو تړون و چې د انګرېز د نفوذ ساحه یې په ګوته کوله، نه دا چې دا سیمې دې د برېتانوي هند الحاقیه وي او هغه هم پر ډېر جبر پر امیر تپل شوی دی، په مقابل کې یې برېتانوي هند امیر ته یو ډول امتیازات په پام کې نیولي وو، نو اوس دا تړون، چې تر ډېره حده شفاهي بڼه لري او په لیکلې بڼه یې د امیر لاسلیک نه دی تر سترګو شوی. پر خپل حال پاتې نه

دی، یو اســـاسي اړخ يې فوت شــوی، نو ځکه خو په اتومات ډول ملغی دی، نه یوازې دا تړون، بلکې ټول هغه نړیوال تړونونه چې د جبر او قوې د کارولو په نتیجه کې رامنځته شــوي وي، ملغی ګڼل کېږي. د اغزن تار په باب مې وویل چې دا په جبر او زور د یوه ولس بېلول دي. د برلین ډېرین دېوال يې په جبر جوړ کړ، خو یو وخت دا سې راغی چې هغه بیا همدا سې ونړول شو. دا چې دوی وایي په دې خاطر چې د ترورېستانو د اوښتو او را اوښتو مخه پرې نیسو، نو هغه خو په دې اغزنو تارونو نه نیول کېږي. که داســې کېدلای نو امریکایانو به له ټولې امریکا او په تېره بیا له نیویارکه دا تارونه تاو کړي وو، هند به له بمبي څخه تاو کړی و، چې اجمل قصـاب يې پر تاج هوټل حمله وکړه او داسې نور هېوادونه درواخله. اصلي خبره دا ده چې (تروریزم) یوه نړیواله پدیده ده چې ځینې حکومتونه يې د نورو هېوادونو د کمزوري کولو لپاره د یوې وســیلې په توګه کاروي. د (دراني) صیب له خبرو څخه موږ ته څرګنده شوه چې افغانستان کې دا دېرش کاله جګړه د پاکســتان له خوا تنظیمېږي، اوس نو که پر ډیورنډ کرښــه اغزن تار تېر شي، جګړه به بنده شي او که تېر نه شي جګړه به دوام پیداکوي. له دې خو ښکاري چې پاکستان دا هر څه برابروي، اوس له نړیوالو غواړي چې په دې پلمه پیسې ترلاسه کړي او یوې تحمیلي کرښــې ته د رســمي سرحد بڼه ورکړي. زه له دراني صـیب څخه پوښـتم چې تاسـې تراوسـه پورې د القاعدې او نورو جنګي ډلو (۳۱۵) تنه غړي امریکا ته تسلیم کړي او پیسې مو ترې ترلاســه کړي دي، دا مو ټول یا په پینډۍ، یا په اســلام اباد او یا هم په کراچۍ کې نیولي دي؛ یو مو هم د ډیورنډ پر کرښه نه دی نیولی، نو لـه کراچۍ، پېنډۍ او اســلام اباده ولې اغزن تـار نـه راتاووئ، نړیوال باید پر دې پوه شي چې افغانســتان له پاکســتان

سره ارضي ســتونزه لري، نو د بېلابېلي جنګي ډلو له لارې غواړي د افغانســتان ملي حاکمیت دومره کمزوری کړي چې هېڅکله د دې جوګه نه شي د خپلې خاورې د خپلولو ظرفیت پیداکړي.

زموږ له ترخه او تاوده بحث وروســته دجنوبي اســیا د هېوادونو اســتازو وویل، موږ د دواړو هېوادونو له تاریخي ســتونزو دومره خبر نه وو، خوله دې بحثه موږ د اســتنباط په توګه دا ویلی شــو چې افغانستان په دې مسله کې مظلوم واقع شوی، نور قضاوت نه شو کولی. زموږ ناسته پر همدې بې نتیجې بحث پایته ورسېده.

لـه دې پورتـه څرګنـدونو مې هـدف دا دی چې پـاکســتـان د افغانستان په باب ډېر بد نیت لري او په هره زماني مقطع کې د هغه د عملي کېدو لپاره هڅه کوي.

د افغانســتان د تېر حکومت کمزوري په دې کې وه، سره له دې چې له امریکا سره یې امنیتي تړون لاســلیک کړ، خو نه یې له دې تړونه او نه یې د نړیوالو له شتوالي څخه د افغانستان د ا ستحکام لپاره ســمه ګټه پورته کړای شــوه، خو برعکس پاکســتان چې افغانســتان ته د نړیوالو له بې دریغه پاملرنې او مرســتې څخه په سـخته تنګسـیا کې راګیر و، بیا هم د امریکا او نړیوالو له مرسـتې ناوړه ګټه پورته کړه، لومړی یې تر اشـغال لاندې پښــتون مېشــته سـیمو کې جنګي ډلې وروزلې، په هغو یې د پښـتنو مدني بنسـټونه وځپل، بیا یې د هغوی په پلمه له امریکا څخه مالي مر ستې ترلا سه کړې، بیا یې د همغو تصــنعي تروریســتي ډلو د ځینې په پلمه د پښــتنو کلي، کورونه او بازارونه ړنګ کړل، په دې ترتیب یې (پاټا) سـیمه هم تر خپل بشـپړ کنټرول لاندې راوسـته او ځان یې ډیورنډ فرضي کر ښې صفري نقطې ته راور ساوه، تر هغې یې هم په ځینو ســیمو کې له (۲۰) او په ځینو کې تر (۷۰) کیلو متره دې خوا ته

پښــه راواړوله او د اغزن تار د غځولو کار یې پیل کړ. ان تر هغو سیمو هم (۵۰) کیلو متره وړاندې راغلل چې تر دې وړاندې هلته د افغانستان پوځي تاسیسات موجود وو.

پاکستان پر ډیورنډ کرښــه د (۲٦۷۰) کیلو مترو په اوږدوالي د اغـــزن تار د غځولو او پر دې سربېره د (۳۳۸) پوځي چوڼیو او تاسیســاتو د جوړونې کار پیل کړ. هره ورځ یې خپلو (۱۲۰۰۰)



پوځیانو ته د کار زمینه برابره کړه او ګڼ شــمېر کارګران او کارخونې یې هم په دې کار کې مصروفې شوې. تر ټولو دردوونکې خبره بیا دا وه چې د دې ټول تار او کار لګښــت، چې نږدې (۵۰۰) ملیونه ډالره اټکل کېږي، د امریکا له خوا، چې د غني له حکومت سره یې ستراتیژیک او امنیتي تړون درلود، پرې کېږي. د افغانســتان حکومت کې دومره متره نه وه چې خپل نړیوال ملاتړي یې په دې قانع کړي وای، چې د پاکستان هدف د تروریزم مخنیوی نه، بلکې د افغانستان د تاریخي سیمو راخپلول دي. اوس پاکستان د اغزن تار ترڅنګ په داسې لوړو او ستراتیژیکو سیمو کې پوځي چوڼۍ او تاســیســات جوړ کړي او جوړوي چې تر اغزن تار دېخوا تر (۵۰) کیلو مترو زیاته ســاحه تر څار او اور لاندې نیولی شي. اوس چې

نوی حکومت راغلی، د دوی اړوندو ســـیمه ییزو پوځیانو په ځینو ســـیمو کې اغزن تار راټول کړی او په ځینو کې یې د تار د غځولو مخنیوی کړی دی. ولس هم د دوی د دې کار ملاتړ کړی دی. د نوي حکومت پر چارواکو که څه هم د دوی د مخالفینو له خوا دا تور دی چې له پاکستاني ادارو سره اړیکي لري او دا کار یې ((نمایشي)) بڼه لري، خو دلته چې ســـړی ظاهر ته ګوري، نو د دوی دا هڅه یو ملي کار ګڼل کېږي او شرعي حکم هم همدا دی چې شرعه ظاهر ته ګوري. د افغان ولس هیله هم همدا ده چې اغزن تار باید ژر تر ژره راټول شي. نویو چارواکو ته دا یوه ښــــه موقع ده چې خپل ملي رســـالت او اســـتقلالیت ملت ته ثابت کړي. یو شـــمېر خلک په دې نظر دي، چې طالبان اساساً مذهبي او عقیده یي خلک دي، اسلام تـه لـه خپـل لیـدلوري تر هر چـا زیـات معتقـد او متعهـد دي، خو هېواد پالنه او ملتپالنه یې هم په طبیعي ډول په ځینو عملونو کې څرګندېږي.

که د نوي حکومت سیمه ییز چارواکي د ولس په مرسته د اغزن تار د غځولو او د پاکستان د پوځي تاسیساتو د جوړولو مخه ونیسي او غځېدلی تار راټول او تاســـیســـات یې ړنګ کړي، نو پاکســـتان د دویم ځل لپاره دومره اقتصادي او روحیاتي وس نه لري چې بیا دې هم دې کار ته دوام ورکړي، امریکا ته په ســـیمه کې هغه پخوانۍ مینه او لېوالتیا پاتې نه ده، چې یو ځل بیا پاکســـتان ته دومره دروند مالي لګښـت وزغمي او خپله پاکســتان هم له اقتصـادي پلوه د دې جوګه نه دی چې په خپلو پیسو دې کار ته دوام ورکړي.

کېدی شي په دې کار کې ځنډ او خنډ د دې ســـبب شي چې افغانســـتان پیاوړی شي او بیا په مناســـب وخت کې له پیاوړي حقوقي دریځه د خپلې خاورې د خپلولو هڅه وکړي. یوه بله وسـیله

دا هم ده، که افغانستان کې اوسنی حکومت، د پاکستان طالبانو ته هم د یو اسلامي حکومت د جوړېدو سپار ښتنه وکړي، ښه به شي، ځکه چې دا کار د اســلامي شرعې له مخې هم هېڅ ډول ممانعت نه لري، نو که پاکستان کې رښتیا هم یو اسلامي حکومت جوړ شي او شریعت په کې نـــافذ شي، نو افغان ولس به تر ډېره حده د دوی د استخباراتو له توطیو وژغورل شي. په پاکستان کې مذهبي گوندونو ته به هم دا یوه ښــه ازموینه وي، چې افغانســتان کې یې د شرعي نظام لپاره د خلکو د هڅولو غوښــتنه کوله، اوس هلته څه کوي؟ که پاکستان کې ر ښتیا هم د شرعي نظام د انفاذ لپاره جهاد پیل شي، نو ټول به ترې خوند واخلي. مذهبي گوندونه، پوځیان او استخبارات ټول به په افغانستان کې د جهـــاد د قېمت په کچه ښه پوه شي، او سمهال له پاکستانه د خلاصون یوازینۍ موثره لار، په پاکستان کې همدا د جهاد پیل او د شریعت انفاذ دی او بس. د پاکســـتان جوړښــت او اســاس پر چل، فریب، خیانت، منافقت، ســود، پور او سیاسي توطیو ولاړ دی. یو رښتینی شرعي نظام د دې ټولو ناروغیو لپاره ښه درملنه ده.

# څوک د چا په استازۍ؟

دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د جنورۍ پر (۱۱) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (مرغومي) میاشتې له (۲۱) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

په افغانستان کې هر سیاسي ګوند او اکثرو سیاسي اشخاصو خپلې تېروتنې کړې دي، کله کله دا تېروتنې له حالاتو د ناخبرۍ او ناسم تحلیل له وجې او کله کله بیا په قصدي او عندي توګه وې. په تېره نیمه پېړۍ کې د پردیو له خوا یو شمېر هېوادضد، افغان ضد او پښتون ضد ډلې ټپلې را وټوکېدلې، د کارمل په مشرۍ ستمي - پرچمي ګروپ، د طاهر بدخشي په مشرۍ ستمي ګروپ او د رباني - مسعود په مشرۍ جمعیتي ګروپ هغه ډلې وې چې د جوړښت محتوا یې د افغانستان د اساساتو مخالفه وه. ورپسې وحدت او جنبش ګوندونه دي چې ملت ضد روحیه او انګېزه لري، نورو ګوندونو، لکه خلک، اسلامي حزب، حرکت، محاذ، نجات، اتحاد او نورو هر یوه پر خپل وخت هېواد ته ضررونه پېښ کړي او د قدرت مینوال او لېوال هم وو، هر یو بهرني اړیکي هم لرل، خو د افغانستان د جوړښت، ملي هویت او محتوا مخالف نه وو، خو

جمعیت، پرچم، ستم، جنبش، وحدت او په تېره بیا نظار شورا هغه ډلې ټپلې دي چې له پیله بیا تر دې دمه یې په پټه او ښــکاره توګه فاشــیســتي او ســکتاریســتي عملونه تر سره کړي او د هېواد د کمزورتیا او تجزیې لپاره یې هلې ځلې کړي دي.

د ستم، جمعیت او پرچم په دریو خمونو کې لمبېدلی یو شخص (فرید احمد مزدک) دی، چــې پرون یې یو ځل بیا له یوې مزدورې افغان ضد رسنۍ سره د مرکې په تر څ کې خپل افغان ضد، پښتون ضد او افغانستان ضد سکاتریستي افکار څرګند کړل.

مزدک په خپلو خبرو کې وویل چې افغانســتان د لویو قدرتونو د تفاهم په نتیجه کې د یو حایلې ســیمې په توګه رامنځه شــوی، هېڅکله خپلواک نه و، ډاکتر نجیب او اشرف غني فاشــیســتي او قومي افکاردرلودل، نو ځکه یې حکومتونه وپاشــل شــول، طالبان اســلامیت د افغانیت لپاره کاروي، اصــلاً دوی هم قبیله ګرا او فاشــیســتان دي، افغان یانې پښــتون او افغانســتان کې یوازې افغانان نه اوسي، بلکې ((غیر افغان)) هم او سېږي چې تر افغانانو یې د ده په وینا شــمېر زیات دی.دی د حللارې په توګه وایي چې افغان او افغانستان د ده په نظر تحمیلي نومونه دي باید لرې شي، له دې پرته باید یو نوی فکر ایجاد شي او له سره د یو نوي فکر له لارې باید د ملي وحدت او هېواد د جوړښــت په باب فکر وکړو. مزدک وایي چې یوازې همدا فارسي ژبه د ملي وحدت لاره ده، مانا بلې ژبې ( پښتو) ته ضرورت نه شته. د ده په نظر د افغانستان په نوم نور د نړۍ په تعریف کې کوم هېواد او دولت نه شــته او دې ته

ورته نورې ډېرې هېواد ضد خبرې چې د ټولو راوړل يې دلته شوني نه دي، ښه ده چې له (افغانستان انټرنشنل رسنۍ ) سره يې بشپړه مرکه وګورئ.



سړی حيران شي چې له داسې لامنطقه او نمک حرامو سره سړی څه ووايي، که چوپ ورته پاتې کېږې، تاريخ ته دې غاړه ښندېږي او که منطقي غبرګون ښيې خپله د دوی او د يو شمېر بې ضميره او بې شعوره پښتنو له خوا چې د ملي وحدت د مضر مصلحت کاذب ماسک يې پر ځان غوړلی، د متعصب او فاشيست په تورونو تورنېږې.

واقعيت خو دا دی چې اکثره پښتانه لا اوس هم د فيل په غوږ کې ويده او له تېرې ماضي ناخبره دي او يا هم تر ضرورت زيات دومره سياسي زغم لري چې تل يې د مزدک او د ده په شان نورو ستميانو ته دا جرئت ورکړی چې د هېواد د تاريخ، ملي هويت او ملي جوړښت پر ضد دا ډول کرکجنې څرګندونې وکړي.

د تاريخ په اوږدو کې د پښتنو يوه ډېره غټه بدمرغي همدا ده چې د دوی په نامه اکثره داسې اشخاص واک ته رسېدلي وو چې د دوی نه وو، خو د دوی په نامه تمام شوي، ځينې دا ډول واکمن يا نسلي پښتانه وو چې مورنۍ ژبه يې يا له ياده وتلې وه يا يې په دفتر

او دیوان کې نه کاروله او یا د خپلې ټولنې له اصلي طبیعي جوړښت څخه لرې ساتل شوي وو. دا واکمن د ځانګړو تاریخي تعاملاتو او شرایطو زېږنده وو، که په دې بهیر کې یو څو داسې اشخاص هم واک ته رسېدلي، چې هغوی ملي فکر درلود؛ درد، احساس، فکر او عمل یې د ملت د ارادې ممثل و، نو د هغوی پرضــد بیا د کورنیو او بهرنیو کړیو له خوا دومره تبلیغاتي جبهه پرانیستل شوې چې هم یې نړۍ ته بد معرفي کړي، هم یې عامو افغانانو ته او هم ان خپل هغه قوم او قبیلې ته چې دوی ورته له نسلي پلوه منسوب ګڼل کېدل.



د نسلي پښتنو د واک دا سلسله هم پر هېواد باندې د روســانو پر یرغل سره ختمه شــوه، هغوی یو کشــمیري الاصــله افغان ( ببرک کارمل) په داسې ډول واک ته ورسوه چې د مبــارزې نوم یې کــارګرانو او بزګرانو ته خدمت و، خو په اصل کې دا د پښــتنو د ځپنې یو اوږد پلان و. د کــارمــل او د هــغــه د پــرچــم ســکتاریســتي ګروپ د واک په پیل سره په افغانســتان کې په پوره مانا یو اقلیت محوره حکومت جوړ شــو، د واک دا بهیر اساساً د دریو یادو لړکیو ( تاجکو، هزاره وو او ازبکو ) د ګټو، واک او امتیازاتو پر محور را څرخېده، تاجک اقلیت

بیا د دې محور مرکز و، پښتون ضد، افغان ضد ستمي تاجکان بیا د دې مرکزي محور اصلي چلونکي وو. د اشخاصو په توګه فرید مزدک، عبدالوکیل، نجم الدین کاویانی، محبوب الله کوشاني، عبدالحمید محتاط او نور هېواد ضد اشخاص د دې کړۍ خاص غړي وو.

کله چې ډاکټر نجیب واک ته ورسېد بیا هم دا ډله په واک کې پاتې شوه، روسانو او د پرچم همدې ستمي او فاشیستي ډلې داسې یوه توطیه جوړه کړه چې د ډاکټر نجیب او جنرال تڼي ترمنځ مناسبات دومره خراب کړي چې پر یو بل د برید هڅه وکړي، دې کار ته یې د((تڼي کودتا))نوم ورکړ، په دې کار یې تر (لسو زرو) زیات پښتانه افسران زنداني او له پوځه



ګوښه کړل او ډاکټر نجیب په بشپړ ډول د همدې کارملي، پرچمي او ستمي کړۍ په دام کې کېوت، ان تر دې پورې چې د یو ملیوني وسلوال پوځ په شتوالي کې د همدې ګروپ وسلوالو ملېشو له هوایي ډګره راوګرځاوه او بیا پر هغه شان برخلیک اخته شو.

ډاکټر نجیب سره له دې چې ذات او نسب یې معلوم و، د مور او پلار ژبه یې پښتو وه، خو د ده د کور، دفتر، سیا ست او کار ژبه پښتو نه وه، خو کله چې یې د ډاکټر نجیب تر مشرۍ لاندې

حـــــكومت، د جبل السراج د تړون او توطيې پر اساس چپه کړ، نو ويې ويل چې د ډاکټر نجيب حکومت فاشيستي و.

په داسې حــال کې چې د ډاکتر نجيب يو مرستيال پنــجشرى؛ عبدالحميد محتاط، د خاص گارد قوموندان يې تاجک؛ جنرال سعيد، د گارنيزيون قوموندان يې هم ســتمى تاجک؛ جنرال نبي اعظي وو، اصـف دلاور، نور سـلگونه تاجک جنرالان، ســيدکيان، هزاره او گليم جم ملېشـــې خو لا پرځای پرېږده، د حکومت ټولــه غوښنه برخـه همـدې دريو اقليتونو پـه تېره بيا تاجکو او په تاجکو کې هـم ســـتـمي تـاجـکـو چې د افغانســتان له نامه سره يې حسـاسـيت درلود، له همدې خلکو سره وه، خو بيا هم ډاکټر نجيب فاشيست و او دوى ملايکې وې!؟ که د ډاکتر نجيب په حکومت کې د واک مرکزي هسـته له سـتميانو سره نه واى نو هغه له هوايي ډگره چا راگرځولاى شو؟



ډاکټر نجيب خو لا څه کړې، ان کارمل ته يې د پښــتون په نوم جعلي تذکره جوړه کړه چې لـــــومړى ځوکى هم گنې پښــــتنو ته رسېدلې، د تاريخ د جعلکارانو ناپاکي هغه وخت پر تخته تويې شوه چې د کارمل ورور ( محمود بريالي ) د تاجک په نوم تذکره اخيستې وه او دواړه اسناد په رسمي ډول دولتي رسنيو کې خپاره شول؛ د يو پلار دوه زامن يو يې پښــتون، بل يې تاجک و. هدف دا و چې د

کارمل په شان یو وطن پلوری او پښتون ضد شخص هم پښتنو ته منسوب کړي، ګټه یې دوی ته ورسي، تاوان او شرم یې پر پښتنو بار کړي.


د رباني او مسعود د شر او فساد دوره د تاریخ تر ټولو توره دوره وه، دوه نیم کیلو متره مربع یې د واک ساحه وه او شپاړس نیم زره ملیارده افغانۍ یې د همدومره ساحې لپاره ورته د ((اسلامي دولت)) په نامه روسانو چاپ کړې چې افغانستان کې پرې قومي جنګونو ته



لمن ووهي. عجیبه خو دا وه چې رباني او مسعود دواړه د (کي جي بي ) پاخه اجنټان وو او دواړو د اسلام له دایرې اخوا افغانستان ضد او پښتون ضد ستمي افکار درلودل، خو بیا هم د مجاهدینو په نا مه یاد ېدل، مسعود خو یې لا پلویان د ((ملي اتل )) په نامه یادوي. عجیب منطق دی، ملت نه شته خو اتل یې شته، کلی نه شته خو ملک یې شته، ولس نه شته خو ولسوال یې شته. له رباني چې دې ړیره لرې کړې وای، نو د عمل او پښتون ضد چلند له مخې ترې سوچه کارمل جوړېده، خو بیا هم رباني او مسعود ته هېڅا هم په زغرده ستمی او فاشیست ونه ویلې، خو امین او نجیب بیا فاشیستان وو.

طالبان چې کله د حکمیتار پر ضد جنګېدل د رباني او مسعود له خوا د نجات فرښــتې او د دین پتنګان وو، خو چې د دوی د شر او فساد پر ضد یې جنګ شروع کړ، بیا قومګرا او فاشیستان شول.

د کرزي صــیب په حاکمیت کې اتیا په ســلو کې واک ســتمي تاجکانو سره و، یوازې په کابل کې (۸۳۲ ) لوی او واړه ریاسـتونه د پنجشېر د نظار شورا له ستمیانو سره وو، (۱۸۰۰) نـالوســتو او کملوســتو یې د جنرالۍ رتبې واخیســتې، له یوې ولســوالۍ یې ځانته یو ولایت جوړ کړ او بیا یې هغه د قدرت یوه ناڅارونکې جزیره کړه. درې تنه یې (فهیم، ضــیا



مسعود او قانوني) په کې د جمهور رییس مرستیالان شول، خو بیا هم کرزی نشنلیست، فاشیست او قومګرا و؟ کرزي پر مارشالۍ سربېره د پنجشــېر وګړو ته دومره ناقانونه امتیازات ورکړل چې نور نو د عام ملت تر زغمه پورته شــول، یوه ولســوالۍ چې تر (صــفر اعشــاریه درې) ســلنې یې نفوس کم و، خو د واک ونډه یې د ټول هېواد په کچه تر نیمایي زیاته وه. بیا هم قانع نه وو او د واک غریزه یې نه خړوبېدله.د کرزي په حکومت کې د تاجکو ونډه په ســلو کې (شپږ شپېته اعشاریه شپږ او د پښتنو پنځه ویشت اعشاریه درې) وه، خو بیا هم دوی ناراضه وو.

بیا واک ډاکټر صیب غني ته ورسېد، غني د دې پرځای چې د ملت اراده تمثیل کړي، بیا یې د جمعیت له لنډغرو او ستمیانو سره د نامشروع معاملې لاره ونیوله، لومړۍ دوره کې د ضیا مسعود مړې هیلې ته کېناست هغه یې ډېر ونازوه، خو هغه یې چې کله پر تندي بدرنګي وکړه، نو بیا مجبور شو جبري وا ټین ترې ونیسي. په دویمه دوره کې غني د صالح لاپو شاپو ته په کتو د هغه ملیوني رایو! ته په



تمه و، خو خبره تر (یو نیم زر) رایو هم ونه رسېده، خو بیا هم صالح او د ټلوالې نور بدماشان په حکومت کې د پوره واک، شان او شوکت خاوندان وو، نیم حکومت یې د عبدالله د جنجال په زور راخپل کړ او په پاتې کې هم له غني سره ونډوال شول، غني د دې مضر احتیاط له وېرې چې همدا ډلې ټپلې پرې د نشنلیست او فاشیست ټاپه ونه لګوي، له خپل قبیله یي او نسبي تخلصه هم ورتېر شو، د مسعود قبر ته یې د پیسو د ورکړې وړاندیز وکړ، د مزاري مصلی ته یې پیسې اختصاص کړې او د ((مسعود شناسۍ او مزاري شنا سۍ)) د کور سونو او سیمینارونو د جوړولو سپار ښتنه یې هم وکړه، خو بیا هم غني فاشیست و؟. د غني د پلار او نسب ژبه که

څه هم پښتو وه، خو د ده د کار، دفتر او کور ژبه پښتو نه وه او که کله د مجبوریت له مخې اړ کېده، نو بیا دومره پښتــو یې له دفتري چاپېریاله راوتله چې په کتغ کې د مالګې تر حده هم نه رسېدله، خو بیا هم غني ته د همغو خلکو له خوا فاشـیسـت ویل کېږي چې غني او کرزي ورته تر ټولو زیات امتیازات ورښلي وو.

سړی حیران شي چې د ځینو خلکو فکر ولې دومره د تعصب له لـــــمبو ډک دی، چې د منطق یوې زرې ته هم په کې ځای نه پرېږدي.

که له مزدک څخه وپوښــتل شي چې ایا فاشـیســت همدې ته وایي چې تر خپل قومه دې پر بل ډېر مهربانه وي او هغو ته دې دومره امتیازات ورکړي، چې همهغوی یې بیا د زوال سـبب شي؟ په خپل کور کې له خپلو اولادونو سره په خپله ژبه خبرې ونه کړي، خو بیا دې هم ژبپال وي؟ ان مېرمنې یې له بل قوم او بېل ملت څخه وي، خو بیا دې هم دی ژبپال، قومګرا او فاشـــســيت وي؟؟ که فاشـیســتان همداســې وي او همدا یې تعریف وي، نو کېدی شي ښـاغلي مزدک په دنیا کې داســې نور فاشـیسـتان، ژبپال او قومپال هم موږ ته په ګوته کړي چې نه یې خپلې ژبې ته کار کړی وي، نه په ځانګړې توګه خپل قوم ته، ان کورنی ژوند یې هم بل ملت ته منســوب چا سره شریک کړی وي، د کور، کار، دفتر او دېوان ژبه یې هم بلـه وي، خو بیـا دې هم ده تـه خلـک قومپـال، ملتپـال او فاشـیسـت ووایي، په جاپان، جرمني، ایټالیا کې همداســې وو چې دربار یې له اقلیتونو او د نورو ژبو له پالونکو ډک وي او دوی دې بیا

فاشیستان وي؟ او کنه فاشیستان تاسې غوندې متعصبین او نمک حرا مه خلک وي، چې هم امتیاز اخلئ، هم ټول در بار خورئ، هم خیانت کوئ او هم منافقت.

مزدک دومره د تعصب او فاشیزم پر ناروغۍ اخته دی، چې د طالبانو په شان سوچه دیني او مذهبي حرکت ته هم د قومیت له زاویې ګوري. په دا سې حال کې چې دا یو سوچه دیني حرکت دی، دا چې دوی دین څنګه تعبیروي، دا یو بېل بحث دی، ځکه د هر مذهبي حرکت تعبیر له بل سره سل په سلو کې منطبق نه وي، خو دوی په دین متعقد خلک دي او قومیت ورسره مطرح نه دی.

څو مووده وړاندې یو مشر طالب چارواکي سره ناست وم، هغه وو یل نږدې اینده کې په حکو مت کې د نورو قومونو خلکو ته هم ونډه زیاتوو، ما ویل پښتنو ته هم په کې ونډه ورکوئ کنه؟ سړی حیران شو چې زه ولې داسې یوه پوښتنه وکړم، ما ورته وویل تاسې خو د دین په جذبه راپورته شوي یا ست، نه د قومیت؛ ټول له مخې ملایان او طالبان یاست، د قومیت خبره درسره مطرح هم نه ده، ښه به وي چې تاسې د خپل جهادي بهیر او د همدې دیني قشر استازي وکړئ، نو که د نورو قومونو د استازولۍ خبره کوئ، نو هغوی خو داسې خلک درمعرفي کوي چې قومي مفکوره او انګېزه ربښتیا هم ورسره مطرح وي، نو تاسې سره خو دا خبره مطرح نه ده، بل کېدی شي هغوی درته د عصري علومو ماسټران او ډاکټران معرفي کړي او له دې خو یوازې د دیني علومو دودیز عالمان او درېیمه خبره دا ده چې که تاسې د قوم استازولي کوئ، نو د دین

اســـتازي به څوک وکړي؟ او بله مهمه خبره بیا دا چې که له هغوی څخه هم ملایان راولئ، نو بیا خو ستا سو په شان شول د هېچا به اعتراض نه وي، ځکه ټول به یو شان خلک شئ او کنه خبره دا وي چې د قومي ونډې پر ا ساس به د هغوی تحصیل کړي فا شیستان راولئ او له دې خوا به د پښـتنو په اسـتازی سـوچه کلیوال ملایان ورسره ناســـت وي، نو د ملا د ونډې او ترکیب دا حالت خو ملتپالو پښتنو ته د عدالت د تامین او تمثیل لپاره د منلو او زغملو وړ نه دی.

له دې اوږده بحثه مې هدف دا دی چې په تېرو څلوېښـت کلونو کې د پښـتون په نامه داسـې اشـخاصـو د واک تمثیل کړی چې له عملي او نظري پلوه پښتانه نه وو، خو د پښتنو په نامه تمام شوي وو او د سـهوو او ګناهونو کفاره یې پر پښـتنو بار وه. اوس راځم د مزدک د خبرو څو لنډو ځوابونو ته!

۱-افغانســتان ســل کلن نه، بلکې پنځه زره کلن تاریخ لري، د پښـــتو او درې ژبو د ادبیـاتو لرغوني متون، د غوریـانو، لودیـانو، ســوریانو، ابدالیانو، هوتکیانو او همدا اوس د معاصر افغانســتان تاریخ ولوله! ستا او ستا په شان د ځینو نورو اشخاصو تاریخ کېدی شي تر سلو کلونو زیات نه شي، ځکه اکثره هغه خلک چې له بخارا څخه دلته مهاجر شـوي، تاریخ یې همدا سـل، سـلو شـلو کلونو ته رسېږي، د اکثرو یې د خپل غور نیکه نومونه هم یاد نه دي.

۲ -افغانسـتان د دوو لویو ځواکونو تر منځ د تفاهم په نتیجه کې نه دی رامنځته شوی، بلکې هغو دواړو امپراتوریو، چې ستا سې په

شــان خلکو یې غلامي کوله، دلته سر خوړلی او دړې وړې شــوې دي.

۳-افغانسـتان او افغان تحمیلي او جعلي نوم نه دی. افغان دلته یو ملت دی او افغانســتان د دې ملت کور یا هېواد دی. عیناً لکه ازبکستان چې د ازبکو، تاجکستان چې د تاجکو، قزاقستان چې د قزاقو او نور (ستانونه) چې د نورو ملتونو کورونه یا هېوادونه دي.

۴ -افغانســتان کې له افغانانو پرته نور څوک نه اوســېږي او نه څوک د اوســېدو حق لري، که څوک افغان نه وي او دلته په پټه او یا درغلۍ اوســېږي قانوني مجرم دی، یا باید ژر تر ژره د خپلې موقتي اقامې یا وېزې غمه وخوري او یا باید ( یو انچ سي ار) سره ځان ثبت کړي چې موقتي مهاجر کارت ورته جوړ شي، له دې پرته نه چا ته د دایمي اســتوګنې او نه هم د موقتي اقامې حق شــته، د تابعیت تذکره، انتخاباتو کې ګډون او د هېواد پر برخلیک بحث خو بېخي جلا او لرې خبره ده.

۵ -مزدک له ډېر تعصــب او قهره هر افغان پښــتون بولي او نور ټول ناپښتانه یې په خپل فکر نا افغانان بللي دي، ښاغلي مزدک ته باید وویل شي چې دې کې شک نه شته چې هر پښتون افغان دی خو هر افغان پښــتون نه دی، د افغان داېره لویه ده، ټول ورونه قومونه افغانیت خپل ویاړ ګڼي، دا ته لا په کې د چا زوی یې چې ته زموږ پشه یي، تاجک، ترک تباران، ازبک، بلوڅ، هزاره، نورستاني، ســک، هندو، ایماق او نور ورونه قومونه د افغانیت له ســپېڅلې غیرتي دایرې وباســې، هغوی پر افغانیت سر ورکړی او په ګډه یې

د دې وطن د خپلواکۍ لپاره مبارزه کړې، د افغان او انګلیس درې لوی جنګونه د چا په نامه یادېږي ؟ د ټول افغان ولس مشـــترک افتخار دی.دا مشترک وياړ پر کومو نومونو پر قومونو وېشې؟

٦ -مزدک وایي افغانســتان کې نا افغانان ( غیر افغانان ) تر افغانانو د ده په اصــطلاح تر پښــتنو زیات دي.اول تاته دا واک چا درکړ چې داســې لامنطقه وېش رامنځته کړې ؟ دا خو داســې مانا ورکوي چې سړی ووایي په ایران کې تر ایرانیانو غیر ایرانیان زیات دی، یا په روسیه کې تر روسانو غیر روسي وګړي، په ترکیه کې تر ترکانو غیر ترکان زیات دي، او بدمرغه څوک چې د کوم هېواد تابعیت لري ملي هویت یې همغه هېواد ته منسوبېږي، د نړۍ اکثره هېوادونه تر همدې فورمول لاندې راځي، بیا ته څوک یې چې د نورو قومونو اســتازولي کوې؟ ته یوازې په تاجک شریف قوم کې هم د یوې وړې ډلې اســتازولي نه شــې کولای، ته یوازې یوې ســتمي ډلګۍ ته منسوب یې چې ذات او نسب یې معلوم نه دی.

٧ -مزدک صــیب! که هدف دې د ټولو قومونو د شــمېر معلومول وي دلته بیا د پښــتنو او ناپښــتنو اصــطلاح کارول له علمي پلوه مناسب نه دي، ځکه چې دا نور قومونه له پښتنو سره په تقابل کې نه دي که د تا په اصــطلاح ټول سره یو ځای شي، نو تر پښــتنو به زیات شي او ستا په شان وطنپلوري به خوښ شي، دا ډول اصطلاح خو به بیا پښــتانه هم وکاروي او وبه وایي چې ټول قومونه یوې خوا او ته چې ورته منســوب یې هغه بله خوا ته، په داســې یو حالت کې بیا ستا د قوم سلنه کومې کچې ته را پرېوزي ؟

۸ -د قومونو ســلنې ته ډېر وارخطا کېږه مه، کله چې برېښــنايي تـذکره ټول هېواد کې ووېشـــل، ترکتبـاران خپـل، ازبـک، ايماق، قزلباش، پاميريان، پشـــه يان او نور اويا قومونه هريو خپل خپل هويت وليکي و به ګورو چې چا د کومو قومونو د هويت پټولو ته کار ويلی دی ؟ موږ د پښـــتنو نســـلي توليد او ديني چارو ( ولادت او عبادت ) ته هېڅ تشـــويش نه لرو، دا په دنيا کې تر نورمال حالته پورته يو حد دی، ته لږ صبر وکړه چې موږ د پښتنو پراخ اکثريت د تعليم له لارې په موثر کيفيت بدل کړو، بيا به ګورو چې د چا خبره کره ده؟

۹-د افغانستان لپاره له سره تعبير اوتعريف ته اړتيا نه شته او نه دا د تا په شـــان د څو بې هويته وطنپلورو کار دی، دلته يو ملت دی پنځه زره کاله کېږي دا جغرافيه يې د ژوند او سر په قېمت ســـاتلې ده ب‍يا به يې هم ســـاتي، هو پر دې ب‍حث کېدې شي چې د چا غورنيکه او يا څلورم او پنځم نســل معلوم نه وي او يا يې ريښـــه له افغـانســـتـانـه بهر وي، پر هغو کېـدی شي خبرې وکړو چې د افغانستان وياړلې تذکره دې ورکړای شي او که مهاجرکارت؟

۱۰ -پښــتو او دري د افغانســـتان رســـمي ژبې دي، تاجکان حق لري چې په دري ژبه ليک او لوســت وکړي، پښــتانه هم حق لري د پښــتو په باب له ورته حقه برخمن شي، نور قومونه هم د خپلې ژبې د ويلو او تعميم حق لري، په ر سمي چارو کې بايد قانوني م‍سير ته مراجعه وکړي، اوس هغه وخت نه دی چې پښـــتانه او نور قومونه

دې د يو محدود اقليت ژبه د ژبني فاشـــيزم د متداوم جبر له لارې وزغمي، دفتر او دربار دې د يو ژبې حق او ميراث وګڼل شي.

۱۱ -مزدک صيب ته دې وويل شي چې افغانستان يو مستحکم هېواد دی، غريب دی، خو د جوړښت له پلوه ډېر پياوړی دی، ته او خدای چې ستاسې پرچم او ستم ډلې او جمعيت به له روسانو سره په ګډه د دې هېواد د تجزيې لپاره څومره توطيې جوړې کړې وي؟ اخير تاسـې خپله تجزيه شـوئ، افغانسـتان سـتونزې وزغملې، خو سر لوړی او متحد پاتې شو.

۱۲-مزدک صـيب! طالبان تا سـم نه دي پېژندلي، دوی د زړه له کومي اسلاميت غواړي، دوی د رباني او مسعود په شان نه دي چې اسلام يې د قوميت لپاره يوه وسيله ګرځولی و، که د پښتنو په نوم دې اوسـنيو او ان پخوانيو چارواکو کې سـتاسـو په شـان د قومي تعصـب پنځه سـلنه قومپالنه او تعصـب موجود وای، نو تاسـې به د افغانسـتان پر ملي هويت او عزت دومره نه بلوسـېدلی! اوس نو که طالبان افغانيت وپالي دې کې څه ګناه ده ؟ ګناه خو دا ده چې څوک لکه د تاسو په شان له اسلاميت او افغانيته منکر وي.

په پای کې ټولو هېواد پالو افغانانو، په تېره بيا پښـتنو ځوانانو ته يو څو څرګندوني کوم:

۱ -ستاسو په نوم ستاسې تېر شوي مشران ستاسې نه دي، خو د تاريخي ملامتۍ بار يې تا سې اوچتوئ، نو ځکه بايد تاريخ مطالعه کړئ او عبرت ترې واخلئ.

۲-اوسـنیو چارواکو سره یوازې مذهبي انګېزه مطرح ده، په واک کې یوازې طا لب او ملا شر یک دی او د ماتې په تاوان کې ټول پښـتون، د دوی د ړنګېدو په حالت کې به دا دوره هم د فاشـیزم په نوم پر پښتنو تاوان شي.

۳-سـتمیان او د نظار شـورا لنډغر په هېڅ ډول امتیاز د اقناع وړ نه دي، که وای نو ډاکټر نجیب، کرزي او غني به د نا محدودو امـتیازاتو په ورکړه خوشاله کړي وو. د دوی د نـامشروع غوښتنو د مهار لپاره منطقي او باجرئته سیاسي مبارزه په کار ده.

۴ -دوی چیغې ډېرې وهي، نه د جنګ خلک دي، نه د فرهنګ، خپله ډېر ډارن دي یوازې په رســنیو کې بغارې وهي نور د عمل د ډګر خلک نه دي، کله عادي فشـــار او کله عادي امتیاز ته سر ټیټ کړي، نو ځکه ترې ډار په کار نه دی.

۵ -دوی پـه ښـــکاره د هېواد د تجزیې چیغې وهي، وایم چې اسمعیل ساساني هم را ژوندی شي، لینن یې هم بېرته ژوندی شي او تر شـــا یې ودرېږي، افغانســـتان نه شي تجزیه کولای، دا ټولې چغې د نامشروع امتیاز په خاطر دي، که د دوی زور رسېدلی د نورو هېوادوالو سرېتوب ته یې نه کتلې.

٦ -یو شمېر مړ غوږي سـست عنـصره پښتانه هم شته چې تل یې د ستمیانو لاس ته د سپینسترګۍ تبر ورکړی، دوی د حساسیت د نه پارولو او ملي وحدت د تامین په پلمه د ملتپالو افغانانو د منطقي غبرګــــون مــــخه نیسي او په تبلیغاتي جبهه کې د ملي هویت لـــه مخالفینو سره پر یو اخور شخوند وهي، دغو مضرو حشراتو ته هم ډېر پام ساتئ!

# د مشروعیت بحران او

# د حل یو دوه وړاندیزونه

> **دا لیکنـه د (۲۰۲۲م) کـال د جنورۍ پر (۱۷) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کـال د (مرغومي) میاشـــتې لـه (۲۷) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.**

**د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک یوه ډېره سخته او اوږده مبارزه کړې او سخت مزل یې وهلی دی، خو په سیاسي مبارزه کې یوازې ســختیا او ســتومانتیا وروســتی معیار نه دی . هوښــیار ســیاســتوال هماغه دي چې په کمه قربانۍ ولس او ان ځانته ډېر ثمر او امتیاز تر لا سه کړي. طالبان لا تر او سه ډېر سیاسي شوي نه دي؛ لا هم هر څه ته د مذهب له زاویې ګوري او قرباني یې هم پر همدې بنسټ ولاړه ده، که کومې بریاوې یې هم تر لا سه کړي، نو هغه هم د مذهبي انګېزې برکت دی، نه د ســیاسي تدبیر. د همدغه ســیاسي تدبیر، ټولنیز او نړیوال تعامل د نشــتوالي له وجې یې هغه بل ځل هم خپلــه واکمني بایلوله او دا ځل هم د مشروعیت له بحران سره مخ دي او که له سیاسي تدبیره کار وانخیستل شي، د دې احتمال شــته چې بیا به یې هم واکمني له ســختو ننګونو او یا هم هغه تېر ځل ته له ورته برخلیک سره مخ شي.**

**نویو چارواکو تر ځلوېښــتو کلونو وروســته افغانســتان یو ځل بیا سره متحد کړ، د دې خاوري فکري مخالفان او پوځي داړه ماران یې له هېواده پسې واخیستل، تر ډېره بریده یې نظم ټینګ کړ، غټ**

غله، فســادګر او اختطافګر يې ورک کړل، تر ډېر حده يې د خلکو سر، مال او عزت خوندي کړ او ډېر نور ګڼ مثبت کارونه يې تر سره کړل. خو دې سره سره لا هم ګڼې ســتونزې او نيمګړتياوې شــته چې نه يوازې د ولس ژوند ګواښــي، بلکې د نويو چارواکو واک هم رالندولای شي؛ اقتصادي فقر، د ښځو پر تعليم تر يوه حده بنديز، د رسنيو او مدني ازاديو محدودول، په حکومت کې يوازې او يوازې چـارواکو ته د ژمـن مذهبي قـشر تـقرر، د څرګند اقـتصادي او پرمختيايي پروګرام او د موقت يا دايمي ا ساسي قانون نشتوالی او ګڼشمېر نورې نيمګړتياوې شته، چې دا ټولې بيا سره را ټولې شي په خپله ترې د دې حکومت د راپرځولو دلايل او وسايل جوړېږي.

د عام ولس بدمرغي بيا دا ده چې دلته د اکثرو دولتي چارواکو په له منځه تګ سره ټول نظام شــنړېږي، تر واکمنو چارواکو يې ولس ته زيات زيان رســېږي، د دې کار يو علت شــايد دا وي چې چارواکو تر ټول نظامه غېږه را تاوه کړې وي، کله چې چارواکي د يو شـــديد پوځي عمل په نتيجه کې له منځه يوړل شي، نظام هم ورسره ختم شي.

هغه نظام چې د جمهوريت په نامه يادېده، په حقيقت کې د لنډغرو، ټاميانو، فســادګرو او اختطافګرو يو مزخرف ائتلاف و؛ د ولس يوه ډېره کمه هېواد پاله برخه په کې شريکه وه، خو څرنګه چې د يو نظام په چوکاټ کې دا ټول راټاله وو ، بيا هم تر (نه) نظامه ښــه و. په ړنګېدو يې نه يوازې اړوندو چارواکو زيان وليد ، بلکې ولس هم ورسره سخت زيانمن شو، يوازې په اقتصادي ډګر کې د خلکو د اقتصاد کچه په سلو کې پنځوس سلنه راټيټه شوه.نورې برخې خو لا پر ځای پرېږده. اوســنی حکومت يا نظام که څه هم بشپړتيا ته يې لا ډېر قانوني پړاوونه پاتې دي ، خو په دې حالت کې

هم یو غنیمت دی، که دا اوســـنی حالت او نظم هم له منځه لاړ شي، نو نه یوازې اوســـني چارواکي به د تېرو هغو په شـــان زیانمن شي، بلکې ټول ولس به یو ځل بیا له یو ســـخت ناورین سره مخ شي، ان د خاورې بسپړتیا ته به هم ګواښونه پېښ شي.

اوســـنی حکومت یا نظام پر اقتصـــادي ســـتونزو سربېره د مـــشروعیت له بحران سره مخ دی ، که د مشروعیت دا بحران حل شي ، نو نورې ستونزې هم ورسره ورو ورو حلېږي .د مشروعیت دا کړکېچ نه یوازې بهرنی دی ، بلکې کورنی هم دی ، د دې بحرانونو د اختتام لپاره به نورې لارې هم وي ، خو زه یې یوازې دوو لنډو حللارو ته نغوته کوم:

۱ -لویه جرګه: لویه جرګه د افغان ولس د ارادې تر ټولو غوره ممثله سرچینه ده، د میرویس نیکه له وخته بیا تر دې دمه واقعي لویو جرګو د ولس اراده په ښـــه ډول تمثیل کړې ده، البته ځیني تکلفي او فرمایـشي لویې او وړې جرګې له دې واقعیت څخه متثنی دي.

داســـې اوازې شـــته چې نوي چارواکي غواړي د دیني عالمانو یو سراسري شورا یا جرګه جوړه کړي او له دې لارې ځانته مشروعیت ترلاســه کړي.ان ویل کېږي چې د ولسـوالیو او ولایتونو په کچه به هم د علماوو شـــوراګانې جوړې شي چې د حکومـت د کـارونو او چلندونو څارنه به کوي ؛ په حقیقت کې د پخوانیو انتخابي شوراګانو ځای به نیســـي. په دې باب باید وویل چې اوسنی حکومت په عمل کې د ځینـــــو پخوانیو حکومتونو په شـــان د کوم داســـې دیني او مذهبـي مـشروعـیت له بحران سره مخ نه دی، چې د دیني عالمانو

یوه شورا دې راوغواړي او پر دوی دې د تایید مهر ولګوي، او سنی حکومت خو تر ډېره زیاته حده د دیني عالمانو په لاس کې دی، ان تر دې چې دا ډول مشروعیت یې تر نورمال حالته هم اتیا سلنه زیات دی، نو د یو ملا له خوا د بل ملا د مذهبي او اعتقادي مشروعیت تایید څه مانا؟



◦د بلې هر ټولنې په شان زموږ په ټولنه کې هم دیني عالمان یوازې د خپل قشر استازولي په ښه ډول تر سره کولای شي، نه د نورو اقشارو، هر قشر خپل استازی لري . زموږ په ټولنه کې د قومي مشرانو، متنفذینو، روښنفکرانو، هنرمندانو، ښځینه فعالانو، سوداګرو، معلولینو او نورو اصنافو په ګډون تر پنځه ویشتو زیات اقشار موجود دي ، چې تر خپلو اړوندو کتګوریو لاندې د بحث وړ دي ، نو داسې یوه لویه جرګه باید جوړه شي چې دیني عالمان هم په کې خپل استازي ولري او د یادو کتګوریو متناسب استازي هم په کې غړیتوب ولري.

◦لویه جرګه باید تر هر څه وړاندې د اوسني نظام د قانوني مشروعیت لپاره یو قانوني چوکاټ جوړ کړي، یا پر یو موقت اساسي قانون موافقه وکړي او یا له تېرو اساسي قوانینو څخه یو،

د یو ټاکلې مودې لپاره غوره کړي او یا هم په تېرو قوانینو کې د ادلون بدلون د راوستو له لارې یو نوی لندمهاله یا منځمهاله قانون تصـــو یب کړي او که دا کار دویمې اختصــاصي لویې جرگې ته پرېږدي ، نو بیا دې د اوســـنې حکومت عمر تثبت او تعین کړي او د ټاکل شوي معیاد لپاره دې ورته د کار او



صـــلاحیتونو د څرنگوالي په مقصـــد ((اســاسي کربنـــې)) غوره او تصویب کړي. په دې ډول به د اوسني حکومت عمر تثبت شي چې د څومره وخت لپاره دی او په دې بهیر کې یې د صـــلاحیتونو حدود کوم دي؟ په دې توگه کېدی شي اوســنی حکومت د مشـروعیت له اوســـني کورني بحرانه وژغورل شي. کله چې دا بحران ختم شي د مشروعیت د نړیوال کړکېچ حل ته لاره سمبږي.

۲ -نړیوال کنفرانس: کلـه چې د اوســـني حکومـت عمر او تکلیف معلوم شو او د لویې جرگې له لارې یې مشروعیت تر لاسه کړ ، نو بیا دې د همدې لویې جرگې د متخصـــص او فني هیت او د حکومت د داســـې موثرو غړو د یو گډ ترکیب له لارې ، چې هم د ولس او هم د حکومت بنـــه اســتازولي وکړي ، پر نړیوالو غږ وکړي چې تر هر څه وړاندې دې دا افغان حکومت په رســـمیت وپېژني او

د افغانستان کنګل شوې پانګــــه دې له نړیوال اصــــولو سره سمه همدې مــــروع حکومت ته ورتسلیم کړي ، د دې تر څنګ دې همدا ترکیـب د ملکرو ملتو او د اســـلامي هېوادونو د ګډې همکارۍ د سازمان په مرسته له افغانستان سره د اقتصادي مرستو د راجلبولو او د حکومت د نـړیـوال مشروعـیت د تایـید او پیاوړتیا لپاره یو ستر نړیوال کنفرانس جوړ کړي. افغان ولس حق لري چې پر نړیوالو دا غـږ وکـړي چـې زمـوږ هېواد د سیمې او نړۍ د ګـنـو هـېـوادونـو د مـخـامخ او نـیـابـتي جـګـړو پـر ډګـر بـدل شـــوی و، اوس دا د



نړیوالې ټولنې انساني مسولیـــت دی چې له افغانانو سره د هغوی د هېواد په بیا ابادۍ کې مرسته وکړي. طبیعي خبره ده چې نړیوال به هم د خپلو مرستو او د افغـــان حـــکومت د نړیوال مشروعیت لپاره خپل ظاهري شرایط لري، لکه د ښـــځو حقوق، د بیان ازادي ، د مخدره توکو د کر مخنیوی، د هغوی پر ضد د افغانستان له خاورې څخه ګټه نه اخیستل، تروریستي ډلو ته ځای نـه ورکـول ، د نړیوال قوانینو منل او ځینې نـــور مـــشروع شـــرایط. په مقابل کې باید د لویې جرګې او حکومت دا ګډ ترکیب هم له نړیوالو سره د پورتنیو خبرو د منلو او هغوی ته د لیکلي تضــمین د ورکړې تر څنګ هغوی ته دا په ډاګه کړي ، چې د افغانانو په کورنیو چارو کې مداخله مه کوئ، پر افغـانـانو د خپلې خوښـــې حکومـت مـه تحمیلوئ، لـه جنګســـالارانو ، فســـادګرو ، مافیایي کړیو ، د هغوی له اولادونو ، دویم او دربیم نسله ملاتړ مه کوئ، په حکومت کې غلو او فسادګرو

ته ونډه مه غواړئ ، د نا مشروع ازاديو په نوم د افغانستان کلتوري جوړښت مه تخريبوئ او نورې دېتـــه ورتـــه مشروع غوښتنې ، په دې ډول کېدې شي دا حکومت دوام وکړي او ورو ورو بشـــپړتيايي پړاو ته ورسېږي .نورې لارې به هم وي ، خو ما يې يو دوو ته نغوته وکړه.له دې قانوني تعامل پرته به مشکله وي چې د اوسني حکومت چارواکي دې په يوازې او انحصاري توګه ، هم اوسنی نسبي امنيت لاپســې ټينګ کړي، هم دې اقتصــادي فقر او ســياسي بحران له منځه يوسي ، هم دې د خپل حکومت عمر پســې تر ډېره وخته وغځوي او هم دې په نړيواله او کورنۍ کچه خپل مشرــوعيت تر لاسه کړي.

○د بدمرغۍ خبره بيا دا ده چې له خپلو دې اوســنيو نيمګړتياوو سره سره که دا حکومت هم ړنګ شــو، نو زيان به يې دې ولس ته دومره زيات وي ، چې خلک به د دغه اوســني حالت ارمان هم وکړي.ځکه اوس چې کومې ډلې او اشــخاص ځان د دې حکومت بديل ګڼي، هغه د لنډغرو او هېوادپلورو داســې يو ترکيب دی چې هېواد او ولس ته ترې له شر پرته د هېڅ ډول خير طمع نه شـــته. موږ ډېره بدمرغه ولس يو چې همېش د ګړنګ پر غاړه ولاړ يو، د ډانګ او پړانګ تر منځ به يو انتخابوو.

# ملي بیرغ؛ یو حقیقت او یو واقعیت

دا لیکنـه د (۲۰۲۲م) کـال د جنورۍ پر (۲۲) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سلواغې) میاشتې له (۲) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

دا یو حقیقت دی چې اکثره افغانان له خپل درې رنګه ملي بیرغ سره د زړه له تله مینه لري، ان په روح او روان کې یې ځای شـــوی دی. دا هم یو واقعیت دی چې په تېرو ســـلو کلونو کې په لنډمهالي ډول په ځینو واکمنو او ځینو ســیاسي تنظیمونو پورې اړوند بیرغونه د ملي بیرغ پر ځای کارېدلي، خو هېڅکله یې د ملي بیرغ مقام نه دی خپل کړی او نه یې هم د عام او اکثریت ولس زړه ته لاره پیدا کړې ده. د ســـقاوي اړودوړ، د خلک دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ د پیل دوره، د جمعیت او نظار شـــورا لومړۍ واکمني، د طالبانو د واک لومړۍ دوره او اوس دا دی د دوی د واک دا نوی پړاو هغه وختونه دي چې د ملي بیرغ پر ځای په کې نور بیرغونه کارېدلي دي.خو دا هم بیا بل واقعیت دی چې د دې ډول حکومتونو د واک په اختمام سره ملي بیرغ بېرته قایم شـــوی او خپل قوت او جوهر یې ځلولی دی. اوس یو ځل بیا دلته داســـې یو مذهبي- پوځي جریان واک ته رســـېدلی، چې هغه خپل بیرغ لري او ځینې یې د خپل بیرغ لپاره

توجیهات او دلایل هم په ګوته کوي. دا توجیهات که څه هم له مذهبي، دیني، سیاسي، ملي او تاریخي پلوه د ملي بیرغ پر وړاندې نه د توجیه وړ دي او نه هم له هغه سره د پرتلنې، خو څرنګه چې نوي واکمن د تورې په زور واک ته رســېدلي او پوځي لیکې یې لا هم لـه انقلابي او مـذهبي ولولو ډکې دي، نو په داســې یو حالت کې ورته انقلابي دلیـل ویـل او غـوخ مـنـطـق وړاندې کول اصلي داعیې ته د ګتې پر ځـای د نور زیـان



ر سولو اسباب برابروي. هېوادپال افغانان په ښه دریځ کې نه دي، کله چې سیاسي، پوځي، مذهبي او اقتصادي ځواک درسره نه وي، نو علمي منطق دې هم یـــوازې د یو اخلاقي عنصر تر کچې پورې مطرح دی او بس. تېـرو چارواکو او د هغوی ګڼو منفي اعمالو هم د ملي بیرغ د مخالفانو تبر ته لاســتی برابر کړی دی. زه نه غواړم د ملي بیرغ پر وړاندې د اوسنیو یو شمېر چارواکو دلایل منطقي وګڼم او توجهاتو ته یې د نورو په شــان توجهیات پیدا کړم، خو دومره ویلای شـم چې اوسـني حالات د نظامي احساساتو تر اغېز لاندې دي، په داســې یو ګرم او پېچلي پوځي حالت کې په کار ده چې د

تعقل له نرمۍ قوي ځخه کار واخيستل شي، په همدې خاطر ما له خپلو ډېرو شعوري هېوادپالو ملگرو سره تر مشورې وروسته وپتېيله چې د ملي بيرغ او نورو ملي مسايلو په باب له اوسنيو چارواکو سره د خبرو اترو له يوې منطقي لارې پر مخ لاړ شو. دتېرو دريو مياشتو په بهير کې مې له څلورو وزيرانو، يو شمېر موثرو سياسي مسولينو او د منځنۍ کچې له گڼو چارواکو سره کتلي، د نورو ملي مسايلو تر څنگ مو د ملي بيرغ موضوع ورسره هم مطرح کړې ده. له نېکه مرغه بايد ووايم چې ټولو يې ملي بيرغ د يو ملي حقيقت په توگه منلی،خو دا چې دا حقيقت به څه وخت پر عملي واقعيت بدل شي، د ټولو مشوره دا وه چې لږ وخت ته ضرورت دی، هغو مجبوريتونو او حساسيتونو ته چې دوی ورته په خپلو خبرو کې اشارې کړي، زه نه غواړم هغه دلته ياد کړم، ځکه چې خدای مه کړه سبا هماغه دلايل يو ځل بيا څوک د ملي بيرغ پر وړاندې د يو خنډ په توگه و نه کاروي.دا چې دا خبرې لا تر اوسه پر واقعيت نه دي بدلې شوې او ثمر ته نه دي رسېدلي، نو ضرور نه ده چې مخکې تر مخکې خلکو ته داسې اوازې خپرې کړو چې عملي کېدو ته يې لا وخت پاتې وي. موږ له خپلو ملگرو سره دې مبارزې او له چارواکو سره منطقي او رغنده خبرو ته دوام ورکوو، پاتې چارواکي به هم يو په بل پسې گورو، خبره کينې، بغض، عداوت او فزيکي شخړې ته نه باسو او نه د دې کارو لپاره عملي اسباب لرو. زه په اوسنيو چارواکو کې د يو تن مسول چارواکي هغه خبره هېڅکله له ياده نه شم ايستلای چې ماته يې ويل : (( يون صيب د ملي بيرغ په مسله کې تر تا زه ډېر

دردېږم او دا بيرغ تر تا ډېر رابانـدې ګران دی)). بـل ويـل چې: ((زموږ ملي بيرغ هم ملي دی، هم اســلامي، هېڅوک حق نه لري چې څوک يې د اســلام له دايرې وباسي)). نن يو بل چارواکي راته وويل چې: ((ملي بيرغ د محتوا له مخې تر اوســني بيرغه دوه ځله زيات اسـلامي دی... )) همداســې نورو چارواکو هم هر يو په نرمو اعصابو د ملي بيرغ د داعيې تاييد کړی دی، خو ټولو د وخت نزاکت او د حالاتو حساسيت د يو مجبوريت په توګه ياد کړي دي. البته د دې خبرې يادول ضرور دي چې چارواکي يوازې همدغه نه دي چې موږ ورسره کتلي او ليـدلي دي، لا ډېر نور او تر دوی لا نور مهم پاتې دي، خو زموږ ټينګ هوډ دی چې دا لړۍ به غځوو او ټولو سره به ګورو، زه هيله من يم، هر څومره چې ټولنه د قانونيت خواته ځي او پوځي حـالات کنټرولېږي، د ملي بيرغ او نورو ملي غوښــتنو تطبيق ته لاره اوارېږي.البته دا هغه معتدلې لارې دي چې اســاس يې پر علمي او تاريخي منطق ولاړ دی، که بل چا سره نورې کومې لندې، بې ضرره او بې خطره عملي لارې چارې وي، د هغوی مخه هم څــوک نــه نيسي راوړانــدې دې شي؛ لاس په کار دې شي. له ټولو هېوادوالو په تېره بيا له رســنوالو او ليکوالو مو هيله ده چې په دې برخـه کې لـه ډېرې هوښــيارۍ او دقـت څخـه کـار واخلئ، احساساتي، خام او دروغجن خبرونه، اوازې او انګازې مه خپروئ، هر کله چې يوه موضوع ښه پخه او کره شوه او بشپړ باوري شوئ، بيا يې رسنيزه کړئ! د دې خبرې يادول هم ضروري دي چې د ملي بيرغ داعيه د ټول ملت داعيه ده، د تېر حکومت لنډغر، فســادګر او

د هغوی موتلف ټاميان دې له دې مو ضوع څخه لرې ګرځي، هغوی دې په دې کار کې خپل ســـپېروني نه ګڼوي، هغوی نه ملي بيرغ لري، نه ملي هو يت او نه هم ملي عزت، هڅدوی وو چې دا ټول ارز ښتونه يې سپک کړل او اوس غواړي له او سنيو چارواکو سره د ملي بيرغ د داعيې د ټکر له امله دا داعيه له څنډ او خنډ سره مخ کړي او په دې تصادم کې ولس ضدي ټاميان او لنډغر يو ځل بيا د تېر په څېر د ولس د کاذبو خواخوږو په توګه ځان مطرح کړي.دوی ته بايد وويل شي چې ولس ژوندی دی، تاريخي حافظه يې هم وينښه ده، په پوره تدبير او سياسي ظرافت د دې لپاره کار کوي چې نوي حکومتي چارواکي له ســوله ييزې او معتدلې لارې پر دې قانع کړي چې له خپل تېر تاريخ، وياړ او پرتم سره ټکر مه کوئ، دا ټکر هم حکومت او هم ولس ته په تاوان دی، خو د ملي بيرغ په ګډون د ملي ارز ښتونو منل او ځلول د ملت د خو شالۍ او د حکومت د عمر د تداوم سبب ګرځي.

# څو شيبې د پښتو ادب له

# يو پير او يو کاروان سره

| |
|---|
| دا ليکنــه د (۲۰۲۲م) کـال د جنورۍ پر (۲۷) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سلواغې) مياشتې له (۷) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده. |

نن مې د پښتو ادب له يو پير، يو محمد او يو کاروان سره وکتل. دی په ظاهره فقير او ملنگ دی، خو د مانا او محتوا له مخې بيا يو



لوی امير او پير دی. کاروان د پښــتو ادب داســې يو کاروان دی، چې رنگارنگ گلو نه د دې کاروان ملگري دي، خو دی بيا د دې کاروان سرلاری او پير دی. د کاروان شـاعري په واقعيت کې د دې سـبب شـوه چې په پښــتو شـاعرۍ، په تېره بيا د هېواد په جنوب

ختیزه فرهنګي حوزه کې، یوه نوي ادبي ســبک ته لاره اواره کړي. کاروان په دې سـیمه او ټوله پښـتو شـاعرۍ کې د شـعر داسـې یو نوی بزغلی و کاره چې تر پېړیو پېړیو به پرې د پښــتو ادب ګلبڼ ښــکلی او معطر وي . که څوک په تېرو درېیو لسـیزو کې د پښــتو



شــاعرۍ د ډېرو ښــو بېلګو د موندلو او په نړیواله کچه د نړۍ له مطرحو شــعرونو سره د هغو د ســیالۍ او پرتلنې هڅه کوي، نو د کاروان شعرونه ورته ښه مثالونه دي. خدای ج دې کاروان صیب د زمانې د ناخوالو د ســپیو له غپا لرې او خوندي لري. د لا مثمر او ګټور ژوند هیله ورته لرم.

# د امریکا په عدالت کې بې عدالتي

دا لیکنــه د (۲۰۲۲م) کــال د فبرورۍ پر (۱۲) مــه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (ســلواغې) میاشــتې له (۲۲) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د لویو زبرځواکونو اشــتباوې او خطاوې هم لویې وي، د غرور پر اس ســواره شي ، له یوې وړې تېروتنې یې پیل کړي او په پای کې همدا وړې وړې تېروتنې یوه په بله پســـې غوټه شي او د یو ســـتر زبرځواک د نړېدو سبب شي.

لومړۍ نړېواله جګړه د یوه شخص د قتل له اشتباه پیل شوه او بیا په کې د اروپا ډېر متمدن هېوادونه او ملتونه وســـوزېدل، دویمه نړیواله جګړه هم د هتلر د ځانخوښــوونې له غریزې پیل شــوه او بیا د پنځوس ملیونه انســـانانو د ژوند په قېمت تمامه شــوه. پخواني شـــوروي اتحاد هم د یو دیکتاتور د غرور او د یو غوړه مال د کاذب نفوذ او دروغجنو ژمنو له امله خپله اشتباه پیل کړه ، خو په پای کې همدا تېروتنه د شـــوروي د ړنګېدو ســـبب شـــوه. امریکا په یو څه توپیرونو هماغه تېروتنه بیا تکرار کړه. که څه هم تر دمه لا ړنګه شوې نه ده ، خو د ماتې شرم یې تر شوروي اتحاد او زړې برتانیې هم کم نه دی.

امریکا پر افغانســتان باندې د خپل یرغل پر مهال له ډېرې بېړې کار واخیست ، په کوردننه یې غله او فسادګر را ټاله کړل او د طالبانو پر ځای یې د قدرت پر ګدۍ کېنول.دا نامتجانس او مصـــنوعي

ترکیب او دلته د دوی د یوویشـتکلن حاکمیت په بهیر کې متواترې تېروتنې، دوی له داسـې یو نامطلوب برخلیک سره مخامخ کړل چې



د داســـې یو نړیوال لومړۍ درجه زبرځواک په فکر کې نه گرځېده.

امـریـکـا مـتـحـده ایالات د نړۍ داســـې یو لوی هېواد دی چې (۹،۸۳۴) ملیونه کیلو متره مربع مساحت او (۳۲۹،۵) ملیونه نفوس لري ، د نړۍ (۲۵) سلنه انرژي مصرفوي ، د دنیا نږدې (۴۰) سلنه سره زر لري او ویل کېږي د ټولې نړۍ نږدې (۳۳) سلنه اقتصاد یې په لاس کې دی، د پیسـو کلنی دوران (GDP) یې پر (۲۰۲۱م) کال (یوویشت نیم ټرلیونه) ډالر وو. له (۲۰۱۵ــــ۲۰۲۰ م) کال پورې د افغانستان د ټولو پیسو کلنی دوران یوازې ( شل ملیارده) ډالره و او اوسنی حالت که په پام کې ونیول شي ، نو کېدی شي زموږ د هېواد ټول کلنی دوران (لس ملیارده) ډالرو ته را کښته شوی وي، یانې په امریکـا کې د دوی د پیســوکلنی دوران نږدې (دوه زره ځلـه ) تر افغانستان زیات دی.

د اقتصــاد دا حجم او د ټکنالوژۍ دا پرمختگ په دې مانا نه دی چې دوی به گنې په ټولــــنیز ډگر او د عدالت د تامین په برخه کې هم همـدومره تر افغـانـانو لوړ وي، بلکې پـه دې برخـه کې حق د افغانانو په طرف دی.

کله چې په تېر اگست کې طالبانو یو ځل بیا پر افغانستان خپله ولکه ټینگه کړه، نو امریکا کې د هغه هېواد حکومت د افغانستان ټوله پانگه، چې نږدې (اته نیم ملیارده ) ډالره کېږي، کنگل کړه. له افغنستانه تر وتلو وروسته سم له لاسه داسې اوازې خپرې شوې چې د امریکې د یوې محکمې د پرېکړې له مخې به د دې پیسو یوه برخه د سپتمبر د (۱۱ )مې نېټې د پېښې د نږدې (څلور زره تنو) قربانیانو



کورنیو ته ورکول کېږي. که دا پرېکړه عملي شي، نو د افغانانو د اقتصادي مظلومیت پېټی به لا دروند شي او د امریکا حکومت به په افغانستان کې د تېرو سیاسي او جنگي جرمونو او تېروتنو په تعقیب د مظلوم افغان ولس پر وړاندې د نورو بشري او اقتصادي جرمونو مرتکب هم شي. دلته غواړو د امریکا د حکومت او بیا د محکمې د نظر او پرېکړې د اړوندو خواوو د مسولیت او مکلفیت په باب یو څو څرگندونې ولرو:

د پرېکړې اساس له دې محتوا سره تړلی چې (اسامه بن لادن ) او د هغه ملگرو پر امریکا برید کړی، د طالبانو تېر حکومت ورته پناه ورکړې او دا ځای یې د امریکا پر ضد کارولی دی، نو ځکه دوی گرم دي او تاوان باید پرې کړي. په دې باب باید وویل شي:

۱-اسـامه او عرب جنګیالي خپله د امریکا د لویو پالیسـیو زېږنده وو، دوی یې د روسي پوځونو په مقابل کې وجنګول او د دواړو تر منځ د جګړې په بهیر کې افغان ولس ته درانه زیانونه واوښتل.

۲-اسـامه او ملګري یې د هغو جهادي ډلو له خوا افغانسـتان ته راوړل شوي وو، چې وروسته د امریکایانو د کورنیو ملېشو په توګه د



هغو له خوا وکارول شـول او د امریکایانو د شلکلن پوځي حضـــور په بهیر کې د واک وځواک او نعمت خاو ندان وو. امریکـا د دې پر ځـای چـې هـغـو جـهـادي ډلـو، محرکینو او عاملینو ته، چې اسـامه ته یې په افغانسـتان کې د ژوند لومړني شرایط برابر کړي وو او اســامه ورڅخه طالبانو ته د میراث په توګه پاتې و، سزا ورکړي. طالبانو ته د سزا ورکولو لاره ونیوله. په کار خو دا وه چې امریکا هغو سره پر خپل وخت حســاب او کتاب کړی وای.

۳ -طالبان چې کله لومړی ځل واک ته ور سېدل، نو د افغانستان بانک په خزانه کې یوازې پنځوسـګون او سـلګون نوټونه پاتې وو، چې دا مهال د زیات انفلا سیون له امله ناچله شوي وو، نور هېڅ نه وو، یوې روسي کمپنۍ رباني -مسعود او یو انګلیسي کمپنۍ جنرال دوسـتم ته بې پشـتیوانې پیسـې چاپولې چې د افغانیو ارزښـت یې (یونیم زر ځله) را غورځولی و.

د طالبانو د حاکمیت پر مهال د ټول هېواد کلنۍ بودجه نږدې (یو پنځوس ملیونه) ډالره وه چې د زېرمه کولو لپاره یې هېڅ چانس نه و، له دربېیو هېوادونو پرته یې نه حکومت چا په رسمیت پېژنده او نه یې خپله کرنسۍ لرله.

۴ -که د امریکایانو له خوا د غرامت خبره مطرح وای، نو د طالبانو د تېر حکومت پر مهال به یې دا موضوع عملي کړې وای، لږ تر لږه، عربي متحده امارات، سعودي عربستان او پاکستان چې د طالب واکمني یې په رسمیت پېژندلې وه، د امریکایانو سیمه ییز متحدین وو او خپله اسامه بن لادن ورسره هر ډول اړیکي درلودل، هغو ته به یې ویلي وو چې ګورئ مونږ له دې خلکو خپل غرامت او تاوان غواړو.



۵-د امریکا له یوې محکمې پرته بلې هېڅ کومې نړیوالې محکمې ته نه دا موضوع راجع شوې او نه پرې چا نظر ورکړی دی؛ نه مدعي دعوه کړې، نه څارنوال دعوه اقامه کړې او نه مدعی علیه چا پوښتلی چې ته څه سپیناوی لرې او کنه؟ بس یو حکومت دی، یوه محکمه ده، نه مدعي شته، نه مدعي علیه، نه د دعوې صورت شته او نه یې سیرت.

٦-لکه څنګه چې دمخه مو وو یل د طالبانو په حاکمیت کې د هېواد ټو له کلنۍ بود جه نږدې (٥١) ملیو نه ډالر وه، نه په مرکزي بانک کې کومه زېرمه وه او نه د پیسو پشتیوانه، ا صلاً هغه وخت د دوی حکومت پسې چاپولې نه، نو پشتیوانې ته یې څه اړتیا وه؟ دا (اته نیم ملیارده ډالره) پشتیوانه خو د هغوی د نظام تر سقوط وروسته د شلو کلونو په بهیر کې د افغان ولس د مجموعي کار او زیار په برکت رامنځته شوې، چې د سرو زرو او نورو ارزښتمنو ا سعارو ټولیز ارز ښت هم په کې شامل دی، نو دا زېرمه خو د ولس ده، طالب یې په جوړونه کې هېڅ لاس نه لري، نو اوس به د طالبانو د اعمالو په کفاره کې ولس خپله دا زېرمه هم له لاسه ورکوي.

٧-عجیبه خبره خو دا ده چې د نړۍ هېڅ هېواد د طالبانو حکومت په رسمیت نه پېژني. نه یې د افغان ولس استازي بولي، خو د ملت د پیسو مسول او مالک یې بولي، دا خزانه خو ا صلاً د ولس ملکیت دی چې حکومت یې وکالت کوي او مرکزي بانک یې حراست، نو چې دلته حکومت او مرکزي بانک په رسمیت نه پېژنې او نه یې د ولس د ارادې ممثل ګڼې، نو د دومره لویې خزانې مسولیت ورته ولې راجع کوې؟

٨ -خپله امریکایانو او نورو نړیوالو (طالب) یوه تروریستي ډله بلله او ځینې یې لا اوس هم تروریستان ګڼي، نو که داسې وي، دا زېرمه ولې طالب ته راجع کېږي، ایا د امریکا د محاکمو په قانون کې کومه دا سې ماده شته چې ترور ستان کولای شي، د امریکا په بانکونو کې هم خپلې پیسې کېږدي، په هغو ګټه هم وکړي، شل

کاله په دوران کې هم وي، د یو داســې هېواد او جغرافیې لپاره چې د نړۍ سلو هېوادونو او ملګرو ملتونو له خوا په ر سمیت هم پېژندل شــوی وي، د هغوی لپاره پیســې هم چاپ کړي، خو خپله حکومت هم نه وي، یو ډله وي، شـل کاله وروسـته یوه محکمه راپاڅي وایي چې نه دا پیسې د دوی د تېر حکومت په وخت کې د شوي جرم له امله درڅخه ګرځوم. په داســې حال کې چې محکمه دا نه شي ثابتولای چې دا پیسې د کوم وخت دي؟

۹-که طالب دومره تکړه وي چې د خپل تېر پنځه کلن حاکمیت په بهیر کې یې په خپل مټ په مرکزي بانک کې (۱ته نیم ملیارد ډالره) زېرمه جوړه کړې وي، نو دا خو بیا د بلا بچیان دي چې د امریکا او پنځوســو هېوادونو په ګډون تېر شــلکلن حکومت یو ډالر هم زېرمه نه کړای شــو او طالب په څلورو پنځو کلونو کې دومره اقتصــادي توره وکړه، نو بیا خو کېدی شي ولس ووایي چې موږ ته همدغسې ګټور حکومت په کار دی!؟

۱۰-د اســامه د شــتوالي په پلمه پر افغانســتان یرغل وشــو، د افغانانو کلي او کورونه بمبارد شـول، خو څو کاله وروسـته اسـامه د پاکســتان په ایبټ اباد کې پیدا شــو، د وژلو عملیات یې په دومره چټکۍ وشــول چې بارک اوباما په خپل کتاب کې ولیکل: ((ځینې وخت ډېر عادي شیان هم ډېر مهم وي، خو د کار پر وخت د سړي له یاده وځي؛ کله چې امریکایي پوځیانو پر اسـامه عملیات کول، نو د هغه د قد اندازه ورته معلومه وه، په دې اندازه یې خپل یو عســکر هم پیدا کړی و او ویل یې کله چې اســامه ووژل شي، ته به ورسره

وغځېږي چې پوره معلوم شي چې رښتیا هم اسامه دی کنه؟)).
بارک اوباما زیاتوي: (( پوځیانو دېته فکر نه و کړی چې د سړي پر ځای باید متر ځان سره یوسي، په هغه یې د قد اندازه معلومه کړي، کله چې اسامه ووژل شو بیا یې په بیړه همغه عسکر، چې قد یې له اسامه سره برابر و، له اسامه سره وغځوه او باور یې پوخ شو)).

د غټو ځواکونو دغسې فکرونه هم وي، اوس یې افغان ولس د طالب تر عنوان لاندې په دې جرم نیولی چې تاسې ولې اسامه ته پناه ورکړې وه، خو له کوم اصلي پناه ځای څخه چې را ووت، هغو ته هېڅ هم نه وايي. که د امریکا په عدالت کې رښتیا هم عدالت وای، نو د پاکستان حکومت یې باید په دې کیس کې رانیولی وای، ټوله پانګه یې ورته کنګل کړې وای او که پیسې یې نه درلودلې، نو اټوم بم یې ترېنه د تضمین په توګه اخیستی وای. عجیبه منطق دی اسامه له پاکستانه راووت، خو د (مور بم) یې پر افغانستان وکاراوه!

۱۱-دا اسامه څوک و؟ د چا زوی و؟ د کوم توک و؟ نسب یې درلود که نه همدلته افغانستان کې تولد شوی او لوی شوی و؟

ټولو ته معلومه ده چې (لادن) کورنۍ په سعودی کې د پنځو شپږو مطرحو کورنیو له جملې څخه یوه ده، په سعودي کې زیات جايدادونه لري او ګڼې ساختماني چارې یې پر غاړه دي، ټولیزه پانګه یې لسګونو ملیاردو ډالرو ته رسېږي، یو درجن زامن یې د خپل همدې پلار په پیسو په انګلستان، فرانسې او نورو لویدیځو هېوادو کې د عیش او عشرت په وروستۍ پوړۍ کې ژوند کوي،

دامریکا یوې محکمې هم د هغه له پانګې څخه د غرامت د اخیستو خبره مطرح نه کړه، خو د غم غوټه یې ټوله د افغان ولس پر اوږو بار کړه.

۱۲-اسامه د سعودي عربستان تبعه و او د کورنۍ یو شمېر غړي یې لا اوس هم هملته اوسي، پانګه یې هم هلته زېرمه ده، بن لادن د سعودي په ټولنه کې د افراطي اسلام مفکوره او انګېزه خپله کړې او بیا افغانستان ته را استول شوی دی، نو ولې اصلي پالونکي او روزونکي ته لاس نه وروړئ چې د یو مظلوم ملت په اوښکو لوند ګرېوان مو ټینګ نیولی دی؟ سعودي همدا اوس د امریکا په بانکونو کې تر (څلورسوو ملیاردو ډالرو) زیاته پانګه لري، د غرامت لپاره باید پر دغو پیسو غور وشي او زیاته برخه یې باید افغان ولس ته په دې خاطر ورکړای شي چې د همدوی د سترو او ناعادلانه لوبو قرباني شوی او له جغرافیې څخه یې د جنګ د ډګر په توګه ناوړه ګټه پورته شوې ده.

۱۳-دلته په کابل کې نویو چارواکو سره دا فکر دی چې دا نږدې (لس ملیارده ډالره) که را خلاص شي، نو دوی به پرې د خپلو مامورینو معاشونه ورکړي، پر پوځي ډګر به یې ولګوي او د خپلې بودیجې کسر به پرې پوره کړي. په همدې خاطر ګرم تبلیغات کوي، د خپل یو منظم اقتصادي پلان نشتوالی هم په دې پلمه پټوي چې هغه دی امریکا د افغانستان پیسې بندې کړي کنه هر څه به سم وو؟!

حقیقت خو دا دی چې د دې پیســو یوه زیاته برخه د افغاني بانکنوټونو ملاتړ یا پشتیوانه ده، که دا پیسې له هغه حالته را ووځي او په بل ځای کې وکارول شي، افغاني بانکنوټونه به د باد بنکه شي او سخت انفلاسیون به رامنځته شي. د ډاکټر غني حکومت کې یو شــمېر کړیو هم هڅه وکړه چې له دې پیســو څخه د جنګي او ســیاسي موخو لپاره ګټه پورته کړي، خو زیات لاسرســی یې ورته پیدا نه کړای شــو، نوي حکومت ته هم باید ددې زمینه برابره نه شي چې د افغانیو له دې ثابتې پشتیوانې څخه د نورو مقاصدو لپاره ګټه پورته کړي.

یوازې یو مقدار داسې پیسې شته چې د هغوی د دوراني حرکت له لارې هرکال افغانســتان ته (درې څلور ســوه ملیونه) ډالر ګټه راځي، دا پیســـې کېدی شي هم د افغانیو د پشــتوانې او یا هم د صـــحت او تعلیم په برخه کې ولګول شي، د دې تر څنګ یو مقدار نورې پیسې دي چې د نړیوالو له خوا په افغانستان کې د پرمخیتایي پروژو لپاره بېلې شــوي، هغه باید ازادې شي. نویو چارواکو ته باید وویل شي چې دا نږدې (لس ملیارده ډالره) د تېر شــلکن حکومت د نیمګړي کار په نتیجه کې د ولس د عامه شــتمنۍ یوه مجموعه ده، چې د هغو نږدې ( درې ســوه ملیارده افغانیو) ارزښــت ســاتي او تضــمین یې کوي چې همدا اوس په بازار کې د چلند وړ دي، د افغانســتان بانک پر هر بانکنوټ لیکلي چې: (( د دې ســند لرونکي ته وعده ورکوي چې د غوښــتنې په وخت کې ... افغانۍ ورکوي)) .

کله چې د افغانســتان بانک د سرو زرو او بهرنیو اسـعارو دا زېرمه و

نه لري بيا د کوم مدرک له مخې تضمين ورکوي؟ دا رنګه بانکونوټ خو چې پشـــتيوانه و نه لري دا خو نو تش يو کاغذ دی. بله خبره دا ده چې دا نو څه مانا لري چې د تېر حکومت په بهير کې راټولو شويو پيسو سره مينه، خو سړيو څخه يې کرکه لروا؟ حقيقت دا دی چې دا پيسې نه د تېر حکومت شـــخصي ملکيت دی، نه د اوسني او نه د سباني، دا د ملت مال دی بايد ملت ته خوندي وساتل شي.

۱۴-د افغان ولس هيله دا ده چې د امريکا متحده ا يالات، د هغوی خاصـــه محکمه او نړيوال بانک دې لومړی د افغانســـتان د ټولې هغې پـانګې دقيق مقـدار معلوم کړي چې تر دې دمـه دوی کنګل کړې او يا دوی سره خو ندي ده. دويم بيا دې هغه مقدار معلوم کړي چې د افغانيو د پشـــتيوانې په توګه کارول کېږي او بايد خوندي و ساتل شي او بل ځای ونه کارول شي، درېيم د افغانستان هغه پيســـې دي چې د امريکا په بانکونو کې پرتې وې او له دورانه يې افغانســتان ته هر کال يو مقدار ګټه راتلله او څلورم د نړيوالو يو مقدار هغه مرستې دي چې اوس منجمد شوې دي.

۱۵-د نوي حکو مت چارواکي کولای شي له امريکا او نړيوالو سره د پيســـو له پشــتيوانې پرته يوازې د اضــافي پيســو د دوراني حرکت د ګټې او هممدارنګه د نړيوالو مرســتـه شـــويو پيســـو د راخلاصـــون په باب بحث وکړي، د افغاني بانکنوټونو د پشـــتيوانې پيسـو ته هېڅ حکومت د لاس ور وړلو حق نه لري، هغه هم داســې حـکومـتونه چې د مشروعيت او تداوم پر وړاندې يې لا ډېر خنډونه موجود دي.نوی حکومت کولای شي لـه امريکـا او نړيوالو سره د افغانســتان د بانکي ســســتم د بيا فعاليت او وصـلېدو په باب بحث

وکړي نــه دا چې یوازې د تېرو راتلو شـــویو پیســـو پر محور ور وڅرخي.

۱٦-ویل کېږي چې امریکا کې اجراییه، مقننه او قضایه قوه د یو مثاوي الاضلاع مثلث بڼه لري، د امریکا محکمه باید د اجراییه قوې تر دومره ســیاسي فشــار لاندې رانه شي چې د امریکا د حکومت د ســـیاسي ماتې غچ د طالب د تېر حاکمیت په پلمه له عامو افغانانو واخلي، دوی ته باید روښانه وي چې تاسې خپله وایې چې طالبان د افغانانو ســیاسي اســتازولي نه شي کولای، نو چې داســې ده بیا د افغان ملت د ټول عمر د تکلیفونو د پانګې صــلاحیت ولې هغوی ته منســـوب شي. محکمه که له طالبه غچ اخلي، نو خپل حکومت دې محاکمې ته راکاږي چې ولې یې داســې یوې ډلې سره په دوحه کې د سولې تړون لا سلیک کړ چې د امریکا له محکمې سره مخکې تر مخکې کیس لري او د امریکایانو پر وژنه ګرم ګڼل شوي دي .ایا د امریکا محکمه پر دې نه وه خبره چې په قطر کې د طالبانو د دفتر لګښت په نامستقیم ډول د امریکا د حکومت او په مستقیم ډول د هغه د ګټو د شریکبانې (قطر) له خوا ورکول کېږي؟ نو چې یو څوک د چا د ســـیاسي دفتر لګښـــت پر غاړه اخلي، د هغوی د تېرو او راتلونکو سیاسي اعمالو د غرامت مسولیت دې هم وزغمي . سبا به محکمه دا هم ووایي چې قطر کې د طالبانو پر دفتر د امریکا دومره لګښـــت راغلی، د افغان ولس له ملي زېرمې دې دا لګښـــت هم وګرځول شي! ایا دا عادلانه او منطقي بحث دی؟

۱۷ -افغان ولس د امریکا له حکومت، ولس، په تېره بیا له محکمې څخه دا هیله او غوښـــتنه لري چې ظالمانه او ماشـــومانه پرېکړې دې نه کوي، تېرې تېروتنې دې بیا نه تکراروي، د نړۍ د یو لوی او متمدن ملت او د عدالت د یوې موثرې سرچینې په توګه

دې خپل مســوليت وپېژني، که افغان ولس ته د جنګي غرامت او تاوان د ورکړې په برخه کې له اخلاقي او حقوقي پلوه ځان ګرم او مســول نه ګڼي، نو د خپل حکومت او ســياســيونو د بې کفايتيو بار دې هم پر مظلوم افغان ولس نه باروي، کومه پېښه چې د سپټمبر پر (۱۱) مه، په امريکا کې وشــوه، دا د هغه هېواد د امنيتي او سياسي سکتور د بې کفايتيو نتيجه وه، هېڅ افغان په کې دخيل نه و. اوس نو چې د دې کار د زيان جبيره له افغان ولســه غواړئ، داسې ښکاري چې يو ډېر زورور او زبرځواکی پانګوال، چې د پانګې مقدار يې دوه زره ځله له يو مظلوم ملنګ څخه زيات وي او دی ورته ووايي چې څو کاله وړاندې ما يو روزل شوی انډيوال ستاسې کلي ته د خپل دښــمن د ځينې لپاره درلېږلی و، ښــه مې پړســولی او ستايلی و، خو چې زما رقيب ستاسې کلي کې مات شو، زما دوست له ما څخه باغي شو، ما ته يې ستا سو له کلي توروبرېښ کاوه، بيا زه ورپسې راغلم دلته مې کلي او ولسونه پسې بمبارد کړل، سړی پيدا نه شو، څو موده بعد مو د خپل يو بل دوست له کلي را ووېست، هلته مې وواژه ، اوس نو را که هغه يوه روپۍ چې د شــلو کلو په نتيجه کې دې د خپلو خولو په زور ګټلې او د لاس په ورغوي کې دې د خپلو ماشومانو لپاره ټينګه ساتلې ده. ځکه چې زما دښمن څو ورځې دلته ســتا په کلي کې ځان پټ کړی و!؟ د امريکا د محکمې قضاوت دې ورته يو قضاوت دی!

# عربي کلمې څنګه ولیکو ؟

| |
|---|
| دا لیکنـه د (۲۰۲۲م) کـال د فبرورۍ پر (۱۳) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (سـلواغې) میاشـتې له (۲۳) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

کله کله چې په فیســبوک کې یوه نیمه عربي کلمه په مفغن؛ افغاني یا پښتو شوې بڼه ولیکم ، نو یو شمېر فیسبوکي ژبپوهان نوره ټوله لیکنه پرېږدي او یو دم ولیکي چې وګوره: (حوصله) یې په (اوسېله) لیکلې، دغه ده غلطي او دغه ده بېسوادي!؟ دوی ملامت نه دي، دوی مســلکي لیکوال او ژبپوهان نه دي؛ اماتوران دي، نو ځکه خو ډېر ژر وارخطا شي او نیوکو ته اړم شي.

دلته غواړم په ډېر لنډیز سره په پښـــتو کې د کارېدونکو عربي کلمو د لیکښو په باب رڼا واچوم:

۱ -هغه عربي کلمې چې مذهبي تقدس او مانیز بار لري او په پښتو کې په ورځنۍ محاوره کې کارول کېږي، هغه باید په خپله بڼه ولیکل شي، نه یوازې دا کلمې، بلکې نورې هغه کلمې چې حقوقي او ټولنیزه ما نا لېږدوي او په لفظي یا لیکني بدلون سره یې ما نا بدلېږي، هغه ټولې باید په خپله هماغه اصـلي بڼه ولیکل شي، لکه: (قهار، غفار، صـــمد، مذهب، قانون، عبدل ) او نورې، که دې کلمو کې هر ډول لفظي، غږیز او حرفي بدلون راشي، نو د کلمې یا لغت اصـلي مفهوم ورسره بدلېږي، موږ نه شـو کولای دا لغتونه د (کهار، غپار، ســـمد. مزهب، کانون، اودل) په بڼه ولیکو، سره له دې چې

اکثریت پښتانه یې همدا ډول تلفظ کوي، خو څرنګه چې دلته لفظي یا حرفي بدلون د مانیز بدلانه سبب کېږي، نو ځکه خو باید دا ډول کلمې د مانا د پوره خوندیتوب او سم لېږد لپاره په خپله بڼه ولیکل شي.




۲ - هغه ډول کلمې دي چې اصلي ریښه یې عربي ده، خو په پښتو کې په یو څه لفظي تغیر سره په هماغه مانا او مفهوم کارول کېږي. حرفي او لفظي تغیر په کې د وخت په تېرېدو سره ځکه پېښ شوی چې پښتانه یې په خپله اصلي بڼه سمې نه شي تلفظ کولای او په هغو پښتو غږونو یې تلفظ کوي چې پښتو کې شته او مخرجونه یې همغو عربي غږونو ته نږدې دي، نو ځکه خو عربي (قمیص) د وخت په تېرېدو سره په پښتو کې د (کمیس)، (تفحص) د (تپوس)، (قصه) د (کیسه)، (صلحه) د (سوله) او معصوم د (ماشوم) بڼه اخلي. همدارنګه نورې ګڼې کلمې.

په پښتو کې تر ډېره بریده د وینا او لیک ژبه یوه له بلې سره سمون خوري او په دې برخه کې زیات پیوستون شته، نو ځکه خو که څوک (حوصله) په (اوسېله) ولیکي، (صلحه) په (سوله) (معنی)

د (مانا) په شـــکل او (معنوي) په (مانیزه) بڼه، نو نه یوازې دا چې لیکنۍ تېروتنه نه ده، بلکې د پښتو ژبې له ګړني او لیکني جوړښت سره ســم کار دی. لیکنۍ تېروتنه خو دا ده چې څوک په وچ زور په ناخبرۍ او سرتمبګۍ سره عربي توري په پښتو کلمو کې ورګډ کړي او دا بیا د خپل علمیت او ســـواد یوه مرتبه هم وګڼي. (الینګار او الیشــنګ) د ( علینګار او علیشــنګ) په بڼه ولیکي او بیا په افراطي بڼه ټینګار هم وکړي چې نه دا مو ســل په ســلو کې ســم لیکلي او هغه بله بڼه یې غلطه ده.په داسې حال کې چې په کومو لغتونو کې چې ( پ، ژ، ګ، چ) او نور نړه پښـــتو غږونه یا توري، لکه: (ڼ، ډ، ړ، ټ، څ، ځ، ږ او نور) راغلي وي، هلته قطعاً هغه توري نه شي راتللی چې ســـوچه عربي غږونه یا توري ګڼل کېږي ، لکه:( ص، ض، ط، ظ، ع، ذ او ځینې نور). نو هره هغه کلمه کې چې د (ګ) توری راغلی وي، هلته هېڅکله د (ع) توری نه شي راتللی. نو ځکه خو د (علینګار او علیشـــنګ) په بڼه د (الینګار او الیشـــنګ) لیکل مطلق غلط دي او د دفتري میرزایانو یوه پرله پسې تېروتنه ده.

دا یو اوږد بحث دی، چې دلته مې په ډېر لنډیز سره ورته نغوته وکړه. د زیاتو معلوماتو لپاره ( لیکوالي- املا انشـــا، پښـــتو لیکلار، پښتو پښویه، پښتو لیکنی سمون) او نورو ګرامري اثارو ته مراجعه کولای شئ!

اوس همدومره

# عاطفه تر سیاست ډېره لوړه ده

دا لیکنــه د (۲۰۲۲م) کــال د فبروری پر (۱۸) مــه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (ســـلواغې) میاشـــتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

له دې څو ورځو راهیسې ټول ملت د زابلي ماشوم په درد او مرگ وکړ بده ، چا د عا گانې وکړلې، چا ژړاوې وکړې او چا د تدبیر لمنه ونیوه ؛ عملاً لاس په کار شول ؛ څه یې چې په وس وو، هغه یې تر سره کړل ، خو ډېرو دعاوو او ډېرو هڅو بیا هم د تقدیر لوری بدل نه کړای شو.

د حیدر د کیسې عاطفي اړخ د یوسف (ع ) داستان ته ورته و، د حیدر چغې او ســاندې د ښــکلي یوســف د چغو درد ته نږدې وې ، هلته هم یو یعقوب پر خپل یوســف ډېر وژړل او هغه درد بیا د تاریخ د تلپاتې حافظې نه هېرېدونکې برخه شـــوه ، دلته هم یو یعقوب د خپل حیدر د ژغورنې لپاره ډېره هڅه وکړه ، خو کله چې بري ته ونه رسـېده ، نو حیدري کوکې یې له خولې ووتې ، خپله ژړا یې کنټرول نه کړای شـوه ، عاطفې پر ټولو شـیانو غلبه وکړه ، د جنگ د ډگر یو ســتر جنگیالی، چې ډېر مړي او ټپیان به یې له ســترگو تېر شــوي

وي ، ډېر مړي به يې پر خپلو اوږو وړي وي ، د خپل او مقابل لوري دواړه مړي به يې کتلي وي ، خو کېدی شي ا ستقامت يې دومره و ، چې اوښــکې يې له ســترګو نه وي بهيدلې ، خو دلته يې چې ژړا ټينګه نه شـوه ، دا د حيدر د معصـومانه عاطفې د درد فوران و، چې



يو پولادي انســان يې په ژړا کړ. د حيدر د ژوند پېښــه، که څه هم ډېره دردوونکې وه، خو زموږ مظلوم ملت يې پر ځان را ټول کړ، دې ژوره څاه کې د حيدر تصــوير، په حقيقت کې د ټول ملت د نږدې نيمې پېړۍ د ژوند تصوير دی، که ملت د حيدر په تصوير کې خپل انځور نه ليدلی ، نو دومره يې ورته نه ژړل.

د حيدر د ژوند د وروستيو سلګيو دردوونکي انځور دا پيغام ټولې دنيا ته ورسـوه، چې افغان ولس څومره محروم ، مظلوم او محکوم دی، چې د څو ورځو په بهير کې هم، د عصري و سايلو د نشتوالي له امله د يو ماشــوم ژوند نه شي ژغورل کېدی، اوس بايد د دنيا او عقبی عالمان د علمونو د انډول په باب هم دقيق فکر وکړي، چې څه شی دنيا کې په کار دي او څه شی په اخرت کې؟

د حیدر له چغو او خپلو بېوسیو ژور عبرت اخیستل په کار دي . د دې حقیقت درک کول هم ضروري دي ، چې موږ باید د چا انساني عاطفه او ژور درد د هغه او خپل ځان له سیاسي لیدلورو او تګلورو سره غوټه نه کړو ، د مثبت انساني کار د رد لپاره شل سنجول شوي



او ناسنحول شوي دلایل ونه پلټوو، په تېره بیا متضاد سیاسي اشخاص او په اصطلاح لیکوال، چې هره عاطفي او انساني موضوع له خپل سیاسي فکر سره غوټه کوي او له همغې منفي زاويې ورته ګوري، هغه هم په داسې حال کې چې د هېڅ ډول صداقت ځرک په کې نه وي. ولس او تاریخ د اوسنیو او پخوانیو چارواکو ټول اعمال څاري، ضرور نه ده چې سپاهي خپله صفایي په خپله وړاندې کړي. ولس پخواني چارواکي هم ښه کتلي او اوسني هم ښه ګوري، ښه کار ښه کار دی ، که د هر چا له خوا په هر زمان او مکان کې تر سره شي. له اوسنیو چارواکو سره د خپل اختلاف د ښکاره کولو لپاره نور ډېر ځایونه شته، خو په دې عاطفي کار کې یې غندنه پر خپلې عقدې یو ډول اعتراف دی.

په زابل کې له حیدرجان سره د هر دولتي او نادولتي چارواکي خواخوږي، د هغه د ژغورنې په کار کې د هغوی هڅه، تر ډېره حده پورې یوه بشرـــي او عاطي موضـــوع وه، نه ســـیاسي، خو که ســـیاســـتوال هم، له ولس سره په دې ډول درد او غم کې شریک شي، کور یې ودان. زما په نظر عاطفه تر سیاست زر ځله اوچته ده. خدای (ج ) دې ټولو هغو کســـانو ته چې د حیدر ژغورنې په کار کې یې هڅې وکړې، اجرونه، حیدر ته دې جنتونه او ځوربدلې کورنۍ ته دې خدای د زړه تسکین او جمیل صـبر ورکړي او زموږ ټول ملت دې نور د دې اوږدې غمیزې له ژورې څاه څخه په خپل فضـــل او کرم را بهر کړي.

# ملي بيرغ او قانونيت

دا ليکنـه د (۲۰۲۲م) کـال د فبروری پر (۲۷) مـه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) مياشــتې له (۸) مې نېټې سره ســمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.

زموږ ملي بيرغ هم ملي دی، هم اســلامي، د ټولو اســلامي تنظيمونو تر ځانګړو بيرغونو څو ځله زيات اســلامي دی، د بدلون لپاره يې نه ديني توجيهات شته او نه هم تاريخي. ملي بيرغ سره د ملت روح او روان تړلی، هر څوک يې چې پر ضد ځرګندونې کوي، د ملت له کرکې سره به مخامخېږي.

نويو چارواکو ته په کار ده چې خپل ملت درک کړي، د ګواښونو، اخطارونو او زور کارونې پر ځای بايد د ملت ملي ګټې او غوښــتنې په پـام کې ونيـسي. دا متل خو به ټولو اورېدلی وي چې په زور کلي نه کېږي، خو که بيا هم څوک د زور کارول د خپلې خبرې مصـداق ګڼي، نو تر ځـان وړانـدې زورور دې يو ځل بياله نظره تېر کړي.



د خوســت عام ولس ته د ملي بيرغ د ټولولو په باب د درې ورځني مهلت او اخطار پر ځای به ښــه دا وای چې پنجابي پوځ ته

اخطار ورکړل شـــوی وای چې په درې ورځو کې بايد د ډیورند پر کرښه ټول غځېدلی اغزن تار راټول کړي.یو واکمن ته نه ښايي چې خپل مظلوم، بې وســـلې او بې وســـيلې ولس ته د ګواښ کرښـــه راکاږي .

نوي حکومت ته لا ډېر نور کارونه پاتې دي، تر ټولو وړاندې ملی



او ولسيـ مشرــوعیت دی او تر څنګ يې قانونمندي ده. که چېرې ټولنه قانونمنده شي، هر څوک بیا د خپل صـــلاحیت په چوکاټ کې خپل نظر څرګندولای شي.

ملي بيرغ د خپل پخواني مســـير او ارزښـــت په تعقيب د خپل وخت يوې لويې جرګې منلی او تایید کړی او يوازې د خپل وخت یوه بله لویه جرګه د دې حق او صـــلاحیت لري چې د ملي بيرغ په باب قانوني پرېکړه وکړي.

که د وخت هر چارواکی د لويو ملي مســـايلو په باب له داســـې ګواښونو او اخطارونو ډکه ژبه کاروي، نو برخلیک به يې هماغه شان شي چې تر دې وړاندې نور چارواکي ورسره مخ شول.

ګرمه مړی د سـړي سـتونی سـوزوي، يو څه سـړه خوړل په کار دي.

# يوه تدريسي ورځ

**دا ليکنه د (۲۰۲۲م) کال د مارچ پر (لومړۍ)، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) مياشتې له (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې او خپره شوې ده.**

تر يو شـــپږ مياشـــتني ځنډ او ځنډ وروســـته نن يو ځل بيا کابل پوهنتون کې زما د تدريس لومړۍ ورځ وه.د ســـهار له اتو بجيا د ماښـام تر نږدې شـپږو بجو پورې مې ټوله ورځ د پښـتو څانګې له لومړيو ، څلورمو او د ماسټرې دورې له لومړيو او دويمو ټولګيو سره پر تدريس او څېړنيزو بحثونو تېره کړه. يو سـخت ماڼيجن ، نهيلي او هيله من چاپېريال و. ماڼيجن په دې خاطر و چې دې پوهنتون په نږدې اتياوو کلونو کې ډېر داســې خوندور او غوړېدلی دوران تېر کړی و ، چې د خپلې ښـکلا ، کميت او علمي کيفيت له پلوه ورسره د ســـيمې د هېوادونو پوهنتونونو هم ســـيالي نه شــوه کولای ، خو اوس داسې سپېره او غلی ښکارېده چې تا فکر کاوه يوه اوږده برو او سـونامي پرې تېره شـوې ده. خو د هيله منتيا خبره بيا دا وه چې دې پوهنتون تر دې وړاندې هم دوه داسې سختې جنګي او تاوجنې دورې تېرې کړي ، چې که هغه حالت ســـرې له دې اوســـني حالت سره پرتله کړي ، نو پر دې اوسني حالت به څو ځله شکر وباسي.

له (۱۳۷۱ )څخه بيا تر (۱۳۷۵ل )کلونو پورې د تنظيمي واکمنۍ او جګړو پر مهال کابل پوهنتون نږدې (۱٦) ځله له خپله ځايه مهاجر شو ، (۲۱) مليونه درسي ساعتونه يې ضايع کړل ، تدريسي

بهير يې لـه بشـــپړ اخلال سره مخ ، مرکزي کتـابتون يې لوټ او ودانيو ته يې تر (۵۱) مليونو ډالرو زيات زيان واړول شو. ورپسې د ط. ا. لبانو تېره واکمني پيل شـــوه ، څلور نيم کاله يې دوام کړ ، په دې بهير کې تدريس روان و ، خو ښځينه محصلينې د تحصيل له



نعمته بې برخې وې .نن چې مې دا اوسنی حالت وکوت ، که څه هم د پوهنتون له ښـــو شـــېبو سره د پرتلې وړ نه دی او ســـړی ډېر خواشـــينی کوي ، خو د هغو دوو بدو حالتونو په انډول بيا هم څه نا څه ښـــه حالت دی . دا حالت موږ ته دا هيله منتيا رابښـــي په کومه و يا له کې چې او به تللې وي ، هلته به بيا يو ځل او به بهيږي . د پښتو څانگې د ځوانو استادانو هوډ او د بېلابېلو پوهنځيو د محصلينو پر شونډو مړاوې موسکا د سختو شېبو د تېرېدو پيغام انځوراوه.

د نجونو او هلکانو ټولگي او درسي مهال جلا شـــوي وو . که څه هم دې کـار يو لړ تخنيکي او تدريسي ستونزې رامنځته کړې وې ، خو تر تېرلي حالته دا اوســـنی حالت هم زر ځله ښـــه دی. د نويو

چارواکو له معلق ذهني چاپېریاله اوســمهال تر دې زیاته هیله نه شي کېدی، خو څرنګه چې انسان د تغیر ، تعمیم او تعمیر وړ دی ، نو پر همدې اسـاس هیله کېدی شي چې د وخت په تېرېدو سره به



د نویو چـارواکو پـه ذهن او فکر کې هم بـدلون راشي ، دا ذهني چاپېر یال به ورو ورو بدل شي او هر څه به د وخت او ژوند له غوښـتنو سره سـم اعیار شي . د خوښـۍ بله خبره دا وه چې اکثره محصـلینې او محصـلان خپلو درسـونو ته حاضر وو ، د ضـایعاتو او غیر حاضرو محصلینو شمېر ډېر کم وو.

# سږ کال مړي راژوندي نه شول!

دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د مارچ پر (۱۰) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) میاشتې له (۱۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

د هر مړي درناوی او احترام په کار دی، خو د هغه مړي چې پر ژوندیني د خلکو خدمتګار وي او پر مړینې د خلکو د ځورونې سبب نه شي. خو زموږ په هېواد کې یو شمېر دا سې کسان وو او لا شته چې نه پر ژوند ترې ولس ښه ورځ لیدلې وه او نه ترې په مرګ دې ولس خلاصی وموند.

مسعود، رباني، فهیم، مزاري او دېته ورته نورو اشخاصو، چې د خپل ژوند په بهیر کې یې دې ولس ته څومره زیان واړاوه، تر مرګ وروسته هم د ولس د کړونې سبب شول.



دا خلک چې ژوندي وو، نو وژنې، ځورونې، ړنګونې و یجاړونې او د اوارو ځمکو غصوبونې ته یې کار ویلی و، خو چې کله له دې نړۍ څخه لاړل، نو بیا یې لوړې غونډۍ غصب کړې او پلویانو یې د دوی په شان د عامه لارو بندولو او د ولس ځورونو ته دوام ورکړ.

پوره شل کاله د احمدشاه مسعود تلین په کابل ښار کې په داسې ډول نمانځل کېده، چې د وحشـــت او بربريت يوه لويه ننداره يې نړۍ ته وړاندې کوله. دردوونکې خبره دا وه چې د نظار شورا لنډغرو بيا دا حالت يو مدني حرکت باله، ملي او اســلامي رنګ يې ورکاوه او دا يې خــپل مشروع حق هم باله، چې ټول کابل ښاريان دې پر دې ورځ د وېرې احساس وکړي .

د جمهوريت په نامه د لنډغرو محوري واکمنو بيا د دې واک درلود چـــې دې تلينورځو ته له بيت المال څخه پيسې بېلې کړي ، د حکومت په کچه تر ټولو لوړ عالي کمېســيون ورته وټاکي ، د ښـــار واټونه وتړي او ويناوال بيا په کې داســـې قلقلې وکړي چې له يو سوچه ډاکو څخه درته مولانا جلاالـدين بلخي او لـه يو لوبېدلي جاسـوس څخه درته يـو مـلي اتـل جوړ کـړي او دولتي او نورې جاســـوســـې رســـنۍ بيا ټولې د دې ډول اشخاصو ستاينې او صفايۍ ته ځانګړې شي.



په تېرو شـلو کلونو کې يوازې د احمدشـاه مسـعود د تلينغونډو د نمانځنې له امله بيت الــمال ته تر پنځوس مليونو ډالرو زيات زيان اوښـــتی او که د لارو د بندولو له امله عام ولس او ســـوداګرو ته رسـېدلی زيان محاسـبه کړو، نو ټول زيان يې تر سـلو مليونو ډالرو

پورته اټکل کېدلای شي. پر مالي زيان سربېره به هر کال پر دې ورځ شونې نه وه، چې د ډزو او وحشت له امله زموږ څو تنه هېوادوال يا نه شـــهيدانېدل او يا به نه ټپيانېدل. نو دا داســـې مړی وو، چې ژوندیو ته يې د مرګ ګواښ کاوه. تر مسعود وروسته بيا د عبدالعلي مزاري د مرګ ورځ هم د بيت الـــمال په لګښت په شاندراو مراسمو سره لمانځل کېدله، نو هلته به حکومتي چارواکو او بګېل شـويو سياسـتوالو له مزاري څخـه داســـې يوه ســـپينـه فرښـــته جوړه کړه او داســـې يو عالم او فليســـوف به يې وباله چې که خپله مزاري هم



را ژوندی شوی وای، فکر به يې نه و کړی، چې خلک دی يادوي. د مســـعود او مزاري پـه غونـډو کې هېڅکلـه هم د کـابـل د ورانۍ، مېخکوبۍ او تنظيمي جنګونو کيســـې نه کېدلې، بلکې دې دواړو پسې به داسـې خبرې تړل کېدې چې دوی ټول عمر په رياضـت، د هېواد په خدمت او اباديـ کې تېر کړی دی.وروســـته بيا د ســـنبلې (۲۹) مه؛ د رباني تلينورځ ورپسې زياته شوه ، دا ورځ که څه هم د مسعود د هغې په شان ډېره له وحشته ډکه نه وه، خو د بيت المال په مليونو افغانۍ پرې لګېدلې او د حکومت نيمه برخه به پرې مصروفه وه، بيا د کب (۱۸) مه د محمدقســـيم فهيم د تلينورځې په نامه ونومول شـــوه، دا ورځ هم د بيت المال په پيســـو نمانځل کېدله،

وينااوالو به له فهيم شخه يو عابد، ديندراه، معمار، پرهيزگاره، مبارز، صـــوفي او عرفاني شـــخصـــيت جوړ کړ ؛ هېڅا هم دا نه ويل چې مېزان ، چرګان او سـپيان چا جنګول ؟ د اسـونو طويلې چا لرلې ؟ د افغان هندوانو او سکانو کورونه چا لوټ او غصب کړل؟

لنډه دا چې شل کاله په دغـسې رېـشخنديو تېر شول او زورورو مړو پر کمزورو ژونديو حکومت وکړ ، هغه هم داســـې مړو ، چې په ټول ژوند کې يې د دې مـلـت لـپـاره د خـيـر ښېګڼې هېڅ کار نه دی کړی.



د دې خبرې يـادول هم ضروري دي چې هر څوک حق لري د خپـل مـړي يـا ژونـدي شـخصـيت سـتاينه او نمانځنه وکړي ، خو نه د عامه نظم د اخلال او د نورو د اذيت په قېمت.

پر دې باور لرو چې ( بعث بعدالموت)؛ تر مرګ ورو سته ژوند حق دی. خو دا يې پر هغې دنيا ښـــودلي، نه پر دې دنيا، چې مړي دې بيا راژوندي شي، تپې او غونډۍ دې ونيسيــ، ټول ژوندي دې هم په تکليف کړي، د هغوی ژوند دې هم اخلال کړي او ان له ژونديو خلکو او د جمهوري يا ولسواک نظام له بامبړانو دې باج هم واخلي، تر دې پورې چې د برېښنا شرکت دې هم وګوابښي چې ځۍ لاس مو خلاص، توره مو تېره، ان د وارداتي برېښـــنا بل هم نه پرې کوو. په

دې تېرو شـلو کلونو کې هېڅوک هم نه وو چې دې مرحومینو ته یې فرمايلي واى چې تاســې خو شــهيدان ياســت، خداى بښــلي يئ، قبرونه يا ابدي کورونه مو نوراني دي، د دې دنیا برېښـنا ته څه اړتیا لرئ ؟ دا پرېږدئ چې د یتیمانو کورونه پرې روښــانه شي او یا یې لګښت پرې کړئ چې ګاونډیان برېښنا پرې نه کړي.

تر شــلو کلونو وروســته ســږکال د خداى ج فضــل و، چې نه د سنبلې پر (۱۸) مه، نه پر (۲۹) مه، نه د کب پر (۱۸) مه، کوم مړی را ژوندی شو، نه یې د کابل ښار امن اخلال کړ، نه یې وحشت خپور کړ او نه یې له چارواکو باج او قلنګ را ټول کړ، هملته په خپلو قبرو کې له تیارو سره لاس او ګرېوان دي . خداى دې وکړي چې اوس نوي مړي د هغو زړو مړو ځاى و نه نیسي او د هغوی ریکارډ مات نه کړي.

ځینې کســـان به بیا دا تور پورې کړي چې دې مړو کې قومي انډول او انصاف په پام کې نه دی نیول شوی، باید له پښتنو څخه هم د څو تنو نومونه په کې یاد شــوي واى ، چې ملي وحدت! ته په کې زیان نه واى رسېدلاى؟ نو که تاسو ته په پښتنو او نورو قومونو کې ، لکه د دغو څو تنو په شــان نور داســې زورور مړي معلوم وي چې هر کال را ژوندي کېږي ، د بیت المال پیســې پرې لګېږي او د کابل ښــار د ټولو ښــاریانو د عامه ژوند د اخلال ســبب کېږي، هغه تاســې ورپســې ور زیات کړئ چې په زورورو مړو کې هم د ملي وحدت ! انډول خراب نه شي!!

# د پښتو ادب یوه ژوندۍ اکاډمي

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د مارچ پر (۱۹) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده. |

پښــتو ادب، د څېړنې، پلټنې او شــننې په برخه کې ډېرو پوهانو خپل زیار ګاللی او ډېر علمي خدمات یې وړاندې کړي دي، خو په تېره نیمه پېړۍ کې د استاد حبیب الله رفیع او استاد سرمحقق زلمي هېوادمل خدمتونه د ځانګړې یادونې او قدرونې وړ دي. دوی دواړه بیا د ژوندیو او ګرځنده اکاډمیو حیثیت لري، دواړه ملګري هم دي او دواړه دې خدای تر ډېره ژوندي لري. دا څو موده کېږي چې د اســـتاد حبیب الله رفیع د ســـختې ناروغۍ خبرونه خپرېدل، ان د مړینې دروغجن خبر یې هم د رسنیو په څپو خپور شو، چې زمو ږ د اکثرو هېوادوالو، په تېره بیا د فرهنګیانو زړونه یې ســـخت ودردول، خو د خدای ج فضل و، ډېر ژر د ا ستاد د روغتیا خبرونو زموږ زړونه بېرته خوشاله کړل. نن مې ښاغلي تدبیر ته زنګ وواهه چې د استاد د روغتیا پوښـــتنه وکړم او یا یې له نږدې لیدو ته ورشـــم. تدبیر صیب وویل چې استاد ښخي ښه دی، ځنګ کې مې دی او وایي که

تلوېزیون کې یې موږ دې لیدو ته درځو، ما ویل اســتاد د ګرځېدو دی؟ تدبیر وویل هو بېخي ښــه دی، ګرځېدل ورته ښــه دي او کور کې یې زړه هم تنګ وي ، ډاکټر ور ته ویلي چې څومره ګرځېدلی



شې ګرځه، ما ویل بیا خو بېخي ښه ده ، دلته به لږ پلی هم وګرځي.

نیم ساعت وروسته دواړه ژوندون تلوېزیون ته راغلل، د استاد په لیدو ډېر خوشاله شوم، لکه څوک چې د کلونو ورک او اوبو وړی عزیز او قریب بیا ژوندی او له نږدې وګوري. د استاد نوراني څېرې او پر ځان باور ډېر خوند راکړ. ښــه اوږد ادبي بنډار مو وکړ، بیا ما او تدبیر صیب د هغه علمي سیمینار او غونډې طرحه له استاد سره شریکه کړه چې ټاکل شوې وه د استاد تر ناروغۍ وړاندې دا علمي غونډه جوړه شوې وای ، خو د ا ستاد د ناروغۍ له امله وځنډېدله.له نېکه مرغه چې استاد زموږ له طرحې سره موافقه وکړه ، نو ځکه مو

وپتیبله چې ډېر ژر د اســـتاد د ژوند ، خدمتونو ، اثارو او افکارو په باب یوه درنه علمي غونډه جوړه کړو.

نن مازیگر ډېر خوږ و، یو دروند اســـتاد ، د پښتـــتو ادب یو لوی



خدمتگار او د ملي فکر یو ســـتر مبلغ مې په خپلو ســـترگو روغ رمټ ولید او د زړه سترگې مې پرې خوږې شوې، خدای ج دې د ا ستاد صحت نور هم پسې ښه کړي او اوږد عمر دې ور په برخه کړي.

# د ترخو تجربو تریخ تکرار

**دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د مارچ پر (۱۹) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۸) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.**

کله چې د یو نظام تر ړنګونې وروسته بل نظام قایم شي ، پښې یې لا ټینګې شـوې نه وي چې پر داسـې تېروتنو پیل وکړي چې تېرې له خلکو هېرې کړي، داسـې افراط او تفریط واکمن کړي چې خلک پر زاړه کفنکش شـکر وکاږي. د طالبانو دویم ځل واکمني د یوویشـتمې پېړۍ یوه پوځي او سـیاسي معجزه ده، داسـې یوه معجزه چې تر دې اوسـنیو واکمنو یې هغو پخوانیو واکمنو په بریا کې زیات رول درلود. که هغوی، شر او فساد نه وای کړی، پر لوټ، تالان، پردیپالنې، فحشا، منکراتو، رشوت، غصب او د خپل ولس پر وژنې او سـپکاوي یې لاس نه وای پورې کړی. نو شـونې نه وه چې طالبان دې یو ځل بیا واک تر لاسـه کړي. تر واک وړاندې چې بـه دې هـر طالب مشر سره خبرې کولې، همدا به یې ویـل، اوس طالبانو دنیا ولیده، په سـیاسـت او جنګ کې پاخه شـول، تېرې تجربې بیا نه تکراروي، یو ټولـمنلی حکومت جوړوي، د فکر او بیان ازادۍ تـه ژمـن دي او نـړۍ سره د تعامل لاره نیسي. خو کله چې واک ته ورسېدل، په لومړیو کې یې له نرمښت څخه کار واخیست،

خو د وخت په تېرېدو سره يې په رګونو کې يو ځل بيا د تېر افراط وينه جاري شـــوه، سره له دې چې په کلياتو کې تر يوه حده ښــــه روان دي؛ د قـدرت جزيرې يې ختمې کړې، غلـه او زورواکي يې ورک کړل، د وســـلې د راټولونې بهير يې تر زياته حده بريمن دی، خو جزيات يې بيا دومره ترخه دي چې د مثبتو کلياتو تصـوير يې تر سيوري لاندې راوستی. له ملي بيرغ سره حساسيت، له هغه سره د مينې په تور د خلکو توهينول، ګواښــل، د رســنيزو او مدني ازاديو محدودول او رســنيو ته په نارســمي ډول د داســې شرطونو وړاندې کول چې عملي کول يې د رسنيو د تړلو په مانا دي.

هره ورځ پر ولس د يو نوي محدوديت او سانسور لګول ورو ورو نوی حکومت د خپل تېر حکومت د تجربو تکرار ته نږدې کوي.

اوس نو په دې خاطر چې درې رنګه ملي بيرغ ته يوه پلمه پيدا کړي، د ملي تلوېزيون لوګو يې هم پســـې بدله کړله، دا سره له دې چې دومره غټ او ســـتر کار نه دی، خو د دې بدلانه تر شــا پرته مفکوره او انګېزه ملي هويت او ملي ارز ښتونو ته له ګوا ښه پرته بله

مانا نه لري. حقیقت خو دا دی چې ملي تلوېزیون نه پخوا ملي و او نه اوس ملي دی؛ په تېرو شــلو کلونو کې یو وخت په بشــپړ ډول د نظار شورا تر انحصار لاندې و، بیا یې وروسته دولتي بڼه خپله کړه

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون

او د غني د ټامي ګروپ تر ولکې لاندې راغی او اوس په بشپړ ډول د طالــبانـــو د تحریک نشراتي ارګان دی، یوازې نوم یې ملي پاتې دی. د ټولو هېوادوالو هیله دا وه چې ملي تلوېزیون باید په رښــتیني مانا ملي شي او د ملت د هیلو انځور واوسي. ملي تلوېزیون له خپلو نیمګړتیاوو او مجبوریتونو سره سره بیا هم د هېواد د ر سنیو په منځ کې خپل وزن او اعتبار درلود او ګڼ شـــمېر لیدونکي یې درلودل، د لوګو پښـــتو متن کې یې که څه هم ( ی) ناســـمه کارولې وه، خو د ملي بیرغ په درې رنګه رنګ جوړې شـــوې لوګو یې د خلکو د زړه مینه ماتولی شـــوه . کوم څه چې په دې تلوېزیون کې ډېر ملي وو

هغه همدا لوګو وه چې له بده مرغه هغه هم نن د پخواني حکومت د بيرغ په پلمه د مذهب په نامه د سياسي تعصب ښکاره شوه.نويو چارواکو ته بايد وويل شي چې درې رنګه بيرغ د پخواني حکومت ميراث نه و، دا د ولس ميراث و چې نږدې له سلو کلونو راهيسې له يوه نسله بل ته انتقالېږي. له پخواني حکومت څخه خو ګڼ شمېر مقامونه، څوکۍ، وزارتونه او بانکونه هم پاتې، چې نوي چارواکي پرې د ناستې له امله د راحت احساس کوي او له همدې مقامونو حکمونه چلوي. د ملي تلوېزيون له لوګو څخه چې دا درې رنګونه لرې کړې، نو بيا ملي په څه شي شو؟ دا خو داسې مانا لري، لکه سړي څخه چې (سړيتوب ) واخلې او يا هم له مسلمان څخه چې اسلام لرې کړې، نو بيا پاتې په کې څه شول؟ ايا دا اوسنی رنګ په تېرو سلو کلونو کې کله هم د ملي رنګ په توګه استعمال شوی؟ که اوسني ځينې چارواکي له ملي کلمې او ملي بيرغ سره دومره حساسيت لري، نو بيا خو به ښه دا وای چې د ملي تلوېزيون پر ځای يې ( اسلامي تلوېزيون ) اصطلاح کارولې وای. چې هر څه د دوی په خوښه برابر شوي وای، نو چې نوم يې ( ملي ) وي، رنګ او محتوا يې بيا بېله او ان متضاده وي، دا خو نو له نومونو او ا صطلاحاتو سره لوبې کول دي، عيناً لکه د چا تخلص چې ( ننګ او يا غيرت ) وي، خو خپله بيا ننګ او غيرت و نه لري يا يې هم تخلص (دانش) وي، خو خپله بې دانشه وي. اوس خو هسې هم

هر څه په یوه هنداره کې کتل کېږي، نو د دې لپاره چې (ملي) کلمه یو څه د ارامۍ ساه واخلي، ښه دا ده چې د ملي تلوېزیون نوم دې یا ( اسلامي تلوېزیون شي او یا دولتي) په دې ډول به اسم له مسمی سره له مانیز پلوه رابطه پېدا کړي او د افراطي دینپالو جذبه به هم سړه شي.

که چېرې اوسني چارواکي د اوس په شان خپل لومړیتوبونه درک نه کړي او د کلیاتو پر ځای پر جزیاتو مصروف شي او یا ټول نظام د مذهبي پولیسو د یو وزارت تر انحصار لاندې راولي، نو دویم ځلي ماته به یې تر هغې پخواني هغې څو ځله، هم خپله دوی او هم ولس ته ډېره دردوونکې وي.

چارواکي باید دا تفکیک وکړای شي چې اوسمهال د دوی لومړیتوبونه دا دي چې له نړیوالو سره اړیکي ټینګ کړي او نړیوال مشروعیت خپل کړي، په کور دننه کورنۍ مشروعیت ترلاسه کړي، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي، امنیت لاپسې ټینګ کړي، پر ایران او پاکستان له اتکا څخه ځان وژغوري، پرمختیایي پروژې پلې کړي، خلکو ته خپل پورونه ورکړي، د تجارت، صنعت او کرنې پراخیتا ته لاره اواره کړي او کنه دا دي چې د تلوېزیونو لګوګانې بدلې کړي، د درې رنګه بیرغ پر ځای سپین بیرغ وکاروي، د رسنیو د پروګرامونه په بګرونډ کې د موسیقۍ زیکنال چک کړي او دا سې نور کارونه؟

که حالات همداســـې روان وي، نو یو ځل بیا به تېرې ترخې تجربې تکرار شي او دا ټول نظام به یو ځل بیا د تېر په څېر د څو تنگنظرو اشخاصو د مضر افراط قرباني شي او بده یې لا دا ده چې د دې ټولو تېروتنو کفاره به یو ځل بیا د هغه مظلوم پښتون ولس پر اوږو بار وي چې په تېرو شــلو کلونو کې هم د طالب، په نامه وټکول شو، خو د طالب په واکمنۍ کې هم د نشنلیست، ملتپال او هویتپال په نامه ټکول کېږي او د دې نظام تر سقوط وروسته به یو ځل بیا د ملا صاحبانو د ا شتباهاتو کفاره ورکوي. خدای دې خیر کړي د وطن او د ملگرو...

# د کال پر وروستۍ شپه

# وروستۍ خبره

دا لیکنه د (۲۰۲۲م) کال د مارچ پر (۲۰) مه، چې د (۱۴۰۰ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۹) مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې او خپره شوې ده.

(۱۴۰۰ل) کال د افغانانو لپاره د تېرو نورو کلونو په شان یو خونړی کال و. د تېر لمریز کال په لومړۍ نیمه برخه کې افغانستان خونړیو جګړو سخت وځپه ، هره ورځ نږدې پنځه سوه افغانان د جګړې قرباني کېدل، د همدې جګړو په وروستۍ برخه کې د (اسلامي جمهوریت )په نوم نظام ړنګ شو. ځای یې (اسلامي امارت) ونیو، د بهرنیانو کډې بار شوې، دې سره څلوېښت کلنه جګړه تر دې دمه ختمه شوه، عمومي بښنه وشوه، سراسري امن ټینګ، خو افغانستان په نړیواله کچه له سیاسي انزوا سره مخ شو. په نړۍ کې هېڅ مسلمان او نامسلمان هېواد نوی نظام په رسمیت ونه پېژنده، نړیوالو د خپلو مشروعو او نامشروعو غوښتنو او شرطونو یو اوږد لېست نوي حکومت ته وړاندې کړ او نویو واکمنو د بېلګو د وړاندې کولو په شرط او دلیل هغه شرطونه ټول رد کړل. کال پوره شو خو نه د ولس ، نه د نوي حکومت او نه هم د

نړیوالو کوم امیدونه او کوم شرطونه پوره شــول. افغانســـتان کې کرونا او د فقر وبا دوه داسې مرضونه وو چې د خلکو ژوند یې سخت وځپه، په داســـې حال کې چې نړۍ د کرونا له رنځه رنځېدله ، پر اوکراین د روسیې یرغل پیل شو ، نړۍ له یو بل بشري او اقتصادي نـاورین سره مخ شـــوه، اوکراین د نړۍ د پـاملرنې محور شـــو او افغانستان ورو ورو د نړیوالو د حافظې له مداره ووت.



د همدې کال پـه بهیر کې بیـا ټولنیزو رســـنیو داســـې خبرونـه خپـاره کړل چې امریکـایي نـابغـه او پـانگوال (ایلن ماســـک) پر یوې داســـې پروژې کار کوي چې نږدې یوه لسـیزه وروسـته به په مریخ کې یوه نوې انســـاني نړۍ اباده کړي، رســـنیو دا هم وویل چې د ســـعودي عربســـتان ولیعهد (محمد بن ســـلمان) د خپل هېواد د خاورې په یوه څنډه کې د داســـې یو ښـار د جوړولو تکل کړی چې د (خیالي جنت) بڼه به ولري.دا ښـار به تر نیویارک ښـاره دوه ویشت ځله لوی وي، د ښـــار ټول خدماتي کارکوونکي به برېښـــنایي وگړي (ربوټونه) وي، خو دا برېښـــنایي وگړي یا ربوټونه به تر دې حده پرمختللي وي چې د انسان ډېر انساني حواس به احساسولی شي.

په دې ښار کې به د اسلام په شمول د هېڅ دين او مذهب، مذهبي اماکن او عبادتځايونه نه جوړېږي، يانې په ټول ښــار کې به څوک د اذان غږ نه اوري.د ښـار ټولې چارې به په لمريزې برېښـنا چلېږي او د نړۍ ســتر پانګوال به د ســيل او چکر لپاره ورځي، دا ښــار به تر (۲۰۳۰ م) کال پورې تيارېږي او نږدې ( شــپږ ســوه مليارده) ډالر لګښت به پرې راځي.



د هېڅ مذهب لارويانو تر اوسه د داســـې يـو خيالي ښـــار په بـــاب د رد او تـــنقيد نـــظر نه دی څرګند کړی.

د خدای ج د پـيغمبر (حـضرت محمد ص) پر ځمکه د ده په نامه د يو بل محمد (محمد بن ســلمان ال ســعود) له خوا د شريعت له دايرې لرې د خيالي جنت يا ښـار د جوړولو په باب تبصرـه به د دين عالمانو ته پرېږدو چې دوی پرې څه فتواوې ورکوي؟ خو دلته په خپل هېواد کې د علم ، په تېره بيا د نحونو د تعليم پر وړاندې چې څومره مخالفتونه کېږي ، د دې خبرې غمه خوړل په کار دي . تېرې اته مياشــتې وخت پر دې ضـايع شـو چې د نجونو تعليم ته شرعي جواز پيدا شي. خدای دې وکړي چې راتلونکی کال د تېر په څېر پر دې بحثونو تېر نه شي، د اسلام دين څوارلس سوه کاله عملي مزل

کړی او په دې کلونو کې باید د نړۍ د اسلامي علومو پوهانو دا خبره د رياضي د فورمول په شان سپینه کړې وای ، چې اسلام د ځـمکې پـه کـره او ټوله بشري دايره کې يو شان د تطبيق وړ دی، د اسلام په اســاســاتو او محتوا کې د عربي ، افغاني ، ايراني او مالزيايي اســلام په نامه ډلبندي نه



شته ؛ ټول يو اسلام دی، د دې خبرې د سـپيناوي لپاره دې واکــمــن افــغــان اســلامپوهان له عربو ديني عالمانو سره کيني، يو بل ته دې ســم قنـاعـت ورکړي، اجـتماعـي، تـعـلـيـمـي او سياسي چارې دې د تعريف شوي شرعي فورمول له لارې تنظيم کړي چې راتلونکي او نور کلونه مو بيا د کار پر ځای پر جنجالي بحثونو او نانديريو تېر نه شي.

تېر لمريز کال که څه هم په ځينو برخو کې مثبتې پېښــې لرلې؛ د زورواکو او فســادگرو ټغر په کې ټول شــو ، خو د دې تر څنگ په ځينو برخو کې زما او اکثرو افغانانو لپاره له درده ډک کال و، خو خدای دې وکړي چې راتلونکی کال تر دې بدتر نه وي، په هېواد کې سوله لاپسې ټينگه شي، د دين او دنيا د چارو انډول برابر شي او هېوادوالو ته د پرمختگ او سوکالۍ زمينه مساعده شي.